لیکوال: خلیل دلیمي
ژباړن: یاسین مجاهد



Ketabton.com

# صدام حسین

په امریکایي زندان کې

Greater Afghan Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

**صدام حسين**

(په امريکايي زندان کې)

ليکوال: خليل دليمي

ژباړن: محمد ياسين مجاهد

خپرندوی: اکسوس کتابپلورنځی

ډيزاين چارې: حسيب‌الرحمن

چاپځی: وايگل چاپ

چاپ کال: ۱۳۹۷ / ۲۰۱۸

پته: افغانستان-کابل، دريمه ناحيه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

ISBN: 978-9936-626-90-4

0202 504 652, 0798 98 96 96

aksosbookstore@gmail.com

aksos book store  aksosbookstore

www. aksosbookstore.af

د دې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو حقوق له خپرندوی سره خوندي دي.



## ليکلړ

صدام حسين ........ ۹

سريزه ........ ۱۰

ولې دغه کتاب ........ ۱۰

صدام حسين د تاريخ په تله کې ........ ۱۵

صدام حسين... د افسانې د کتاب لومړی کرښه ........ ۳۱

صدام حسين ........ ۳۸

له عوجې... د ولسمشرۍ تر ماڼۍ ........ ۳۸

لومړی څپرکی

پيل ........ ٤٦

له ولسمشر څخه د دفاع کمېټه ........ ٤٧

لومړی مدافع وکيل ........ ۵۵

د ولسمشر صدام حسين قدرمن مقام ته! ........ ٦١

دويم څپرکی

د تاريخي ليدنې سفر ........ ٦٢

زورور امرونه ........ ٦۵

دقيقې... ساعتونه ........ ٦٦

د ولس يووالي ته پاملرنه ........ ۷۲

ايران؛ تاريخي دښمن ........ ۷۳

د عراقي لښکر وسله‌وال کول ........ ۷۷

درېيم څپرکی

د جګړې لومړی مخ... پربکړه کوونکې ........ ۸۰

ولسمشر د يرغل په ورځ چېرته و؟ ........ ۸٦

څلورم څپرکی

د پربکړه کوونکې (جګړې) دويم مخ مقاومت ........ ۸۹

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پنځم څپرکی

د۱۹۹۱د برید پېښې ...... ۹۶
د پریماکوف لومړی لیدنه ...... ۹۹
د جاک شیراک سره لیدنه: ...... ۱۰۰
ولسمشر؛ او ورسره فرهنګي او سیاسي شخصیتونه ...... ۱۰۲
د کویټ په اړه ...... ۱۰۲
د کویټ د قضیې په کړکېچ کې د ایران رول: ...... ۱۱۲
فلسطیني خوځښت ...... ۱۱۳

## شپږم څپرکی

صدام حسین او د ورته کس کیسه ...... ۱۱۵

## اووم څپرکی

بغداد څنګه ونیول شو؟ ...... ۱۱۹
ولسمشر ادامه ورکړه: ...... ۱۲۵
د پریماکوف دویمه لیدنه ...... ۱۲۶
د سیاسیونو رهبری ته د اردو تابع کول: ...... ۱۳۰
د یرغل په ګړندیتوب کې د ایران رول ...... ۱۳۱
هغه معلومات چې ولسمشر ته نه وو رسېدلي: ...... ۱۳۳
د هوایي ډګر جګړه ...... ۱۳۸
د هوایي ډګر جګړه ...... ۱۴۳

## اتم څپرکی

د نیولو کیسه ...... ۱۴۷
امریکایي ناول ...... ۱۴۸
نیول، خوړول او لومړني لیدونکي ...... ۱۶۱
د ولسمشر بندخونه ...... ۱۶۳
د قرانکریم او کورنۍ تر منځ ...... ۱۶۴
مشر او د تلیفون کارول ...... ۱۶۷



## نهم څپرکی

صدام حسین ...... ۱۶۹
او د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱مې پېښې ...... ۱۶۹

## لسم څپرکی

دولت او اپوزیسیون ...... ۱۷۵

## یوولسم څپرکی

د ولسمشر صدام حسین ...... ۱۸۳
په بدنامولو کې د امریکا هڅې ...... ۱۸۳
خطرناکې وسلې ...... ۱۸۳
سپکې هڅې ...... ۱۸۶
د امریکا دروغ ...... ۱۸۸
د وسلو پلټلو کیسه ...... ۱۸۹
د ولسمشر د تېر ایستلو هڅه ...... ۱۹۱
د ولسمشر بدنامول ...... ۱۹۲

## دوولسم څپرکی

د لېوانو ډیموکراسي ...... ۱۹۹
امریکایي موانع ...... ۱۹۹
د ولسمشر لاسي ساعت ...... ۲۰۱
له بندي ولسمشر سره یې څنګه معامله وکړه ...... ۲۰۳
دا پوښتنه مې له ولسمشر څخه وکړه، هغه راته وویل: ...... ۲۰٤
د غداری او خیانت کیسه ...... ۲۱۱

## دیارلسم څپرکی

صدام حسین راتلونکی څنګه لید؟ ...... ۲۱۸
امریکا او ایران ...... ۲۱۸
بیا ولسمشر زیاته کړه ...... ۲۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوارلسم څپرکی

صدام، عربي نړۍ او نړیوال دریغ ..... ٢٢٩
له ایراني وزیر سره د ولسمشر لیدنه ..... ٢٣٣
په ١٩٩٠ ز کال کې له سعودي څخه د ولسمشر لیدنه ..... ٢٣٥
له سکه اردن سره د عراق اړیکه ..... ٢٣٧

پنځلسم څپرکی

له واکه گوښه‌توب ته د ولسمشر بلنه ..... ٢٣٩
د شیخ زاید وړاندیز ..... ٢٣٩
بوش او د گوښه‌کېدو بیه! ..... ٢٤٢

شپاړسم څپرکی

د عربو له مشرانو سره اړیکې ..... ٢٤٧
د ولسمشر د را خوشي کولو لپاره ځیني وړاندیزونه ..... ٢٤٩

اوولسم څپرکی

ولسمشر او د محکمې تگلوری ..... ٢٥٢
په دجیل کې څه وشول؟ ..... ٢٦٢

اتلسم څپرکی

په خبرو اترو کې د ولسمشر چانې وهل ..... ٢٦٧
د امریکایانو او روسانو په اړه خبرې ..... ٢٧٠
واشنگټن ته پیغام ..... ٢٧٥

نولسم څپرکی

هیلې، احساسات او پیغامونه ..... ٢٧٨
مدافع وکیلانو ته یې په خطاب کې وویل: ..... ٢٧٩
طالباني ته د ولسمشر پیغام ..... ٢٨١
په عربو او عراقیانو ویاړل ..... ٢٨٢
ملي جریانونو ته پیغام ..... ٢٨٤
بعث او راتلونکی ..... ٢٨٥



شلم څپرکی

د ولسمشر پر بندخونې د برید هڅې ..... ٢٨٧
د برید پلان ..... ٢٩٤
دښمن ..... ٢٩٤
بریدگر ځواکونه ..... ٢٩٤

یوویشتم څپرکی

د ولسمشر د برمته کولو هڅې ..... ٢٩٦
د ولسمشر د خلاصولو یا له ولسمشر څخه د خلاصېدلو هڅه ..... ٢٩٧
د ولسمشر د لرې کولو وړاندیز ..... ٣٠٢
د چانې وهلو نه شتون ..... ٣٠٦
نا څرگنده وینا ..... ٣٠٦

دوه ویشتم څپرکی

د څېړنې په ناستو کې څه وشول؟ ..... ٣٠٩
له قاضي سره د ولسمشر لیدنه ..... ٣١٠
کلکوالی، ننگونه او مېړانه ..... ٣١٠

درویشتم څپرکی

د ولسمشر د شخصیت په اړه انساني اړخونه ..... ٣٢٨
د محکمو پخوانی پرېکړې ..... ٣٣٣
د ولسمشر خواړه ..... ٣٣٥
ولسمشر د محکمې په تالار کې ..... ٣٣٨
ایا په زندان کې یې ولسمشر ته زهر ورکړي وو؟ ..... ٣٤٧

څلورویشتم څپرکی

له وکیلانو سره وروستۍ لیدنه ..... ٣٥٠

پنځه ویشتم څپرکی

وروستۍ شپې ..... ٣٥٩
لوبې او دسیسې ..... ٣٦١

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا، ایران، حلبجه او وکیلان ......... ۳٦٤
د ولسمشر د وژلو معامله ......... ۳٦۸
د ولسمشر وروستی غوښتنه ......... ۳۷۰
د نیواک حکومت ته د ولسمشر سپارل ......... ۳۷۲
مشر د شهادت او ویاړ زینو ته پورته کېږي ......... ۳۷٤
ایا په دار وځړول شو او که ووژل شو؟ ......... ۳۷۷
ولسمشر او د ده د قانوني مسئولیتونو سپارل ......... ۳۸۱
شپږ ویشتم څپرکی
وصیت – تاریخي سند ......... ۳۸۳
اووه ویشتم څپرکی
د دفاع کمېټه... حق خبره ......... ۳۸۹
ایا ولسمشر به د کمېټې په فعالیت کې مداخله کوله؟ ......... ۳۹۰
د حق او عدالت لښکر ......... ۳۹۱



## صدام حسین

زه د دولت یو مقتدر او دقیق سړی یم، ښې لاس کې مې توره ده او د حق لپاره یې چلوم. عادل، غیرتي او عزتمن سړی یم. له هېڅ لوی یا وړوکي او لرې یا نږدې کس نه پر قانون لوېې کول او ملنډې وهل نه منم.

خو له دې هر څه سره سره پر خلکو زړه سواندی یم، مهربانه یم او زړه مې پر حق باندې ټینګ دی. څوک چې له خطا څخه یوه ذره هم را مخکې شي، نو زه تر حده ډېره مرسته ورسره کوم. له غریبانو سره د وروګلوۍ او پلارګلوۍ ځانګړی احساس لرم. دغه کار مې یوازې د باور پلي کېدل نه دي، بلکې له دوی سره د غمونو په لړ کولو کې ځانګړې خواخوږي لرم... له عزتمنو سره عزتمن او د پرېوتو پر وړاندې سخت یم. د بل تر غولولو غوره ګڼم چې خپله وغولېږم، همدا راز غواړم چې پر ما دې ظلم وشي، خو چې پر بل یې ونه کړم. د دولت په مالونو کې حریص یم، هومره حریص چې په کاشوغه یې را ټولوم. له خپلو قانوني صلاحیتونو سره سم یې پر هېوادنیو او انساني اړتیاوو لګوم... تر نن له تېر څخه ډېر وېرېږم. راتلونکې ته په کتو هر ګام پورته کوم، خو داسې څه نه خوښوم چې تر پاکوالي یې چټلي ډېره وي.

(په زندان کې د ولسمشر صدام حسین له یادښتونو څخه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سریزه

## ولې دغه کتاب

په پیل کې د دوو سیندونو ترمنځ ځمکه وه، د لوی عراق ځمکه. دا د هغو تمدنونو او فرهنگونو هېواد و چې له سامریانو او لیک تورو سره وځلېد. هغه تمدنونه چې پر ځمکه یې ارزښتناک اثار پرېښودل، د رافدینو (دجلې او فرات د سیندونو) ځمکه. هغه شواهد چې د ملت د کار او هڅو کیسې کوي او نړۍ خپل ټول علوم او فنون د دغو دوو تلپاتې سیندونو پر څنډو له جوړو شوو تمدنونو څخه اوبه کړل، د دجلې او فرات سیندونه. دا هغه عراق دی چې د ختیځ امت دریڅه او ساتونکی دی چې پرله‌پسې او له هر لوري څخه یرغلونه پرې کېږي. دا ځمکه د ډېرو امپراتوریو او دولتونو د ماتې شاهده ده.

په همدې نوي پېر کې، وروسته له دې چې عراق خپل نفت د دښمنانو له ولکې خلاص کړل او بچیانو ته یې په لاس ورغلل، د حیرانوونکي اقتصادي، بشري، فرهنگي، روغتیایي او پوځي پرمختگ شاهد و. بې سوادي یې ختمه کړې وه او نړۍ یې په روغتیایي، علمي او تکنالوژیک ډگر کې د بریالیتوبونو شاهده وه. داسې پوځ یې جوړ کړی و چې د سمبالښت او بسیاینې له پلوه د نړۍ څلورم پوځ گڼل کېده. دا پوځ پر خپل سخت دښمن په یوه بې مثاله جگړه کې بریالی شو. گُردانو یې له بل هر گاونډي دولت څخه په عراق کې ښه حقوق ترلاسه کړل. دا پېر د حیرانوونکي صنعتي پرمختگ او علمي انقلاب شاهد و. که څه هم دا موده د عراق په تاریخ کې تر ټولو ستونزمن پېر و چې د ۱۹٦٨ او ۲۰۰۳م کلونو ترمنځ وغځېد. اته کاله غځېدلې جگړه، د ۱۹۹۱ کال جگړه، له دیارلس کلونو زیاته کلابندي، ورپسې د امریکایي، انگرېزي، صهیوني او ایراني یرغل جگړه...وینې بهوونکې پېښې... دا ټول هغه څه دي چې ولسمشر صدام حسین یې په دغه کتاب کې په مستند ډول روایت کوي.



په ۲۰۰۵م کال کې مې په امریکایي زندان کې بندي ولسمشر صدام حسین ته د هغه د یادښتونو د ترتیبولو او خپرولو نظر وړاندې کړ. هغه هم موافقه وښوده او ویې هڅولم چې پلې یې کړم، خو د ۲۰۰٦م کال تر پسرلي پورې د امریکایي زندان ساتونکو زموږ ترمنځ د پاڼو د تبادلې اجازه نه را کوله. که څه هم چې ولسمشر د دې نظر عملي کولو ته ډېر په تلوسه کې و، ما ته یې وویل: "زما د یادښتونو او خاطراتو برابرول ډېر اړین دي. عمرونه د الله په لاس کې دي. زه به تا ته د یادښتونو د برابرولو لپاره ټول هغه څه ووایم چې زما په یاد دي"، خو ولسمشر بیا هم پر دې باور نه درلود چې امریکایان به ده ته د ده د یادښتونو د برابرولو او خپرولو اجازه ورکړي.

له دې وړاندې، د څېړنې په یوه غونډه کې چې (قاضي) منیر حداد یې مشري کوله، ولسمشر په خپل لاس لیکلې د خپلو یادښتونو ځینې پاڼې ما ته وسپارلې، خو (د امریکایي اړیکو د دفتر مدیر) کیپټن مایکل ماکوي له ولسمشره وغوښتل چې سپارل شوې پاڼې دې قاضي ته ورکړي او وعده یې وکړه چې د منځپانگې لوستلو له ډاډه کېدلو وروسته به یې ما ته را سپاري، خو په خپله وعده یې وفا ونه کړه. کله چې ولسمشر د هغوی په اړه زه وپوښتلم، نو ما هم له جریانه خبر کړ، ولسمشر په دې کار غوسه شو. وروسته مو د دغو یادښتونو په لیکلو اتفاق وکړ او دا چې ډېر به یې د ولسمشر په خط لیکل او امضا کېږي.

همدا راز، لکه څرنگه چې ولسمشر صدام حسین زموږ په گران هېواد (عراق) کې له یرغل او نیواک وړاندې او وروسته د هېواد د قانوني رهبر په توگه د تېرو شویو حقیقتونو د رسولو دنده راکړې وه، ما هم دغه مسئولیت ومانه. دا د هغه له ماشومتوبه نیولې بیا د رهبرۍ تر ترلاسه کولو پورې د عراق جوړښت او نورو هغو سختو دورو ته یوه کتنه ده چې عراق یې شاهد و. په ځانگړي ډول د ۲۰۰۳م کال امریکایي یرغل او نیواک ته کتنه ده. ورپسې د داسې ورځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



«یادول دي» چې د عراق په ټول تاریخ کې یې بېلګه نه شته. له یوې خوا پر عراق او عراقي ولس باندې د نیواک، د هغه د ټلوالې او پیروانو سختۍ، وحشت، جرمونه او کینې دي او له بلې خوا د نیواک پر وړاندې زموږ د عراقي ولس زړورتیا، همت، شجاعت، ټینګ ثبات، قرباني او د ولس د بچیانو اتلولۍ دي.

له ځانه سره مې وعده وکړه چې ولس ته به د ولسمشر د یادښتونو په رسولو کې امین اوسم چې د هغه له لوري ما ته ویل شوي دي. همدا راز د دې مبارکې لارې د بېلابېلو اړخونو په اړه به د خپلو ډېرو پوښتنو په ځوابونو کې هم امین اوسم. پر ما یې ټینګار کړی دی چې ټول هغه څه به برابروم چې ولسمشر یې راته وایي، ځکه هر وخت د امریکایانو له لوري د ده د بدني پلټنې شونتیا وه، نو ما ته یې د یادښتونو د وړاندې کولو او خپرنځي د غوره کولو اجازه راکړه. د کتاب د عنوان په اړه یې راځخه وپوښتل، ما ورته وویل له ما سره ډېر عنوانونه دي، لومړی یې "تر پنجرو شاته عدالت". ده هم همدغه عنوان خوښ کړ، خو ما ورته وویل دغه د داسې یوه کتاب عنوان کېدی شي چې په محکمه کې د پېښو شویو پېښو په اړه څه [معلومات] په کې وي، نو هغه و چې زما په واسطه د لیکل شویو یادښتونو د کتاب په نومولو کې یې خپلواک پرېښودم.

او دا دی د عراق د قانوني ولسمشر له خولې د عراق د ژوند او د هغه د ملي دولت د مسیر د اساسي اړخونو په اړه د هغه یادښتونه درته وړاندې کوم چې له ننګوَنو، پرمختګونو او له وطن څخه د دفاع له ټولو دورو سره سره نږدې څلورو لسیزو ته رسېږي. هغه وطن چې په ۱۹۹۱م کې له دښمنانو څخه مخکې شو چې دا مخکښتوب یې د نیواک د پروژې لپاره د یرغل، نیواک او زړور مقاومت لامل شو.



په حقیقت کې دا پاڼې یو مهم تاریخي مستند دی چې عراقي ولس، د عربي او اسلامي امت زامنو او د نړۍ عامه ذهنیت ته یې وړاندې کوم. همدا راز یې تاریخ ته وړاندې کوم څو ټول د مسلمان، عربي، عراقي او تاریخي رهبر صدام حسین د ژوند په اړه قضاوت وکړي. صدام حسین هغه مؤمن او مجاهد انسان و چې خپل ژوند یې په خپله خوښه او په ډېر اوچت انداز له خپل وطن، مهمو مسائلو، لومړیتوبونو او له اسلامي عربي ملي عقیدې ځار کړ.

د سیاست، قانون او ادب ګڼ شمېر کسانو، ملګرو او ورونو هر یو خپل میلان څرګند کړ چې د شهید ولسمشر صدام حسین په اړه لیکنې وکړي، خو دا چې پولې تړلې دي، نو له اوږدو خبرو مختصر شویو، استدلال وړ او لوړ راز لرونکو کلمو پرته بل څه ته ځای نه دی ورکړل شوی چې یوه تکړه عراقي فرهنګي ژورنالېست لیکلي، هغه ژورنالېست چې له ولسمشر او عراقي ملي نظام سره مخالف و.

[د کتاب په اړه] درانه لوستونکو ته یوه یادونه: دا ده چې په یوه کتاب کې د ولسمشر سلګونو مخونو ته رسېدونکي وییز (شفاهي) او لیکنیز یادښتونه او نږدې له زرو بیتونو څخه اوښتونکي شعرونه نه ځایېږي. نو له همدې امله مې په دې کتاب کې د ولسمشر په وییزو یادښتونو بسنه کړې او لیکنۍ ټولګې به یې ورپسې خپرې کړم.

د یوه عالم وینا ده: "انسان چې په کومه ورځ لیکنه کوي، هرو مرو یې په سبا وایي: که دغه ځای په کې بدل وای نو ډېر به ښه وای. که دغه څه په کې زیات شوي وای نو ښه به ښکارېدای. که دغه په کې را مخکې شوي وای نو ډېر به غوره وای. او که دغه ځای په کې نه وای نو ډېر به ښکلی وای چې دا یو لوی عبرت دی او د ټول بشریت په کم‌علمۍ او نقص دلالت کوي".

خو څه چې د دغه کتاب د پښتیو ترمنځ وړاندې کوو، هغه کوم تألیف یا کیسه یا کوم روایت نه دی چې د عبارتونو یا کلمو بدلول یې شوني وي، ځکه دا

شاهدي ده، ان یو مستند دی. شونې نه ده چې کلمې دې تفسیر یا تأویل او یا هم بدلې شي. دا د یوه تاریخ جوړوونکي په ژبه شاهدي ده، د نوي عراق د تاریخ جوړوونکي په ژبه. دا هغه مستند دی چې پر گران عراق د شوي ظلم او هغو دسیسو په اړه خبرې کوي چې د عراق پر ضد په پټه او ښکاره پلان شوې وې. زه يې په پوره امانت سره په دې کتاب کې بیانوم او ځینې مهمې خبرې به راسره ساتم او هغه وخت به يې بیان کړم چې د عراق وضعیت ښه شي. همدا راز له دې ټولو یادښتونو څخه د ولسمشر صدام حسین په شخصي نظریاتو پورې اړوندې ځانگړې خبرې وباسو.

غواړم دلته له ټولو هغو کسانو څخه مننه وکړم او کورودانی ورته ووایم چې د دغه کتاب په خپرولو کې يې ونډه اخیستې ده. له ټولو هغو کسانو څخه چې په دې مخلصې او سپېڅلې نظریې کې يې مرسته راسره کړې او هغو چې په لیکلو، بیاکتنې او د نهایي خپراوي د پروسې په سرته رسولو کې يې مرسته راسره کړې ده. همدا راز له ټولو هغو کسانو څخه چې د کتاب په برابرولو کې يې زما مرستې ته پټ‌هویته لښکرې برابرې او راواستولې. پر دوی دې زما له لوري زر ځله سلام وي او زر ځله مننه ترې کوم. الله دې دوی او موږ ټولو ته توفیق راکړي چې گران عراق او عزتمن عربي امت ته خدمت وکړو.

والله ولي التوفیق.

خلیل دلیمي

د دفاع د کمېټې رئیس



## صدام حسين د تاريخ په تله کې

*د صدام حسين د يوه بندي ملگري په قلم*

که تاریخ د شلمې پېړۍ پېښې په انصاف او واقعي ډول ولیکي، صدام حسین به د دې دورې د یوه ډېر لوی رهبر په توگه یاد کړي. او که د دې دورې په اړه د عربي امت تاریخ ولیکل شي، نو صدام حسین او جمال عبدالناصر به د ډېرو لویو عربي رهبرانو په توگه یاد کړي.

لکه څرنگه چې مو د جمال عبدالناصر په اړه د هغه په ژوند کې او د هغه له مرگه وروسته د تورونو او تهمتونو وېروونکې کیسې واورېدلې، همداسې کیسې به د صدام حسین په اړه هم واورو، بلکې تر هغو به ډېرې بدې کیسې واورو. صدام حسین پر دې تورن و چې دیکتاتور او جلاد دی. داسې پاچا دی چې خپل هېواد يې په گڼ شمېر جگړو کې ښکېل کړ چې په سلگونو زره عراقیان، ایرانیان او نور په کې ووژل شول. همدا راز په سرتمبه‌گیو او مانۍ جوړولو کې يې د هېواد پانگه ضایع کړه او داسې نور معلوم تورونه يې ورپورې وتړل، خو هغه معیارونه چې په ژوند او د اوسنیو او پخوانیو رژیمونو په ارزونه کې خطا نه مني، هغه دا دي چې لومړی باید د عراقیانو، عربو او بهرنیانو هغه کسان وپېژندل شي چې دا تهمتونه يې په صدام پورې تړلي دي او یا يې ورپورې تړي. کېدای شي د داسې کیسو په پېژندلو کې سم معیار د عربو د ډېر لوی شاعر ((متنبي)) دا مشهوره وینا وي چې ویلي يې دي:

که چې زما د کمې او نقصان بدې درته بیانبده، نو پوه شه چې دا زما پر بشپړوالي دلالت کوي.

نو موږ باید پوه شو چې دغه زورور برید چا کړی دی چې دا څو لسیزې دوام لري، ان د صدام حسین له شهادته وروسته هم روان دی.

لومړني تور لگوونکي د اسرائیلو یهودي- صهیوني چارواکي، ژورنالیستان او په ځانگړي ډول په امریکا او اروپا کې د دوی مرستندویان دي چې دا یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثابت حقیقت دی او باید پرې پوه شو او لامل یې هم ښه څرګند دی. یعنې کوم څه چې پر جمال عبدالناصر تطبیق کېدل، هماغه پر صدام حسین هم تطبیقېږي.

اسرائیلو او بهرنیو متحدینو یې دا درک کړې وه چې جمال عبدالناصر او صدام حسین «اسرائیلو» ته تر ټولو خطرناک عربي رهبران دي او دوی دواړه په خپل وخت کې د اسرائیلو لومړۍ درجه دښمنان هم وو، نو کیسه چې داسې وه، اسرائیلو باید هم خپل دغه دښمنان له منځه وړي وای. یوه ډېره ساده بېلګه به یې دریاده کړم: جمال عبدالناصر ښکلی مخ، اوږد قامت، خوږه ژبه او داسې مینه ناکې ښې ښانې درلودې چې چا به ورکتل، هرو مرو به پرې مئینېده. صهیوني غربي او عربي دښمنانو به کله ناکله په ورځپاڼو کې د دغو دواړو رهبرانو انځورونه په ګډوډه بڼه خپرول... او د کاریکاتور وسله به یې هم تل کاروله. کله چې دغه دواړه لوی عربي رهبران ژوندي وو، نو ورځپاڼو به د دوی تر انځورونو څو چنده زیات د دوی داسې کاریکاتورونه خپرول چې ورته کتل به دې، نو یوه وحشتناکه څېره به دې لیده. یو بد شکله او وېروونکی سړی به په کې و. د جمال او صدام کاریکاتورونه یې هرو مرو پر خلکو لیدل، په ځانګړي ډول په غربي وګړو او څوک چې اسرائیلو او صهیونیانو ته خطر پېښوي، باید هم په وحشي او ناوړه بڼه خلکو ته ور وښودل شي، نو د عربو دوه ښایسته رهبران یې په خپل وخت کې په ډېرو بدرنګو څېرو اړولي وو.

له صدام حسین او جمال عبدالناصر سره د دښمنۍ ترڅنګ یهودیانو له عراق سره هم دښمني لرله او اوس یې هم لري، د دې دښمنۍ تاریخ د بخت‌نصر او بابل دورته رسېږي. که څه هم چې دا خبره له حقیقت څخه لرې برېښي، خو حقیقت همدا دی. کله چې په ۱۹۸۱م کال کې اسرائیلو د عراقي اتومي بټېو د ویجاړولو لپاره عملیات وکړل، په هماغه وخت کې د اسرائیلو صدراعظم



بېګن دا عملیات "بابل" ونومول چې په اصل کې یې د بخت‌نصر په دور کې بابل ته د یهودانو د شړلو یادونه کوله.

او د څرګندو لاملونو لرونکې یهودي دښمنۍ ترڅنګ د عراق او همداسې د صدام حسین پر ضد ځانګړې ایراني دښمني هم وه. د تاریخ په اوږدو کې فارسیانو د رافدینو د هېواد د نیولو لپاره هڅې کړې دي. د اسلام تر ظهور وړاندې هم فارسیانو پر عراق ولکه کړې وه، خو مسلمانو عربانو د قادسیې په جګړه کې عراق له فارسي واک څخه ازاد کړ. کېدای شي څوک ووایي چې دا له جمهوري ایران سره څه تړاو لري، زه وایم: دا دوه بنسټیزې اړیکې ورسره لري: لومړۍ د فارسیزم پراخوالي د تګلارې هغه توکم پالنه چې د تاریخ په اوږدو کې عراق ترې ځورېدلی او کړېدلی دی او دا توکم پالنه په ایران کې د اسلامي نومي جمهوریت تر جوړېدو وروسته هم پاتې ده. او دویم د ایران «اسلامي» بلل کېدونکي جمهوریت طبیعت. کېدای شي څینې له صدام حسین سره د ایران دښمني د ایران او عراق ترمنځ د جګړې پایله وګڼي، خو داسې نه ده، له انقلابه وړاندې چې خمیني لا په پاریس کې و، یوه بهرني ژورنالېست ترې وپوښتل چې دښمنان دې څوک دي؟ خمیني ځواب ورکړ: زما دښمنان «امریکا»، «شاه» او «صدام حسین» دي. صدام لا په هغه وخت کې مرستیال ولسمشر و. د عراق او ایران ترمنځ کومه لانجه هم نه وه، نو بیا ولې خمیني د صدام له مشرۍ وړاندې عراق او صدام حسین خپل هدف ګرځولي وو؟! ان دا هم معلومه نه وه چې هغه به د فعلي نظام رهبر وي. او دویم لامل د خمیني هغه څرګندونه ده چې نظام یې پرې جوړ کړی او هغه د (ولایة الفقیه) نظریه ده. ولایة الفقیه په دې مانا، هغه فقیه چې رهبرۍ ته راځي (یعنې خمیني)، هغه به د امام مهدي مرستیال او په نړۍ کې د شیعه‌ګانو رهبر وي. نو که فارسي فقیه د ایران حاکم هم وي، خو څو چې یې د شیعي (جعفري) مذهب په اصلي مرکزونو لکه نجف، کربلاء، کاظمیه او سامراء

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولکه نه وي کړې، په نړۍ کې به د شیعه‌ګانو رهبر نه ګڼل کېده، ځکه د امام مرستیال باید په دغو اساسي او له رازه ډکو ځایونو کې وي، خو لکه څرنګه چې دغه ځایونه د عراق په خاوره کې پراته وو او د امام مرستیالي پر دغو ځایونو له ولکې پرته ناشونې وه، نو له عراق څخه د بعث ګوند او د رهبرۍ له منځه وړل او د عراق پر دغو برخو ولکه لازمي وه. دا موخه اوس د دوو شیعي ګوندونو (الدعوة والمجلس الاسلامي) او دوو کردي ګوندونو (ډیموکرات او کردستاني ملي اتحاد) ترمنځ له سیاسي دریځونو او ائتلافونو څخه ډېره ښه څرګندېدای شي. هغه داسې، څو چې دواړه کردي ګوندونه پورته یادو شویو جعفري ګوندونو ته په دغو اساسي او له رازه ډکو ځایونو کې واک پرېښي وي، نو په نور عراق کې به شیعي ګوندونه د دواړو کردي ګوندونو د غوښتنو مخنیوی نه کوي چې دا موضوع د کرکوک، نینوی او دیالا ایالتونو حالت ته په کتو ښه څرګندېږي.

یهودو ته مهمه دا وه چې په عراق کې داسې څوک نه وي چې د هغه بخت نصر یادګاري مجسمه جوړه کړي چې د اسرائیلو هېواد یې نیولی او یهود یې بابل ته شړلي وو. دا ورته مهمه وه چې د هغه صدام حسین یادګاري مجسمه جوړه نه شي چې د ژوند تر پایه به یې په لوړ غږ ویل: "له نهره تر بحره پورې دې عربي ازاد فلسطین ژوندی وي". فارسیانو او پیروانو ته یې بیا دا مهمه وه چې لارښود (د امام مرستیال) بې له کومه جنجاله په سامراء، کاظمیې، نجف او کربلاء کې واوسي. په حقیقت کې د صهیوني بوش په وخت کې د صهیوني امریکې او د خمیني د عراقي پیروانو په منځ کې پټ تړون و.

اوسني حالات د ګڼ شمېر لاملونو له امله ما ته اجازه نه را کوي چې د جمال او صدام په اړه ټول اړین شیان ووایم، ځکه زه د دوی کس او دوی ته نږدې وم، خو پورته مې د حقیقت یوه پاڼه څرګنده کړه. که زمینه برابره شوه، کېدای شي نور حقیقتونه هم څرګند کړم... دا دی د عراق پر نیواک او د صدام حسین



د حکومت د را پرځېدو پنځه کاله تېر شول. له صدام او بعث ګونده وروسته راغلي امریکایان او عراقیان وایي چې د دیکتاتورۍ او د یو ګوندي نظام(بعث) له منځه وړلو وروسته به نوی عراق جوړ کړي. زه په کې څه نه وایم، یوازې د دې موضوع له څارونکو او هر هغه شریف انسان نه چې د صدام ملګری یا ملاتړی نه وي، بلکې له ټولو خلکو، عراقیانو، عربو او بهرنیانو څخه غواړم چې د صدام او بعث ګوند پېر او د نوي عراق دوره دې سره پرتله کړي. دا خو طبیعي ده چې په سیاست کې ډېرې داسې پاملرنې شته چې سیاست‌پوهان یې د پرېکړې صادرولو په اړه تیاروي، خو لکه څرنګه چې په نړیوالو حالاتو کې معیارونه شته، په حقیقي ژوند کې همداسې معیارونه شته چې د رژیمونو او د نړیوالو د دریځ په ارزونه کې نه خطا کېږي.

موږ به د صدام او تر هغه وروسته دورې ترمنځ د خلکو په ژوند او رژیم کې د ځینو اړینو چارو توپیر ته یو نظر وکړو.

لومړی: کورنی امنیت، د نړۍ هر ولس چې له خپل حکومت څخه کوم څه ډېر غواړي هغه د امنیت را وستل دي. یعنې چې اوسېدونکي په خپل کور کې روغ ویده او سهار بېرته خپل کار ته خوندي او هوسا ستانه شي. همدا راز کله چې د ملګري یا دوست لیدو ته او یا د داسې نورو عادي چارو ترسره کولو ته ځي، غواړي چې امنیت یې خوندي وي. له ایران سره د جګړې له لړې مودې او له هغو وختونو پرته چې امریکې پر عراق پراخ بریدونه وکړل، نور په عراق کې له دېرشو په زیاتو کلونو کې خلک له پوره امنیت څخه برخمن وو، له دغه حقیقت څخه هېڅوک هم انکار نه شي کولی. له سیاسي کشمکشونو سره سره د صدام په دوره کې داسې څه نه دي پېښ شوي چې سهار دې خلک را پاڅېږي، په سړکونو دې پراته جسدونه وګوري او چارواکي یې دې په اړه ناخبره وي. په هغه وخت کې هر عراقی معلوم و، هر عراقی په دولتي ادارو کې ثبت و او تذکره یې لرله. نوم، د زېږېدو نېټه، د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسېدو ځای او داسې نور اړین معلومات په کې وو. کله به چې کوم اوسېدونکی د زړه د درېدا یا ترور له امله په سړک غورځېدلی و، پولیسو کولی شوای چې هغه په ډېر بد حالت کې هم په څو دقیقو کې وپېژني.

له صدام څخه وړاندې او د صدام په دور کې له دېرشو څخه د ډېرو کلونو په اوږدو کې د عراق حالت همداسې و، خو له صدام او د بعث له گوند څخه وروسته په نوي پېر کې عراقیان او رسمي چارواکي هره ورځ پر سړکونو لسگونه جسدونه پراتهویني. مسئولین یې د مړو یخچالونو ته لېږدوي، خو نه قاتل پېژني او نه مقتول. له اونیو او میاشتو وروسته چې کله یخچالونه ډک شي، بیا مړي په کربلا کې یوې هدیرې ته وړي او هلته یې په ډلهییزه توگه خاورو ته سپاري. نوموړې هدیره په عراق کې هغه ځای دی چې له لویو ډلهییزو قبرونو څخه ډک دی، خو د نوې دورې قهرمانان یې د صدام او بعث گوند په وخت کې پر ډلهییزو قبرونو د ډکېدو ادعا کوي.

یوازې امنیت د انساني ژوندانه له لومړنیو اړتیاوو څخه نه دی... پر دې سربېره چې له صدام حسین وروسته کورنی امنیت ورک شوی دی، داسې نورې اړتیاوې هم شته چې ټول وگړي ورته اړ دي او ځینې داسې اړتیاوې دي چې عراقیان پرې روږدي شوي دي. دا سمه ده، عراقیان چې پر ځینو شیانو روږدي وو، اوس یې له لاسه ورکړي، خو دغه کار څه وخت پیښ شو؟ ان له عراق سره د اته کلنې اوږدې جگړې په جریان کې هم په عراق کې د خلکو ژوند ښه و. په دغې ورانوونکې جگړه کې عراقي ولس په زړورتیا سره د جگړې ډگر ته ورتللو د پورته خبرې ښه دلیل دی چې په پای کې یې د تهران چارواکي دې ته اړ کړل چې جگړه بس کړي. که څه هم د دوی هغه ناروغې هیلې یې ور شنډې کړې چې د ملي نظام نسکورول او پر عراق یې واکمنې غوښته او عراق له دغې جگړې څخه ځواکمن او سلامت راووت.



پر دې ټول پوهېږي چې د ژوند هغه ستونزې چې عراقیان یې کړول د عراق له پراخې کلابندۍ وروسته پیل شوې. په ۱۹۹۱م کال کې چې پر عراق کوم ډول بندیز ولگېد، د هماغسې بندیز بېلگه د ملگرو ملتونو په تاریخ کې نه شته. مخکې هم ځینې دولتونه کلابند شوي وو، خو د عراق کلابندي داسې پروژه وه چې د عراق زندۍ کول، ورانول او د عراق د ملي نظام د رانسکورولو کار اسانول یې موخه وه. د دې لپاره دلایلو او شواهدو ته اړتیا نه شته، ځکه ټولو ته پوره معلومه ده. له دې پراخې کلابندۍ څو کاله وروسته په نړیوال دریځ کې بدلونونه راغلل. په هغه وخت کې چې امریکې او بریټانیې دا سیاست لوباوه، د فرانسې او روسیې دریځونه په تدریج سره بدلېدل او د عراق د ملي نظام د نسکورولو په لوبه کې یې نور گډون نه کاوه. سره له دې چې امریکا او بریټانیا د امنیت په شورا کې د وېټو له امتیاز څخه برخمن وو، خو بیا هم د کلابندۍ د سپکولو څه هڅې وشوې چې د ٦٨٧ پرېکړهلیک د ۲۲ بند پر اساس چې د چړاو(عامه وژنې) په وسلو پورې اړوند دی، دوی یې را گیر کړل. همدا راز په ور پسې کلونو کې د دوی دریځونه هومره بدل شول چې په بندیز کې هېڅ ډول سختي نه لیدل کېده. له ۱۹۹۷م کال وروسته داسې پرمختگونه وشول چې عراق د یو څه ساده حرکت واک ترلاسه کړ او دې کار د عراقي ولس پر ژوند هم یو څه اغېزه وکړه. دلته حقیقت دا دی چې د عراق رهبري له داسې پراخې او سختې کلابندۍ سره سره بیخې ډېره هڅه کوله چې له ولس څخه دا بار سپک کړي. لومړی څه چې عراق پرې وتوانېد، هغه په ۱۹۹۱م کال کې د دښمن له لوري د ویجاړو شویو ځایونو د بیارغولو په موخه د یوه پراخه ملي پروگرام په لاره اچوول وو. «دښمن» د عراق هر څه ویران کړي وو، خو سربېره پر دې بیا هم عراقیانو د صدام حسین په مشرۍ د عراق پر پاتې وسایلو، وړتیاوو او ډېرو کمو امکاناتو د عراق په بیا ودانولو پیل وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۱۹۹۱م کال جګړې مهم عامه المنفعه ځایونه ویجاړ کړي وو، خو بیا هم عراقیانو وکولی شوای په اوچت همت سره ډېر ویجاړ شوي ځایونه بېرته ورغوي. او لکه څرنګه چې په همدې ټکي کې د صدام حسین د طبیعت په اړه یو درونډ حقیقت پټ دی، همداسې د ده او هغه نظام ترمنځ د توپیر په اړه هم درانه حقیقتونه پکې پټ دي چې له ۲۰۰۳م کال څخه وروسته د امریکا په لاس رامنځته شو.

بیا ودانول یوازې د رهبرۍ له خوا یو صادر شوی حکم نه و، بلکې پراخه ملي هڅه وه چې میلیونونه عراقیانو په داسې همت او جذبه ونډه په کې واخیسته چې د رهبرۍ، ولس او په ځانګړي ډول د ولس د ځلانده ډلو لکه علماوو، انجنیرانو، ډاکټرانو، د پوهنتونونو استاذانو او ټولو عراقي فرهنګپالو ترمنځ له سمې اړیکې پرته شونې نه وه. که مسلط دیکتاتوري نظام په وګړو په زور د کار کولو توان لري، لکه د مصر د اهرامونو په څېر یې چې پرې جوړ کړي دي، خو د «ولس» له لوري رد شوی دیکتاتوري نظام نه شي کولی چې د پراخې او سختې نړیوالې کلابندۍ په جریان کې فابریکې، پلونه، د برېښنا او اوبو بندونه، مخابرات او په ټولنه کې داسې نور مهم ځایونه بیا ځلي ورغوي ((نو دا پر دې دلالت کوي چې دغه نظام دیکتاتور نه و)).

لکه څرنګه چې د دې ټولو ودانول د عراقیانو پر لوړ ملي احساس دلالت کوي، همداسې د حکومت او ولس ترمنځ پر سالمې اړیکې هم دلالت کوي. د بېلګې په توګه په نوي پېر کې په بغداد کې د یوه ترهګریز برید له امله د عراقیه پُل خراب شو، خو په ۱۹۹۱م کال کې له بغداده نیولې تر بصرې پورې لسګونه پلونه ویجاړ شوي وو، خو څومره وخت چې دغه یو پُل د تېرېدونکو پر مخ بند و، په ۱۹۹۱م کې په همدومره وخت کې د عراق لسګونه پلونه بېرته ورغول شول. عراق اوس کلابند هم نه دی. امریکایانو هم دا ادعا کوي چې له عراقیانو سره د هېواد په ودانولو کې مرسته کوي. په داسې وخت کې چې



له نفتو څخه د عراق عواید په افسانوي کچه زیاتېږي او عراق کولی شي چې بې له کوم لازمي ځنډ څخه له ټولې نړۍ سره معامله ولري، خو بیا هم اوسني حکومتونه له څو کلونو راهیسې خپله برېښنا، د څښاک پاکې اوبه او ټلیفوني شبکې نه شي برابرولی، فابریکې په کې له کاره لوېدلې دي، د علمي مرکزونو وضعیت خراب دی، انجینران او د هنر څښتنان له عراق څخه بهر ته په تېښته دي، بلکې ډېری یې وژل کېږي او خبر یې پټېږي، خو بیا هم دغه حکومت ځان «ډیموکرات» ګڼي او وایي چې د «ولس» له لوري «غوره» شوی دی!!.

که موږ په عراقي اداره کې د صدام حسین د دورې او اوسني حالت فساد سره پرتله کړو، د صدام په پېر کې به ډېر لږ او په محدوده کچه فساد ومومو، خو په ډیموکرات او ازاد عراق کې د دولت په هر ارګان کې فساد خپور دی، ان دا چې د فساد په اړه عراق یو متل ګرځېدلی دی.

د دواړو دورو ترمنځ دغه وضعیت د اوسنیو او پخوانیو سیاسي درېځونو د څښتنانو په منځ کې پرېکنده معیارونه بردي. دا د ((پریمر)) په دوره کې د رهبرۍ د غونډې له جوړېدو بیا تر ننه پورې د امریکې، د امریکې د پیروانو، لاس‌پوڅو او د امریکې له لوري د عراق د چارو لپاره د ګمارل شویو کسانو د جوړ کړي نظام په طبیعت کې مهمې ګډوډۍ دي.

شونې ده خرچه کارت[1] له ولس او په ځانګړي ډول له نیستمنو سره د اړیکې لپاره د صدام حسین او اوسني حکومت د نظام د ارزونې لپاره یو بل اساسي معیار شي. د ۱۹۹۰م کال د کلابندۍ د پرېکړې له اعلان وروسته صدام حسین پرېکړه وکړه چې دولت به له خپل واک او وس سره سم د لومړنیو خوراکي توکو لکه وریژو، اوړو، بورې، چای، د ماشومانو د شیدو، پاکوونکو او نورو شیانو یوه برخه ذخیره کوي. کله چې پر عراق د ظالمې او پراخې کلابندۍ

۱- [د غریبانو او بېوزلانو لپاره کارت، کومې کورنۍ چې به دغه کارت درلود عراقي دولت به یې د کور خرخ ور کاوه].

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوره راغله، دغه کارت د عراق د اوسېدونکو او ځینې ګاونډیو غریبانو لپاره په کمه کچه په اساسي خوراکي اړتیاوو کې وچلېد او په عراق کې قحطي او لوږه رانغله. په هغو کلونو کې چې د خوړو او دوا په مقابل کې د نفتو پروګرام پلی شو، په پایله کې یې د هر چا لپاره د زېرمې ورځنی برخه له (۲۰۰۰) کالوری(انرژی) څخه پورته شوه. په ۲۰۰۳م کال کې له وروستی جګړې څخه وړاندې صدام حسین امر وکړ چې د درېیو میاشتو برخه دې مخکې له مخکې ورکړل شي، ځکه دی پوهېده چې د دښمن د برید له امله به ګډوډي زیاته شي.

کله چې د ((فردوس)) په سیمه کې امریکایي ټانګونو د صدام یادګاري مجسمه را ګوزار کړه، نو د نوي نظام دولت مرستندویانو له ډېرې خوشالۍ اتڼونه کول. حال دا چې دوی او د دوی کارکوونکي لا تر اوسه د صدام زېرمه کړي غذایي مواد خوري. اوسني حالت ته به وګورو چې څنګه دی!!

لومړی: عراق له کلابندی څخه ووت او اوس کولی شي چې خپل نفت، تولیدات، ګوګړ او هر څه چې د صادرېدو وړ وي هغه صادر کړي. همدا راز څه چې غواړي له رقابت او د امنیت په شورا کې د جزا د کمېټې له دخالت پرته یې اخیستلی شي. د نفتو ارزښت هم لوړ شوی دی، ان یو بېلر یې له سلو ډالرو لوړ دی. د "نوي عراق" مسئولین وایي چې په ۲۰۰۸م کال کې یې د نفتو عایدات شپېته میلیارده ډالرو ته رسېدلي، بلکې تر سلو میلیاردو هم ډېر، خو په ۱۹۷۹م کال کې چې د ایران د بدلون له امله کوم کړکېچ رامنځته شو، د عراقي نفتو دخل به له دېرش میلیارده ډالرو نه زیاتېده.

اوس له پنځو کلونو وروسته چې حکومت ته هر څه برابر هم دي، د زېرمې کارت له منځه ولاړ، ډېری وخت مستحقینو ته هم نه رسېږي. که ځینو ته څه رسېږي «کم» وي. ډېری وخت بیا داسې مواد ورته رسېږي چې هغه خراب او له کاره لوېدلي وي. دا هر څه، څه پټ رازونه نه دي، بلکې دا معلوم او علني



دي، ټول عراقیان پرې خبر دي، نو ایا د هغه نظام چې په کړکېچنو حالاتو کې یې ولس ته د خوړو برابرلو هڅه کوله او هغه نظام ترمنځ پرتله شونې ده چې ښه بډایه دی او څه چې یې خوښ وي اخیستی شي، خو بیا هم د ولس او نېستمنو پروا نه ساتي او پر دې سربېره د ولس غذایي توکي هم لا ترې غلا کوي. وزیران او لوړپوړي چارواکي یې د مالونو د ترلاسه کولو او په بهرنیو بانکونو لکه په ایران کې د زېرمه کولو لپاره په ټرونونو ملنډې وهي!! پر دې هر څه سربېره همدا کسان بیا په پوره سپین سترګی په صدام او د هغه په نظام پسې بد وایي او ادعا کوي چې داسې نوی عراق به جوړ کړي چې ډیموکرات حکومت به یې د ولس له لوري انتخابېږي.

یو بل اساسي معیار هم شته، هغه دا دی چې د نوي نظام چارواکي څنګه رویه کوي او د صدام او بعث ګوند په وخت کې مسئولینو څنګه رویه کوله!!

د صدام حسین په اوږده دوره کې صدام د عراق ټولې ناحیې ولیدلې، د ښار په سړکونو، کلیو او کوڅو کې وګرځېد، له عادي خلکو سره یې ولیدل، کورونو ته یې ورغی او د ژوندانه پر حالاتو یې ځان پوه کړ. د دغو لیدنو او کتنو له امله د خلکو د حالت د ښه کېدو لپاره ځینې پرېکړې او اجراءات هم وشول. د صدام حسین د ټلیفون شمېره ټولو خلکو ته معلومه وه. هېوادوالو د ټلیفون له لارې هم خبرې ورسره کولی شوای. چا چې به یې د لیدو غوښتنه کوله، هغوی ته یې ثابت وخت ټاکلی و. په لسګونو او سلګونو خلک به ورته راتلل. پر ټولو وزیرانو یې دا لازمي کړې وه چې د وزارت د کارکوونکو او مراجعینو لیدو ته به یو معلوم وخت ټاکي. وزیر مجبور و چې ریاست ته یې د دې لیدنو او اجراءاتو راپور وړاندې کړی وای...

خو د نوي ډیموکرات نظام قهرمانان چې د دوی په وینا د انتخاباتو له لارې واکداران شوي دي، په پنځو یا ډېرو کلونو کې د امریکایي ځواکونو تر ملاتړ لاندې په خضراء سیمه کې ګوښه ناست دي، داسې کله ناکله که ترې را بهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، ځینې خو یې لا هېڅ وزارتونو ته هم نه ورځي، د وزارت چارې له کارکوونکو سره د ټلیفون له لارې اداره کوي یا ځینې کارکوونکي خضراء ته خپل کاري دفتر ته ور غواړي.

له ایران سره د جګړې په وخت کې د وسله‌والو ځواکونو اعلی قوماندان صدام حسین به د اردو لیکې کتلې، ان تر ډېرې ټیټې کچې خلک به یې لیدل. د هغوی په حالت، خوراک څښاک او اساسي اړتیاوو به یې ځان خبراوه، خو د ډیموکراسۍ له لارې ازاد انتخاب شوی لومړی وزیر او د وسله‌والو ځواکونو اعلی قوماندان پر بصرې او موصل د جګړې په وخت کې هېڅ هم ونه لیدل، بلکې په بصره کې په برېټانوي اډه کې پاتې شو او په موصل کې په امریکایي اډه کې او نه یې د بصرې او موصل هغه کسان ولیدل چې دی یې د (ازادو) انتخاباتو له لارې ټاکلی و، خو د صدام په وخت کې چې به صدام څه کول وزیرانو او پیروانو به یې هم هماغه کول. داسې کله هم نه وه پېښه شوې چې یو وزیر د په یوه اونۍ کې د وزارت ادارې او کارکوونکي ونه ګوري. یا دې پروژې او کارځایونه ونه ګوري. عراقیان اوس هم هغه یادوي چې د ظالمې کلابندۍ په وخت کې صدام حسین هر وزیر د عراق پر یوې ناحیې ګمارلی و چې ویې ګوري او د وزارت له امکاناتو څخه په ګټنې د په هغې سیمه کې ښه خدمتونه وړاندې کړي، خو کله چې د ډیموکراسۍ نوې دوره اعلانېږي، ډېری وزارتونه په خپلو پروژو کې ځانګړې بودیجه هم نه شي مصرفولی. مانا یې دا ده چې دا وزیران په اصل کې هېڅ کار نه کوي او نه د خپلو وزارتونو دندې پېژني، نه د وزارتونو په ستونزو او اړتیاوو خبر دي، خو کله چې بیا له هېواده بهر په امریکا او اروپا کې د کنفرانسونو او غونډو یا په ایران کې د لیدنې خبره وي، نو بیا یو چارواکی هم نه په شا کېږي. په هغه وخت کې سره له دې چې جګړې او بمبارونه وو، توغندي او راکټونه ورېدل، خو د چارواکو کورنۍ په عراق کې وې، خو اوس د ډېری چارواکو کورنۍ له عراق څخه بهر



ژوند کوي، هلته کورونه او اپارتمانونه لري، عراق ته یوازې د یوه سیاحتي چکر په توګه کله ناکله راځي. په صدام پسې به یې ویل چې ده میلیاردونه ډالر له هېواده بهر کړي دي، خو له پنځو کلونو وروسته چې کله د صدام ملي حکومت را نسکور او دی اعدام شو، د نوي نظام قهرمانانو، د دوی امریکایي او انګرېزي ائتلافیانو او نورو بېوزلو د نړۍ په یوه بانک کې هم د صدام په نوم یو ډالر ونه موند. چې دا هم د دوی هغه «دروغ» او «درغلي» رسوا کوي چې دوی د صدام او د هغه د ملي نظام پر ضد ترې کار اخیست.

دوی ویل چې صدام د فرانسې په سوېل کې دوه ماڼۍ لري. دوی هڅه کوله هغه ماڼۍ د فرانسې له حکومته وغواړي، ځکه دوی د عراقي دولت ملکیت ګڼلې. دا دروغ یې په داسې حال کې په صدام پسې تړل چې د عراق د بهرنیو چارو وزارت او په فرانسه کې د عراق د سفارت کارکوونکي خبر دي چې دا دوه کورونه (نه ماڼۍ) په اصل کې د عراقي دولت ملکیت و او په فرانسه کې د عراقي سفارت په نوم ثبت دي چې د اوومې زېږدیزې لسیزې له لومړیو ان تر اوسه یې کرایه ورکوي. همدا راز هېچا هم صدام نه دی لیدلی چې فرانسه یې د په ځانګړي ډول لیدلې او په دغو دوو کورونو کې اوسېدلی وي. حقیقت دا دی چې د صدام په پېر کې د نظام یوه ارګان دا دواړه کورونه له فرانسوي چارواکو څخه پېرودلي وو.

په پای کې دوی د صدام حسین د تفریحي بېړۍ خبرې پیل کړې، خو په حقیقت کې صدام هېڅ د سفر بېړۍ نه درلوده. هغه په اصل کې د دولت ملکیت و او د عراق د دولت په مشر پسې یې ځانګړې کړې وه، لکه په ملکي نظام کې چې هم همداسې و. بله دا چې هغه صدام په ځانګړي ډول کارولې هم نه ده. له ایران سره د جګړې په پیل کې د هغې جوړول هم وځنډېدل او بصرې ته را ونه رسېده، همداسې په بهر کې پاتې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا ډېرې کمې او ساده بېلګې وې چې د دواړو دورو ترمنځ يې په رويه او
دولت او ولس په پروا ساتلو کې مهم توپيرونه ښکاره کړل... د دېکتاتوري او
جلادي دورې او د ولس له لوري د انتخاب شوي ډيموکرات حکومت د
دورې ترمنځ، خو تر امريکايي اعلان شوي نيواک او ايراني نااعلان شوي
نيواک لاندې مغلوب شوی ولس پر داسې ډېرو ډېرو حقيقتونو خبر دی. دا
په داسې حال کې ده چې د دښمنانو او دسيسو پنځه کاله او شو اونۍ لا ن
دي وتلې.[1]

کومو وګړو چې د صدام حسين او بعث ګوند تر سيوري لاندې ژوند کړی،
اوس يې هم په ياد دي چې هغوی څنګه ژوند کاوه، صدام به څنګه سلوک
ورسره کاوه، وزيرانو يې څه ډول رويه کوله او اوس د نوې دورې قهرمانان
هم ګوري چې ژوند يې څنګه دی، څه کوي او څه نه کوي. همدارنګه بله
ډېره مهمه خبره دا چې د امريکا، اروپا او ايران په بانکونو کې څومره پيسې
لري!!

په حقيقت کې د دغه ځانګړي رهبر د بشپړ انځور د کښلو لپاره شو پاڼې بسنه
نه کوي. د صدام حسين دوره د ولسمشر له مرستيالۍ او د پرمختګ له رښتيني
مخکښۍ څخه رانيولې بيا تر ولسمشرۍ پورې له درېيو لسيزو زياته موده
وغځېده چې په شلمه پېړۍ کې د عراق د ولسمشر تر ټولو اوږده موده ګڼل
کېږي، نو له همدې امله ډېر عينيت او امانت ته اړتيا لري... د ملت‌پاله عربي
بعث ګوند د ځانګړي رهبر په توګه د ده رول، د انقلاب د رهبرۍ د شورا
رئيس د مرستيال په توګه، پر پراخې رهبرۍ سربېره چې په اويايمو کلونو کې
يې د فرهنګ او رسنيو د ټينګولو مسئوليت هم پر غاړه واخيست، د نفتو په
ملي کولو کې د ده رول، مخکې د مارچ د بيان او په هغو ايالتونو کې چې
ډېری اوسېدونکي يې کردان دي د خپلواک پرېښودلو په اړه د ده رول، د

[1] ليکوال د کتاب د ليکلو د مهال نېټه يادوي. اوس د عراق له نيواکه څه باندې څوارلس کلونه تېر شوي.



شمال د چارو د کمېټې د مشر په توګه دده رول. له ۱۹۷۴م کال وروسته د
بارزاني د بغاوت په ځپلو مشرفېدل، په ۱۹۷۵م کال کې د جزائر په تړون او د
بغداد په لومړنۍ ناسته کې د ده رول، د کېمپ ډېوېډ په تړون کې د انفرادي
مصر د تصرف له موضوع سره چلند او داسې ډېرې نورې بهرنۍ او کورنۍ
سياسي او ګوندي قضيې او هغه لويې پروژې چې د ده د اغېزې او رهبرۍ له
امله ترسره شوې. په اويايمو کلونو کې د ملي جبهې له موضوع او له
کمونيستانو، نورو ګوندونو او سياسي کتلو سره په اړيکو کې د ده چلند، دا
ټول هغه څه دي چې ډېرو ليکنو او ډېرو څېړکو ته اړتيا لري.

په حقيقت کې دا د خلکو په خدمت او د عراق په پرمختګ کې له پېښو،
خطرونو، ځلانده کارونو او د عراق د وسله‌والو ځواکونو له جوړولو څخه
برخمنه يوه اوږده لاره ده. پر دې سربېره يې د تلپاتې قادسيې په جګړه کې د
وسله‌والو ځواکونو د اعلی قومندان په توګه رول ولوباوه، هغه جګړه چې په
اوسنۍ زمانه کې تر ټولو لويه او مهمه عراقي او عربي جګړه ګڼل کېږي. دا په
داسې حال کې چې يو عربي هېواد اته کاله له داسې يوه هېواد سره په
ورانوونکې جګړه بوخت و چې له عربي هېواد څخه درې ځله په مساحت
کې لوی و او د عربي هېواد دوه چنده اوسېدونکي يې لرل او لکه څرنګه چې
مو مخکې يادونه وکړه، ايراني دښمن ماتې وخوړه او جګړه يې بس کړه.

صدام حسين د دغو کلونو، مهمو پېښو او لويو خطرونو په اوږدو کې تل يو
ثابت رهبر و. وينښ ذهن لرونکی، چابک، پرېکړه کوونکی، مفکر او داسې
رهبر و چې ټولو ته به يې غوږ نيوه او د اوږدو بحثونو په پای کې به يې دريځ
را لنډاوه (خلص کاوه).

دا لاره چې په پېښو ډکه، عزتمنه او بېله وه، رښتيا هم ډېر «رغون» ته اړتيا لري
او بايد د صدام حسين هغه ملګري په کې ونډه واخلي چې له ده سره يې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوموړو پېښو په جريان کې ژوند کړی و او په ځينو يا ډېرو کې يې ګډون هم درلود.

دا هڅه يوازې د ده د يوه عاجز ملګري د اوږده سفر سريزه او د هغو ملګرو لپاره يوه انګېزه ده څو وغږېږي او ليکنې وکړي.

په پای کې صدام حسين ولاړ، د نيواکګرو امريکايانو او عراقي مزدورانو په لاس په غدر سره ووژل شو. تاريخ به هرو مرو ووايي چې دوی د يوه پياوړي سړي په مخ کې خندونه وو. الله د پر صدام حسين ورحمېږي، په ژوندون کې لوی رهبر او د اعدام په وخت کې داسې زړور سړی و چې له مرګ څخه يې وېره نه درلوده، ان د خپل وخت د شهيدانو سردار ترې جوړ شو.

که څه هم نيواکګرو امريکايانو او عراقي مزدورانو له ډېرو ځايونو څخه د صدام حسين يادګاري مجسمې را ګوزار کړې، انځورونه يې ترې لرې کړل او نوم يې ترې پاک کړ، خو تاريخ به د صدام نوم، يادښتونه او کمالات په داسې اوچت انداز تکراروي چې د بې غيرته او ذليلو لاسونه به نه شي ور رسېدای.



## صدام حسين...

## د افسانې د کتاب لومړی کرښه

### د علي صراف په قلم [1]

هغه څوک چې په اړه به يې بېلابېل تصوّرات او خبرې کېدې. محکمه يې هم د حق او باطل د ابدي برخې ترمنځ يو بل تاريخي شاهد و.

د دغه سړي په ژوند کې داسې ډېرې پېښې وې چې د ده اصليت يې خلکو ته څرګند کړ، خو کله چې بندي شو، نو اصليت يې لا ښه ښکاره او څرګند شو.

هلته (په بند کې) يوازې د دغه سړي په مزاج اېښودل شوی حقيقت بربنډ شو.

هلته يې د خپل منصب هيبت د افسانوي اتل د هيبت کسبولو لپاره پرېښود.

او هلته د "ديکتاتور" حقيقت څرګند شو.

په ځولنو، قفسونو او قيدونو سره پر دوی ډېر اوچت ديکتاتور و. ولاړ به ننووت او په لوړ سر به بېرته راووت. داسې يو سړی و چې مرګ ته يې ويل:

که زما د اخيستو جرئت لرې، نو راشه زه دلته يم.

خو مرګ وانه خيست.

بلکې له يوه انځوريز فرېب پرته بل څه نه وو.

هو، د دار د رسۍ مخ ته ودرېد او کلمه يې وويله.

هو، موږ وليد چې لوڅ سر، خلاصې سترګې او څپاند د دار د رسۍ په لوري ور روان و.

هو، موږ ليده چې تنه را کښته کېده، خو اخيرنۍ موسکا يې هر څه بيان کړل.

---

(۱) استاذ علي صراف يو مشهور پرمختګ غوښتونکی عراقي سياسي ليکوال دی. څو لسيزې له ولسمشر صدام حسين سره مخالف و. خو له نيواک وروسته يې په ډېره زړورتيا هڅواد، ولس او ضمير ته وويل. چې د صدام حسين او د ملي حکومت پر ضد د ده ټول دريځونه، مخالفتونه او سياسي چارې يوه لويه تېروتنه وه. او د هغو په اړه يې په څو مهمو مقالو کې ښکاره څرګندونې وکړې. چې د هغو له جملې څخه يوه دا مقاله هم ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی خبر و چې دا موسکا د مبارز، ملګري، مشر، رهبر او پلار په کتاب کې اخیرنی کرښه ده، خو د افسانې په کتاب کې بیا لومړی کرښه وه.

لکه څرنګه چې موږ د ده په "دیکتاتوریت" خطا شوي وو، همدا راز یې په "مرګ" هم خطا شوو.

هغه نه دی مړ شوی، بس یوه کرښه یې وکښله... موسکی شو. بلې ځمکې ته ولاړ، لکه په زینو چې پورته کېږي. داسې لکه د ژوند او ابدیت ترمنځ چې له یوې زینې پرته بل څه نه وي.

تنه یې را کښته شوه، خو مرګ نه وه اخیستې. له هماغې شېبې یو بل صدام وزیږېد، تلپاتی صدام، یو داسې صدام چې کله یې هم مرګ نه شي راڅخه اخیستی.

ومو ژړل، خپه شوو، خو سره موسکي شوو... داسې شېبه وه چې د یوه اتل تېر ایستل راته څرګند شول. په زړونو کې مو غېږه ورکړه. د ده یوه برخه مو الله ته امانت ورکړه خو یوه ډېره عزتمنه برخه مو ترې راوړه څو مقاومت پرې روان کړو.

دا مو هم څرګنده کړه چې له بل پلوه یې هم موسکا کوله، د اقتدار موسکا سره له دې چې دی د بابلي غوسې څښتن برېښېده، خو ډېر مهربانه او صبور انسان و. په غم ککړو ته به یې پر مخ اوښکې روانېدې. د نورو انسانانو په خېر ... نازک زړه یې درلود، هیبت او



لکه سپوږمۍ غوندې یوازې شو، چې خلک ټوله نه شي لیدلی، کومه نیمه خوا چې ور ښکاره شي، هغه بله نیمه یې هم همداسې ګڼي.

کېدای شي ستا د حیرانولو لپاره به همداسې وه چې ته همداسې بوخت پاتې شې. همداسې و څو له عراق څخه قدم په قدم دفاع وکړي، ان چې د تورو کینه کښو، ناولو او متعصبو زړونو خاوندان او احمقان ورته په غوسه شول. پر ده را ټول شول او د ده د وژلو او د ده له وژلو سره یې یوځای د عراق د ورانولو لپاره ائتلاف جوړ کړ.

په هماغه توروالي یې د ورانولو، وژلو، ځورولو او تښتولو پرېکړه وکړه. عراق یې د وحشت په ماشین او د وینو په خطرناک حوض بدل کړ. دوی بل څه نه درلودل، لکه له تورې تیارې سیارې څخه چې راغلي وي.

باید یې هم صدام وژلی وی، ځکه دوی غوښتل چې د عراق هیلې ورسره ووژني.

نوموړی اتل چې په زندان او محکمه کې څومره روښانه و، مخکې هومره نه و.

په لومړیو کې یې غوښتل چې دی سپک کړي، خو دوی یې سپک کړل.

دوی غوښتل چې د ده "دیکتاتوریت" محاکمه کړي، خو ده د دوی لاسپوڅي‌توب محاکمه کړ.

دوی غوښتل چې کمزوری یې وګوري، خو ده د یوه داسې جنګیالي له میراني

(c) ketabton.com: The Digital Library



به د ځای ملاتړ کوونکو اتلانو موږ ته هغه اړین معلومات برابرول چې موږ به په مرافعو کې اړتیا ورته درلوده چې له جملې څخه یې په صلاح الدین ولایت کې له نظامي مشرانو او د هوایي ډگر له مشرانو سره اړیکې وې. نوموړي ځای د ولسمشر له شهادت وروسته هم خپل کارونه پرمخ وړل...

خو په عمان کې د مرکزي دفتر رول ډېر لوی و، ځکه یو خو یې امکانات ډېر وو او بل له عراقه بهر و، دریېم دا چې په ژباړو او کارکوونکو کې یې ښه قدرت او غړي درلودل. د رسنیو په گډون ورته ډېر امکانات او امتیازات شته وو. پر دې سربېره یې د ولسمشر د کورنۍ له یوازیني غړي سره هم اړیکه درلوده، یعنې د ولسمشر له لور آغلې «رغد» سره. آغلې رغد د خپل پلار د دفاع د کمېټې له غړو سره د خپلې کورنۍ نماینده وه (ان په اصل کې د دغو دواړو دفترونو ترمنځ پرتله نه شي کېدای، ځکه د انبار دفتر په جگړې کې و او دواړو دفترونو یوې قضیې ته خدمت کاوه). خو بیا هم دغه مرکز د دولت د حقیقت پټوونکو، دروغ جوړوونکو او د نړیوالو قوانینو تر پښو لاندې کوونکو وسایلو پر وړاندې ښه فعالیت کاوه.

د ۲۰۰۴ز کال د مې په میاشت کې مو له وکیل استاذ زیاد خصاونه سره اړیکه ونیوله چې د دواړو عراقي او عربي کمېټو فعالیت په اردن کې همغږی کړي. بیا مې د وچې له لارې اوږني او ژمني سفرونه پیل کړل. لارې له خطرونو ډکې وې، امریکایي ځواکونو د عمان او بغداد ترمنځ مرکزي لاره تړلې وه، نو زه تللم، ځکه امریکایي کاروانونو ته څوک نږدې نه شوای ورتللی او لارې د مقاومت اتلانو پر یرغلگرو بریدونه کول. کله ناکله به د شپې له خوا دوی په لاس کې وې. کله ناکله خو به مو ځانونه څو ځله مړه گڼل، ځکه د د ورځو په تېرېدو سره مو جزایي وکالت لیکونه (دوسیې) جوړ کړل او د عراقي مدافع وکیلانو اتحادیې ته مو وسپارل. بیا مو جنایي محکمې ته وسپارل



چې هغې بیا امریکایي ځواکونو ته ورکړل څو له ولسمشر صدام څخه د هغه ځانگړې امضا پرې واخلي. دا وکالتونه مو امضا شوي بېرته په هماغه لاره ترلاسه کړل چې په پای کې مې په عراق او اردن کې دواړو کمېټو او د ولسمشر کورنۍ ته وسپارل. د عراق په دفاعي کمېټه کې په لسو جزایي وکالت لیکونه کې یو وکالت له ما او زما له ملگرو سره و. دغه وکالتونه د مدافع وکیلانو د خوځښت لپاره یو اساس شو.

## لومړی مدافع وکیل

د دې اجراءاتو له پای ته رسولو وروسته د محکمې په محاکماتي اصولو کې دې ته اړتیا پیدا شوه چې لومړی عراقي مدافع وکیلان باید ورته ونوموو. عراقیانو، عربو او نورو بهرنیو ملگرو ځانونه را مخکې کول، خو له زندانه بهر قانوني رهبرۍ دخالت وکړ او له موږ څخه یې وغوښتل چې درې داسې کسان نوماند کړو چې دقیق او پیاوړي صفتونه ولري او ډېره مهمه دا چې باید زړور او تکړه وي. موږ هم درې کسان ور ونومول. زه د لومړي مدافع وکیل په توگه غوره شوم، سربېره پر دې د عراقي کمېټې مشر هم وم.

په هماغه وخت کې د مدافع وکیلانو د اتحادیې د منشي، استاذ ضیاء السعدي ببل ملي دریځ دا دنده اسانه کړه، استاذ ضیاء له دې مخکې د څارنوالانو قانوني مشر و، خو د نیواک حکومت څکه لرې کړی و چې دی پاک، عزتمن او باکفایته انسان و. نوموړي به زموږ د کار په هره برخه کې مرسته راسره کوله او له موږ څخه به یې ستونزې کمولې. موږ ته به یې حقوقي مشورې راکولې او د څارنوالانو پر شالید به یې خبرولو. د ده د مشورو له امله موږ تر خپلې وسې وکولی شوای چې د هغو کسانو له غاړې مسئولیت کېږدو چې اهلیت یې نه درلود.

سربېره پر دې لکه څرنگه چې موږ په عراق کې ورسره مخ وو، همدا راز اردني وکیلان لکه استاذ محمد الرشدان، په اردن کې د کمېټې لومړی مشر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاذ زیاد خصاونه او نور هم له هر لوري له کورنیو او بهرنیو ستونزو سره مخامخ وو. د کمېټې د خرابوالي او د غړو د بدنامولو هلې ځلې کېدلې. دغو لورو د بهرنیو ایجنټانو لپاره کار کاوه. هڅه یې کوله چې حقیقتونه پټ کړي او د وکیلانو ترمنځ د بې باورۍ فضا رامنځته کړي. پر دې سربېره یې هڅې کولې چې د وکیلانو او د بندیانو د کورنیو ترمنځ اړیکې خرابې کړي او د ټولو ترمنځ شک رامنځته کړي. دا ایجنټان تر یو څه حده د خپلو موخو په پوره کولو کې بریالي هم شول، له همدې امله کمېټې ځینې غړي له لاسه ورکړل.

همدا راز د پخواني لومړي وزیر مهاتیر محمد په مشرۍ مو مالېزیایي وکیلان هم له لاسه ورکړل. هغوی له ډېرو ستونزو او پراخو مداخلو سره مخامخ شول څو له خپلو دندو لرې شي، خو دوی بیا هم له ولسمشر صدام حسین څخه د ملاتړ په خاطر خپل امکانات د کمېټې په لاس کې ورکړل.

ځینې صفوي ډلو ټپلو او له محکمې څخه استفاده کوونکو حکومتي چارواکو هم د خپلو عناصرو له لوري هڅې وکړې چې زموږ په ګرځنده ټلیفونونو او برېښنالیکونو پسې ډېر دروغجن معلومات را زیات کړي او په مقابل کې موږ هم ډېر معلومات ترلاسه کړل، دغه معلومات د محکمې له تالار څخه د ځینې هوادپاله کسانو له لوري په پټه خپاره شول. ځینو د "ضمیر" د ویښتیا له امله خپاره کړل او له ځینو څخه بیا په محکمه کې د خپلو کورنیو اختلافاتو له امله خپاره شول. موږ به له دغو معلوماتو څخه په ډېر پام سره کار اخیست.

دا چې دا قضیه یوه اړینه او تاریخي قضیه وه او دښمنان یې په لیکو کې دننه شوي وو، نو څو څله په خیالي پیسو زما د غولولو هڅې وشوې څو له دې خطري او اړینې دندې څخه وګرځم، خو زما لپاره الله بسنه کوله، زړه او ایمان مې ټینګ و، دغه عزتمن مسئولیت، دروند سړی، خپله قبیله، ولایت او ټول



عراق مې سترګو ته درېدل، همدا راز ټول درانه ملاتړي او د راتلونکي نسل او تاریخ پرېکړه مې سترګو ته درېده.

کله چې دښمنان زما له غولولو مایوس شول، هڅه یې وکړه چې د پلان دویمه برخه پلې کړي، زما د ترور او وژلو لپاره یې پوره کوښښونه وکړل، خو ټول ناکام شول. دا مسئله به نوره پر خپل ځای پرېږدو. تاریخ به پرېږدو چې خپلې خبرې وکړي. که مو د سپکو او لږو امکاناتو له امله کوم کمی کړی وي، نو راتلونکو نسلونو ته عذر وړاندې کوو او که مو داسې یوه پایله تر یو څه حده پوره کړې وي چې له وړاندې څخه خیال ګڼل کېده، نو د الله شکر ادا کوو.

که د ملګرو په اړه رښتیا ووایم، نو زښته اخلاصمن خلک وو، پر ولسمشر هم ګران وو، پر دوی باندې یې خپله خوښي او راحت څرګند کړ، په ځانګړي ډول عرب وکیلان، لکه دکتوره عائشه قذافي، استاذ نجیب نعیمي، استاذ صالح عرموطي، استاذ امین الدیب او نور، همدا راز زموږ بهرنی ملګری استاذ رمزي کلارک.

که رښتیا خبره وکړم، موږ مال او کوم مادي ملاتړ نه درلود. کله چې له ولسمشر صدام حسین او د هغه له ملګرو څخه د دفاع دنده را له غاړې شوه، نو نور کارونه مو ودرول او دفترونه مو بند کړل.

د ۲۰۰۵ز کال په اتمه میاشت په رمادي کې د کمېټې او دفتر وضعیت داسې حد ته ورسېد چې ورسره د بلې دندې پرمخ وړل ناشوني وو. کله چې د ولسمشر لور آغلې رغد زموږ د کمېټې په وضعه خبره شوه، له موږ سره ودرېده او دوه کمپیوټرونه او ورسره اړوند شیان یې راکړل، د کمېټې مرکز ته یې د انټرنېټ ځانګړی کېبل را وغځاوه څو له بهرنۍ نړۍ سره په اړیکه کې شو.

همدا راز یو ۱۳ kv برېښنا تولیدوونکی یې راته واخیست، له مرکز سره یې په چاپي، پاڼېزو او نورو سمبالوَنو کې مرسته وکړه. د ولسمشر کورنۍ زموږ د دفتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوو کارکوونکو ته د میاشتې ۳۰۰ ډالره معاش وټاکه او د نړیوالو اړیکو لپاره بې دفتر ته یو ګرځنده ټلیفون هم ورکړ.

لکه څرنګه چې زه د بغداد او عمان ترمنځ تلم را تلم، نو ما او کورنۍ مې ساتونکو ته اړتیا درلوده، خو ما د کمېټې لپاره دنده هم پرېښې وه، نو له همدې امله د ولسمشر کورنۍ له ۲۰۰۵,۱۰,۱ تر ۲۰۰۶,۳,۱ نېټې پورې د پنځو میاشتو لپاره د دریو ساتونکو معاش او زما د تګ راتګ مصارف راکړل، خو د ولسمشر د کورنۍ مادي حالت ته په کتو ځینې نور مصارف ځینو عربي خیریه موسسو په غاړه اخیستي وو لکه په اردن کې د وکیلانو استوګنه او له بغداده تر اردنه د تګ راتګ مصارف.

دا یادونه هم باید وکړم چې متحده‌ایالاتو او له هغوی سره د عراق د نیواک او استعمار په پروژه کې شریکانو له بېلابېلو لارو هلې ځلې وکړې چې له ولسمشر صدام حسین څخه د دفاع کمېټه له منځه یوسي او د ولسمشر او د هغه د ملګرو اخیرنۍ د ژغورلو رسۍ هم پرې کړي. د محکمو په ودانیو کې چې کوم پلانونه او تیارۍ روانې وې، پر هغو له خبرېدو سره یې د محاکماتي ډرامې د بریالیتوب هڅې وکړې. بیا یې هڅه وکړه چې د امریکایي مرکزي استخباراتو د ادارې یو عراقي الأصله افسر کمېټې ته دننه کړي، غوښتل یې چې د برېښنايیزې اړیکې له لارې کمېټې ته ننوځي. نوموړې ادارې نور اشخاص هم را لېږلي وو چې د کمېټې دننه ستونزې راپورته کړي او مهم عناصر یې له منځه یوسي. همدارنګه د هغو وکیلانو د یو لوري ته کولو هڅې یې هم کولې چې ولسمشر صدام باور پرې درلود. داسې ځینې هلې ځلې یې بریالۍ هم شوې، ځکه داسې فضا یې رامنځته کړه چې د کمېټې مهم او تکړه عرب مدافع وکیلان یې لرې کړل.

د حیرانتیا خبره خو دا ده چې د امریکایي مرکزي استخباراتو یوه قانوني مشاور خپله دنده د امریکایي -ایراني محکمې د کمېټې قانوني مشاوریت ته واړوله.



د دفاع کمېټې د محکمې د کمېټې له رئیس څخه وغوښتل چې ګوښه یې کړي، خو بې له کومې ستونزې د امریکایي استخباراتو مشاور د تش په نوم عراقي محکمې د کمېټې مشاور پاتې شو. نوموړي مشاور ډېرې هلې ځلې کولې چې بندي ولسمشر اعدام شي. همدا راز زموږ پر نیوکو سربېره یې بیا هم د کمېټې په چارو او تګلوري کې مداخله کوله. کله چې په ۲۰۰۶,۱۱,۵ نېټه د ولسمشر د اعدام امریکایي - اسرائیلي - ایراني پرېکړه اعلانېده، نو نوموړی مشاور ډېر خوشاله و.

کمېټې، رئیسانو او غړو یې او له کمېټې بهر نورو کارکوونکو چې د دفاع په ډله کې یې کار کاوه، ټولو په ډېرو سختو حالاتو کې کار وکړ. خطرونه وو، ستونزې وې، تهدیدات او دښمنۍ وې او ان د کمېټې ځینې غړي ووژل شول. موږ دا ستونزې، خطرونه او تهدیدونه د دې لپاره ګالل چې دا کار مو خپل ټپي عراقي ولس او د خپل عراق راتلونکي ته خدمت ګاڼه، هغه عراق چې که څه هم اوس د امریکایي نیواک، د هغه د ائتلافیانو، مرستندویانو او غلامانو په دسیسو کې را ګیر دی، که څه هم چې دوی زموږ د سر نه ټیټوونکي ولس پر ضد وحشي جنایتونه او جرمونه کوي، خو انشاء الله دا حالت به ډېر ژر له منځه ځي او عراق به د الله په مرسته او د عراق د هغو زامنو په همت چې د عراقي مقاومت په لښکرو او په ملي هېوادپاله عراقي ځواکونو او کمېټو کې دي ازاد، خپلواک، ځواکمن او یو موټی شي. او د نړۍ په دې ژوندۍ برخه کې به د استقرار او توازن اساسي عامل شي.

تاریخ او زموږ اتلو ملګرو وکیلانو ته وایم: په کومه رایه چې موږ په ۲۰۰۵ز کال کې متفق شوي وو، هغه دا وه چې ولسمشر په محکمه کې د دوی د غوښتنې مطابق د کمزوري تورن په توګه را څرګند نه شي، بلکې د یوه وکیل، رهبر او د هېواد د لومړي کس په څېر را څرګند شي. په هغه وخت کې مې رئیس ته دا نظریه وویله، هغه هم په ورین تندي ومنله، خو مطلق مسلکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسایل یې مونږ ته پرېښودل، ځکه هېڅکله یې د وکالت دنده نه وه تمرین کړې. نو همالته مونږ پر دې قانع شوو چې د صدام حسین په څېر یو لوی، څیرک او زړور سړی کوم مدافع ته اړتیا نه لري. په ځانګړي ډول په داسې حالت کې چې امریکایانو او د هغوی مرستندویانو کوښښ کاوه چې د یوه کمزوري تورن په توګه یې را څرګند کړي. شهید ولسمشر یوه ورځ د څېړنې په یوه غونډه کې قاضي ته وویل: "اې قاضي، ګرانو اتلو وکیلانو ته په ټول درنښت، زما پرېکړه به نهایي وي او تاسې حق نه لرئ چې زما رول له منځه یوسئ، ځکه مدافع وکیل، وکیل دی، بدیل نه دی." او په حقیقت کې همداسې وو هم. پر همدې باندې مونږ قانع او متفق شوي وو.

President Saddam Defense Lawyers

P.S.D.L

بسم الله الرحمن الرحیم

الله تعالی د آل‌عمران سورې ١٦٠ ایت کې فرمایي:

ژباړه: که الله مو مرستندوی وي، نو هېڅ قدرت درباندې برلاسی کېدی نه شي؛ او که هغه تاسې پرېږدي، نو بیا له الله نه وروسته څوک ستاسو مرستندوی کېدای شي؟ نو څوک چې رښتیني مؤمنان دي، هغوی د یوازې پر الله توکُل وکړي.

**د عراق د ولسمشر صدام حسین قدرمن مقام ته**

سلامونه او نېکې هیلې؛

سره له دې چې انګریز -امریکایي دښمن هېڅ قانوني اساس ته نه ګوري، د نړیوال قانون او د نړیوالو عرفونو او تړونونو مخالفت کوي او جهاد هم فرض عین شوی دی، خو وتلیو قانون پوهانو چې الله ښه قانوني پوهه ورکړې له



عربي او اسلامي امت او له تاسې قدرمن څخه د دفاع لپاره ناره پورته کړې ده چې "له ولسمشر صدام حسین څخه د دفاع" کمېټه جوړه کړي.

په عربي هېواد کې د دفاع کمېټې هم د دفاع له هغې کمېټې سره د لومړي ځل لپاره ولیدل چې په انبار کې ده او د ټول عراقي ولس استازیتوب کوي.

President Saddam Defense Lawyers

P.S.D.L

**د ولسمشر صدام حسین قدرمن مقام ته!**

د جینوا د تړون په (١٠٥مه) ماده کې دا حق ورکړل شوی دی چې له څارونکي پرته له وکیل سره لیدل کولای شي او دغه لوی شرف دی چې له تاسې سره ولیدل شي، ستاسې لارښوونې واورېدل شي او د هغو د پلي کولو لپاره ښه لاره غوره شي.

په دغه پیغام‌لیک کې داسې څه نه شته چې ستاسو قدرمن حقوق دې کم کړي.

الله دې تاسې د عربي او اسلامي امت لپاره د زېرمې په توګه وساتي.

| | |
|---|---|
| د دفاع د عراقي کمېټې رئیس | أعلی ناظم |
| مدفع وکیل | مدافع وکیل |
| خلیل عبود الدلیمي | محمد نجیب الرشدان |

دغه په عربي هېواد کې د دفاع د کمېټې د لومړني مشر استاذ محمد الرشدان لومړنی لیکلی پیغام و چې ولسمشر صدام حسین ته په زندان کې رسېدلی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویم څپرکی

## د تاریخي لیدنې سفر

پر الله قسم اې خلیله! په دې ورځو کې زوی د پلار لپاره څه نه کوي او پلار د زوی لپاره.

تا چې څه وکړل هېڅوک یې د چا لپاره نه کوي.

له الله څخه غواړم چې داسې یو ځای راکړي چې تا ته یو څه ښه درکړای شم. که څه هم ته یې کوې، خو زه د ډېرو هڅو اجازه نه درکوم، ځکه پوهېږم چې له ما څخه د دفاع بیه ستا ژوند دی.

الله ج، ته راته د خپلو شهیدو زامنو پر ځای راکړی یې.

*(صدام حسین په زندان کې)*

دویم سفر مې له معانات څخه پیل کړ، خو دا ځل له امریکایانو سره. ډېر ځله مې ترې وغوښتل چې له ولسمشر صدام حسین سره وګورم او د هغه لارښوونې واورم. کېدای شي دا مې له ولسمشر سره د نږدې لیدو د شوق او رغبت له امله و، ځکه ما له دې وړاندې د تلوېزیون له ښیښې پرته هېڅکله مخامخ لیدلی نه و، اوږده موده بې خوابه منتظر وم.

په ۲۰۰۴،۱۱،۲٦ نېټه د یوه اړین کار لپاره د عراقي وکیلانو مشر ور وغوښتم، په فکرونو کې ډوب وم. بغداد ته ور روان شوم. د امریکایي نظامي ګاډو د غرهار ترمنځ مې موټر چلاوه. سره له دې چې دوی ته ورنږدې کېدل له خطره ډک وو، خو د اتحادیې مرکز ته سلامت ورسېدم. یو کس مې ولید چې د محکمې استازیتوب یې کولو، پټ یې راته وویل چې په ۲۰۰۴،۱۲،۸ نېټه به له ولسمشر صدام حسین سره ګورم، خو خبره د د خطرناک دریځ او امنیتي لاملونو له امله همداسې راز وي. مخکې له دې چې ولاړ شي، زه یې پر خبرو وغوښتل او دا یې راڅخه وغوښتل چې یوازې به یم که به بل څوک هم راسره



وي، په کومه لاره به راځم، هغه د صفر تکی به کوم وي چې زه باید هلته یم. ډېرې حیرانوونکې پوښتنې وې، د ټولو معلوماتو له ورکولو ووېرېدم.

له دوو ورځو وروسته زما ګرځنده ټلیفون وکړنګېد، په دې وخت کې زه په رمادي کې وم. یو کس و چې یو څه بند بند غږېد او ویل یې چې دی امریکایي ژباړن (ترجمان) دی، له هغو امریکایي ځواکونو سره کار کوي چې ولسمشر صدام یې نیولی دی. له ما څخه یې وپوښتل چې ته خلیل الدلیمي یې؟ ما ویل هو. بیا یې د لیدنې وخت راته وښود چې همغه پخوانۍ نېټه وه. هغه ځای یې را وښود چې زه باید هلته یم. د اجراءاتو او حرکتونو په پټوالي یې ټینګار وکړ چې دا د ژوند په بیه راته پرېوځي.

زما په ژوند کې داسې تاریخي شېبې وې چې بیانولی یې نه شم او داسې احساسات مې درلودل چې له بیانولو یې کمزوری یم.

په معلومه ورځ په خپل موټر کې د بغداد په لوري وخوځېدم. مخکې له دې چې معلوم ځای ته ولاړ شم، هماغه کس (د محکمې نماینده) راڅخه وغوښتل چې اتحادیې ته ولاړ شم. له ځانه سره مې ویل چې کومه دسیسه نه وي، نو ګاډی مې بل ځای پرېښود او زه په بل ګاډي کې ولاړم، څو تنه د کاکا زامن مې هم راپسې وو. کله چې د اتحادیې مرکز ته ورسېدم، نماینده راته وویل چې د لیدنې نېټه ۲۰۰۴،۱۲،۱٦ ته اوښتې ده.

کله چې هماغه ورځ را ورسېده، نو په هماغه لاره روان شوم، خو د فلوجې د محاصرې له امله په صحرایي سیمه کې څلور ساعته وځنډېدم. زما له بده بخته بغداد ته له رسېدو مخکې زما موټر ودرېد، لومړی ځل و چې موټر مې په داسې دښته کې خرابېده. په دښته کې د شپانه له کېږدۍ پرته بل هېڅ شی نه معلومېدل، موټر مې له کېږدۍ سره پرېښود، په راپسې موټر کې سپور شوم. خو داسې برېښېده چې تقدیر زما موټر د دې لپاره خراب کړی څو پر دې وپوهېږم چې دا زما د وژلو لپاره یوه دسیسه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



موخې ته ورسېدم، ناڅاپه یو امریکایي تور نظامي ګاډی راته ودرېد، شپږ نور امریکایي زغروال ګاډي د ملاتړ لپاره ورسره وو.

یو امریکایي افسر رانږدې شو، زما د نوم او تذکرې په اړه یې وپوښتل. ګاډي ته د ختلو بلنه یې راکړه، ترڅنګ یې ښځینه هم ورسره وغوښته او وې ویل چې دا کار زما او زما د موکل د امنیت په خاطر کوي. په ګاډي کې دننه زما له بغله یو کس کښېناست او د لارې په اوږدو کې به یې راته کتل، خو کله به مو چې سترګې سره ولګېدې، نو بیا به یې نرۍ موسکا وکړه. سفر پنځوس دقیقې وغځېد. بیا ګاډی ودرېد، مخې ته مې پنځه کسه افسران ودرېدل، ښه راغلاست یې راته ووایه. یوې نارنجي خیمې ته یې دننه کړم، دوی نه غوښتل چې د ولسمشر ځای سم ووینم. بیا یې یوه څلور کنجه تالار ته دننه کړم، ۲۵ متره مربع شا و خوا به و، له مرکزي دروازې پرته یې دوې نورې دروازې هم درلودې. یوه دروازه یې یوې کوټې ته ورخلاصه وه چې نږدې ۱۲ متره مربع به وه چې په همدې کې به له ولسمشر سره لیدنه هم کېده، خو بله دروازه هغې بند خونې ته ورغلې وه چې ولسمشر په کې و.

په مرکزي تالار کې څو کمپیوټرونه ایښي وو، څلور افسران پرې راتاو وو. سملاسي پوه شوم چې دا زما او د ولسمشر د لیدنې د څار لپاره دي او له وړاندې مې لا باور درلود چې له لیدنې څخه به ویډیو ثبتوي.

زما بکس یې وپلټه چې د ولسمشر لپاره مې پاڼې، ځینې کتابونه او قرانکریم په کې را وړی و. دا توکي یې ترې راکړل او بکس یې راڅخه وګرځاوه. قران یې هم ور وګرځاوه او ویل یې چې که ولسمشر وغوښت، نو بیا به یې ورکړو. دوی مې خبر کړل چې ولسمشر ته مې د هغه د کورنۍ یا کوم بل چا هېڅ پیغام نه دی راوړی.



## زورور امرونه

یو افسر رامخکې شو او راته وې ویل: "نه به غاړه ورکوې، نه به یې ښکلوې او نه به له نږدې پوښتنه ورسره کوې. ستاسو ترمنځ مو دوه مېزونه ایښي دي. یوازې له لرې او په لاس پوښتنه ورسره کولی شې. کله چې هغه راوستل کېږي، نو د ښه راغلاست لپاره به یې نه خوځېږې. له تاسې سره به زما عسکر وي، که مو اوبه په کار شوې هغه به یې دروړي، هغه په عربي خبرې نه کوي او نه هم کوم جاسوس دی". ما ورته وویل چې زه او ولسمشر کوم خادم ته اړتیا نه لرو. په ځواب کې یې راته وویل: "نو بیا به له یو بل څخه ستاسو دواړو د ساتلو لپاره درسره وي، دا هغه اجراءات دي چې هرومرو باید وشي. او کتابونه او پاڼې به صدام ته هماغه عسکر ورکوي. ته چې له صدام سره د هر شي تبادله کوې، نو د هماغه عسکر له لارې به یې کوې".

خو په اصل کې دغه عسکر د امریکایي مرکزي استخباراتو کس و او په عربي ژبه هم ډېر ښه پوهېده. زموږ خبرې یې ښې په غور سره اورېدې. زه پوه شوم چې دوی د داسې تعلیماتو په واسطه غواړي چې زما او د ولسمشر پر ضد د یوه اروایي جنګ تمرین وکړي.

یرغلګرو غوښتل چې د ولسمشر د ولس د داسې زوی په واسطه یې ملاتړ وکړي چې له څارنوال کېدو وړاندې د ولس شوق ډېر تود ورته بیان کړي...

تر پنځه څلوېښت دقیقو مو زیات بحث وکړ، ما ټینګار کاوه چې په عراقي طریقه به خبرې ورسره کوم، خو دوی ډېرې خبرې کولې او ویل یې چې ولسمشر د اوس ولسمشر نه دی، اوس په جنګي جرمونو تورن دی. ما ورته وویل هرڅه چې دي، خو زه په سترې مشې کې ستاسې لارښوونې نه شم منلی، دویم مېز به هم لرې کوئ. که داسې ونه کړئ، زه چمتو یم چې دا لیدنه لغوه کړم، ځکه تاسې غواړئ پر دې کارونو مو، زموږ ولسمشر ته توهین وکړئ. را وخوځېدم، پاڼې مې بېرته په بکس کې اچولې او له دوی مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وغوښتل چې ما بېرته وباسي. ورته مې وویل: "داسې لیدنه نه غواړم چې هر څه به کې ستاسو په خوښه وي". کله چې خبرې ډېرې تودې شوې، یوه امریکایي افسره راغله، لږ لږ په عربي هم ګړېدای شوه، وې ویل چې زما غوښتنې مني. دا په دې مانا چې دوی د څارګرو آلو په واسطه زه څارلم او زما ټولې خبرې یې اورېدلې. افسرې په پای کې هڅه وکړه چې ځان خوښ ښکاره کړي، نو لاس یې راکړ او وې ویل: "هرڅه چې غواړې ویې کړه، خو په غېږ کې به یې نه نیسې".

دا نو ما کولی شوای چې له دومره احترام او درناوي سره سره چې ما ولسمشر ته درلود، زه د دوی امرونه ومنم؟!

په انتظار کې وم، لکه په سره اور چې ناست وم. داسې وم چې هره شېبه شونې وه چې له ژړا وچوم. وروسته یې د لیدنې کوټې ته یوړم. په خپل ځانګړې ځای کې کښېناستم. افسر راته وویل: "صدام پنځه دقیقې وروسته راځي"...

**دقیقې... ساعتونه**

پنځه دقیقې... پنځه دقیقې... زښته اوږدې شوې. له انتظاره ډکې وې. شوق او درد په کې و. خپل ټول تاریخ مې په راتلونکو داسې شېبو کې را لنډاوه چې زه یې هم په شکل نه پوهېدم... هڅه مې وکړه چې دننې احساسات مې د کوټې او له چت سره د نږدې لوړو کړکیو په څارلو را ټیټ کړم... خو نه کېدل، ډېره هڅه مې وکړه چې له تنګی او ګډوډ حالت نه ځان را وباسم. دا مې لومړی ځل و چې صدام حسین مې له نږدې لید. فکر وړی وم، ایا دا به رښتیا وي که به یو خیال وي؟ ایا... بس پوښتنو راګیر کړی وم. څنګه به یې وګورم. څنګه؟ څه به ورته وایم. ډېر فکرونه او احتمالات راسره پیدا کېدل. هڅه مې کوله چې خپل ځان کنټرول کړم. چې ناڅاپه دروازه خلاصه شوه او څلور افسران رانوتل، دېوالونو ته ودرېدل. یو څو ثانیې وروسته ولسمشر صدام



حسین را ننووت. معمره او سر لوړی لکه د تل په څېر، خو بېره او وېښتان یې اوږده شوي وو.

چې څنګه مو سترګې سره ولګېدې، له ځایه ور ولاړ شوم او زموږ ترمنځ له مېزه ور تېر شوم. څه لارښوونې چې دوی راته کړې وې، ټولې مې پرېښودې او ګرمه غېږه مې ورکړه، ده هم تر ما لاسونه تاو کړل. د څلور واړه افسرانو حالت بدل شو او پوښتنه یې کوله چې دا مو څه روان کړي دي، خو د حال په ژبه یې ویل: ایا دا هغه دیکتاتور نه دی چې موږ ته یې ویلي وو چې عراقیان ورڅخه د خلاصون په انتظار دي؟... بیا هک پک حیران ووتل، دروازه یې وربنده کړه، زه ولسمشر او یو امریکایي ساتونکی یې سره پرېښودو. ساتونکی به هم په هر نیم ساعت کې بدلېده. موږ ته یې څلور نیم ساعته د لیدنې وخت وټاکه.

مخامخ سره کښېناستو، ولسمشر خپل تور بالاپوش زموږ ترمنځ پر مېز کېښود. ده به تور نظامي جاکټ، سپین کمیس او تور پتلون اغوست. له جاکټه یې قلم او وړه کتابچه را وایسته. ژېړې پاڼې یې لرلې. بې له دې چې خبرې وکړي پاڼې یې واړولې. زه هم بې باوره وم او خبرې مې نه کولې.

فکر وړی وم. شکونه راته پیدا شوي وو. ایا دغه کس به رښتیا هم ولسمشر صدام حسین وي، ځکه دی بدل شوی و. په مخ کې یې ځینې د ستړیا نښې پیدا شوې وې. ایا هغه ورته کس خو به نه وي چې خلک یې په اړه غږېدل... شکونه همداسې پسې ډېرېدل. ځینې ملاحظې مې برابرولې، خو شېبه په شېبه مې سر را پورته کاوه. ده به له امریکایي عسکر سره شوخي کوله او خندل به یې. له ځانه سره مې وویل څوک خاندي او پر چا خاندي. ایا ورته کس په امریکایانو پسې خاندي او ولسمشر لا تر اوسه ازاد ګرځي. ایا دغه ورته کس یې ځکه نیولی چې د عراقي ولس معنویات کمزوري کړي... هرومرو ورته کس او امریکایي افسر په ما پورې خاندي... خو زړه نه منله او ویل یې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه همدا صدام حسین دی. لا یې پاڼې اړولې. بیا یې سر را پورته کړ او وې ویل:

"...ښاغلیه دا قصیده واوره:

[د قصیدې یو بیت یې را وړی]".

اوږده قصیده یې وویله، خو زما له یوه بیته پرته نوره هېره ده. کله چې له لوستلو خلاص شو وې ویل: "دا مې په زندان کې لیکلې ده، زندان نه شي کولی چې له ما او له هغه عربي مؤمن او د خپل امت د حقونو له مدافع څخه لاس نه راواړي. څوک چې تاریخ ولولي، دا به ورته څرګنده شي چې ازاد عرب ذلت او ماته نه مني. ان د نیواک د ظلم او سرکښۍ په حالت کې یې هم سر لوړ وي..." بیا یې ما ته وکتل، لکه غواړي وپوهېږي چې له زندانه بهر څه روان دي. ما اجازه ترې واخیسته، ځان مې ور معرفي کړ، نوم، قبیله او ولایت مې وروښودل او ورته مې وویل: ښاغلیه، زه له دې وړاندې چې یو وکیل یم، زه یو عراقي هېوادوال یم، د عراقیانو او عربي ولس سلامونه مې درته راوړي دي. زه زده‌کوونکی یم او ته استاذ یې. زه ستاسې قدر وړ لارښوونو ته چمتو یم. د راحت او ډاډ نښې یې پر مخ ښکاره شوې. بیا یې د مېز پر سر زما لاس ونیو او وې ویل: "موږ له هغې سره مشوره وکړه، خو زموږ مخه یې ونیوله"[1] بیا یې دا جمله څو ځله تکرار کړه، امریکایي پوځي هم هک پک راته کتل.

۱- دا په عراقي ادب کې یو اواز دی. د هغې زړې ښځې په اړه خبره کوي چې مظلومه نومېده. کله چې عثمانیانو عراق نیولی و هغه زموږ په قبیله کې وه. کله چې پوځیانو د صدام حسین اجداد شړلي وو، ځینو قبیلو له وېرې ځای نه ورکاوه. نو د دلیم یوې قبیلې ته یې پناه ور وړې وه. یوه مشر له ترکي پوځیانو خپله وېره ور ته ښودلې وه او بل مشر یې ور ور نه په ګوته کړی و. بل هم د تېر په خبر خبره ور ته کړې وه او دا کولی. چې دغه قبیله په دلیم کې یوه پیاوړې او عزتمنه قبیله وه. کله چې بل څوک ستاسې ملاتړ نه شي کېدی یې لیدلې وه او د کور ښتن وفات شوی و، چې هغه زما له ماماخېلو څخه و، یعنې زما د مور کاکاخېل وو. په کېږدۍ کې یوه سپین سرې ښځه اوسېده چې نوم یې "مظلومه" و. ډېر اولادونه یې درلودل. اولادونو یې ور ته وویل چې بیجاتو (چې د ولسمشر صدام حسین قبیله هم په کې ده) موږ ته پناه راوړې ده. او پوځیان له ټولو خواوو په کور را تاو دي، وایې چې را ویې باسئ چې ویې نیسو. که نه نو په زور در



بیا ولسمشر د اواز له کیسې وروسته راته وکتل او وې ویل: "خلیله، تاریخ تکرارېږي. الله د تا برکتي کړي، ستا هغه مور د برکتي کړي چې د تا غوندې زوی یې زېږولی او ستا قبیله او ټول د انبار اتلان د الله برکتي کړي". بیا مې خپله کیسه ورته وکړه چې څنګه مو د دفاع کمېټه جوړه کړه، عربي وکیلانو څنګه کمېټه جوړه کړه، څنګه مو دواړه کمېټې په اردن کې سره یوځای کړې. او دا چې په عراقي کمېټه کې (۲۵۰) څارنوالان وو. همدا راز عربي کمېټې هم بیخې زیات عربي او بهرني ښه په قانون پوه وکیلان لرل. د کمېټو له یوځای کېدو وروسته استاذ زیاد خصاونه د کمېټې رئیس شو، خلیل دلیمي د رئیس مرستیال شو. همدارنګه د کمېټې ټول غړي په رضاکاره ډول کار کوي او د کمېټې نوم مو "له ولسمشر صدام حسین څخه د دفاع کمېټه" وټاکه. ولسمشر ځینې کتنې ورسره ولیکلې، لږ وروسته یې له پاڼو سر را پورته کړ، منّنه یې راڅخه وکړه او وې ویل: "زما سلام د کمېټې ټولو غړو په ځانګړي ډول استاذ زیاد خصاونه، د هغه کورنۍ، تاریخي اصلي قبیلې او همدا راز دکتور هاني خصاونه ته ورسوه" ولسمشر وغوښتل چې کمېټه "له ولسمشر صدام حسین او ټولو عراقي او عربي زندانیانو څخه د دفاع د اسنادو کمېټه" ونوموو.

ولسمشر د عراقي ولس په اړه وپوښتلم چې څنګه دی، ما هم د ډېرو کیسو په اړه خبرې ورته وکړې، ده راته وویل:

ننوځو او نیسو یې. مظلومې سر وټکاوه او ویې ویل: که مو دوی ور ته وسپارل زه به خپل تي پرېکړم. تاسې هغوی باید قانع کړئ چې بېرته ولاړ شي. نو اولادونه یې ور ووتل او پوځیانو ته یې وویل چې موږ مشوره ورسره وکړه، خو هغه یې نه مني. مظلومه را ولاړه شوه، د هغې کېږدۍ شا او خوا د لرګیو دیوالونه یې وسوځول چې د ولسمشر قبیله په کې وه. له خپل زاړه ټوپک څخه یې ډزونه وکړل. پوځیان د ښځې له ټینګاره وویرېدل او په شا شول. چې له دې وروسته بیا د قبیلې سړیو له اولادونو سره اوازونه پیل کړل او ویل یې چې "موږ مشوره ورسره وکړه خو هغه یې نه مني".

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هو ما هم دا او له دې زیاته هیله لرله، ځکه امریکا چې عراق ته راغلې خپلې موخې ډېرې ښې ورته معلومې دي. د دې لپاره راغلې چې عراق وران کړي او فساد په کې خپور کړي. د عراق د زامنو ترمنځ فتنې را ولاړې کړي او د دوی پانگه چور کړي". بیا یې پسې وویل: "زه او د رهبری ملگري مې پوهېږو چې امریکا خو هرومرو راتلونکې ده، د بوش او څوک چې شا او خوا دي ټولې ادعاوې د دښمنانو د راوستو لپاره دي. د ټولو نیتونه هم ډېر ښه څرگند دي چې دروغ وایي که رښتیا". ما ورته وویل چې ټولې ادعاوې یې دروغ ثابتې شوې چې دا به ستا د قانوني دریځ په ملاتړ کې مرسته وکړي. ده وویل:

"کله به چې موږ ورته ویل چې عراق پراخې ورانوونکې وسلې نه لري، موږ رښتیني وو، د همدې لپاره مو غوښتل چې ټولو ته څرگنده کړو چې موږ مرسته کوو، په ځانگړي ډول کله چې ځینو عربو راځخه وغوښتل، خو بدبختانه چې امریکې پر نړیوالې ټولنې تجاوز وکړ. بې له کوم شرعي او قانوني سند څخه یې دښمنې پیل کړه. پر دې هر څه سربېره مو بیا همداسې غږ وانه ورېد چې له امریکې څخه د هغې د دروغو حساب وغواړي. لکه څرنگه چې موږ ویلي وو، هماغسې ښه روښانه شوه چې خبره په «نفتو» او «اسرائیلو» پورې تړاو لري. نو له تاسې هم غواړم چې پر هغو ټولو څرگندونو باور وکړئ چې فرانسه، جرمني او یا یې نور څرگندوي". ولسمشر ته مې وویل چې د ملگرو ملتونو منشي کوفي عنان څرگندونه کړې او پر ملگرو ملتونو د شوي تجاوز یادونه یې په کې کړې او نیواک یې په کې بې دلیله او ناقانونه معرفي کړی. ولسمشر وویل چې دا ورسره ومنئ او وې ویل:

"زه باوري یم چې د ملگرو ملتونو منشي هم د امریکایي دریځونو له لاسه په تنگ شوی دی، هغه په حقیقتونو او هدفونو پوهېږي او پر دې هم خبر دی چې امریکا غواړي چې دی یو مطیع وي نه فرمانروا". بیا مې ولسمشر ته وویل چې هسپانویانو هم خپل لومړی وزیر أثنار په ټاکنو کې گوښه کړ، واک هم



ملت‌پالو ته په لاس ورغی او همدا راز له عراق څخه یې هسپانوي ځواکونه هم وایستل.

ولسمشر یو څه راحته وبرېښېد او وې ویل: "ډېره ښه، انشاالله د بوش ټول غلامان به د رافدینو له ځمکې وځي، بوش به یوازې پاتې کېږي، بیا به یې امریکایي ولس مجبوروي چې خپل ځواکونه له عراقه په شا کړي، دا به ډېر وخت ونه نیسي".

ولسمشر په ۱۹۷۴ کال کې هسپانیې ته د خپل سفر په اړه داسې وویل:

"کله چې زه د انقلاب د رهبری شورا مرستیال وم، هسپانیې ته د تگ دعوت راکړل شو. زه په هاغه وخت کې ځوان وم، د انسان د روغتیا پر شرطونو سم نه پوهېدم. فکر مې کاوه چې څو د انسان د سر وېښته نه وي سپین شوي، نه ناروغه کېږي. له درېیو یو په بل پسې لوبډنو سره مخامخ شوم، یو ځل له اس څخه را ولوېدم، بیا په حمام کې ولوېدم او درېیم هغه وخت ولوېدم چې ټینیس لوبه مې کوله. له دې پېښو وروسته را ویښ شوم چې ډاکټر ته اړتیا لرم. ډاکټرانو راته وویل: ته باید ستوني ستغ پر ملا باندې پوره یوه میاشت پرېوځې. او ویل یې چې د هسپانیې لیدنه د وځنډوه، خو ما و نه منله او دوی هم ملابند را وتاړه. هسپانیې ته ولاړم، په غرناطه کې مو چکر وواهه. په هسپانیه کې مې ډېرو بلنو ته لبیکووایه، خو کله چې هېواد ته راستون شوم، ډاکټرانو زما د عملیات پرېکړه وکړه. خو ځینو بیا ویل چې یوه نیمه میاشت د پر ملا ستوني ستغ پرېوځي او بیا به له هغه وروسته پرېکړه وکړي چې څه وکړي. لنډه دا چې ما ورته وویل: که ستوني ستغ پر ملا یوه نیمه میاشت پرېوځم حالت به مې ښه شي؟ دوی وویل: کېدای شي ښه شي، نو یوه نیمه میاشت ستوني ستغ پر ملا پرېوتم. کله چې وخت پوره شو، راته وې ویل چې ښه شوی یې، له هغه وروسته کیوبایي ډاکټر مساج راکړ".

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ولس یووالي ته پاملرنه

ولسمشر د عراقي ولس او د هغوی د هېوادپاله یووالي احوال پوښتلو ته را وګرځېد او پوښتنه يې وکړه چې که نیواک د دوی د هېوادپالنې صف ور مات کړی او فتنې يې په کې خپرې کړې وي، نو بیا ولس څنګه دی. ما په ځواب کې ورته وویل چې امریکا خو خپلې هلې ځلې کوي، خو تر اوسه په خپلو هلو ځلو کې «ناکامه» ده. په دې موضوع کې مو ډېرې خبرې وکړې. ولسمشر ویل چې د امریکا ترخنګ نور هم ډېر لوري دي چې د عراق ورانی او د یووالي پاشل غواړي. وې ویل:

"زه پوهېږم چې دا ځواکونه به «وژنې» او «چاودنې» وکړي، عراقي ولس ته به غولوونکي معلومات ورکړي څو د دوی ترمنځ اړیکې له منځه یوسي، یوه کورنی او مذهبي جګړه به رامنځته کړي. خو زه د عراق ولس پېژنم. مخکې مې هم وویل چې عراقی ولس له خپلو پرته بل څوک نه شي پېژندلی. زه باوري یم چې دا هڅې به ناکامېږي او دا هر څه به نیواک والو، د هغوی مرستندویانو او غلامانو ته ور ګرځي. نو ښاغلیه زه څو وصیتونه درته کوم، ته يې اتل عراقي ولس ته ور سوه:

- هر مخور باید د هېواد امانت، لوړ معنویات او ربښتیني پاملرنه ولري.
- پر شکمنو لازمه ده چې د الله او هېواد پر وړاندې خپله ژمنه را یاده کړي.
- په عراق کې د دیني علماوو څخه غوښتنه کېږي چې یو له بل سره په اړیکه کې شي، نومونو ته د نه ګوري، امانت د وساتي او صفونه د یو کړي.
- غوښتنه کېږي چې یوازې د ثبات، جرئت، زړورتوب او ټینګښت په اساس جوړه رهبري د ومنل شي.



- له عراقیانو غوښتنه کېږي چې خپل صفونه سره یو کړي او هغه دښمن ته فرصت ور نه کړي چې په هر ډول او له هرې لارې چې وي د دوی صفونه سره بېل کړي.
- له ولسي، حکومتي او نړیوالو سازمانونو سره د اړیکې غوښتنه کېږي".

"بې زړه کېږئ مه او اندېښنه مه کوئ، همدا تاسې بریالي یاست، د الله رسی ټینګه ونیسئ او بېلتون مه غوره کوئ."

## ایران؛ تاریخي دښمن

کله چې مې د ایران په دریغ خبر کړ چې زرګونه ایرانیان يې عراق ته راوستي او په دروغو يې تذکرې او نور اسناد ورته جوړ کړي او د ټاکنو کارتونه يې ورکړي څو دا ثابته کړي چې دوی عراقیان دي، ده وویل:

"دا فارسیان خپلو اجدادو ته تللي دي، همدا يې کار دی. زه وېرېږم چې ایران به غدر وکړي او د عراق په چارو کې به پراخه لاسوهنه وکړي. د همدې فتنې شاته ایران ولاړ دی، ځکه غواړي چې سوېلي عراق د فارس له دولت سره وتړي. بلکې پر ټول عراق ولکه غواړي. د دوی دا موخه موږ ډېر وخته لا درک کړې وه، د سیمې دولتونه مو ترې خبر کړي هم وو. فارسیان غواړي چې یو لوی فاشېست دولت رامنځته کړي او خپله متعصبه پراختیا غوښتونکې فارس امپراطوري را ژوندۍ کړي. عراق او نورو خلیجي هېوادونو ته يې سترګې اړولې دي، پر همدې يې اتفاق سره کړی دی. ځکه هم ستا خبرې لرې نه ګڼم. په ځانګړي ډول همدا اوس د عراق د ازادۍ پر ضد لاسوهنې کوي، د دوی لاسپوڅي چې د بدر ځواکونه نومېږي، قصداً د عراقي ولس پر ضد ناوړه جرمونه کوي، هغه هېوادپاله عراقي مخور وژني چې پر خپل عربیت ټینګار کوي او د نیواک او استعمار لاره او منطق نه مني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د عراق-ایران جګړې څخه وړاندې هم په عراق کې د ایران لاسوهنې داسې حد ته ورسېدې چې نور یې پر وړاندې چوپ پاتې کېدل ناشوني وو. پراختیا غوښتنه یې له لویو موخو څخه وه. د شاه په وخت کې یې په شمالي سیمه کې له یاغیانو سره مالي مرسته کوله. دا لاسوهنې او مرستې داسې حد ته ورسېدې چې یاغي ډلو ته یې د ایران په ځمکو کې له ټولو سمبالونو، وسلو او زېرمو سره اوسېدو ته اجازه ورکړه. موږ د الجزایر تړون لاسلیک کړ او د عراق د ولس د یووالي لپاره مو دردناک تنازلات وکړل چې دا ټولو ته معلومه ده. د دغه تړون تر ټولو یوه څرګنده ماده دا وه چې دواړه هېوادونه به یو د بل په چارو کې لاسوهنه نه کوي.

"کله چې خمیني عراق ته پناه راوړه، د عراقیانو په منځ کې عزتمن اوسېده، خو پر دې سربېره هم چې ده د عراق په چارو کې لاسوهنه کوله، موږ سترګې پرې پټولې. خو کله چې یې انقلاب وکړ او د عراق خاوره یې د خپلو موخو د پوره کولو لپاره کاروله، موږ ترې وغوښتل چې یا د عراق پرېږدي یا د دغه هېواد قدر وکړي چې دی په کې اوسي، خو بیا یې هم شرم ونه کړ او د عراق پر ضد یې څرګندونې وکړې، ان عراق یې د فارس د ځمکې یوه برخه وبلله. دا هغه وخت و چې دی لا لوېدیځو استخباراتو واک ته نه و رسولی. خلیجي عربي هېوادونه به یې تهدیدول او په خپلو څرګندونو کې به یې د ایران ولایتونه ګڼل.

"لکه څرنګه چې ټولو ته معلومه ده چې له بېلابېلو لارو مو ډېرې هڅې وکړې خو له دوی سره «مخ» نه شو، خو کله چې خمیني تهران ته ورسېد، ځواکونو یې عراقي پولو ته نږدې تمرکز کاوه. ده به هم ښکاره خبرې کولې چې له عراقه به انقلاب کوي. په ۱۹۸۰ز کال کې به یې په سیف سعد، زرباطیه، مندلي او بدر کې زموږ سرحدي کلي او نور ښارونه په توپونو ویشتل. په لسګونه ځله مو د خبرو اترو له لارې ترې وغوښتل چې دا بریدونه ودروي، خو دوی چې



خپل دښمن ټیټ ګاڼه، په ۱۹۸۰.۹.۴ نېټه یې په ولسي انقلاب اتفاق وکړ، خو ناکام شو او شیعه عراقیانو تر سني عراقیانو وړاندې جګړه ورسره وکړه. په نړۍ کې د مسلمانانو ډېرو مخورو علماوو هلې ځلې وکړې چې دا جنګ ودروي چې یو هم سید أحمد سیکوتوري و، خو خمیني پر موږ د برید ټینګار کاوه، نو موږ هم ښه په «زړورتیا» ورسره «وجنګېدو»، زموږ له پرله‌پسې بریاوو وروسته خمیني «ماته» وخوړه. الفاو لومړنی عربي ښار و چې په زور یې نیولی و او په زور مو ترې ازاد کړ. بریا مو اعلان کړه، خمیني هم د زهرو غوړپ وکړ او په شریفه قادسیه کې یې په اوربند پرېکړه وکړه. په ۱۹۸۸ نېټه د بریا د اعلان ورځ وه.

"کله چې په ۱۹۸۰ز کال کې د ورونو په څېر له ایرانه په را الوتي ژېړ باد پر وړاندې ودرېدو، زموږ د ځینو عربي ورونو دریځ زموږ سینې یخې کړې. عربي دولتونو ایراني خطر احساس کړ، نو داسې دریځ یې ونیو چې د هېرولو نه دی. له موږ سره د جنګ په سختو حالاتو کې ودرېدل.

"کله چې خمیني مړ شو، ما ته د ملاتړ یو کس راغی او خبر یې کړم، دی هم ارام پرېښېده، خو ما وویل، انالله و اناالیه راجعون او الله د پرې ورحمېږي، موږ له هېچا سره هم کینه نه کوو.

"له نیواکه وروسته مې هم ورته پام و چې دوی څنګه یو ورانوونکی رول ولوباوه، امریکایانو څنګه اجازه ورکوله چې له ټولو تیاریانو او وسلو سره د ایران له ځمکو را وخوځېږي، ان دوی یې مرسته هم وکړه. ان کله چې یې د فردوس په سیمه کې یادګاري مجسمه را نړنګه کړه، زه له هماغه ځایه لرې نه وم، خو زه د داسې بې ځایه کارونو په کیسه کې نه وم، ځکه زما پام د عراق وضعې ته و. او دا ډرامه (د مجسمې را نړنګول) ځینو داسې اشرارو جوړه کړه چې عراقي وینه یې په بدن کې نه وه، دوی د دغې ډرامې لپاره له وړاندې او د یرغلګرو له لوري چمتو شوي وو. په دوی کې که کوم عراقي هم و، هغه

خپلې هوا او هوس پسې کړې و او مخکینی مجرم و، څکه هېڅ شریف عراقی هغه څه نه مني چې وشول".

ولسمشر همداسې پسې وویل: "ډېر علماء یې ووژل او له یرغلگرو سره یې په ناخاپي عملیاتو کې مرسته وکړه. دا ټول د هغه چا له امله وشول چې د دیني شخصیت او مفتي په ځای ناست دی، خو دین ترې بېزاره دی. نه د عراق او ولس او نه یې امت ته د نسبت کېدو هومره په کیسه کې دی لکه د ایران په کیسه کې چې دی. څکه دی غواړي چې په عراق، خلیج او سیمه کې داسې لوبې وکړي چې زړه یې وي".

له ایران سره د جگړې په اړه ولسمشر وایي: "کومو کسانو چې په اتیایمو کلونو کې له فارسیانو سره دفاعي جگړه خطا گڼله، اوس باید یو ځل بیا «فکر» وکړي څو پوه شي چې فارسي ایران یوه شېبه هم له خپلو فاشیستي موخو نه دی تېر شوی چې دا د عراق، عربو او مسلمانانو پر ضد د ناوړه لوبې یوه برخه ده. «ایران» «عراق» ته د «امریکې» راتگ «اسانه» کړ او امریکې بیا په عراق کې د ایران «لاسوهنې» ته".

ولسمشر پسې زیاته کړه:

"موږ ایران ته خپل ښه نیت ثابت کړ، له جنگه وروسته د الجزایر تړون ته را وگرځېدو. بیا مو پر دوی هم ښه باور وکړ چې د ښه باور د ثابتولو وعده یې راسره وکړه، خو دوی په حقیقت کې د امریکې له نیتونو سره په یوه خندق کې وو. موږ دوی ته جنگي الوتکې ورکړې چې له امریکې سره یې د جگړې په دویم مخ کې وکاروي. زموږ او د ایران د رهبرۍ د یووالي په اساس یې موږ ته د خندق په یووالي ښه راغلاست وویل، خو دوی د خپل عادت له مخې له موږ سره خیانت وکړ او تړونونه یې تر پښو لاندې کړل، د فارسیانو عادت همداسې دی. زه همدا اوس پر «سوریه» هم ډېر وېرېږم چې له اسرائیلو سره به یې په جنگ واچوي او بیا به یې یوازې پرېږدي. «سوریه» یې همداسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



«موخه» ده لکه اوس چې «عراق» دی او همدا راز ټول امت یې موخه دی. دا صلیبي جگړه ده، عربیت او اسلام دواړه یې یو ډول موخې دي. په دوی کې پټه کینه پر عراق، د عراق پر ولس او فرهنگ په برید کې ښکاره شوه. داسې ښکاره شوه لکه یو څوک چې د غچ اخیستلو لپاره ورانی کوي... په عراق کې د قانوني هېوادپاله نظام پر ضد سره را ټول شول او کله چې په نورو ټولو لارو کې پاتې راغلل، نو د مستقیم برید له لارې یې واک ونیو. که دوی په خپلو ادعاوو کې رښتیني وي، نو بیا ولې تر اوسه لا په عراق کې پاتې دي. خو که وروسته له هغه ووځي هم چې خپل لاسپوځي پر ولس واکمنان کړي، نو یوازې انځور به بدلون کړی وي. د دوی موخې صدام حسین او ټول نظام ته تر ضرر رسولو ډېرې لوړې دي".

## د عراقي لښکر وسله‌وال کول

له ولسمشر څخه مې وپوښتل چې داسې گنگوسې شته چې د ایران- عراق جگړې په جریان کې ځینو لوېدیځ والو عراق ته وسله ورکوله. ځواب یې راکړ:

"مخکې به د درېیمې نړۍ هېوادونو چې عراق هم په کې و، تقریبا له یوه ځایه خپل ځواکونه په وسلو سمبالول چې هغه شوروي اتحاد او ځینې ختیځ دولتونه وو، خو کله چې له صهیونیانو سره په اخته کېدو کې په پرله‌پسې ډول عربو ماتې وخوړه، نو موږ پرېکړه وکړه چې ځواکونه له بېلابېلو مصادرو څخه په وسلو سمبال کړو او دا لکه د نورو په څېر زموږ مشروع حق دی. په ځانگړې ډول عراق بیا له یوه ناوړه گاونډي سره اوږده پوله هم لري، داسې گاونډی چې فاشیستي هیلې لري، هلې ځلې کوي چې کرکجن ولسي انقلابونه وکړي. له دویمې قادسیې (عراق-ایران جگړې) څخه مخکې موږ له فرانسې سره تړونونه لرل. د بېلگې په توگه، زموږ د هوایي ځواکونو د ځواکمنولو لپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرمېږم. سملاسي په موټر کې سپور شوم او راووتم، دوه ملګري هم راسره وو. د هیت ښار د قضا سیمې پر لوري ولاړم او د قضا له قائم مقام سره مخامخ شوم. خپل ګاډی مې د هغه له ګاډي سره بدل کړ، بیا مې خدای پاماني ترې واخیسته. استاذ خلیله، ستا قبیلې ته نږدې د رمادي ښار شاوخوا به ګرځېدم. په حقیقت کې ما پرېکړه وکړه چې قبیلې ته زما له امله زیان ونه رسېږي، بیا نورو ځایونو ته ولاړم".

ولسمشر د یوې مودې لپاره چوپ شو... ما غوښتل چې د امریکایانو په اړه به په ټاکل شوي وخت کې ډېر څه واورم، نو پوښتنه مې ترې وکړه:

ښاغلیه څه فکر کوې ایا له بغداد څخه د دفاع په پلان کې کمزوري نه وه.

ولسمشر ځواب راکړ:

"هو بلکل ځینې مهمې کمزورۍ په کې وې، دښمن ګټه ترې پورته کړه او جګړه یې تېزه پای ته ورسوله. خو پر دې ټولو سربېره، زه وایم چې اتلو وسلهوالو ځواکونو، هغه که مشران، امیران، جنګیالي او که اتل فدایان او عرب رضاکاران وو، ټول په پوره مېړانه وجنګېدل، د دوی تر شا اتل عراقي ولس او رهبري وه... خو بس دا د الله اراده وه، د هغه امر خو نه شي بدلېدای"...



# څلورم څپرکی

## د پرېکړه کوونکې (جګړې) دویم مخ

### مقاومت

څوک چې د امپریالیزم او استعمار په مقابله کې یو ځل هم د سولې شاهد و،
نو څوک یې نه شي ترې اخیستی.
او که کوم څوک دغه کار وکړي،
نو امپریالیزم او استعمار به یې په خپله قبر وکني.

*راؤول کاسترو*

له صدام حسین سره خبرې له تاریخ سره او د تاریخ لپاره خبرې دي. کله چې د عراق او امت د جګړې د دویم مخ خبرو ته ورسېد، مخ یې وځلېده، د هغه زړور مقاومت مخ ته چې ټوله نړۍ یې تېز تګ او ځواک ته حیرانه وه.

ولسمشر راته وویل:

"خلیله، د جګړې دویم مخ (له یرغلګرو سره مقاومت) په ۲۰۰۳٫۴٫۱۱ نېټه پیل شو، یعنې له نیواک څخه یوازې دوې ورځې وروسته. په همدې ورځ مې له نظامي مشرانو سره ولیدل او ورته مې وویل چې که څوک څه وایي اورم یې، نو هر یوه ځانته ځواب راکړ، ځوابونه یې سره بېل وو، ان اخرني کس راته وویل: مشره له ما سره دوه پوځونه پاتې دي... ما ورته وویل: ولاړ شئ، پر الله توکل وکړئ او د جګړې دویم مخ مو پیل کړئ.

"ځکه نن چې څه پېښېږي هغه یو تصادف نه دی، نه هم بې پلانه کار دی، بلکې دا هغه عملیات دي چې له بریده وړاندې مو پلان ورته نیولی و. له لازمو احتیاطونو څخه مو کار اخیستی و، له دښمن سره د اوږدې جګړې او د ډلګۍ ډلګۍ جنګېدو لپاره مو مناسبې وسلې او نور توکي زېرمه کړي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"په ۲۰۰۳،۴،۹ نېټه مې د انقلاب له ښار څخه لیدنه وکړه او د ښار هغه وګړي چې په لويه پيمانه راته راغونډ شوي وو، الله په اماني مې ترې واخيسته او پرې مې ښودل. له دې لیدنې څخه عکاسي ونه شوه، ځکه موږ او انځور ایستونکي لاره سره بېله کړې وه، هغه د سختو هوايي بريدونو له امله را ونه رسېد. بیا أعظمیې ته ولاړم، له امریکايي ټانګونو سره نږدې مې د أعظمیې له ډېرو وګړو سره ليدل چې يوه امريکايي ټانګ فيرونه وکړل، زه په چپه پښه لږ ټپي هم شوم، خو ټپ ژور نه و.

"په ۲۰۰۳،۴،۱۱ نېټه مې له مشرانو سره له لیدو وروسته پرېکړه وکړه چې له بغداده ووځم، د ملاتړ لپاره ځانګړي کسان راسره وو، خو ما ترې وغوښتل چې خپلو کورونو او کورنيو ته ولاړ شي. يو څو کسان راسره پاتې شول او نور ولاړل، د دجلې د سیند لاره مو په وړه کښتۍ کې ووهله او له بغداده ووتو. کله چې مو د پټېدو پرېکړه وکړه، لکه په ۱۹۵۹ز کال کې چې جګړه تونده وه، لوڅې پښې به ګرځېدو، څه چې به مو ښکار کړل او يا به مو په فصلونو کې موندل، هغه به مو خوړل، نو له داسې حالت سره عادت شوم. پر دې سربېره مو شپې هم رڼولې، ستړيا وه او پلانونه مو برابرول.

"وروسته مې له څينو ملګرو سره د مقاومت لښکرې خارلې چې په هغه وخت کې لا زموږ ملګري نه وو بنديان شوي. موږ له لښکريانو سره په اړيکه کې وو، خو کله چې زموږ په ګرانو سوېلي ولایتونو کې د دښمن په ځانګړي ډول د ايران مخابرات او استخباراتي آلې خپرې شوې، نو دا مو غوره وګڼله چې هغو ولايتونو ته ور نه شو.

د بغداد لیدنې مې ورپسې پيل شوې، د مقاومت له اتلو کسانو سره په مستقیم او غير مستقيم ډول په اړيکه کې وم. بيا د ديالى او نينوى ولايتونو، د موصل اطرافو، د تأميم او حويجې ولايتونو، د صلاح الدين ولايت ټولو سيمو او د انبار ډېرو سيمو ته ولاړم. په يوه ځاى کې مې هم له دريبو ساعتونو زيات



وخت نه تېراوه. لاملونه یې ډېر وو، يو خو ما نه غوښتل چې د سيمې په خلکو بوج شم، په ځانګړي ډول د دښمن تر څار لاندې وم او بل ما نه غوښتل چې د خپل ولس د زيان لامل شم.

"موږ له مقاومت سره په اړيکه کې وو، په مستقيم او غير مستقيم شکل مې تر څار لاندې و او رهبري کاوه مې، د دوی د مورال د لوړاوي لپاره مو له څينو لښکريانو سره ليده کاته کول. کله به مو د ليکنيزو پيغامونو او کله به مو د غږيزو پيغامونو له لارې لارښوونه ورته کوله. د امنيتي ملحوظاتو له مخې مې عربي جامې يا د شپنو جامې اغوستې. همدا راز په بېلابېلو ګاډو کې به مو تګ راتګ کاوه، لکه په غټو او متوسطو بار وړونکو ګاډو کې، په ټکسي او دربس ګاډو کې.

"يوه ورځ موږ په ټکسي کې سپاره وو، کلاشينکوفونه، تومانچې او لاسي بمونه هم راسره وو. ناخبره د نيواک د ځواکونو سيمې ته ننوتو، موږ خبر نه وو دوی دغه سيمه نيولې وه، نو موږ هم ناڅاپه پرې ور برابر شوو، موټر چلوونکي چې زما له ملاترو کسانو څخه و، غوښتل يې چې د ګاډي لوری ور بدل کړي او بېرته په شا راوګرځي، ما ورته وويل چې څه پر الله توکل وکړه او پرې ور روان شه. کله چې ور ورسېدو، امريکايي ځواکونو ودرولو، خو موږ ته يې سم په ځير ونه کتل او راڅخه وېې غوښتل چې تګ ته ادامه ورکړو. وسلې مو تر پښو لاندې پټې کړې وې...

"له داسې ډېرو پېښو سره مخامخ شوو. ما به ډېرى وخت په يادو سيمو کې د عراقيانو دروازې ورټکولې او له اجازې وروسته به ورننوتم. ملګرو ته به مې ويل چې که مې د کوم عراقي دروازه وټکوله او خلاصه يې نه کړه، نو دا په دې مانا ده چې هرومرو به په موږ کې کومه تشه وي.

"د پټېدو په موده کې به مې چې له خلکو سره ليده کاته کول، نو هڅه به مې کوله چې پرې بوج نه شم، يا يې د خطر په خوله کې ور نه کړم. نو د امنيتي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ملحوظاتو له کبله به بېل ګرځېدم. که به کورونو ته ورتلم هم، نو ناوخته به ورتلم او د کور د څښتن له بيدارېدو وړاندې به سهار وختي ترې راوتم. "د مقاومت د اوږدوالي هڅه مې کوله، له ځينو لښکريانو سره د کتو په وخت کې به مې پيسې ورکولې څو مقاومت همداسې روان وي. له همدې امله کله چې امريکايانو ونيولم، نو لومړی پوښتنه يې د مقاومت او "أبو أحمد" (عزت الدوري) په اړه وه. ما په ځواب کې ورته وويل: کله چې پر ولسونو تېری وشي، کرامت او ارزښتونه يې تر پښو لاندې شي او پانګې يې لوټ شي، نو بايد چې مقاومت وکړي او له مقاومت پرته بله لاره هم نه لري. بيا مې ورته وويل: که عزت الدوري داسې ځای وی چې تاسې ته در معلومېدی، نو هغه به مې در څخه پټ کړی وی، [دا خو بيخي لرې ده چې اوس به يې در ښيم]. "د مقاومت په اړه يې زه ډېر په ټينګه پوښتلم، خو ما ورته ويل چې بايد ټول عراقي ولس زنداني کړي، ځکه هر شريف عراقی د دوی له تصوره د لوی مقاومت په ليکو کې دی چې ټول ازاد عربان، کلک مسلمانان، هېوادپالان او عام هېوادوال په کې شامل دي، هغه که ښځې دي که سړي دي، که واړه دي او که لوی دي. ورته مې وويل، لکه د بغداد له نيولو مخکې مې چې درته وويل، تاسې بايد خپل تابوتونه برابر کړئ او هغه ورځ نږدې ده چې تاسې به د بغداد پر دېوالونو را وځړول شئ[1]. دا يوازې زما خبره نه وه، بلکې پر بغداد

---

۱- ليکوال، سياستپوه او اکاډميک استاذ صلاح المختار په ۲۰۰۸،۳،۲۵ نېټه له الجزيرې ټلويزيون سره په ليدنه کې وايي چې شهيد ولسمشر هغه خبره رښتيا کړې وه چې ويلي يې وو چې نيواکوال به ډېر ژر د بغداد پر دېوالونو را ځوړند کړی شي. دا دی نن عراقيان د نيواک ځواکونو ته د بغداد له ديوالونو سره مانه ورکوي. يعنې په فلوجه، لطيفيه، مدائن، سامراء، ضلوعيه، بلد، يوسفيه، محموديه، صقلاويه او د عراق په نورو ښارونو کې.

ليکوال او سياسي شنونکی دکتور فيصل الفهد د "صدام حسين او صحاف رښتيا ويلي دي... دا دی د بوش او مرستندويانو دروغ يې ښکاره شول" (د ۲۰۰۵ کال د مې په ۱۲ نېټه، بصره شبکه) تر عنوان لاندې په يوه مقاله کې وايي "دغه ټول او نور ښارونه نيواکوالو او د هغوی لاسپوڅو ته د خپګان او مړيني مصدرونه جوړ شول"... او زياتوي: "امريکايان به د ويتنام په زيانونو شکر وباسي، ځکه هغه نسبت هغو زيانونو ته لږ وو، چې د عراقيانو په لاس ور ته ورسېدل او ور ته رسېږي. دې ته د ويتنامي مقاومت ځينو مشرانو هم اشاره کړې



راتاو ښارونو په خپل زړور مقاومت دښمن حيران کړی و. ما ته د خپل ولس ختې او ټينګښت معلوم وو. ورته ويل مې چې دا دی تاسې اوس زندی کېږئ، وژل کېږئ، د جګړې له ډګره تښتئ او داسې زيانونه درته رسېږي چې تاسو يې هېڅکله فکر هم نه و کړی... دوی چې له ما څېړنې کولې، نو داسې مې احساس کړه چې دوی ځان د سرېښو په ډنډ کې نښتي ګڼي او اوس د داسې حلالرې په لټه کې دي چې د خپل مخ اوبه وساتي".

د ولسمشر نظرونه لږ سره ګډوډ شول. زه دغه لوی سړي ته فکر وړی وم چې تقدير د يوه لوی دولت له رياست څخه د مقاومت په رهبر اړولی و. او په همدې حالت کې د خپل هېواد عراق په خاوره کې پاتې شوی و.

بيا بېرته خبرو ته راوګرځېد:

"امريکايانو ته مې وويل چې امريکايي ولس زموږ دښمن نه دی، زموږ دښمن ستاسې هغه حکومت دی چې تاسې يې د عراق په نيولو کې د سرېښو ډنډ ته ورغورځولي ياست، نو ځکه به تاسې ته په لوړه بيه تمام شي".

د اتلې فلوجې په اړه ولسمشر وويل چې داسې هيله کېده چې دښمن به نوی بريد پرې وکړي. "کله به چې صالون ته د را وتلو په حال کې ما د الوتکو غږونه اورېدل، داسې فکر مې کاوه چې دا به هرومرو د فلوجې او د هغې د اتلو اوسېدونکو پر ضد ور روانې وي. ځکه هغوی هېڅکله سر نه ټيټوي. هلته د مقاومت پر حجم او له دښمن سره په مقابله کې د هغې د سړيو ځواک ما ته معلوم دی. هلته د مقاومت ډېری غړي افسران، د عراقي لښکر عسکر، د ګوند غړي، هېوادپالان او د جيش القدس کسان دي چې لوړ تمرين يې ليدلی

---

ده. څو ورځې وړاندې چې يې له کرکجن امريکايي نيواک څخه د خپل ولس د ازادي ورځ لمانځله، د عراقي اتلوال مقاومت د لاسته راوړنو په اړه يې ډېرې خبرې وکړې. خوښې يې پرې څرګنده کړه او تاکيد يې وکړ چې د عراقي مقاومت ځواک او برياليتوب د عراقي ولس د پراخ ملاتړ له امله دی. ويتنامي مشر هيله وښوده چې هغه ورځ نږدې ده چې عراقي مقاومت په کې بريالی شي. امريکا له عراقه را وشړل شي او په کې زيانمنه شي"...

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی او پراخه جګړهییزه پوهه لري. اوس مې احساس وکړ چې دا ګڼې جنګې الوتکې د فلوجې په لوري ور روانې دي. له الله څخه مې غوښتل او دعا مې کوله چې د فلوجې له خلکو سره مرسته وکړي او بشري زیانونه لږ شي.

"امریکایانو ته مې وویل چې په بغداد کې اووه میلیونه انسانان اوسېږي، په دې کې دوه میلیونه وګړو وسله اخیستې. زه پر همدې باور وم او لا تر اوسه یم چې بې وسلې او بې ځواکه امت یو سرټیټی امت دی. نظامي مشرانو او ملګرو ته به مې ویل: له امریکایانو سره جګړې ته په ټوپکونو ځانونه سمبال کړئ. کله چې زموږ لښکرې پر مقاومت بدلې شوې، نو له امریکایي ځواکونو څخه زموږ لښکرې ډېرې ځواکمنې شوې. همدا راز له نیولو وړاندې چې له ملګرو سره وم، ورته ویلي مې وو "موږ د مرګ څکونکي یو".

"په ۲۰۰۳ز کال کې له نیولو لږ وړاندې د دجلې له سینده پورې وتم چې دا پورې وتل راته ډېر اړین وو. نو کله چې اوبو ته ورسېدو، هلته یوه وړه کښتۍ وه. کوربه راته وویل چې ستا او د کلاشینکوفونو پورې وتلو ته دا وړه کښتۍ بسنه کوي، خو ما ورته وویل: ته له کلاشینکوفونو سره په کښتۍ کې ولاړ شه او زه به په لامبو له سینده پورې وځم... د سړي ځواک د هغه په غړو کې نه دی، که داسې وای نو د وحشي ژوو ځواک به په داړونکو غاښونو او غړو کې و، بلکې د سړي ځواک د هغه په زړه او ایمان کې دی چې همدا دواړه سړي ته داسې عزم او زړورتیا وربښي چې غړي یې نه شي ورکولی. هو خلیله ...هر لښکر که غواړي چې خپله ځمکه له دښمنه وساتي، نو باید پیاده (په پښو) وګرځي. کله چې د بلې وسلې دوره پای ته ورسېږي، د لښکر جوړښت هم ټیټېږي او پای ته رسېږي او بیا د مقاومت کوونکي دوره پیلېږي.

"ما به تل په رهبرۍ او مقاومت کې له خپلو ملګرو او وروڼو سره پر اړیکو ټینګار کاوه. د دوی لیدل، خبرې اورېدل او د دوی د هغو نظرونو له نږدې اورېدلو ته به مې زړه کېده چې موږ ته به ګټور وو.



"یوه ورځ مې له "أبو أحمد" سره په یوه دره کې ولیدل. لکه څرنګه چې یې ژمنه کړې وه هماغسې لوړ مورال یې درلود. دا چې په هوار ځای به کښېناست، نو زموږ د کښېناستلو لپاره یې پوستین (چپن) را وایستله او پر ځمکه یې اواره کړه. له هغه وروسته مې بیا ونه لید، خو د دریېم لوري په واسطه به سره په اړیکه کې وو.

# پنځم څپرکی

## د ۱۹۹۱ د برید پیښې

ای مبارزه...
کله چې د ارزښتمند لوړ ریتوبونه تر سترګو شول،
نو خپله مېړانه د ښکاره کړه.

*(صدام حسین)*

وروسته له دې چې زموږ پر عربي امت باندې څو ځورونکې پېښې راغلې، اوس خلک بیخې له دې خبرې سره عادت شوي دي، او وایي چې: اسرائیل وپوښتئ یا امریکا وپوښتئ. خو ما ته چې کومه پوښتنه پیدا وه او خوب ته یې نه پرېښودم، هغه دا وه چې: ایا د عراق په سیاسي رهبرۍ کې کومه ستونزه وه چې د امریکا له متحده‌ایالاتو سره یې اړیکه نه شوای جوړولای؟

کله مې چې دا پوښتنه له ولسمشر (صدام حسین) څخه وکړه، په ځواب کې یې راته وویل: "موږ د امریکا له متحده‌ایالاتو سره د تېرې پېړۍ په اتیایمو کلونو کې ګډوډې اړیکې درلودې، چې دغو اړیکو په هماغه وخت کې د عراق د سیاسي وضعې په ګډوډۍ اغېزه وکړه. خو زما په باور په (۱۹۸۴م) کې دا اړیکې بیا ورغېدې".

له ایران سره د جګړې په جریان کې مو له متحده‌ایالاتو سره د بهرنیو چارو د وزارت په سطحه چلند کاوه. د عراقي او امریکایي ولسونو د مصلحت له کبله د لا ښه تفاهم امیدوار وو. بناءً، هغه څه چې زما په یاد دي هغه دادي چې: د ولسمشر رونالډ ریګن په وخت کې مو له متحده‌ایالاتو سره د غنمو په باره کې چې زموږ ورته ضرورت و، تړون وکړ. امریکایي حکومت د تړون کولو لپاره زر امر صادر کړ. برسېره پر دې، د خبرو اترو عراقي هیئت ته وویل شول چې امریکایي شرکتونو ته پیسې مه ورکوئ، بلکې د امریکا حکومت به یې ورکوي، که مو وضعیت اجازه درکړه بیا کولای شئ چې پیسې ورکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


"دا خو بعضي هغه مسائل دي چې د ډېرو پېښو او کلونو په تېرېدو سره یې بیا هم موږ له یاده نشو ایستلای.

"په یاد مې دي، د ولسمشر ریګن په وخت کې د عراق د دفاع وزارت هلیکوپټر الوتکو ته اړتیا درلوده، دا هغه وخت و چې له ایران سره د جنګ له کبله پر موږ پرېکړون لازم شوی وو، نو موږ اویا که اتیا غیر مسلح الوتکې تر لاسه کړې، خو جبهو ته د زېرمو په لېږد کې ګټورې وې.

"د عراق-ایران جګړه کې، یوه امریکایي بېړۍ ولګېده، اوه دېرش امریکایي سمندري په کې ووژل شول. ریګن کولای شوای چې خپلو ځواکونو ته امر وکړي چې بغداد په نښه کړي، لکه کلینټن چې دغه کار وکړ، خو هغه دغه کار ونه کړ. لکه څرنګه چې ټول خبر دي، په عربي خلیج کې له سیمه ییزو اوبو وتلې یوه محرمه سیمه وه، چې له هغه لوري که هر څه (موخه) را تلل، نو هغه زموږ د پیلوټانو برخه وو، ځکه هغه موخه به یې دښمن ګڼله او په نښه کاوه به یې. هلته الیکټروني خارنه کېده. او هلته داسې پېښ شول چې زموږ پیلوټانو یو څه (موخه) ولیدل، توغندي یې پرې ور وتوغول او په اوبو کې یې ډوب کړل. بیا موږ له خپل لوري خبرتیا ورکړه چې د دوی کړنه ناسمه وه، ځکه دوی (امریکایان)، د دې لپاره راغلي وو چې په عراق یا په ایران خپله نقشه راکش کړي. نو موږ ښښنه وغوښته او امریکا هم ومنله، او دا چې امریکا ممانعت ونه کړ، نو متضرر شویو کورنیو ته مو بدله ورکړه، دا پېښه هېره شوه.

خو د ایران د قضیې په اړه ( ) په ۱۹۸٦ م کال کې دا اړیکې سخت حالت ته ورسېدې. امریکایي اداري ښښنه وغوښته، موږ هم ومنله، نو که څه هم ما ولسمشر ریګن نه و لیدلی، خو اړیکې مو له امریکا سره ښې وې.

"د معلوماتو له پلوه، موږ له امریکایانو څخه کوم معلومات نه دي لیدلي، خو زموږ عربو ورونو به دا کار کاوه، موږ هم باوري وو چې دا په غیر مستقیم ډول د امریکا کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې د ریګن له تلو او د بوش له "دلته یوه ذهني پوښتنه را پورته کیږي، هغه
راتلو وروسته داسې څه پېښ شول، چې نقشه بدله شي؟

"له ۱۹۹۰ م کال وروسته مو د دواړو هېوادونو د ګډو ګټو په خاطر او د سیمې د امنیت لپاره له امریکایانو سره د تفاهم لپاره د لارې پرانیستلو هلې ځلې وکړې. خو امریکا ټولې دروازې وتړلې. مونږ ورته وویل چې نفت داسې څه نه دي چې ویې ښنو یا یې تر ځمکې لاندې بیا را وګرځوو، دا د عراق قانونې پانګه ده او مونږ په دې کې لکه د عربي امت د ملکیت په څېر د ملي او ملتې ګټو په اساس د تصرف حق لرو. دا معقوله نه ده چې عراقیان د ګټه ترې پوره کړي او د اردن یا مصر یا موریتانیا ولس د ترې محروم وي.

"ځینو عربي لورو هم هلې ځلې وکړې چې زمونږ او د امریکا تر مینځ نوې لاره پرانیزي، ډېرې هلې ځلې یې وکړې په ځانګړي ډول ملک حسین، څو ځله یې له مونږ سره اړیکه ونیوله، پوښتنه به یې کوله چې که مونږ امریکایانو ته کوم پیغام لرو. زمونږ او امریکا تر مینځ یې د فضاء د نرمولو هڅه کوله. مونږ یې هلې ځلې وستایلې، خو داسې اړیکې مو غوښتې چې دواړو لورو ته بشپړ درناوی په کې وي. دا چې امریکا له ولسونو څخه غلامي غوښته، دا تګلاره مونږ ناقصه ګڼله. خو د ملک حسین هلې ځلې ځکه ناکامي شوې چې امریکا په سیمه کې د خپلو استعماري پلانونو د پلې کولو هڅې کولې.

"زما زوی خلیله تا ته وایم، چې امریکایي ولس یو شی دی او حکومت یې بل شی. ځینې حکومتونه د صهیونیانو له لوري رهبري کیږي... نو ځکه تاسې باید رسنۍ وکاروئ او په ځانګړي ډول امریکایي رسنۍ، څو دغه حقیقتونه امریکایي ولسونو ته څرګند شي.



## د پریماکوف لومړی لیدنه

"په ۱۹۹۱ م کال کې پریماکوف راته راغی، چې له کویټ څخه د عراق د ایستلو په وسیله د عراق پر ضد لا جنګ روان وو. ما ته یې وویل: ما څو ټکي درته راوړي او باید موافقه راسره پرې وکړئ. که موافقه ونه کړئ، نو روسیه به ستاسې پر ضد له امریکا سره په خوا کې ودرېږي. زه ورته موسکی شوم او ورته مې وویل: تاسې د امریکا په څېر مه تېر وځئ، تاسې خو باید مونږ له امریکا څخه ډېر ښه وپېژنئ، بله دا چې ګواښ هېڅ ګټه نه لري، هغه که د شخص له لوري وي او یا د دولتونو له لوري وي. داسې خبرې مې ورته وکړې چې دی یې ځوراوه، خو حق وې. بیا مې ترې وپوښتل: دا دی اوس خو د بمونو غړونه اورې، نو ته وا تاسې به د امریکا ځواک ته نور څه ور زیات کړئ. او که د امریکا ځواک ته څه ور زیات هم شي نو مونږ یې په کیسه کې نه یو. او بیا مو په ځینو ټکو توافق سره وکړ. خو د بوش پلار (بوش) بیړه کوله، نو ځکه هغه څه پېښ شول، چې پېښ شوي دي.

"دې خبرې ته راګرځم او په تکرار سره وایم، چې عراقي ولس د امریکایي ولس پر ضد نه دی، بلکې د امریکایي حکومتونو پر ضد دی، په ځانګړي ډول د ډبلیو بوش د حکومت، چې د عربو او مسلمانانو او آن د نړۍ د نورو وګړو په زړونو کې یې د سختې کینې اور بل کړی دی. زه په دې باوري یم چې هېڅ هیواد هم نه غواړي، چې اوس د امریکا له عراقه په سالمه توګه ووځي، نو عراق د هغو هېوادونو څخه په نیابت سره دفاع کوي. مونږ چې کله دا خبره کوو، نو نه له چا وېرېږو او نه دا غواړو چې امریکایي ولس د له مونږ سره مرسته وکړي، چې له زندانه مو خلاص کړي، بلکې دا یو حقیقت دی چې د عراق ولس او حکومت له یرغله وړاندې د امریکا پر ضد نه وو. خو اوس چې چا له دوی سره مرسته کړې، په اصل کې هغوی د امریکا غلامان او

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه لاسپوڅې ډله ده، او هغوی حکومت نه دي. تاسې هم زمونږ پر سیاسي لارې او عقیدې خبر یاست، هر څه ښکاره دي."

## د جاک شیراک سره لیدنه:

د نړۍ د رهبرانو په اړه مو خبرې کولې، چې له فرانسې خبره یاده شوه، نو ولسمشر وویل: "په یاد مې دي، په ۱۹۷۵ م کال کې مې له جک شیراک سره ولیدل، هغه زما ملګری و او له ډېرې عربي هېوادونو سره یې ښې اړیکې درلودلې. او ورنه مې پوښتنه وکړې وه چې: تاسې ولې غواړئ، چې عراق او عرب پرمختګ وکړي، ایا تاسې رښتیا هم همدا غواړئ او که هسې سیاسي خبرې دي؟

سړی په واضحه توګه غږېدو او ویې ویل: هغه څه چې عراق مطرح کوي، زمونږ د ګټو مخالف نه دي، او دا خبره یې سمه وه. ځکه یو دولت نشي کولای چې د ټیکنالوجي د پروګرامونو د وړاندې کولو څخه بغیر، د وروسته پاتې دولتونو د ولسونو حقوق ادا کړي. مونږ هم په هماغه وخت کې له وروسته پاتې دولتونو څخه ګڼل کېدو، او هر چا به چې نوې ټکنالوجي راته را کوله، مونږ به شک پرې کاوو.

او اوس وایم چې که زه به پخواني حالت پاتې وای، نو د جک شیراک سلام ته به ورغلی وم، ځکه هغه پر مونږ د ډېر درناوي او تقدیر کولو حق لري. خو اوس یې نه شم کولی، ځکه هسې نه چې زما له خبرو بله مانا واخلي.

ولسمشر د امریکایانو په اړه خپلو خبرو ته بېرته راګرځي:

"مونږ دوی ته ښه معلوم وو. نه د جنګ شوقیان وو او نه مو په خپلو درېځونو کې سختي کوله، خو داسې هم نه وو چې د هغو لومړیتوبونو پر سر له یو چا سره چاڼې ووهو، چې له ماشومتوبه زمونږ وو. مونږ له داسې چا سره د عادلانه او قانوني خبرو اترو غوښتنه کوله چې د ټولنې په ټولو اړخونو کې یې مصلحت وو، او حتی له داسې چا سره خبرو ته لېواله وو، چې له سولې د



برخمن عربي ولس په منځ کې د ژوند کولو حق لري. خو داسې برېښېده چې دغه تګلاره د ظالمو او طاغوتي هیلو لرونکو کسانو نه خوښېده.

"امریکا ټولې هغه لارې وترلې چې د عراقیانو له اړخه پرانیستل شوې وې. مونږ به امریکایي ادارې ته ویل چې د عراق په اقتصاد او سیاست د حلقه نه را تنګوي، ځکه چې د عراقې ټولنې په ژوند باندې اثر اچوي، دا څرګندوني کېدای شي د دې لامل شوې وې چې د امریکایي ادارې ځینو مغرضو سلاکارانو نوموړې ادارې ته ویلي وي چې پر عراق او ولس یې د اقتصادي حلقې د لا تنګولو په اړه ښه تګلاره غوره کړې. لوېدیځ ائتلاف سره وکړ او پر مونږ راغونډ شول، څه چې مو د کالونو په اوږدو کې جوړ کړي ول، ټول یې را وران کړل. نو دومره کېنه د څه لپاره...

"مونږ د ټولنې له لومړیتوبونو او حقوقو څخه د تېرېدلو او پر هغو د چاڼې وهلو په تګلاره عادت نه یو، آن که دا ننګونه زمونږ د مړینې او شهادت لامل هم شي،له اصلي لارې نه اوښتي یو او نه تښتېدلي یو. او دا هماغه زمونږ د نیکونو او پخوانیو صالحینو (سلف صالح) سیرت دی.

"او بیا را ګرځم او وایم، چې مونږ د امریکایي ولس دښمنان نه یو، نه کومه پوله ورسره لرو چې د هغې په سر ورسره اختلاف پیدا کړي. دوی پر دې خبر دي چې عراق د عربي أمت د ملا تیر دی، او هېڅکله به یې زړه ارام نشي تر څو یې چې فلسطین آزاد کړی نه وي، هغه فلسطین چې زمونږ تر ټولو لومړیتوبونو لومړی دی، او دا هغه څه دي چې دوی په قهروي. امریکا مخکې هم غوښتل او اوس هم غواړي چې خپل شرطونه پر مونږ ومني، او مونږ یې باید فقط سمع او اطاعت وکړو، چې دا ارمان به ګورته یوسي."

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ولسمشر؛ او ورسره فرهنګي او سیاسي شخصیتونه

ولسمشر صدام حسین د آزادۍ په جګړه کې او د دښمن د دروغو او باطلو ادعاوو په بربنډولو کې د رسنیو په ژور رول پوهېده، او دښمن هم د عراق د اشغالولو په اړه د خپل ځان پاکي له همدې لارې کوله.

له ولسمشر سره د ځینو هغو عراقي او عربي خبریالانو په اړه وغږېدم چې له مونږ او کمېټې سره په اړیکه کې وو لکه، استاد مصطفی بکري، استاد عبد الباري عطوان او استاد فهد الریماوي. تندی یې وځلېده او وې ویل:

"دوی ټول ډېر زړور سړي دي، مصطفی بکري یو اصیل عرب دی، دریځونه یې نه بدلېږي، زما سلام ده ته او د ده له لارې د مصر ولس ته ور ورسوه. او عبد الباري عطوان، هغه هم ډېر زړور انسان دی، زه ډېر باور پرې لرم، خپل ډېر وخت یې د امت د قضیو چوپړ ته ور کړی دی، همداراز فهد الریماوي ورور. دوی ټولو عراقي هېواد پالو او عربي خبریالانو او ټولو هغو ته د زما سلام وي چې رښتیني خبرې کوي، ښاغلی جورج ګالوي او ښاغلی رمزي کلارک ، چې له عراقه په دفاع کې یې نسبت مهاتېر محمد او نیلسن ماندېلا غوندې رهبرانو او نورو ټولو ازادو انسانانو څخه زیات تکالیف و ګالل... ورته ووایه، چې د صدام مورال له دې لیدنې وړاندې ۹۰ سلنه وو، او اوس یې سل سلنه بلکې یو سل او شل سلنه دی. او ورته ووایه چې زه په زندان کې دننه هم ثابت او ټینګ یم او زیات هیله مند یم، او د فتحې په راتګ کې یوه شېبه هم شک نه کوم او هومره ژر به راځي چې ډېر یې فکر هم نه شي کولای."

### د کویټ په اړه...

له اته کاله هلاکوونکي جنګ څخه وروسته چې د عربو جګړه مار دښمن ایران په ۸/ ۸/ ۱۹۸۸م کې پکې ماتې وخوړه او عراق له داسې غټ لښکر او لویو مشرانو سره په کې راووت، چې د مشرۍ او جګړې ټول فنونه او جګړه ایېز ځواک او معلومات یې درلودل، پر دې برسېره عراق د جنګ د اوږدو



کلونو په ترڅ کې په ټولو برخو کې ډېرې لاسته راوړنې درلودې، چې دا پر امریکایانو او نړیوال صهیونیت ښې ونه لګېدې. او عراق د فلسطین د ازادۍ په اړه عملي فکر کاوه، چې دا خبره د ولسمشر صدام هغه وینا هم تائیدوي چې د عراق له یوه ښار څخه د لیدنې پر مهال یې د هغې سیمې د اوسېدونکو یوې غونډې ته وکړه: "مونږ ته یواځې یوه وړه جګړه پاتې ده". او صهیونیان پر دې اشارې پوه شوي ول، او د دې ځواکمن قوت د له منځه وړلو د پلان لپاره یې فکرونه پیل کړل، داسې ځواکمن قوت چې که د فلسطین لوري ته یې مخه کړه، نو داسې څوک نشته چې د ودرولو توان یې لري. نو د دې نبض د کتلو لپاره یې اردن ته ګواښ وکړ، چې د جنګ سیمه به ترې جوړه کړي. د عراق غبرګون هم چمتو وو، کله چې ولسمشر وویل: " که اسرائیل وغواړي چې له اردن څخه د جګړې ډګر جوړ کړي، نو عراق به خپله له اسرائیلو څخه د جګړې ډګر جوړ کړي". او زیاته یې کړه: "که اسرائیل پر عراق د اتومي وسلې برید وکړي، نو مونږ به د غبرګوني کیمیاوي وسلې په واسطه نیم اسرائیل وسوځوو". دغه څرګندونه د هغه ایراني الاصله برېتانیایي تابعیت لرونکي جاسوس بازویټ له اعدامولو څخه وروسته وشوه، چې د موساد د ګټو لپاره یې د برېتانوي تجسس له دفترونو سره اړیکه درلوده.

اما عراق د خپل انکشافي دور او قومي وحدت په وسیله عربي صهیوني جګړه په عراقي صهیوني جګړې واړوله، ځکه عراق دا موندلې وه چې ځینې عربي حکومتونه داسې برېښي چې ګواکې د عربي قضیو په اړه یې له خپل قومي مسئولیت څخه مخ اړولی وي، او د دې قضیو محور فلسطین دی.

نو همدا وخت و چې صهیونیت په دې فکر کې شو چې څنګه د عراقي اردو له ځواکه ځان وژغوري، عراق څنګه وران کړي او د جګړې لوری څنګه بدل کړي. او کله چې یې دا عملي درک کړه چې عراق د خپل مملکت د مشرتابه او د قومي جوړښت له کبله د عربي صهیوني جنګ په ملاتړ کې اساسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



محرک او د دې جګړې فعال لوبغاړی دی. نو صهیوني لابي ګرې د عراق د ختمولو لپاره په متحده‌ایالاتو کې په ستراتېژیکو څېړنو او د ځانګړو بڼو پلانونو په جوړولو پیل وکړ.

د تېرې پېړۍ د اتمې لسیزې له ختمېدو وړاندې او د عراق پر اقتصاد د راغونډېدو او د عراق پر پولو د تېري په ترڅ کې، یوه امریکایي شرکت په ظاهره کې د نفتو د څېړنې لپاره له کوېټ سره تړون وکړ. دا ځل یې داسې ځمکې غوره کړې چې عراق ته ورګرځېدې او مایلې څاه‌ګانې یې وایستلې، بیا را ولاړ شول نفتي پانګې یې په داسې شکل ایستلې چې د عراق د نفتو په ذخیرو یې اغېزه درلوده. بیا همدغه شرکت په ډېره کمه بیه پر ایران باندې د را ایستل شویو نفتو خرڅول پیل کړل. همداراز همدغه شرکت د عراق د اقتصاد د له منځه وړلو لپاره نړیوال بازار په کم‌بیه نفتو ډک کړ. چې دا ټول کارونه له وړاندې ډېر په پام سره پلان شوي وو.

د عراق له نفتو او د عراق اقتصاد ته له ضرر رسولو څخه په لاسته راغلو ډېرو مالي عوایدو یې بسنه ونه کړه، بلکې د کوېټي لوري په اړه د معلوماتو د خپرولو او بربنډولو هڅې یې وکړې. کله چې په ۱۹۹۰ م کال کې شوروي اتحاد کمزوری شو او امریکا د یوه قطب په توګه یوازې شوه، نو دغه دریځ نور هم پرمختګ وکړ. او د عراق پر ضد صهیوني لوبه پیل شوه.

هغه پوښتنه چې له ما او ډېرو نورو سره وه، له ولسمشر څخه پوښتنو یې سخت تنګولم. خو ما قسم ورته کړی و چې د عراقیانو، عربو او نړۍ‌لید په اړه به به بشپړ صراحت سره هغه څه ورته وایم چې زما په ذهن کې ګرځي او هغه څه به ورته وایم چې بهر پر سړکونو تېرېږي. نو ځکه پوښتنه کوېټ ته د نفتو د پرېکړې په اړه وه: ایا دا پرېکړه په بېړه شوې وه او ایا دا عراق ته اېښودل شوی تلک و؟



په بشپړه ارامۍ یې ځواب را کړ:

"اې ښاغلیه، له فارسیانو سره چې د اتو اوږدو کلونو په جریان کې کومې عراقي وینې وبهېدلې، هغه له کوېټ او نورو څخه د دفاع لپاره وې. عراق د خپل امت او عربي چاپېریال په لاره کې ډېر څه وګالل، دا ځینې هغه لومړیتوبونه دي چې مونږ ګاللي دي او له امله یې راغلي یو. خو کوېټ بیا بازار په نفتو ډکاوه، په غیر قانوني ډول یې د عراق نفت غلا کول. عراق له جنګ څخه په داسې حال را ووت چې د عربي دولتونو له مرستو پرته ۴۰ میلیارده ډالر پور پرې باندې و. له جنګه له راوتو وروسته د دې پر ځای چې کوېټ له عراق سره مرسته کړې وی، عراق ته یې ضرر رسول پیل کړل.

"مونږ د ۱۹۹۰/۵/۳۰م په بغداد کې د ځینو دولتونو د مشرانو په مهم کنفرانس کې او په ځانګړي ډول له هغه وروسته د عراق د اقتصاد د خرابوالي په اړه د کوېټ او متحده عربي اماراتو رول ته ځو ځله پاملرنه وکړه.

"د ۱۹۹۰ م کال د جولای په میاشت کې زموږ او د کوېټ تر منځ د کړکېچ له سختېدو وروسته او وروسته له دې چې حل کېدل یې د خبرو له لارې سخت شول، ما د جنرال طارق عزیز په حضور په عراق کې د امریکې سفیره ګلاسپي چې ځان یې د خپل هېواد نماینده ګاڼه، را وغوښته، څو د عراق او متحده‌ایالاتو د اړیکو په اړه یو پراخ سیاسي بحث وکړو، همداراز روان پرمختګونه وڅېړو او بله دا چې زما پیغام به ولسمشر پلار بوش ته ورسوي.

## د کوېټ د کړکېچ په اړه د ځینو عربي هېوادونو دریځ

"د سیمې او خلیج هېوادونو چې له ایران سره د مقابلې لپاره له عراق سره مرستې وکړې، هغه بې لامله نه وې، بلکې دوی وېرېدل چې هغه خمیني انقلاب به یې له منځه یوسي، چې ایران یې عراق او د سیمې دولتونو ته د دننه کولو اراده درلوده، او ورپسې به طوفان پیل کړي.

"خو یوازې زور پېژندونکو ناوړه او شریرو څپو په وړاندې د عراق درېدل، دغه انقلاب له صادرېدو مخکې ختم کړ. استاذ خلیله کوېټ ته زموږ د دننه کېدلو په اړه پر یادو شویو لاملونو برسېره، د شرف او عزت موضوع موږ ته سور خط دی، هغه څه چې موږ یې ځورولو او کوېټ ته د ننوتو په اړه زموږ د بېړنۍ پرېکړې لامل شو، هغه د عراقۍ مېرمنې شرف ته سپکې کلمې وې، د عراق د ازادو او عزتمنو مېرمنو په اړه د کوېټي چارواکو زخمي کوونکې خبرې موږ اورېدې، چې زموږ له اصلي عربي ارزښتونو سره په ټکر کې وې. تاسې او نورې نړۍ د دوی له لوړ پوړو رسمي چارواکو څخه د دوی ښکنځل مارې خبرې اورېدې، دا خبرې داسې حد ته ورسېدې چې نور چوپ پاتې کېدل ناشونې وو. نو موږ وروسته له هغه کوېټ ته د ننوتلو او زموږ د غصب شویو حقوقو د را ګرځولو پرېکړه وکړه، چې د کړکېچ د حل لپاره ټولې سوله‌ییزې هلې ځلې وشوې.

"له کوېټ سره د پخوانیو را ولاړو شویو اختلافاتو د حل کولو لپاره مو ټولې وسیلې وکارولې، د ۱۹۹۰ م کال د جولای د میاشتې له ختمېدو وړاندې چې ولسمشر حسني مبارک را سره ولیدل، نو د لیدنې په جریان کې یې پوښتنه را څخه وکړه: ایا د کوېټ پر ضد د نظامي غبرګون هوډ لرې؟ ما ورته وویل: څو چې د خبرو اترو د بریا هیله وي، موږ د نظامي ځواک د کارولو هوډ نه لرو. او له ولسمشر حسني مبارک څخه مې وغوښتل چې کوېټیانو ته د دا خبره نه کوي، ځکه ګوندې هغوی په خبرو اترو کې نرمښت غوره کړي، کبر او غرور او له پردو څخه مرسته غوښتل پرېږدي، ځکه موږ کوېټیان ډېر ښه پېژندل. بیا یې په سوېل کې زموږ د ځواکونو په اړه وپوښتل، چې ایا هغه د کوېټ پر ضد د نظامي برید لپاره تیاری دی او که د هغوی د وېرولو لپاره دي، نو ما تاکید وکړ چې زموږ یوه موخه د هغوی وېرول دي. بیا مې د ده په ټولو طرحو موافقه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره وکړه او په عربي چوکاټ کې مو د ټولو را ولاړو ستونزو د حل کولو په اړه رښتینی رغبت وښود.

"له ولسمشر مبارک څخه مې هیله وکړه چې هڅه د وکړي چې امریکایان زموږ په قضیو کې مداخله ونه کړي. خو له بده مرغه، کله چې ولسمشر مبارک له عراقه کوېټ ته ولاړ او کوېټیان یې وېرېدلي وموندل، او نور د ته چمتو وو چې مخالفت د خبرو اترو له لارې حل کړي، نو ده ډاډ ورکړ چې عراق پر دوی د برید هوډ نه لري، د دې له امله کوېټیان بېرته په پخوانۍ دریځ کلک شول. او لکه څرنګه چې ویل کېږي چې ما ولسمشر مبارک ته له ځواکه د نه اخیستلو وعده ورکړې وه، نو دا سمه نه ده، ما د ځواک نه کارول د خبرو اترو په بریالیتوب پورې تړلی و. خو خبرې اترې ناکامې شوې. بیا ولسمشر مبارک سملاسي له ولسمشر بوش سره اړیکه نیولې وه او د کومو معلوماتو اراده چې یې درلوده هغه ټول یې پرې ور زیات کړي وو.

"خو سعودي عربستان بیا د مخالفت په سوله‌ییز حل کې جدي وو، ټول لوري یې سعودي ته د خبرو اترو لپاره ور وغوښتل، د ملک فهد له لاسه چې څه کېدل، هغه ټول یې وکړل، همدا راز په هغه وخت کې ولیعهد ملک عبد الله هم دریغ ونه کړ. خو له کوېټه، کوېټي هیئت ته امر وشو چې خبرې اترې لغوه کړي. سعودي عربستان ډېر د دې پلوی وو، چې له سیمې د جنګ خیالونه لرې شي او بهرنیو مداخلو ته زمینه برابره نه شي. خو کله چې موږ د کوېټ نیولو ته مخه کړه، امریکا وکولی شول چې سعودي عربستان او عام نړیوال نظر داسې تېر باسي، چې ګواکې عراق پر سعودي هم د برید هوډ لري.

"امریکا وکولی شول چې پر موږ د ډېری خلکو او ان د ځینو اسلامي او عربي هېوادونو نظر د ځان پیرو کړي، دا هېوادونه وغولېدل، د دښمن له لښکر سره په دې خاطر یو ځای شول چې ګواکې د مملکت له مقدساتو څخه ملاتړ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"مونږ د سعودي او عربي خليج ورونه ډېر ملامتوو، دوی بايد هغه حالت ور ياد کړی وی، چې که عراق نه وی، نو خميني او د هغه ځواکونو به رياض، کوېټ، دوحه، منامه او مسقط لاندې کړي وی او ان کېدی شي طوفان بې مصر او عربي مغرب ته رسېدلی وی.

"تو ځکه وايم، ټول منځګړيتوبونه او هلې ځلې ناکامې شوې. مونږ نږدې وو چې دا موضوع مو حل کړې وی او مخالفتونه مو په سوله‌ييز ډول پای ته رسولي وی. خو ولسمشر مبارک چارې هغه لوري ته بوتللې، کېدی شي دا کار يې يا د خپل نفسي هوس له امله کړی وي يا يې د سادات په وخت کې د شويو پېښو د غچ اخيستو له امله کړی وي. خو له اسرائيلو سره د سادات له ليدنې وروسته د عربي دولتونو له کمېټې څخه د سادات د نظام د ايستلو د غوښتنې په وخت کې د عراق دريځ روښانه وو. يا هم کېدی شي ولسمشر مبارک د مادي ګټو له امله داسې کړي وي. چې دا هم ښه څرګنده ده، چې د ده نظام ته يې ميلياردونه ډالره ورکړل. خو عراق کله هم له مصر او په ځانګړي ډول له ولسمشر حسني مبارک سره ناځواني نه وه کړې. نور نه غواړم دغو تفصيلاتو ته ننوځم، هغه پر ټولو خبر دی. کوېټ ته د عراق له ننوتلو وروسته په ځانګړي ډول په قاهره کې د ځينو دولتونو د مشرانو په غونډه کې مبارک ډېرې هلې ځلې وکړې چې پر عراق د بريد وشي. ټولې نړۍ وليدل چې د مشرانو غونډه او له معمر القذافي سره د ده لفظي شخړه څنګه وشوه، هغه غوښتل چې دا کړکېچ د بهرنيانو له مداخلې پرته حل شي. ولسمشر مبارک بايد ډېر کار کړی وی.

خو ځوک چې ملک حسين تورنوي چې ګواکې هغه دا زمينه برابره کړه چې موږ کوېټ ته ننوځو، نو دا خبره نا سمه ده، ملک حسين د کړکېچ د حل لپاره ډېرې هلې ځلې وکړې، د امريکا له ځواک او قدرت څخه به تل پر ورانې رسولو وېرېده.



ځيني وايي چې سعودي هم کوېټ ته د عراق د ننوتو مخنيوی نه

"دا چې دا خبره هم بې بنسټه ده، په دې قضيه کې د ملک فهد دريځ ښکاره و.

کاوه، "استاذ خليله، کوېټ ته له ننوتلو څخه دوه اونۍ وروسته، مونږ بيرته شاته تګ ته چمتو وو. مونږ خو مطلبونه لرل، يو دا چې په سيمه کې ټولې قضيې حل شي، خو د وېش او تجزيې په اساس نه. خو کله چې امريکايي او ائتلافي ځواکونه په سعودي کې خپاره شول، مونږ پرېکړه وکړه چې د حساب پرې کېدونکي دريځ خپل کړو... د اته ويشت دولتونو لښکرې يې را ټولې کړې وې او متحده‌ايالاتو د شر په لوري چلولې، ټول مادي او نظامي امکانات يې ورکړي وو، همداراز د جنګ د ډول وهلو لپاره يې ورانوونکې رسنۍ په لاس کې وې. نړۍ ته يې هم قناعت ورکړی و چې عراق تېری کوونکی دولت دی او دوی به يوازې له کوېټ څخه د عراقيانو د ايستلو لپاره يوه جراحي عمليه کوي. خو له دې وړاندې يې بيا ويل چې دوی له عراقي بريد څخه د سعودي د ملاتړ لپاره راغلي دي. له بده مرغه چې ځينو ولسونو رښتيني وګڼل. خو بيا هم له جنګ سره ډېری مخالفين وو.

"ځوک چې له نړيوال قانون، د انسان له حقوقو، نړيوالو اړيکو او د دولتونو تر منځ له درناوي څخه ګړېږي، زه ورته وايم چې امريکا او برېټانيا د ولسونو حقونه پايمال کړل، کله چې مونږ کوېټ ته له ننوتلو وروسته هوډ وکړ چې د کوېټ قضيې ته يو با عزته حل لاره ومومو، امريکا به مونږ ته د بريد مستقيم او غير مستقيم پيغامونه را لېږل، زمونږ په چارو کې به يې بې دريغه مداخله کوله، له مونږ څخه يې غوښتل چې د ولس د رهبرۍ ځای پرېږدو، بلکې برزان چې په جنيف کې وو، ترې غوښتي يې وو چې ما ته دا پيغام را ورسوي، چې ويل يې: ورور ته د ووايه چې بايد پر دې پوه شي چې مونږ سپين شيطانان يو، بايد له کوېټه ووځي او له عراقه لاس پورته کړي. ان زوی بوش هم ما ته له وروستي بريد وړاندې پيغام را لېږلی و، په بشپړه بې شرمۍ يې په کې ويلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو: که واک او عراق نه پرېږدې، نو زه به د ورک کړم او کورنۍ به د هم ورکه کړم...

"په دې جریان کې یې د شوروي اتحاد له کمزورۍ څخه ګټه پورته کړه، له ملک حسین سره مې د دې موضوع په اړه خبرې وکړې، سره له دې چې امریکا له اردن سره ښې اړیکې درلودې، هغه هم د شوروي اتحاد له ګډوډۍ او په نړۍ کې د امریکا د یوازیني قطب په توګه پاتې کېدلو څخه وېره وښوده. ځینو عربو ورونو به راته ویل چې له امریکې سره نرمي کوئ، مونږ ورته ویل چې امریکا نرمي په چانې وهلو تفسیروي او مونږ پر خپلو لومړیتوبونو او ثوابتو چانې نه وهو. مونږ وایو چې امریکا د یوازیني منحرف ځواک او قطب په توګه یوازې شوه. مونږ امریکایانو ته هم وویل چې که زمونږ پر نیتونو باور کوئ، مونږ کولی شو د منځني ختیځ د ستونزې په پای ته رسولو سره دا ستونزه حل کړو، چې په هغې کې د فلسطیني قضیې حل پروت دی، فلسطیني قضیه یعنې د عربو مرکزي قضیه، او دا چې سیمه به د تل پاتې سولې سیمه شي، فلسطیني ولس ته به بشپړ حقوق ورکړل شي. همدا راز ورته و مو ویل چې په څه شي چې فلسطینیان راضي کیږي، هغه مونږ او نور عربي ولسونه هم راضي کولی شي. خو دوی د عراق او د عراق د بنسټ د ورانولو پرېکړه کړې وه. مونږ ته یې یو انتخاب هم پرې نه ښود، یا به مو د دوی شرطونو ته په ذلت او سرټیټی سره غاړه ایښودله، یا به مو پر الله له توکل وروسته په عزت سره مقابله کوله.

"مونږ هېڅ چا ته هم توهین نه غوښت، ان کله چې کویټ ته زمونږ ځواکونه دننه شول، هلته د کویټي لښکر ځینو ډلګیو مقابله وکړه، مونږ ډېر خوشاله شوو او هلته مو وویل چې زمونږ کویټي نظامي ورونه زړور وو او داسې رښتینې مقاومت یې وکړ چې د قدر وړ دی، له عربي لښکر څخه زمونږ هیله همدا ده. خو ټولو چارو دغه صدام غوښت، مونږ باید له کویټ سره په بله لاره تللي

وای، خو له بده مرغه هغه څه وشول چې وشول، الله د عاملینو ته ببښنه وکړي (خو خله یې دا تکرار کړه)، الله د زمونږ د دواړو خواوو پر شهیدانو ورحمیږي."

کله چې ما د هغې لارې په اړه ترې وپوښتل چې ده اشاره ورته وکړه، په دې وینا یې بسنه وکړه چې مونږ باید په بل ډول چلند ورسره کړی وای.

"کله چې له کویټه زمونږ ځواکونه په شا شول، جنرال چوارسکو له بوش څخه وغوښتل چې د بغداد په لوري به مخکې تګ ته ادامه ورکړي، خو هغه ورسره ونه منله او وې ویل: که مونږ په بغداد کې رژیم را نسکور کړو، نو د هغه له امله چې په عراق او سیمه کې کومه ګډوډي را منځته کیږي، د هغې مسئولیت به د چا پر غاړه وي... نو بیا به دا ګډوډي د راتلونکو لپاره یو غم وي، او کله چې د غدر او خیانت ورقه را واوښته، بوش د بل څه لپاره پلان نیول، نو ځکه یې زمونږ پر هغو الوتکو برید ونه کړ چې په همدې مورد کې مو وکارولې."

د جدې د خبرو اترو په اړه مې ترې وپوښتل چې د مرستیال استاذ عزت ابراهیم الدوري په مشرۍ د عراقي هیئت او د لومړي وزیر او ولیعهد په مشرۍ د کویټي هیئت تر منځ وشوې. او ورته مې وویل: داسې ویل کیږي چې استاذ عزت ابراهیم الدوري په خبرو اترو کې ډېره توندي کوله. نو ځواب یې را کړ: "ابا احمد ابراهیم ورور ځکه توند دریځ غوره کړ چې ما لارښوونه ورته کړې وه. او د جدیت موخه یې دا وه چې کویټیان دې ته اړ شي چې لانجه په سوله‌ییز ډول حل کړي. ده "ابو احمد" په خپله جدیت نه خوښاوه، پر الله قسم چې هغه پر دې موضوع کې توندلاری نه وو... هېڅکله یې د نظامي حل لپاره هڅه نه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کویټ د قضیې په کړکیچ کې د ایران رول:

"کله به چې زمونږ هیئتونو زمونږ د خپل منځي ستونزو د حلولو لپاره پر ایران د نېک گمان له امله په ایران کې سره کتل، نو لوړ پوړو ایراني چارواکو به هڅولو چې په کویټ کې پاتې شو او شا ته نه شو. د هرې بهرنۍ مداخلې پر ردولو به یې تاکید کاوه، خو دا به یې هم ویل چې له عراق سره څنگ په څنگ د امریکا پر ضد په جنگ کې بوختیا د ایران په گټه نه ده، خو که امریکا، ایران وېراوه، نو شونې ده چې له عراق سره یو ځای ودرېږي. او ویل به یې چې عراق باید د امریکا پر وړاندې ټینگ شي، ایران چمتو دی چې د عراق جنگي الوتکې ورته وساتي، څو د امریکا په بمونو سره خرابې نه شي. د ایراني چارواکو له ژمنو سره سم به دوی مونږ ته اجازه راکوي، چې ورکړې الوتکې د دویمي مقابلې په پړاو کې وکاروو، زمونږ له نېکه گمانه دوی نورې هم ډېرې ژمنې وکړې.

"دا وشول. خو په فارسیانو هېڅکله باور شوني نه دی. د (۱۹۹۱) د جنگ په جریان کې یې زمونږ پر ضد په درېدو بسنه ونه کړه، بلکې د عراقي لښکر د شاته تگ په وخت کې یې هغه ځوراوه هم، د "انقلابي ساتونکو" په واسطه یې واهه، ډلگیو او یاغیانو ته یې عراق ته د ننوتلو او د عراق د سویلي او منځنیو ولایتونو د سوځولو اجازه ورکړه. لنډه دا چې د عراق په ورانولو کې یې فعاله ونډه درلوده. له امریکې سره د مقابلې لپاره مو چې د جنگ په جریان کې خپلې الوتکې ترې وغوښتې، را یې نه کړې. تر اوسه یې لا ورسره ساتلې دي. نو څکه مو هغه مخ د غدر او خیانت مخ ونوماوه، یعنې د ایران غدر او پر دوی د ځینو غولېدلو خیانت."

له ولسمشر څخه مې پوښتنه وکړه، د ۱۹۹۱/۱/۱۷م نېټې پر عراق د برید د پیل په ورځ مو له "غدارانو غدر وکړ" عبارت څخه مقصد څه و. نو وې ویل:



"سره له دې چې زمونږ پر ضد یې په هماغه وخت کې رسنۍ کارولې، خو کویټ ته زمونږ له ننوتلو وړاندې امریکا زمونږ او د دوی تر منځ د کړکیچ حلوونکو منځگړو په واسطه په مستقیمه او غیر مستقیمه طریقه ویېز پیغامونه رالېږل، تاییدوله به یې چې زمونږ په عربي قضیو کې به مداخله نه کوي. خو خپلې ژمنې یې ماتې کړې، له مونږ سره یې غدر وکړ. له ولسونو سره په چلند کې یې همدا عادت دی. نو څکه مو په لومړۍ وینا کې وویل چې غدارانو غدر وکړ."

ولسمشر پسې بشپړه کړه:

"له ایران سره زمونږ په دفاعي جگړه کې، ایران د امریکایي امپریالیستی په نمایندگۍ د لومړۍ مقابلې کرښه وه. مونږ د خمیني پر هغو دروغجنو دیني شعارونو نه غولېدو، چې غوښتل یې د خلکو فکر پرې غلط کړي. په حقیقت کې امریکا غوښتل چې عراق کمزوری او وران کړي، بلکې د جنگ د اوږدېدو لپاره به یې دواړو لورو ته معلومات هم ورکول. بر سېره پر دې چې امریکا او ځینو غربي استخباراتو خمیني په ایران کې د واک گدۍ ته ورساوه، د پیسو او وسلو په واسطه یې ملاتړ ترې کاوه، ان تر دې چې صهیونیستي اداره هم له ټولو وسلو او کدرونو سره د ایران تر څنگ ولاړه وه."

هغه مې په یاد دي چې د عراق-ایران جگړې په اړه هنري کسېنجر په خپلو یادښتونو کې وویل، دا په تاریخ کې لومړنۍ جنگ و چې مونږ یې د اوږدېدو غوښتنه کوله او دا چې یو لوری هم بریالی ترې ونه وځي.

### فلسطیني خوځښت...

له رسنیو، امریکا، او په ۱۹۹۱ کال کې عراق ته د دولتونو د یو لاس کېدلو په اړه لگیا وو او خبرې مو کولې، چې ناڅاپه ولسمشر د فلسطیني خوځښت په اړه وپوښتلم او وې ویل:

"فلسطیني وروڼه څنگه دي؟."

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فلسطین د وضعیت په اړه مې ورته ووېل، چې تر اوسه لا هڅې او مقاومت کوي، خو د ولسمشر یاسر عرفات پر وفات مې خبر نه کړ. ده ووېل:

"فلسطیني ولس ښه پېژنم، تر هغه به مې زړه ارام نه شي، چې فلسطیني ولس ټول قانوني حقوق نه وي اخیستي. په حقیقت کې د فلسطین قضیه د ټولو عربو قضیه ده، څوک چې پاملرنه نه ورته کوي لکه خپل ناموس ته چې پاملرنه نه کوي. د دې موضوع په اړه یې له ما سره د چانې وهلو ډېرې هلې ځلې وکړې، د عربي او نړیوالو مشرانو او شخصیتونو له لارې یې پیغامونه رالېږل او ویل یې: اوس مونږ یوازې خبره در څخه غواړو، ترون نه در څخه غواړو.

"غوښتل یې چې زه د دوی په بې اعتماده دولت او مسخه شوې اداري "اسرائیلو" اعتراف ته چمتووالی وښیم. سره له دې چې راته ویل یې چې په صهیوني دولت اعتراف به پر عراق لګول شوی بندیز پای ته ورسوي او له متحده ایالاتو سره به اړیکې بېرته طبیعي حالت ته وګرځوي، خو ما ورسره ونه منله.

"زه دا درک کولی شم، څوک چې د خپل هېواد او امت له خاورې تېرېږي، نو له خپل عزت او کرامت څخه به هم تېر شي او هېڅ سره کرښه به ورته پاتې نه شي. دا په حقیقت کې کرکجنه ډرامه ده، چې یوازې د پیل ټکي ته اړتیا لري، او بیا نور نه ختمېږي. هو، خوځښت به روان وي، زه په عربي پروژې هم باور لرم، چې د بریالیتوب کیلي ده. امریکا له هر خوځښت څخه په تنګېږي، ځکه دا پوهېږي چې د عربي پروژې انقلاب که پیل شو، نو هېڅوک یې اور بیا نه شي وژلی."



## شپږم څپرکی

### صدام حسین او د ورته کس کیسه

آیا صدام حسین کوم بل هم رنګ (ورته کس) درلود؟

د نېږې پېړۍ په اتمو او نهمو لسیزو کې په عراق کې یوه "ټوکه" ډېره رواج شوه، په ځانګړي ډول چې د عراقي رهبرۍ په غړو پسې یې ټړاو درلود. دا ټوکې به د رهبرۍ او ولسمشر صدام حسین غړو ته هم رسېدلې. او داسې واقعې په ډېری عربي ټولنو او د نړۍ په ټولو هېوادونو کې موندل کېږي... کېدی شي دا "مسخره" پر سیاسي یا اقتصادي او یا بله ټولنه کې د یوې پېښې د نقد یوه وسیله وي، چې په بیلابېلو افرادو، ډلو او دولت منفي اغېزه کوي. نو کله چې منفي کړنې زیاتې شي، خلک یې د نقد لپاره مسخرو ته مخه کوي. ډېری وخت دغه مسخره له ولسي حس څخه را ولاړه شوې وي او په فکرونو کې چې څه ګرځي د هغو تعبیروونکې وي.

د یادو لسیزو په جریان کې، یوه داسې اوازه خپره شوه چې د ولسمشر صدام حسین په څېر نور ورته کسان هم شته، یعنې له یوه کسه څخه زیات داسې کسان شته چې ولسمشر ته ورته دي او د ده رول لوبوي. مسخرې هم په همدې موضوع را څرخېدې.

د عراق له یرغل وروسته سیاسي خلا په داسې مسخرو واوښته چې ویل یې هغه یادګاري مجسمه چې د فردوس په سیمه کې را کښته کړې شوه، د صدام حسین د ورته کس وه. د ورته کس نظریه خپره شوه، بې له دې چې څوک یې رواجوونکي وپېژني. ایا عراقي استخباراتو د ولسمشر د ملاتړ لپاره رواج کړه او که امریکایانو د خپلې موخې لپاره رواج کړه. خلکو هم د ورته کسانو نومونه پورته کښته کول او ویل یې چې د ورته کسانو شمېر له یوه څخه ډېر دی. چې له هغو نومونو څخه میخائیل رمضان او جاسم العلي هم وو. ان ځینو خلکو به اړیکه را سره نیوله او پوښتنه به یې را څخه کوله: چې استاذ خلیله د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاسم العلي وضعیت څنګه دی، قسمونه به یې کول چې په زندان کې موجود شخص جاسم العلي دی. ځینو به پر دې دلیل هم تکیه کوله چې ولسمشر صدام حسین د عراق له نیواک وروسته د پټېدو په موده کې په نږدې وختونو کې څو څو ځایه لیدل شوی دی. کېدی شي لامل به یې دا وي چې له ولسمشر سره یې مینه درلوده او ځانونو ته یې هیله ور کوله چې ولسمشر به نه وي نیول شوی.

د ورته کس د کیسې او د عراقي پروژې د نظر په اړه له ولسمشر سره وغږېدم. په ځواب کې یې راته وویل:

"د امنیتي لاملونو او د دې له کبله به په بېلو سیمو کې خوځېدم، چې د خپل ولس او د مقاومت د لښکریانو احوال واخلم. او دښمن ته فرصت ورنه کړم. له هغه ځایه پرته چې په کې ونیول شوم، بل په یوه ځای کې به هم له دریو ساعتونو زیات نه پاتې کېدم. د بېلګې په توګه په لس بجې به په فلوجه کې را ښکاره شوم، ساعت وروسته به رمادي ته ولاړم، دوه ساعته وروسته به په صلاح الدین کې وم. خلکو به د وخت په اړه په دقت خبرې نه کولې، نو وختونه به سره نږدې وو. بر سېره پر دې زما د ورته کس د شتون ثابت شالید د دې لامل شو چې د ورته کس کیسه ومني". بیا ولسمشر په ټوکو کې وویل:

"کله چې د دجلې له سینده تېرېدم، له ځان سره مې وویل، خلک به وایي چې دغه صدام حسین ته ورته کس دی، په ځانګړي ډول دا اوازه هم خپره شوې وه چې صدام حسین د سرطان په ناروغۍ اخته شوی دی."

بیا ولسمشر راته وکتل او په خندا کې یې وویل:

"استاذ خلیله ته څه وایې، چې زه به صدام یم که ورته کس؟."

په حقیقت کې دې پوښتنې زه هم حیران کړم، شک بیا له سره فکر کولو ته اړ کړم، په ځانګړي ډول یو ځلې مې د ورته کس په اړه د ولسمشر له ملګرو وپوښتل، له یوه پرته نورو ټولو په کلکه رد کړه، هغه یوه وویل: هو یو ورته



کس شته. لکه څرنګه چې حکمت وایي "عاقل ته داسې خبره وکړه چې عقل یې نه مني، که یې رښتینې وګڼله نو دی عقل نه لري."

غوښتل مې چې شک په یقین واړوم، نو ورته مې وویل چې د مدافع وکیل ښاغلي استاذ [زیاد خصاونه] سلام در باندې وایه. نو د خصاونه د اصلي عربي قبیلې په اړه یې خبرې راته وکړې. ما ورته وویل چې زما مطلب زیاد و، د مدافع وکیل دکتور هاني خصاونه نه و. نو د مدافع وکیل دکتور هاني په اړه یې خبرې راته وکړې: چې هغه یې په قاهره کې د حقوقو په پوهنځي کې ټولګیوال وو، د درس په وخت کې یې تر منځ څه ستونزه هم راغلې وه. بیا یې لکه د شریف او اصلي ملتپاله مقابله کوونکي په څېر د هغه ستاینه وکړه. تر اوسه لا شک نه پرېښودم...

په دویمه لیدنه کې مې له بندي ولسمشر څخه د معینې واقعې په اړه وپوښتل، نو ولسمشر، ده ته د یو نږدې کس لپاره د لیکنیز پیغام یادونه راته وکړه، په لیک کې یې داسې عبارت په لومړۍ لیکه کې ولیکل چې د دوی (ولسمشر او هغه ده ته د نږدې کس) تر مینځ متفق علیه وو، چې د راز خبره وه. پیغام مې منځګړي نفر ته وسپاره او هغه هم نږدې کس ته وسپاره. بیرته چې پیغام راغی نو د هغه عبارت د راز د خبرې دویمه لیکه یې هم په کې لیکل شوې وه. چې دا بل دلیل و چې زما شکونه یې له منځه یوړل. د ورته کس کیسه دروغ وه او د امت دښمنانو رواجوله په ځانګړي ډول د محکمې په جریان کې د ولسمشر په عزت او لوړ سر درېدلو، د ده دښمنان په غصه کول او د امت د زامنو سینې پرې یخېدې. یوه نږدې ملګري یې راته وویل چې کله به ولسمشر صدام حسین چېرته لیدنه درلوده، نو د دې لپاره چې لیدنه پټه وشي، د ملاتړو ډلې به د امنیتي ګوانښونو له کبله له څو کاروانونو کار اخیست. چې هېڅ ورته کس به نه وو. د دې پټېدو موخه دا وه چې د ده کاروان د مصنوعي کمرو له لوري او دننه د عراق د دښمنانو له لوري ونه څارل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چې صدام حسین پېژني، هغه پوهېږي چې د دار د رسۍ مخې ته له صدام حسین پرته بل ورته کس دومره په زړورتیا، لوړ سر او ایمان سره درېدلی نه شي. د ولسمشر کومو دښمنانو چې د اعدام تمثیل تر سره کړ، هغوی هم پوهېږي چې له صدام حسین پرته بل څوک داسې نادر درېدلی نه شي. تلویزیوني چېنلونو څو ځله را څخه وغوښتل چې د ورته کس په اړه وغږېږم. خو ما ورسره ونه منله. سره له دې چې په زړه کې شکونه وو، خو زړه مې په دې ټینګ و چې د کوم کس لیدنه چې ماته الله را په نصیب کړه او د هغه خبرې یې را واورولې، هغه صدام دی. د دغه سړي د ژوند په سختو شیبو کې په ده پسې زما تاریخ داسې وتړل شو، چې زه شاهد شم او کیسه یې په بوره امانت دارۍ او عزت سره نسلونو او تاریخ ته په بشپړه بې طرفۍ بیان کړم.



# اووم څپرکی

## بغداد څنګه ونیول شو؟

سخته پوښتنه ده خو ډېر یې حیران کړي دي، لکه ټکه چې پرې را لوېدلې وي. ټول د دې په لیدلو دردېږي، چې پلارنی ټاټوبی بغداد د داسې وحشي دښمن په داړونکو غاښونو کې لوېدلی دی، چې نه قوانین پېژني او نه اخلاق او موخه یې هم ورانی، غلا او غچ دی. د داسې تمدن تاریخ له منځه وړل یې موخه ده چې په هغه وخت کې یې نړۍ روښانه کړې وه چې لوېدیځ د ناپوهۍ او شاته پاتې کېدا په تورتمونو کې څپې وهلې. دوی ګورې چې د عراق د معاصر تاریخ په ترخ کې له دې سره چې له ټولو لورو دښمنان پرې را تاو وو، خو بیا هم د عراق ودانۍ لوړېدلې او امت یې په لاسته راوړنو ویاړ کاوه... خلکو په حیرانۍ سره پوښتنه کوله: أم قصر څنګه (۱۹) نولس ورځې ثابت پاتې شو په داسې حال کې چې بغداد په څو ورځو کې سقوط شو..؟

د رشید او معتصم بغداد... د عربو بغداد... د شاعرانو، پوهانو، هنرمندانو او د ټولو نوښتګرو بغداد... د ژوند بغداد...د تاریخ او ښو یادښتونو بغداد... ښاغلی ولسمشره آیا رښتیا هم بغداد سقوط شو؟

ولسمشر په داسې حال کې چې ورباندې د درد اغېزه ښکاري او دی یې د پټولو هڅه کوي، وویل:

"اې ښاغلیه، بغداد نه دی سقوط شوی، بغداد ونیول شو او د اتلانو په مټو به ازادېږي. نیواک یو شی دی او سقوط بل څه. د بغداد دا لومړی ځل نه دی چې نیول کېږي، له امریکایانو مخکې د تاریخ په اوږدو کې ډېر یرغلونه پرې شوي، له هر لوري دښمن شخړې ورسره کړې دي، فارسیانو او نورو ډېر حرص پرې کړی، مغولي هلاکوخان هم نیولی و. ویې سوځاوه، ویران یې کړ، وژنې یې په کې وکړې او فساد یې په کې خپور کړ... خو بیا د عراق اتلانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازاد کړ او هلاکوخان یې وشاړه. د هېوادونو نیول کېدل عیب نه دی، خو که مقاومت ونه کړي او ازاد نه شي نو دا بیا عیب دی."

لکه ولسمشر چې د دې پوښتنې په انتظار و، ژر ژر یې خبرې کولې، ما هم په چټکتیا سره پسې لیکلې، کوښښ مې کاوه چې یوه کلمه هم را څخه پاتې نه شي...

"تن بیا هماغه حالت تکرارېږي، بوش د تم ځایونو په ترڅ کې خپلې لښکرې جګړې ته چمتو کولې، مونږ پر هېڅ چا هم تېری نه و کړی، خو دوی راته شر لټول او زمونږ طبیعي پانګې یې په زور اخیستې او د هېواد ورانی یې غوښت. ټولې هڅې مو وکړې چې د دوی له شر څخه خوندي شو"... یوه شېبه ولسمشر چوپ شو او بیا یې خبرې پیل کړې:

"په عسکري اصولو کې، د نتیجې جلاوالی له سبب څخه نا ممکن دی، نو دا دواړه یو حالت دی، یوه جګړه ده، موخې ته د رسېدو لپاره د ځنځیر کړۍ دي.

نو دا به څنګه وي چې له ۱۹۹۰م کاله را پدېخوا دیارلس کاله جګړې روانې وي او ظالمانه کلابندیانې هم ورسره وې، چې له امله یې مونږ له یو نیم ملیون زیات عراقي ماشومان، سپین ږیري، ښځې او ان ځوانان له لاسه ورکړل. او بیا شونې نه وي چې زه له یوې داسې جګړې وغږېږم چې هغه په خپله د اوږد سریال موخه او پایله وه... ایا پر عراق د امریکا بمبارونه له هماغه تاریخه نه وو روان، هغه امریکا نه وه چې د طول او عرض کرښې یې رسم کړې وې او هغه یې د الوتکو د منعې سیمې نومولې وې؟

"کله چې یو نظامي ځواک هغه که یو ټولګی وي یا فرقه وي او یا زیات وي، چې د یوه معین هدف د نیولو لپاره را ولاړېږي، نو طبیعي ده چې معین ځای به لومړی د توپونو، توغندیو او میزایلو په واسطه په نښه کېږي، چې موخه اسانه شي، بیا به ځمکنی ځواک خپله دنده پر مخ وړي او موخې ته به ځان رسوي... نو ایا مونږ د توپونو او هوایي بریدونو د رول له یادولو پرته کولی شو، ووایو چې موخه ځمکني ځواک ترلاسه کړه؟ نو دلته هم جګړه یوه ده، بوه لړۍ عملیات دي، چې بغداد کې هم همداسې وشول.



"کله چې متحده ایالاتو د بوش د غوښتنو او حماقتونو د پلي کولو لپاره برید پیل کړ، پر بغداد توپونه را روان وو. بریدګرې نظامي هڅې په عام ډول پر بغداد د تمرکز او عملیاتو کولو او د أم قصر پر دویمه برخه باندې د امریکایې او برېتانوي ځواکونو د دویم هجوم تر منځ وېشل کېدې، څکه لومړۍ برخه برغلګرو پرې کړې وه او کوېټ ته یې سپارلې وه، خو د هغه مساحت ډېر شي او د عراق پر ضد دولت ترې جوړ شي او د عراق په دننه کې په زهرو ککړ خنجر شي."

ولسمشر یوه شېبه چوپ شو، بیا یې زیاته کړه:

"کله چې د کوم لامل له کبله د دوو هېوادونو تر منځ لانجه را ولاړېږي، نو دواړه لوري چمتو والی نیسي، لښکرې چمتو کوي او اقتصاد او سوداګري برابروي. دواړه لوري په هوایي یا بحري یا توغندیز ځواکونو کې او همداراز په پیاده، ټانکیزو او نورو ځواکونو کې ځان له مخالف دښمن سره پرتله کوي. بیا هر لوری ځان اماده او چمتو ښیي، څو مخالف لوري ته د برید فرصت ور نه کړي.

"کله چې د ایران د اشرارو او حریصانو په وړاندې عراق د خپل هېواد له پولو دفاع کوله، نو زمونږ ځواکونه تر ایراني سیال پرمختللي او لوړ وو. د عراق لاس اوږد وو. کله به چې زمونږ پیلوټانو ته الوتکو توغندي او نور وسایل ور خلاص کړل، نو الوتکه به یې د دښمن له الوتکې سره جنګوله. چې دا د زړورتیا او اتلولي لوړه څوکه ده. په دې برخه کې ښه بېلګه د سویلي عراق بچی اتل شهید پیلوټ عبد الله لعیبي دی. او په مقابل لوري کې د ایران شمېر له مونږ څخه زیات وو. او اوس هم همداسې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"خو د امریکا او د هغه د ائتلافیانو په وروستني برید کې چې څه وشول، هغه د عملیاتو د تکتیک، لارې او د نتیجې له اړخه هم د ۱۹۹۱م کال له برید څخه بېل وو. بیا یې نو د خپلو متجاوزو پلانونو په مطابقت له یو ظالمانه بندیز او زمونږ د توغندي ویشتونکو ځواکونو له مینځه وړلو وروسته، او له ټولو هغو څخه وروسته چې په ۱۹۹۱م کال کې پېښ شول، او همدارنګه زمونږ د توغندیو پر ډیپوګانو، د هوايي دفاع پر وسایلو او پر بغداد له دوامداره برید وروسته، همدا راز د امریکا جاسوسانو (څېړونکو) چې څه وران کړل، هغه کسان چې مونږ د خپل هېواد دروازه ورته د دې لپاره پرانیستې وه، څو نړۍ پوه شي چې د دوی کړې ادعا په عراق کې نه شته... او نړۍ ته دا ثابته کړو چې عراق د دوی له نومول شویو څېړونکو سره مرسته کوي، نو دلته د پرتلې حالت له منځه ځي. هېڅوک هم د امریکا په څېر د یوه لوی متکبر دولت او د عراق په څېر د یوه واړه هېواد تر منځ پرتله نه شي کولی، ځکه چې له امریکا سره د وژنې، ورانولو او ظلم هر ډول وسایل شته، چې ټوله نړۍ په یو ځل ورانولی شي، همدا راز لرې توغېدونکي، له وچو تېرېدونکي توغندي ورسره دي، ښې پرمختللې الوتکې لري او داسې بحري ځواک لري چې په نړۍ کې یې بېلګه نه لیدل کېږي، پر دې هر څه برسېره پر برید روزل شوی لښکر لري، هر جرم چې وکړي، قانوني جزاګانې نه ورکول کېږي، او عراق بیا داسې هېواد دی، چې له کلونو کلونو بندیز وروسته یې امکانات معلوم دي او په سخت اقتصادي وضعیت کې دی... نو د دواړو قدرتونو تر منځ ډېر لوی توپیر دی، په هېڅ اساس سره پرتله کېدی نه شي. نو د یوه داسې ظالم دښمن پر وړاندې، چې د ناوړه نیتونو مخنیوی یې څوک نه شي کولی، عراق ته له خپل کرامت او وجود څخه له دفاع پرته بله لاره نه وه پاتې.

"د یو څه چې باید یادونه وکړو، ځکه هغه له معمولي نظامي او جګړه‌ییزو اصولو څخه وتلي دي او هغه داسې څه وو چې زمونږ نظامي او ښاري پلان



جوړوونکې رهبري یې هم هیله نه درلوده، هغه دا و چې دښمن په مستقیم ډول یو داسې پراخ ځمکنی تعرض وکړ، چې د موخې د اسانولو لپاره یو څه هوايي او توغندیز بریدونه هم ورسره مل وو. مونږ مخکې هم وویل، عادت نل داسې نه وي، معمولاً څو ورځې او ان میاشت یا هم له دې زیات هوايي برید وي، لکه څرنګه چې په ۱۹۹۱م کال کې امریکایي بمبارونو له میاشتې زیات دوام وکړ، بیا یې ځمکنی برید پیل کړ.

"تورې هغه چارې چې مونږ ګڼلې وې هغه دا وې چې دښمن به له دلته او هلته کښته کېدو سره له دوو جبهو را مخکې کېږي. چې یوه جبهه یې معلومه وه، یعنې د امریکایي ځواکونو تر ټولو لوی د را غونډېدو ځای (کویټ) او دویمه لوېدیځه جبهه وه. او د دې په اړه احتیاط او پاملرنه هم وشوه.

خو په أم قصر کې د (۴۵) پیاده لواء د اتلانو د بې سارې مقاومت او ثبات ځانګړنه دا وه چې دې لواء له دښمن سره داسې جګړه وکړه چې نړۍ ورته ګوته په غاښ وه، داسې افسانوي ثبات یې وښود چې د امریکایانو او بریتانویانو پر خپلو ځانونو باور یې ګډوډ کړ، او معنویات یې ور ولړزول. همدا راز په الزبیر کې زمونږ د اتلو ځواکونو ټینګ مقاومت او ثبات د دغې لواء مورال لوړ کړ... همدا راز په ټولو جبهو کې زمونږ د وسله‌والو ځواکونو او د هغوی شا ته د پلرني ټاټوبي عراق د ولس ثبات دې لواء ته معنوي ځواک ور وباښه، په ځانګړي ډول د جګړې له سختي سره سره دښمن پر أم قصر اصلي تمرکز نه کاوه، دښمن په ځینو دفاعي دیوالونو کې مصروف و او په ځینو نورو کې یې پرمختګ کاوه. ان په معنوي او عملیاتي کچه هم چې د (۴۵) لواء اتلانو په نورو دېوالونو کې خپلو ورونو ته کتل، نو په بشپړه اتلولۍ به جنګېدل او له هغوی څخه به یې عزم او ثبات اخیست. کله چې دښمن بغداد ته د صحراء له لارې مخه کړه، له ځانګړو حالاتو څخه یې ګټه پورته کړه، ځکه په صحراء کې مونږ هوايي ملاتړ د نه درلودو له امله ډلګۍ نه وې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېښې، څکه له هوايي ملاتړه پرته هلته د ډلګيو شتون د ځان وژلو په مانا و، د رهبري او نورو نظامي مشرانو ورونو ته زمونږ لارښوونې ښکاره وې، چې د فرات د سيند لوېديځ ته به ځواکونه نه خپروي، هغه که د سماوه يا ناصريه او يا د انبار صحراګانې دي، څکه که ځواکونه خپاره کړي، نو په بشپړ ډول به هلاک شي.

"کله چې دښمن د عراق ځينې ښارونه لاندې کړل، غوښتل يې چې د هر څه پای ته رسولو پيغام ورکړي او د عراقي لښکر او ولس دواړو معنويات له منځه يوسي. پر دې برسېره دښمن د بغداد په ناحيو کې نړيواله محرمه وسله وکاروله، چې دا وسله په أم قصر کې نه وه کارېدلې، د نوموړې وسلې له امله په بغداد کې ځواکونه په تنهايي وجنګېدل، بل ملاتړ ته منتظر نه شول.

"نو څکه مونږ وايو چې له نظامي اړخه لږ تر لږه هغه څه نه شي سره پرتله کېدای، چې په أم قصر او بغداد کې سرته ورسېدل. همدا راز دښمن د بغداد په نښه کولو کې هم ډېره هڅه وکړه او په ظالمانه ډول يې په سلګونو ساعته بمبار پرې وکړ، چې په پايله کې ټولې ډلګۍ له منځه ولاړې، ځينې نورې خورې ورې شوې، هوايي ملاتړ يې هم نه درلود، چې د دښمن الوتکو او توغنديو ته په اسانو موخو واوښتې. همدا راز کله چې دا ډلګۍ را وګرځېدې نو ډېری برخه يې له منځه ولاړې. او بله دا چې د بغداد د عملياتو له دېوال سره د ځينو ولايتونو د سيمو تړل ناسم کار و، حد اقل بده هيله وه. ورسره په څنګ کې نورې همداسې هيلې وې چې د جګړې په ميدان کې يې د دښمن د تکتيکونو او هلو ځلو له بدلون سره سر نه لګاوه... پورته لاملونو له دښمن سره مرسته وکړه چې د بغداد د عملياتو په دېوال کې د جمهوري ساتونکو او مرستندويو ډلګيو هلې ځلې تيت او پرک کړي."



ولسمشر ادامه ورکړه:

"بريد ډېر شديد او پراخ و، دښمن په ځانګړي ډول په وروستيو ورځو کې ډېرې هڅې وکړې، چې پر بغداد او اطرافو يې هوايي او توغنديز بريد توند کړي، د دښمن اصلي موخه هم لومړی د بغداد نيول وو. نو شونې نه ده چې د دښمن له لوري د بغداد په لاندې کولو کې يوازې له بغداده وغږېږو او بسنه پرې وکړو، نه، بلکې جګړه يوه ده او يو له بل سره د نښلېدلو کړيو ځنځير دی.

له نظامي مشرانو سره يو ځای شوم او ورته مې وويل:

"کله چې بريد وشو، د الله په مرسته او ځواک دا ځل مو له دښمن سره ښه سمبال کړئ، فکرونه مو ښه سمبال کړئ، د الله په مرسته او ځواک دا ځل مو له دښمن سره لار تعيينوونکې جګړه ده. که الله بريا راته ليکلې وه، نو دا به د عراق، امت او انسانيت بريا وي. که الله سبحانه و تعالی بل څه غوښتي وو او دښمن بغداد ته ورسېد، نو ولس به چوپ پاتې نه شي، جګړه به د ټوپکو او توغنديو په وسيله روانه وي، له ديالی، صلاح الدين، انبار، نينوی، بصرې او نورو څخه به د مشری داسې نسل را ښکاره شي، چې عراق به ازاد کړي، امريکايانو ته به ماتې ورکړي او وبه يې شړي. د امريکا هيبت به مات کړي او امريکا به بد اوازه کړي. د الله په ستاينې سره به هر څه پای ته ورسېږي. او ان شاء الله عراقيان به د خپلو عربو ورونو هيلې له خاورو سره نه خاورې کوي."

**عربي استازی**

ولسمشر پر عراق د تېرو شويو پېښو يادونه کوله او وې ويل:

"له بريد څخه څو مياشتې وړاندې د عربي رهبر استازي را سره وکتل، مونږ پوره درناوی ورته لرو. يوه محدوده مفکوره يې درلوده، که څه هم چې دغه نظريه زمونږ پر کرامت او عزت لګېده او د منلو وړ نه وه، خو بيا مو هم تر پايه واورېده. او ورته ومو ويل: که وګڼو چې مونږ دا نظريه ومنله، نو بيا تاسې يا عرب ورونه د بريد مخنيوی کولی شئ؟ په ځواب کې يې راته وويل: هېڅوک

هم د برید ضمانت نه شي کولی، خو مونږ غواړو چې امریکا ته دلیل ولرو او د برید د مخنیوي لپاره به هم کار وکړو... ما ورته وویل: چې امریکا ته دلیل ولرو!؟ زما له لوري فلاني (ستا رهبر) ته سلام وایه او ورته ووایه چې فلاني ویل چې له امریکا سره اړیکه ونیسئ او ورته ووایاست چې څه غواړي، که یې مال یعنې نفت غوښتل، نو مونږ یې بدل غواړو، که یې په سیمه کې د ټولو قضیو حلول غوښتل، نو څوک چې له ولسونو سره انصاف او عدل کوي مونږ یې په مخ کې نه درېږو. خو که یې داسې شرطونه را باندې اېښودل چې زمونږ او د عراق د ولس پر کرامت لګېدل، نو که مونږ پوه شو چې د امریکا غرض سپکوالی او اهانت دی، نو مونږ د دوی بې ګټې او خوشې خبرو اورېدو ته وخت نه لرو.

## د پریماکوف دویمه لیدنه

"وروسته له دې چې امریکا او برېتانیا خپلې لښکرې او جنګي بېړۍ برابرې کړې او مونږ ته یې بل انتخاب پرې نه ښود. یا به تسلیمېدل، ذلت او د تاریخ سپکوالی و، چې دا ډېره لرې وه، او یا به پر الله له ایمان او توکل څخه په روښانه زړونو مقابله وه... پریماکوف هم د بغداد په دویمه لیدنه کې وویل چې پیغام مې درته راوړی دی. دا چې د پیغام په مضمون پوه وم، نو ور څخه مې وغوښتل چې لومړی له استاذ طارق عزیز سره وګوري. بیا ورپسې ما ولیده. هغه د داسې څه غوښتنه را څخه وکړه چې د عراق له عزت او مېړانې سره په ټکر کې و، نو ورته ومو ویل: څه فکر کوې، که مونږ دا وګڼو چې دا سپکه غوښتنه "له خپلې کورنۍ سره له عراقه وتل" مو ومنله، نو ایا زمونږ ملت به د دوی له شر څخه خوندي شي؟ ده وویل: نه، که ته یې او که نه یې امریکایان عراق ته ننوځي. نو ما ورته وویل: هېڅکله به هم ونه وځم، الله د دوی وشرموي. مونږ همدلته پاتې یو، را د شي کور په کور به ورسره وجنګېږو. خو لومړی ورته وایو چې یو ځل د له نبوخذ نصر (بخت نصر) تر صدامه پورې د



عراق تاریخ ولولي، تر څو د عراقي انسان ختمه ور معلومه شي، که یې ونه لولي نو بیا به یې وروسته وپېژني، عراقي مقاومت او ولس به هرو مرو ځان ور وښیي چې مونږ څوک یو او دوی څوک دي، او د الله په مرسته، راتلونکی به ډېر لوی وي. همداسې مونږ ته یې هېڅ داسې انتخاب پرې نه ښود چې زمونږ هېواد او ملت له وراني وژغورل شي. د عراق په اردو کې کمی ونه کړ، دښمن نه یې داسې درسونه ورکړل چې کله به یې هم هېر نه کړي، ان تر اوسه لا د اردو او بعث کسان او ټول نور لښکریان ورسره جنګېږي، مونږ به هېڅکله تسلیم نه شو. جنګ خو وي همداسې. هر مرو به یو لوری په کې بریالی کېږي، خو که امریکا چټکه بریالۍ هم شوه، وروسته به زښته بده ماتې وخوري. دلته به له ویتنامه څو چنده زیات زیان ور رسېږي، ځکه د امریکا دولت یو شریر دولت دی، له عراق څخه به شاتې تګ او تېښتې ته مجبورېږي او نیم وسایل به پرېږدي...

"زمونږ وسله‌والو ځواکونو او نورو ټولو اتلانو هېڅکله کمی نه دی کړی، خو بس د الله اراده وه. کېدای شي تاسې یو څه بد ګڼئ، خو هغه ستاسې لپاره خیر وي او یو څه ښه ګڼئ، خو هغه ستاسې لپاره شر وي. هو دا د الله اراده ده.

د امریکایانو له لوري د ګران بغداد، د رشید د پلازمینې د نیولو مهم لاملونه که بې له تفصیلاتو بیان کړو، ځکه وخت محدود دی، نو په لاندې ډول دي:

**لومړی:** له دیارلسو کلونو زیاته دوامداره کلابندي، ورپسې د هر ډول جنګونو دوام.

**دویم:** د امریکا د ادعاوو په اړه د امریکا غولوونکی او ګمراه سیاست، چې له امله یې زمونږ ځینې عربو ملګرو او ورونو د امریکا ناولونه رښتیني وګڼل، ځینو خو یې لا ژمنې هم رښتینې وګڼلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دریم:** د دواړو ځواکونو تر منځ لوی توپیر، په ځانګړي ډول هغه هوایي ځواک چې باید هره جګړه پای ته ورسوي، لرې تلونکی توغندیز ځواک، همدا راز د عراقي لښکر لپاره د هېڅ هوایي ملاتړ نه شتون. چې پر جګړې یې په لویه کچه د دښمن په ګټه اغېزه وکړه.

**څلورم:** د دښمن پوره پېژندل له ټولو عسکري او مدني اهدافو سره، د څېړونکو ډلو او د هوایي کشفي وسائلو په ذریعه، هغه که مصنوعي سپوږمکۍ وي او که د جاسوسۍ طیارې. څکه کله چې موخه درته وټاکې، په اسانۍ سره یې وهلی شې.

**پنځم:** په داسې اندازه ظالم هوایي برید کارول چې د جنګونو په تاریخ کې یې بېلګه نه لېدل کېږي. د ساعتونو په اوږدو کې به روان وو، له امله یې زمونږ د اتلو ځواکونو (ټانګیز، توغندیز او پیاده) قدرت شل شو.

**شپږم:** د دښمن له لوري د نړیوالو منع شویو وسلو کارول، چې ځینې د لومړي ځل لپاره په ځانګړي ډول د بغداد په هوایي ډګر کې له هغې مشهورې جګړې وروسته وکارول شوې، چې د دښمن سلګونه کسان په کې ووژل شول. لسګونه ټانګونه یې ویجاړ شول او دښمن لاره ورکه کړې وه. ساتونکي او ورسره را ټول ځواکونه یې په تکتیکي ذروي بمونو او په نورو داسې حرارتي بمونو وویشتل، چې اوسپنه او جسد یې ویلي کاوه، دا کار یې د دې لپاره وکړ چې د جنګیالیو په مورال اغېزه وکړي. دغه لامل یو له هغو مهمو لاملونو څخه دی چې بغداد یې ژر د نیواک په خوله کې ور کړ.

**اووم:** د زیاتې وېرې د حالت را منځته کولو لپاره په وحشي بڼه پر بغداد د بمبارونو دوام او د پر امنه اوسېدونکو ویشتل، همدا راز د رهبري مرکزونه او ځواکونه ویشتل او د هر ډول اړیکې پرېکون.

**اتم:** د دښمن له لوري د هغو صحرایي لارو کارېدل چې له ښارونو سره موازي وې، په پرمختللو وسلو د دښمن سمبالښت او له دښمن څخه ټینګ هوایي



ملاتړ، چې د دې ټولو له امله زمونږ ځواکونو د ورځې له خوا حرکت نه شوای کولای، څکه هوایي ملاتړ او دافع هوا یې نه درلودل، د دښمن له لوري بغداد ته په رسېدو تمرکز کول، که څه هم زمونږ اتله اردو د دښمن د را وړاندې کولو په تاخیر کې تر ډېره بریده بریالۍ هم شوه، ډېر تلفات یې دښمن ته واړول، خو لکه د تل په څېر دښمن دغه زیانونه په رښتیني بڼه اعلان نه کړل.

**نهم:** دلته او هلته زمونږ د ډلګیو شاته او په لویو لارو کې ډېرې او تکراري کښته کېدنې، د اوسېدونکو وېرول او د لارو پرې کول. او دا معلومه خبره ده چې د ډلګیو شاته د دښمن هره کښته کېدنه یا د شا له لوري برید، ډلګۍ ګډوډوي.

**لسم:** فکري جنګ او د دعوتي وسایلو کارول، او هغه اوازه چې دښمن وکولی شول چې د پنځمې ستنې او د دوی د لاسپوڅو په واسطه یې زمونږ د وسله‌والو ځواکونو لیکو ته دننه کړي. همدا راز ځینې لاسپوڅي را ولاړ شول او د دښمن الونکو ته یې مهم ځایونه او نظامي موخې ور وښودې.

**یوولسم:** د نظامي مشرانو او د ډلګیو د امیرانو تر منځ د اړیکه نیوونکو وسایلو پرېکون او د ځینو امرونو نه رسېدل، چې د ځینو نظامي ډلګیو د ګډوډۍ لامل شو او فکر یې کاوه چې نور امر نه شته.

**دوولسم:** د عراق-ایران جنګ کې به مشرانو او امیرانو د حالاتو د بدلون او دریځ په اساس امرونه چلول، څکه عراقي نظامي ښوونځی د نړۍ د ډېرو ښو ښوونځیو له جملې څخه و، چې زمونږ ښه افسران، مشران او لښکرې ورنه را فارغه شول. هېڅکله مو فرقې، کنډکونه او مشران د سیاسي اوامرو پیروۍ ته مجبور کړي نه دي، له عامې رهبرۍ پرته نور ټول اختیارات د مشر او امیر په لاس کې وو. خو سیاسي پرېکړو هم کله نا کله، دریځ ته په کتو رول لوباوه، خو په ډېره کمه کچه ان چې کله به مو سیاسي مشران هم د اوسېدو لپاره د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګ جبهو ته ورلېږل، نو د نظامي (عسکر) تر واک به لاندې وو، په دې کې عُدي او قُصي وو."

## د سیاسیونو رهبرۍ ته د اردو تابع کول:

دلته مې له ولسمشره د هغه څه په اړه پوښتنه وکړه چې ډېریو عراقي نظامیانو او سیاسیونو دا یوه لویه تېروتنه ګڼله چې د سیمو په رهبري کولو کې نظامي مشران او امیران، سیاسي چارواکو ته پیرو کړی شول. ولسمشر هم د دغې اجراءاتو د ترسره کولو لاملونه تشریح کړل، او بېرته یې وګڼل، خو په څرګنده او زړورتیا یې وویل چې د دښمن د ځواکونو له زورور هجوم سره په مقابله کې سیاسي چارواکو ته په کنډکونو او فرقو کې د نظامي مشرانو پیرو کول، زمونږ د ډلګیو د کمزورۍ لامل شو. او وې ویل:

"د دغې جګړې د اهمیت له کبله او دا چې دا ځل په بشپړه مانا مسیر ټاکونکې وه، نو نظامي پرېکړه مو سیاسي مشرانو ته ورکړه، هغه که د فرقو مشران وو او که د کنډکونو مشران، خو دغه کار مو د نظامي مشرانو په مشوره وکړ، او دې کار ته سخته اړتیا لیدل کېده. کله نا کله به دریځ چټک پلان او برید ته اړتیا لرله. خو کله چې نظامي پرېکړه د سیاسي پرېکړې پیروه شي، نو دریځ یو ځل وخت نیسي، ان کېدی شي ساعتونه ونیسي په ځانګړي ډول چې د چټکې اړیکې وسایل هم نه وي. د چټک او برید ته اړ حالت په اساس د غوښتل شوي دریځ د کارولو لپاره د مشر هڅې ځنډېږي. پر دې برسېره په نظامي برخه کې د کافي معلوماتو نه درلودو په اساس ځینې نظامي مشران د سیاسي پرېکړو او هغو امرونو په لټه کې وو چې دوی ته کېدل. دې کار د بغداد په لوري د دښمن د چټک مخکې تګ پر بریا په لویه بڼه اغېزه وښندله. خو سره له دې، زمونږ د اتلې اردو او جمهوري ساتونکو ټولګو او نورو ټولو ټولګو داسې جګړه وکړه، چې په مخکنیو جګړو کې یې بېلګه نه شته.



**دیارلسم:** له ټولو جبهو څخه د دښمن هجوم. له بده مرغه ځینو را نږدې هېوادونو د خپلو ځمکو له لارې د دښمن د ډلګیو او ټانګونو را ننوتل اسان کړل. او د دښمن له لوري د عراق د په نښه کولو لپاره د ځینو نورو ځمکه او هوایي ډګرونه کارول.

**څوارلسم:** د دښمن له لوري په هجوم کې د دښمن د لاسپوڅو او د ایران د لاسپوڅو کارېدل، همدا راز ایران ته د ځینو مخلصو ملیشو کارول، چې په دروغو د اسلام ادعا کوي.

## د برغل په ګړندیتوب کې د ایران رول

**پنځلسم:** د ایران غداري، عراق ته د امریکایي او برېتانوي ځواکونو په ننوتلو کې مهم مرستندوی لامل و.

"د امریکایانو له اندازې زیات تکبر او په بغداد کې په زیاته لیوالتیا سره د دوی د اردو تمرکز، او کله چې امریکایان ناکام شول نو په بغداد کې د هیروشیما په شان د ذروي اسلحو کارولو برسېره دغو ټولو لاملونو پوځ ته د له ستونزو ډکې ځانګړې فضاء په را منځته کېدو کې مرسته وکړه. دا طبیعي کار دی. کله چې چارې داسې مرحلې ته ورسېږي، واکمنان پر خپلو ډلګیو واک له لاسه ورکوي. دغو لاملونو زمونږ ډېرې وسلهوالو ځواکونو ته د ګډوډۍ حالت را منځته کړ، له کنټروله ووتل، پوځ له امره پرته یو په بل پسې د جګړې له ډګره په شا شو.

"نو مونږ وایو چې امریکا د ظلم او ورانۍ توان درلود، خو د عقل او زور تر منځ توپیر دی. دې کولی شوی چې ظلم وکړي او ورانی ورسوي، خو په عمل کې یې زیان بیخې لوړ و، او دا انساني او تاریخي زیان به تر هغه ونه رغېږي چې په هغه ګوند یې اغېزه نه وي ښیندلې یا یې له واکه نه وي ګوښه کړی چې له بوش سره یې د عراق پر ضد مرسته وکړه. خو پوښتنه دا ده چې چا زیان وکړ؟ په اصل کې د نړۍ په مخ کې امریکایي ولس او د ځواک ټولو غړو زیان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ. یعنې کله چې له هغه څه سره چې پېښ شو امریکایي ولس خپل مخالفت ښکاره نه کړ، نو څه چې د نوموړي ولس حکومت کړي، د هغه رغونه ولس ته ور له غاړې ده. دلته په زندان کې مې هم امریکایانو ته وویل: له عراق وروسته هېڅکله هم پر بل هېواد تېری ونه کړئ. دا یوازې د عراق د ګټو په خاطر نه، بلکې د ټول انسانیت د ګټو لپاره، عراق خو به د الله په اجازې سره ازاد شي او امریکا او لاسپوځي به یې مات شي ."

ایا د لښکر په مشرۍ کې خیانت و؟

له ولسمشر څخه مې د نیواک له لومړیو د مشهورو شویو اوازو په اړه پوښتنه وکړه، ویل کېدل چې د نظامي رهبرۍ په لیکو کې خیانتونه وو، خو ولسمشر په قاطع ډول رد کړه او وې ویل:

"اورېدلي مې دي چې ځینې د جګړو په ترڅ کې له شوو خیانتونو څخه غږېږي. خو ښاغلیه زه تا ته وایم چې زموږ د پوځ اتلولي څرګنده ده، د تاریخ په اوږدو کې یې بې سارې اتلوالې جګړې کړې دي. کله چې جګړې سختېږي، نو د نړۍ په پوځونو کې خیانتونه کېږي، خو زموږ په لښکر کې که شوي هم وي، نو په ډېره کمه کچه به وي، چې د جګړې په پایله یې هېڅ اغېزه نه درلوده. خو د لویو مشرانو د خیانت په اړه چې اوازه ده، نو [دا حقیقت نه لري، بلکې] د فکري جګړې یوه برخه ده، چې د نړۍ ټول لښکرونه یې په جګړو کې د سیالانو په ضد کاروي، په ځانګړي ډول کله چې یو لورۍ له سختو جګړو سره مخ شي. زموږ لښکر پیادوو او مشرانو ټولو بې ساري هڅې وکړې، له دښمنانو سره یې داسې مقابله وکړه چې دښمن یې هک پک کړ او زموږ د ټولو عربو او د انسانیت د خیر غوښتونکو سینې یې یخې کړې. موږ د بغداد جګړې ته پلان نیولی و، ویل مو چې د امریکایانو له ننوتو وروسته به کور په کور او سړک په سړک جنګېږو، چې په دې سره به دوی د خپلې لوړنیا عوامل یعنې ټکنالوژي له لاسه ورکړي، او موږ به دا اوږد ښامار لنډ کړو. دې



ته مو چمتووالی هم نیولی و، خو د بغداد ژر نیواک، د تکتیکي ذروي وسلو کارول، د جګړې د سخت والي له کبله د پوځ او ساتونکو د ګروپونو ګډوډي، د هوايي ملاتړ نه شتون او د واک له منځه تلل. هغه څه وو چې له امله یې دغه انتخاب ته ونه رسېدو، که ورته رسېدلي وای، نو د دښمن د درنو وسلو اغېزه په ځانګړي ډول د الوتکو اغېزه به مو له منځه وړې وای.

"نو وایو چې د بغداد د ژر نیولو مهم لاملونه د دواړو ځواکونو نه برابري او د هوايي ډګر په جګړه کې د امریکا له لوري د تکتیکي ذروي وسلو کارونه وه، چې له امله یې عراقي پوځ حیران کړی و، هغه پوځ چې د بوش په جرمونو کې له استفاده کړیو وسلو سره مخامخ شوی نه و.

"کله چې دښمن عراقي موخې ډېر په دقت سره په نښه کولې، نو موږ مجبور شوو چې په رهبرۍ کې پلټنه وکړو. له بده مرغه، له پلټنې او څېړنې وروسته راته روښانه شوه چې ځینې هغو خاینانو او لاسپوڅو ثریا ټیلیفونونه کارول، چې دښمن د بغداد ځانګړیو سیمو ته لېږلي وو، د مصنوعي سپوږمکیو له لارې د امریکا او ایران د رهبرۍ له مرکزونو سره په اړیکه کې وو. چې دې کار د ډېرو ملکي او نظامي موخو او مهمو ځایونو ورانول دښمن ته اسانه کړل.

"د بغداد په نیواک کې د خاینانو او لاسپوڅو له لوري د موخو پېژندونکو تنیو او وسایلو کارېدلو هم مرسته وکړه. دا وروسته ښکاره شو، چې ځینې د کمزورو نفسونو خاوندانو او خاینانو په ځینو عراقي امنیتي وسایلو کې مداخله کړې وه.

### هغه معلومات چې ولسمشر ته نه وو رسېدلي:

موږ په مستقیم ډول هر نظر یا څرګندونې ته دروازه پرانیستې وه، او چا چې به په مستقیمه توګه د حقیقت د را رسولو یا ویلو زړورتیا نه لرله، نو په غیر مستقیمه توګه به مو اورېده. ما به په رهبرۍ کې له ورونو غوښتنه کوله. څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې غواړی په زغرده یې ووایاست، خپلو کسانو او سکرتر ته مې هم امر کړی و چې هر معلومات او نظریه د په مستقیمه توګه را رسوي. خو زه پر دې قانع شوم چې ټول هغه حقیقتونه چې ما ته باید را رسېدلي وای یا ما باید اورېدلي وای، ډېری یې نه دي را رسېدلي. دې ته مې د جګړې په جریان کې او وروسته پام شو...". (قاضي عبد الله العامري هم د محکمه کولو په یوه ناسته کې همدا خبره وکړه او ولسمشر ته یې وویل: ته دیکتاتور نه وې، خو پر تا را تاو خلکو درڅخه دیکتاتور جوړ کړی و).

په ۲۰۰٦ م کال کې مې چې د عربو له یوه لوړپوړي چارواکي سره د هغه په هېواد وکتل، راته یې وویل: والله مونږ ته به چې څه معلومات را رسېدل، نو مونږ به ولسمشر صدام حسین ته ورلېږل، خو له هغه څه لرې شوی وای، چې وشول او سیمه هم له هغه څه لرې وساتي چې پېښ شول او لا پېښېږي، خو مونږ پوه شوو چې دوو لویو کسانو له قصده دا معلومات ولسمشر ته نه ور رسول، یو یې ولسمشر ته نږدې هم و، په لامل یې نه پوهېږو.

دا خو ښکاره خبره ده چې پر عراق د ۲۰۰۳ کال یرغل، د نړیوالو استعمارګرو او صهیوني دولتونو له لوري له ۱۹٦۸ کاله او د بعث ګوند په مشري د دولت له جوړېدو را پدېخوا پلان شوی و. دغو هېوادونو ته په ۱۹۷۲ م کال کې د نفتو ملي کېدل او ورپسې د عراق ډېرې لویې لاسته راوړنې لویه بلا وه، د عراق په ضد په منظمه بڼه سره په راغونډېدلو او د هیلو د پوره کولو لپاره یې په پلان نیولو پیل وکړ، په ۱۹۸۰م کال کې چې ایران پر عراق برید وکړ، نو دا د دغو هېوادونو لپاره باران و، د جنګ د اوږدېدو له کبله یې ایران په وسلو سمبالاوه. خو کله چې عراق په تېرې کوونکي ایران بریالی شو، د عراق پر ضد د نورو جنګونو لپاره سره راغونډېدلو ادامه پیدا کړه، څو د عراق نوښتګر طاقتونه هلاک شي او د داسې لوی دولت د جوړېدو هیلې ووژل شي، چې د نړی له غټو دولتونو سره سالم رقابت وکړي. کله چې عراق له جنګه بریالی را



بهر شو، نو دغو او د سیمې ځینو هېوادونو په خپل منځ کې د عراق د ځورولو لپاره ائتلاف وکړ. را غونډ شوي دولتونه د کوېټ په قضیه کې د دوی د هیلو په پوره کېدو وتوانېدل. بیا د متحده‌ایالاتو او نړیوال صهیونیت له لوري په ډېر پام سره پلانونه جوړېدل، د عراق د وهلو لپاره یې زوروره وسیله پلټله. د سپټمبر د ۱۱ په پېښو کې امریکا پوره هلې ځلې وکړې، ټولې مخابراتي او استخباراتي آلې یې وکارولې، څو په عراق تور پورې کړي، بیا یې په نوي جنګ کې د اخته کېدو چمتووالی ونیو، څو د عراق راتلونکی له منځه یوسي، وران یې کړي، ټولې زېرمې یې ولوټوي، پر نفتو یې ولکه وکړي او د اسرائیلو بشپړ امنیت تأمین کړي، ور پسې په نړی ولکه وکړي، دغو تېري کوونکو دولتونو عراق د ځانونو لپاره کیلي ګڼله.

کله چې عراق خپل نفت ملي کړل، نو امریکې پر عراق د جنګ پرېکړه وکړه، د عراق د بشپړ نیولو لپاره د سپټمبر د ۱۱ پېښې راغلې.

د ۲۰۰۲م کال په پای کې، امریکا څلورو عربي پلازمېنو ته خبر ورکړی و چې نهایي چاره د بغداد نیواک دی، په دغو پلازمېنو کې یوې د عراق وهلو ته په هڅولو کې فعاله ونډه واخیسته، ان د عراق نیولو او ورانولو ته یې د امریکا د هڅولو لپاره په ملیاردونو ډالره د دې لپاره ولګول، څو له دغې درندې خپسکې څخه خلاص شي. د دغو دولتونو یو رهبر په سیاسي ډګر کې را ښکاره شویو هغو سخت په غوسه کړی و، څکه پوهېده چې عراق د عربو دېوال، د ځښت ځای ساتونکی او د أمت د ختیځې دروازې پېره دار دی. هغه درک کړې وه چې د عراق سقوط، یو په بل پسې د عربي دولتونو سقوط دی، په ځانګړي ډول کله چې بوش عراق ته د نهایي پرېکړې (برید) اعلان کاوه نو دوی یې ګواښل، چې مسیر به یې صدام حسین ته د منتظر مسیر په څېر وي.

د یاد کال د دسمبر په پای کې، له دغو عربي پلازمینو څخه د یوې پلازمینې یوه مهم چارواکي له عراق څخه لیدنه وکړه، پر عراق د ظالمانه بندیزونو له امله یې د سفر سختې وګاللې. د وچې له لارې له داسې هیلو سره بغداد ته ورسېد چې ولسمشر صدام حسین به ګوري او په روانو حقیقتونو به یې خبروي. د بغداد په یوه هوټل کې یې د دې په انتظار استوګنه غوره کړه چې ولسمشر ته به په شخصي توګه راوړي معلومات ورکوي، دغه دولت وړاندې هم ولسمشر صدام حسین ته معلومات را لېږلي وو، خو ورته رسېدلي نه وو. په عراق کې ځینې مهم اشخاص وو چې قصداً به یې له ولسمشر څخه معلومات پټول.

ولسمشر صدام حسین د استازي له شتونه نا خبره و، لیدونکي ډېره هڅه وکړه چې ولسمشر ته ورسېږي. خو بریالی نه شو. نو ولسمشر ته نږدې یې له یوه عراقي چارواکي څخه مرسته وغوښته، خو هغه په خپل نوبت له قُصي سره په اړیکه کې شو، قُصي له خپل لوري استاذی ور ولېږه چې له مېلمه څخه واوري. خو مېلمه یوازې ولسمشر ته ویل غوښتل. قُصي په هغو دوو شخصیتونو کې له یوه سره په اړیکه کې شو چې ولسمشر ته یې د معلوماتو له رسېدلو څخه مخنیوی کاوه، نو هغه کس دوی دواړو (مېلمه او د ولسمشر نږدې کس) ته د ځانګړو مراسمو موټر ور ولېږه، دوی دواړو ګڼلې وه چې له ولسمشر صدام حسین سره به ګوري. خو هماغه شخص ورسره مخامخ شو او ورته مې وویل: څه چې در سره دي، را یې کړئ... خو مېلمه نه ورسره منله او د ولسمشر په لیدو یې ټینګار وکړ. د ۲۴/ ۱۲/ ۲۰۰۲ نېټه د همدې لیدنې په جریان کې مېلمه او عراقي کس له هغه شخص سره بیا اړیکه ونیوله، هغه ترې غوښتي وو چې مېلمه د د ولسمشر لیدو ته ځان برابر کړي. هماغه موټر ورته راغی او یو لوی اپارتمان ته یې یووړ. هلته یې دوه لوړ پوړي چارواکي ولیدل، دواړو له مېلمه سره د شته معلوماتو غوښتنه کوله. د ثبت آلې ته یې اشاره وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او وې ویل چې د دغه ثبت له لارې به ولسمشر ته ستاسې معلومات ورسېږي، مېلمه ډېر په تنګ شو، څه معلومات چې ورسره ول، ټول یې هلته وویل. بیا دواړو کسانو خدای په اماني ورسره وکړه او تاکید یې وکړ چې هرو مرو به معلومات ولسمشر ته رسېږي، وړاندې له دې چې مېلمه له خپل استوګنځي څخه د خپل هېواد په لوري وخوځېږي، یو پاکټ ورته راغی چې شخصي د ده لپاره پنځوس زره ډالر په کې وو. خو ده رد کړل او مننه یې وکړه چې دی او هېواد یې ښه دي. بیا مصیبت پېښ شو، کله چې ولسمشر بندي شو، له ده څخه مې د هماغه دولت مشر ته پیغام ور ووړ، چې عراق ته یې استازی را لېږلی و، او ډېر حرص یې درلود چې د کویټ موضوع حل شي او عراق له اخیرني مصیبت څخه وژغورل شي. ډېرو لورو هلې ځلې وکړې چې د دغه هېواد انځور بدرنګ کړي او د ده او عراق تر منځ اړیکې وشلوي، ځینې دغه لوري معلوم هم دي، د هماغه هېواد دننه، په عراق کې او له عراق څخه بهر دي. دغو لورو ځکه دا هلې ځلې کولې چې د دغو دواړو هېوادونو تر منځ د ورورګلوۍ خوږه او پاکه اړیکه ناولې او تته کړي، د شخصي حساب او کینو له امله او یا د عربي اړیکو د ورانولو له امله یې د حسد او کینې تیږې تکولې. وروسته له دې چې د دغه دولت له مشر سره مې ولیدل، هغه له عراق او صدام سره شویو او روانو حالاتو ډېر درداوه. په دغه راته نژدې دولت کې له ځینو نورو مهمو شخصیتونو سره د لیدنو او کتنو په ترڅ کې مې ډېر داسې څه واورېدل چې دغه دولت ډېرې هڅې کړې وې څو له دوی سره شته معلومات ولسمشر صدام حسین ته ورسوي، ګوندې هغه ته په درد وخوري، خو هېڅ هم ورته رسېدلي نه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هوايي ډگر جگړه

## لومړۍ برخه

د ستر جنرال سيف الدين راوي په قلم

د جمهوري ساتونکو ځواکونو مشر

۱ -د صدام حسين د نړيوال هوايي ډگر د ځای اهميت: د صدام نړيوال هوايي ډگر چې شهيد صدام جوړ کړی و، ستراتېژيک اهميت يې درلود، چې په لاندې ډول دی:

- د صدام هوايي ډگر د خپل مساحت له امله د بغداد په ټولو لارو کې يو له مهمو لارو څخه بلل کېږي، د ځمکنيو ځواکونو په خپرېدلو کې مرسته کوي او د بغداد د شمال لوېديځ لوري ته په ۲۰ کيلومترۍ کې پروت دی.
- شونې ده چې د دښمن ډېر شمېر هوايي ځواکونه او په ځانگړي ډول ثابت وزر لرونکې غټې الوتکې را کښته شي. چې په دې سره د بغداد د مرکز په لوري د تللو يا پرې را چاپېرېدلو لپاره ښه ثابته اډه تشکيلوي.
- د هوايي ډگر په گاونډ کې لوی مرکزي ځايونه دي، لکه ډېر اپارتمانونه او باغونه، او دغه ځای امريکايي ځواکونو ته د استوگنځي په څېر د عملياتو د اداره کولو لپاره هم گټور دی.
- د صدام په نړيوال هوايي ډگر ولکه کول، پر ولس ډېره نفسي اغېزه لري، ځکه د صدام په نړيوال هوايي ډگر ولکه په الرضوانيه کې په مرکزي ځايونو د ولکې په څېر ده.
- نوموړی هوايي ډگر له ستراتېژيکو لارو چټکو لارو سره تړلی دی، يوه مستقيمه چټکه لاره د ولسمشرۍ ماڼۍ ته تللې ده، بله ستراتېژيکه لاره له هوايي ډگر سره پرته ده چې د عراق له لوېديځه تر سوېله پورې غځېدلې ده او له استوگنځايونو څخه بېله ده، د ځمکنيو ځواکونو د مخکې تگ لپاره ښه اغېزه لري. د دې لارې پر هره برخه سلگونه هلېکوپټر الوتکې هم کښته کېدی



شي، چې دښمن ته دا شونې کوي او دا يې ورته شونې کړه چې د لارې په څو ټاکل شويو ځايونو ناستې وکړي.

- د صدام په نړيوال هوايي ډگر کې د شته څه په اړه دښمن له وړاندې ډېر معلومات درلودل، دغه کار يې د ملل متحد د وسله څېړونکو له لارې کړی و، هغوی مرکزي او دفاعي ځايونه ټول کتلي وو، نو دوی يې په اړه ښه فکر کړی و.
- نوموړی هوايي ډگر دښمن ته دا چانس ورکوي چې د بغداد شا او خوا عراقي دفع هوا ځايونه وشوروي او د نورو دروازو نيولو ته ترې وخوځېږي (يوسفيه-تاجي دوه لارې (دو راهي)) همدا راز د بغداد پر ښار را تاو شي او له نورو ولايتونو څخه يې بېل کړي.

۲ -د صدام له نړيوال هوايي ډگر څخه د دفاع عامه مفکوره: له جنگه څو کاله وړاندې هغه وخت له هوايي ډگر څخه د دفاع مفکوره د شهيد (قُصي صدام حسين) له لوري وکښله شوه، چې دا معلومه شوه چې امکان لري صهيوني دښمن د هوايي پټ ووځي او ننوځي يا دې د ولسمشر صدام حسين د هدف گرځولو لپاره ځانگړي ځواکونه کښته شي. د هوايي او ځمکنيو گواښونو څخه هيله چې وه، د هغې ټول حساب مو برابر کړ، ان دا چې دښمن به له موانعو څخه د تېرېدو لپاره له پيلوټانو څخه کار اخلي. د هوايي ډگر په چاپېر او د رضوانيه په مرکزي ځای کې رادارونه، څارونکي او څارگر ټکي ووېشل شول. له ډگر څخه د دفاع لپاره داسې تصميم ونيول شو چې د جگړې ځمکه به ترې جوړوو. په دقيق ډول په مستقيمو او غير مستقيمو بريدونو وپوښل شو، د هوايي دفاع وسايل د ډگر په چاپېر کې ووېشل شول، چې هېڅ ځواک له هوا څخه تر هغه نه شوی ورته را کښته کېدی، څو چې د دافع هوا وسايل يې له منځه نه واى وړي، دغه وسايل د تکړه او لوړ موراله پوځ په لاس کې وو په ښو وسلو سمبال وو. ځانگړي جمهوري ساتونکي له بشپړ مسلح او سمبال

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیاده پوځ. له ټاکلیو ډلگیو او افرادو او ځانگړو ځواکونو څخه جوړ وو. همدا راز د مرکزي رضوانیې لپاره هم پورته تدابیر نیول شوي وو. ونډه اخیستونکو عراقي ځواکونو د دفاع لپاره گڼ شمېر تمرینونه کړي وو. د جنگ په جریان کې د شهید قُصي صدام حسین له لوري د جنگ پلان بیا جوړ شو، کله چې په ډگر کې د دښمن د کښته کېدو خبر تایید شو، نو پلان مو واړاوه او هوایي ډگر د توپونو او راکټونو تر برید لاندې ونیول شو.

۳-د صدام پر نړیوال هوایي ډگر د ولکې په اړه د امریکایي دښمن پلان:

-تمهیدي بمباري: ۳۰۰ ساعته شپه او ورځ بې له پرېکونه د هوایي ډگر پر چاپېر دفاعي وسلو او په رضوانیه کې په مرکزي ټولنځي هوایي بریدونه کېدل، چې د دفاعي وسلو په ختمولو سره یې ځمکنیو ځواکونو ته لاره هواره کړه. په بمبار کې (بې ۵۲) الوتکو گډون وکړ، چې له نه ټنه بمونو او د هوایي جگړو له نورو زرگونو مهماتو، کروز توغندیو او نیټروني بمونو څخه یې کار واخیست، له امله یې ډېرې کسان په سوځلو له منځه یووړل. د نړۍ په ټولو نظامي پلانونو کې چې په کوم هوایي برید پسې ځمکنۍ هجوم یا کښته کېدنه وي، هوایي برید د یو ساعت لپاره دوام کوي، لکه په ۱۹۷۳م کال کې چې مصریان د سویس له کاناله تېرېدل، په ۱۹۸۸ م کال کې یې د عراقي ځواکونو له لوري د الفاو د ازادولو په جگړه کې له یو ساعته کم دوام وکړ. خو دلته تمهیدي بمباري لیکلې نه وه، نه د وخت له اړخه او نه هم د هغو سوځونکو وسلو د کارولو له اړخه چې نړیوالو بندیز پرې لگولی (نیټروني بمونه). وروسته له دې چې دفاعي وسلې وراني شوې، دښمن هوایي ډگر ته نږدې له هوا کښته کېدنې پیل کړې د چټکې ستراتېژۍ له لارې، چې د اپرېل په دویمه ورځ یې له (جرف الصخر) پله څخه د هوایي ډگر په لوري د را پورې وتلیو ځواکونو راتگ ته لاره هواره کړه او په عملیاتو کې (۱۰۱) او (۸۲) گرځنده هوایي فرقو ونډه واخیسته، چې د امریکایي دښمن د گرځنده ځواکونو اساس



تشکیلوي، زغره وال کنډک هم ونډه په کې درلوده او زرگونه جنگي او هلیکوپټر الوتکو یې ملاتړ کاوه.

د دښمن د پلان مطابق د جگړې لنډیز داسې کېدی شي:

- پیلیزه بمباري، چې د ۳۰۰ ساعتونو لپاره د هوایي ځواک، توغندیو او د نړیوالو له لوري بندې شوې وسلې یې په کې وکارولې، څو د هوایي ډگر چاپېره دفاعي وسلې له منځه یوسي.
- له هوا را کښته کېدنې، چې (۱۰۱) او (۸۲) گرځنده هوایي فرقو ونډه په کې درلوده.
- له ښارونو بغل ته په صحرا کې د زغره وال کنډک راتلل (د نجف-کربلاء-هوایي ډگر له لارې).

۴-ځمکنۍ جگړه، د صدام د هوایي ډگر شا او خوا او دننه او د مرکزي رضوانیه په ټولنځي کې د دښمن له ځواکونو سره ځمکنۍ جگړې د ۲۰۰۳ م د اپرېل له ۳ مې ان د همدې کال د اپرېل د ۸ مې تر پایه دوام وکړ، چې په لاندې ډول وه:

- د جمهوري ځانگړو ساتونکو، پوځونو، توغندیو، راکټونو او د صدام د فدایانو او د یرغلگرو ځواکونو تر منځ زښته تخریبوونکې نښته وشوه، چې د دښمن څو ځمکنۍ او گرځنده هوایي ځېې په بشپړ ډول ویرانې شوې. دښمن له ډلگیو سره له لاس په لاس جگړې وروسته شاته تگ وکړ، څو الوتکو ته زمینه برابره کړي، چې په وراني کې خپل رول ولوبوي. موږ هم خپلو پناه ځایونو ته د را گرځېدو تگلاره غوره کړه، څو د دښمن د الوتکو اغېزه کمه شي.
- جگړې د دواړو خواوو له لوري د غلچکي بریدونو طبیعت خپل کړی و. خو د دښمن جگړه‌ییز ځواک غښتلی و او په پراخه کچه یې نوي ځواکونه کارولی شوای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- دښمن په اور سره (د موخې د پراخې سوځونې) تګلاره غوره کړې وه. او د (ورانولو بیا پلټلو) ستراتېژي یې غوره کړې وه چې ۹ ټنه او پناه کونکي بمونه یې کارول.
- جګړه مستقیما ولسمشر صدام حسین او ښاغلي قُصي صدام حسین چلوله، ولسمشر په مستقیم ډول د جګړې په تګلاره او د عملیاتو په اداره کولو کې د جمهوري ساتونکو ځانګړي ځواکونه اداره کول.
- اساسي جګړه په پراخ مرکزي رضوانیه ټولنځای کې رامنځته شوه، چې یوه لوري ته جمهوري ساتونکي، پیاده او فدایان ول او بل لوري ته دښمن و، دښمن ته زښته زیان واوښت، چې له امله یې (نیټروني) بمونه وکارول.
- له هوایي ډګر څخه ډېری دفاع کوونکي ځواکونه شهیدان شول. دښمن په ځمکنۍ جګړه کې هغه وخت بریالی شو، چې دفاعي ځواک په داسې نا جایزو وسایلو په پراخ ډول له منځه ولاړ، چې تر اوسه په یوه جګړه کې هم نه وې کارول شوې.
- دښمن د خپل مورال له امله په هوایي ډګر ولکه ونه کړه، بلکې په جګړه کې یې وحشي او وېروونکي وسلې وکارولې ځکه بریالی شو.
- فرانسه چې په ملیونونو ځواکونه یې درلودل، د دویمې نړیوالې جګړې په جریان کې د جرمني له لوري په لسو ورځو کې ونیول شوه، په لسګونو نور هېوادونه یې په میاشت کې ونیول او د مسکو تر پولو ورسېده. خو په دغه جنګ کې مونږ یوازې وو او له روسیې پرته هغه هېوادونه چې له جرمني سره ولاړ وو یا د جرمني پر ضد ولاړ وو محور او متحدین ټول زمونږ پر ضد په جګړه کې سره یو ځای ول چې دا معادله ده، خو جګړه لا روانه ده او ډېر ژر به داسې پای ته ورسېږي لکه ښاغلي ولسمشر شهید تلپاتي صدام چې تعین کړې وه له بریا پرته بل څه نه.



# د هوایي ډګر جګړه

## دویمه برخه

## هغه جګړه چې امریکایان به یې هېره نه کړي

هغه جګړه چې ښاغلي محمد سعید صحاف یې په اړه خبرې وکړې او رسنیو پټه کړه. د ۲۰۰۳ م کال د اپرېل د میاشتې له پیلېدو وروسته، د هغو تلویزیونونو په سکرینونو را څرګند شو چې پر عراق د جنګ پېښې یې ځارلې. وې ویل: نن به هلته داسې جګړه وي، چې په څېر یې مخکې نه ده تېره شوې. او دې څرګندونې ته یې د جګړې پر ډګر او د امریکایي نظامیانو د رهبرۍ او د جنګ د پټو لویو پلانوونکو د کړنو د ردونو په اړه مهم غبرګونونه درلودل. نو په دې جګړه کې څه پېښ شول، چې رسنیو پټ کړل. امریکایان یې هم په اړه چوپ شول او ولسمشر صدام حسین په زندان کې دننه هم چلېنج ورکړ چې دوی دې په هماغې جګړه کې دوی ته اوښتي زیان اعلان کړي؟

۱-د صدام د هوایي ډګر په هجوم کې ګډ ځواکونه: لومړنۍ د سپارو زغره واله فرقه.

۲-هغه لاملونه چې د هوایي ډګر څخه د دفاع د پلان په اړه وویل شول.

- د دښمن د ځواک او کمزورۍ د ټکو څېړنه، د ځواک ټکي په دې کې را لنډېږي: هوایي ولکه، له هوا په کښته کېدو او د موخو تر لاسه کولو لوړ ځواک، په شپه او ورځ کې د لګېدو په اړه لوړ دقت، د الکټرونیکي مداخلو په اړه ښه ټکنالوژي، د موخو د ړندولو لپاره له دود څخه ګټه اخیستنه، لېزري ویشتونکي، د بېلو لیکو تر منځ دقیقه او لویه مرسته، د نړۍ او چاپېریال له لویو دولتونو څخه د پراخ فعالیت ازادي.

خو د دښمن د کمزورۍ ټکي دا وو، چې عراقي ځواکونو به ځانګړي (پیاده) ټولګي کارول، چې د شپې او ورځې یې جګړه کوله. جنګ ته به ورغلل بېرته به خپلو ځایونو ته را وګرځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د دښمن د عمل او د غبرگون څېړنه، چې څنگه به کښته کېږي او کومه وسله به کاروي، د مقابل لوري پر هجوم به څه غبرگون ښيي او بارود به څنگه استفاده کوي چې د (جگړې تصویر) بلل کېږي.

- ځانگړی لامل، دښمن له دې وېره درلوده چې له هوايي ډگره دفاع کوونکي ځواکونه به اتمي وسله وکاروي، نو ځکه یرغلگرو امریکایانو د کشف پر وسایلو برسېره حیوانات هم وکارول، لکه، سوی چې زهرجن کېمیاوي عوامل ډېر احساسولی شي، همدا راز مرغی، کوترې او چرگان یې هم وکارولې. نو یرغلگر د کېمیاوي عواملو د کارولو له احتمال څخه ډاډه شو. په امریکایي ځواکونو کې اوازه گډه شوې وه چې عراقي ځواکونو د هوايي ډگر په جگړه کې سپي هم کارولي دي، د سپو تر ملاوو یې چسپکي چاودېدونکي تړلي او کله چې سپی له موخې سره لگېږي، نو انفجار کوي او یا له لرې الوزول کېږي. له همدې کبله، کله به چې څه وخوځېدل، هغه که انسان و، که حیوان او یا الوتونکی، نو امریکایانو به په نښه کاوه. همدا راز عراقي رهبري د رسنیو د وزیر صحاف له لارې د رسنیز لار ورکي تگلاره وکاروله، ځو دښمن ته قناعت ورکړي چې عراقیان به کېمیاوي وسله وکاروي، خو یرغلگر امریکایان په خپل تحلیل کې دې ته ورسېدل چې که یې عراق استفاده کړي، نو د دې کار په ځواب کې به د ډله ییزې وژني وسله وکاروي، چې زرگونه ټنه وزن لري او دوی (۱۲) زره ذروي سرونه لري یا به تکتیکي (نیټروجني) بمونه وکاروي، چې په هوايي ډگر کې استفاده هم شول، سره له دې چې له عراقیانو سره د ډله ییزې وژنې وسله نه وه.

- د هوايي ډگر په ځینو ځایونو کې منفجره کمینونه برابرول، او دا هغه لامل و چې ورته امید کېده، او د یرغلگرو له لوري په ډېره پاملرنه سره په نظر کې نیول شوي وو، امریکایي دښمن د مهندسانو په واسطه د اساسي نقطو او ځایونو پلټنه وکړه، هغه که د هوايي الیکټرونیکي خبرېدو له لارې وه یا د



ځمکني پلټلو له لارې. عراقیانو د هوايي ډگر بنسټونه یا مرکزي رضوانیه یا نور ځایونه وانه الوزول، خو د ټوپکي جنگ له پلان سره په څنگ کې یې همدا موخه هم درلوده.

- یرغلگرو ځواکونو په هوايي ډگر کې دننه د دهلېزونو د شتون احتمال هم په فکر کې نیولی و، چې کېدی شي پیاده عسکر یې پر دښمن له جنگه وروسته د پټنځاي او ملاتړځاي په توگه وکاروي. عراقیانو تر ځمکې لاندې ډېر ساتنځایونه او پناه ځایونه درلودل او د پناه ځایونو تر منځ یې د تگ راتگ لپاره تینگې لارې درلودې.

- په برید کې د بشري ټولگیو کارونه: دا هم دښمن مطالعه کړې وه، چې عراقي رهبري کولای شي چې دښمن ته د ډېر او لوی زیان اړولو لپاره په (بشري ټولگیو) سره برید وکړي، چې دا تگلاره د (کوریا) او (ویتنام) په جنگ کې استفاده شوې وه.

- د یوې غیر معمولې وسلې کارول: ځو د الکفل، ذراع دجله او جرف الصخر په جگړو کې دښمن ته له جدي اوښتو زیانونو وروسته له امریکایي برغلگرو څخه د وېرې عامل وباسي. نو ځکه عراقي پلان جوړوونکو د جنگ په جریان کې پرېکړه وکړه چې په هوايي ډگر کې له شته اوبو یا هوا پاشونکو څخه د کیروسین په لگولو کې کار واخلي، چې ډېر لمبه کوونکی سوځوونکی دی، ځو هوايي ډگر ته اور ورکړي او پر یرغلگرو اغېزه وکړي، خو دغسې کارونې پر هوايي ډگر د برید کوونکو په توجه کولو اغېزه لري، دویم دا چې پر دفاعي ځواکونو به هم اغېزه وښندي.

- د ۸۲ ملم هاوانونو کارول به مخې ته سوري را منځته کړي، چې له دغو سوریو څخه به د برید په وخت کې جریان تېرېږي، دغه جریان به د ځانگړي پلاستیک د اوړو پوډر خپروي، دا به د دودونو لویه وریځه تشکیل کړي، د سورین یا زومان گاز ته به ورته وي. دغه گازونه کېمیاوي عوامل دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



(د اعصابو عوامل)، له همدې کبله یرغلګرو ځواکونو د وقایې ماسکونه واغوستل، چې د وسلې کارولو په وړتیا اغېزه ښندي او ځانګړې تاثیر هم لري.

دا کار په څو ثانیو کې وشو، د کیروسین ګاز د هوایي ډګر ډېرې برخې وپوښلې، ورپسې ۸۲ ملم هاوانونه ور وویشتل شول، د هوایي ډګر ډېرې برخې یې په حیرانوونکي ډول وسوځولې او د پلاستیک پوډر د حرارت په لوړوونکي عامل بدل شول، د هوایي ډګر په چاپېر کې یې د ځمکنۍ نښلونې پر ټولو وسایلو او کارېدونکو لارو یې اغېزه وکړه، د ملګري او دښمن تر منځ د توپیر پر آلو او پر ځای ښودونکي جي پي ایس یې اغېزه وکړه، فیلټرونه او هوا بدلوونکي یې بند کړل، چا چې غوښتل چې ووځي هغوی زندی شول، چا چې زندۍ کېدل نه غوښتل وتلو ته اړ شول، د اړیکو شبکې خرابې شوې، د هوایي ډګر ځمکه په (اسفلټ یا قیر) ته ورته مادي بدله شوه، تګ نه شوی پرې کېدی. او یو حیرانوونکي انفجار وشو، په پایله کې یې یرغلګرو ته ډېر زیان واوښت، مقاومت او دفاعي ځواکونو ته یې د دندو پوره کول اسانه کړل.

خو دښمن نور نوي ځواکونه راوستل.



# اتم څپرکی

## د نیولو کیسه

له ملګرو مخکې مو خپل دښمنان پېژندلي دي، د ځوانۍ له وخته مو مبارزه شروع کړې ن لا د ۱۹۵۹م کال څخه مخکې او هم را وروسته، واک ته د مبارزې له لارې رسېدلي یو، ولس ټاکلي یو، چې په مخ کې یې و اوسو، امپریالیستي ادارو او مخابراتو نه یو راوستي څوک چې بل څه وایي ذلیل او رسوا د شي.

که مونږ امریکا یا د هغې روزونکي صهیونیت راوستي وای، نو حال به مو داسې نه وای، چې مونږ دې ویاړ پرې کړی وای. له الله سره به په پاک زړه او پاک لاس مخامخ کېږو، ان شاء الله. که مونږ امریکا یا د هغې ادارو واک ته رسولي وای، نو امریکا به مونږ د کمین له لومړۍ ورځې رسوا کړي وو، خو الحمد لله مونږ یې په اخطار سره ورته وایو چې، څه چې زمونږ لوی تاریخ ته ضرر رسوي، هغه دې ووایي.

(صدام حسین په زندان کې)

د ولسمشر د نیولو تمثیل ډېر جنجالونه، سوالونه، لانجې او بحثونه رامنځته کړل، ځینو به رښتیا ردول او ویل به یې: دا یو خیانت دی یا هغه نیول شوی ولسمشر ته ورته کس دی. او ځینې بیا د هالیووډ دغه کمزوري تمثیل ډېر حیران کړي وو. څه چې به د لیدل، ویل به د چې ایا له عراق سره چې څه شوي، په حقیقت کې یو امریکایي کیوبایي وړاندې شوی فیلم دی؟

ولسمشر ته مې وویل: ښاغلیه، ایا غواړې چې ستا د نیولو په هکله (سور سهار) نومې امریکایي ناول واورې؟ ویې خندل او وې ویل: "څه چې در سره دي رابې کړه". ما ورته وویل: امریکایي ناول داسې وایي:

## امریکایي ناول

پول پربمر د پربکړې د شورا غړو ته امرونه وکړل، چې په بغداد کې د عربي چینل دفترونه وتړي، ځکه چې د ۲۰۰۳ م کال د رمضان د میاشتې په جریان کې یې د ولسمشر (له نیولو وړاندې) اخیرنی پیغام خپور کړی و، دا جزاوې د هغه ثبت په خاطر وې چې صدام حسین یې د رڼاګانو دایرې ته راوګرځاوه.
امریکایي ناول وایي چې د عُدی، قُصی او مصطفی وژنه صدام ته یوه داسې صدمه وه، چې ده منلی هم نه شوای، ده فکر کاوه چې که دوی له ځانه لرې کړي، نو ژوند به یې خوندي شي. خو هغه کس چې صدام حسین ګمان کاوه چې هغه به یې ملاتړ وکړي، هغه خیانت ورسره وکړ. درې واړو په جګړه کې بې ساري مقاومت وښود او ووژل شول.
جنرال ریکارډو سانچیز په مستقیمه توګه پلان چلاوه او د پیاده څلورمې فرقې مشر جنرال رای اوډینو مرسته ورسره کوله. او په لاندې ډول وه:
صدام حسین به هڅه کوي چې خپلې قبیلې او ښار (تکریت) ته مخه کړي، په ځانګړي ډول کله چې له ده څخه ساتونکي او د ده شخصي ګاردان د ده د زامنو له مرګ وروسته لرې کېدل. هغوی پوهېدل، که څه هم چې له امریکایانو سره مقابله ګرانه پرېوځي، خو صدام د جګړې د دوام هوډ لري.
امریکایانو دې ته ډېره پاملرنه کوله چې هغه پټ ساتنځایونه را لوځ کړي، چې تر ولسمشرۍ ماڼیو یې لاندې ګڼل. د نوموړو پټنځایونو د رازونو د بربنډولو ډېرې هلې ځلې یې وکړې، خو ناکام شول. د څلورمې فرقې امریکایي ځواکونو به د ولسمشرۍ دغه ماڼۍ په ورځ کې څو ځله پلټلې چې ګوندې صدام ورته راغلی وي. د دغو ماڼیو شمېر له شلو اوښت، د دجلې سیند ته نږدې ماڼۍ یې ډېره مهمه وه.
کله چې امریکایان په عراق کې له ډېرو سختیو سره مخامخ شول، نو په عراق کې د CIA مهم رهبري کوونکی سایمون ډارایز را ولاړ شو او د صدام د نیولو

(c) ketabton.com: The Digital Library


لپاره یې نوی پلان جوړ کړ. هغه پر دې باور و چې د دغو ماڼیو په پټنځایونو کې باید وګرځو او دی پوهېده چې امریکایانو له بهره تر ماڼیو امنیتي دېوال را تاو کړی، د صدام ځینې شخصي ساتونکي چې نیول شوي وو، هغوی د نوموړو پټنځایونو په اړه تفصیلي معلومات ورکړي ول. مګر صدام خو احمق نه و چې دویم ځل به یې نوموړي ځایونه کارولای، په ځانګړي ډول هغه د خپلو تحرکاتو پر پوښلو او په ذکاوت مشهور هم و، همدا راز د عراقي ځمکې ډېری طبیعت یې هم پېژانده.
سایمون ډارایز چې د ۲۰۰۳م کال په اګسټ کې یې بیان جوړ کړی و، په کې ویلي یې وو چې په دوو ځایونو کې صدام حسین موندل کېدای شي: د هغې کورنۍ په کور کې چې له بغداده لرې اوسېږي، چې دی پر هغې باور لري او هغه یې هم ملاتړ کولی شي، یا له اوسېدونکو لرې په یوه پرېښودل شوې سیمه کې. او په دې سیمه کې به یې تکریت او قبیلې ته نږدې ځای جوړ کړی وي.
ډارایز چې د صدام شخصیت یې څېړلی و، نو رایه یې دا وه چې صدام عراق نه شي پرېښودی، ځکه هغه تېښته نه مني. او ویل یې چې به راتلونکي کې د ده هغو شخصي ملګرو او ساتونکو ته پاملرنه زیاته شي چې تحرکات یې ورته معلوم دي. وروسته له دې چې د ده د نیولو لومړی پلان ناکام شو، چې د ده لوی مرستیالان، د قبیلو ځینې مشران او د ولایاتو مشران ونیسي او له هغو څخه د ده د استوګنځي پوښتنه وکړي، نو په هغوی کې ډېری د ده په استوګنځي نه پوهېدل او ځینو بیا دا ګڼله چې چغلي او خیانت به د دوی د عار لامل شي او مخې ته به یې لویې ستونزې را ولاړې کړي. نو مخکني پلان ښودله چې په دې خاطر د لویانو څارل او نیول چې هغوی به بې پر ځای خبر وي او دوی ته به یې ور وښیي، دا یو ناکام پلان دی. خو نوې پلان ویل چې "ګرانیه ښکار" به هغو شخصي ساتونکو ته راځي چې د بغداد له نیولو وروسته ورسره و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه لومړنی نښې نښانې چې د ۲۰۰۳ م کال د اګسټ په میاشت کې را ټولې شوې، ویل یې چې داسې کسان شته چې وایي، د بغداد په شمال کې یې، کله په تکریت او کله په نورو سیمو کې لیدلی دی.

په عراق کې د سوارز کیوان په مشرۍ د امریکایي استخباراتو د کمېټې نوې ډلې د هغو کسانو په اړه نوي معلومات را ټول کړي وو چې د صدام حسین تحرکات او د لیدو کیفیت به یې بیانولو او د ده ساتنه به یې کوله. امریکایي استخباراتو د ده د سلو کسانو ساتونکو، ملګرو او خپلوانو په اړه له سلو ډېر انځورونه را ټول کړي وو. دا انځورونه به یې هغو کسانو ته ور وړاندې کول چې دوی به یې پېژندل او یا به یې خپلوان وو. خو دوی ته پوښتنه دا وه چې صدام یې څه وخت لیدلی؟ ډېرې پوښتنو په هغو کسانو پورې اړه درلوده چې د ده ساتنه او ملګرتیا به یې کوله د هغوی د صفتونو او تګ راتګ ځایونو پوښتنه یې کوله.

د صدام په پلټلو کې د امریکایي استخباراتو له کمېټې سره د اسرائیلي موساد لس کسیزه ډلې هم مرسته کوله، چې په هغوی کې د موساد د عملیاتو او خبر ترلاسه کولو د برخې رئیس هم و.

همدا راز، له ډېرو څېړنو او بندیانو ته د ساتونکو د انځورونو له ور وړلو وروسته، امریکایي او اسرائیلي استخبارات دې نتیجې ته ورسېدل چې له دوو نفرو پرته نور ساتونکي یې پاتې نه دي. هغه معلومات چې له ساتونکو څخه اخیستل شوي ول، په تکریت، کرکوک او رمله کې د ولسمشر د ځینو کسانو له لیدل کېدو سره یې مطابقت درلود. ځینو بیا ویل چې پر دغو دواړو ساتونکو باندې ولسمشر صدام ډېر باور درلود.

له دې وروسته د. دغو دواړو کسانو د تحرکاتو د ټولو معلوماتو په اړه پر څېړنو ډېر تمرکز وشو، د دوی د نیول کېدو لپاره زښته تېزې هلې ځلې وشوې.

د ځینو معلوماتو په پایله کې چې په را ټولولو کې یې له امریکایي اسرائیلي ډلې سره په څنګ کې د عراقي استخباراتو کسانو هم ونډه اخیستې وه، د ۲۰۰۳م کال د اګسټ په پای کې ولسمشر ته یو نږدې کس ونیول شو. د ولسمشر د ځای پېژندلو لپاره یې بېلا بېل ډوله عذابونه او ځورونې پرې تمرین کړې، په لومړیو کې ناکام شول، خو د پرله پسې اتلسو ورځو له نفسي او بدني سختو ځورونو او تنګولو وروسته، نوموړي کس د بغداد په سوېل کې د یو مهم ساتنځای په ښودلو اعتراف وکړ. د مطلق پټ امریکایي پلان په تګلوري کې نوموړي پټنځای یو مهم ټکی کېښود. دغه پټنځای په پرېښودل شوې سیمه کې وه، له هغه ځای سره یې ورته والی درلود چې دی په کې ونیول شو. دغه پټنځای په یوه کوټه کې و چې یوې ژورې کوټې ته لاره ترې تللې وه، له ژورې کوټې څخه یوې داسې تنګې کندې ته لاره ورغلې وه، لکه دوی چې صدام په کې وموند.

د نوموړي ځای له معاینه کولو وروسته، چې په بشپړ پټ ډول یې کلابند کړی و، په ډېره پاملرنه به په کې وتل او ننوتل او په ساده شیانو به یې غرض نه درلود، امریکایي او اسرائیلي ډلې درک کړې وه چې صدام حسین ته نږدې شوي دي، دا یې وپتیېله چې دی دغو ایله شوو پټنځایونو ته ډېر په هوښیارۍ ځي او راځي. او ورته معلومه شوه چې دی ډېرې دقیقې نښې ږدي، څو پټنځای ته د بل په ننوتلو پوه شي، او باور لري چې امریکایان به په یوه پټنځای کې کمین ورته نیسي. نوموړي نیول شوي کس وویل چې له دریو زیات پټنځایونه ورته معلوم نه دي، چې هغه په رمله، کرکوک او د بغداد په سوېل کې دي، همدا راز نوموړي کس تکریت ته د نږدې هغه پټنځای په اړه معلومات نه درلودل چې وروسته بیا صدام په کې وموندل شو.

دواړو ډلو هغه درې واړه پټنځایونه یو په بل پسې وکتل چې د ولسمشر نږدې کس ور ښودلي وو.

لیدنو کتنو وښوده چې په پای کې دغو ځایونو ته نه دی ورغلی، امریکایي ځواکونه وپوهېدل چې دوی ته د ایله شوو ځایونو په اړه ور کړل شوي معلومات نږدې خو غیر دقیق دي.

له بل پلوه، یوه بله نظریه هم موجوده وه چې د عراق په بېلو سیمو کې یې د څو پټنځایونو کارېدلو ته اشاره کوله، ځکه چې د ولسمشرۍ ماڼیو پټنځایونه یا مشهور پټنځایونه په ډېرو بمونو ویشتل شوي وو.

د امریکایي استخباراتو د ډلې مهم کس جنرال اروس بیکومان تر ټولو لومړی د تکریت دننه او شاوخوا ایله شویو سیمو کې په ځانګړي ډول د ولسمشر د خپلوانو د پټنځایونو پلټلو ته اشاره وکړه. دغه پټنځایونه د داسې کسانو له لوري ساتل کېدل چې صدام باور پرې درلود او د هغوی په منځ کې ډاډه ګرځېده.

د اروس له لوري تیار شوی بیان مهمه څېړنه وه چې امریکایي استخبارات او د څلورمې نظامي فرقې مشران یې په څېړلو مکلف ول. دې فرقې ته امریکایي کوماندویان هم ورکړل شوي وو، څلورو اسرائیلي کوماندو پېلوټانو یې هم ملاتړ کاوه، چې که د جګړې له میدانه موټر تښتي، نو دوی به امریکایي الوتکې کاروي او نوموړي موټران به په نښه کوي، دغه علمیات د هغو فلسطیني مشرانو د په نښه کولو د عملیاتو په څېر ول چې دوی به یې ګاډي په نښه کول. اروس په خپل بیان کې دا یادونه وکړه چې صدام حسین چې په کوم ځای کې پټېږي، هېڅ شک نه شي پرې کېدی، امنیتي ساتونکي یې خپلوان دي او له ده څخه لرې دي.

د دې څېړنې په اساس، امریکایانو د ولسمشر د خپلوانو، خسرګنۍ او نږدې ساتونکو نیولو ته مخه کړه. معلومه وه چې نوی امریکایي پلان به یوې مهمې پایلې ته رسېږي، نو ځکه د پول پرېمر، جنرال ریکارډو سانچیز، د څلورمې فرقې د قومندان او د پلي کوونکې ډلې ورته زیاته توجه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکایي ځواکونو په بشپړ پټ ډول د خپلوانو او د تکریت ته منسوبو ساتونکو په نیولو سره د پلان پلي کېدل پیل کړل. پر نیول شوي کس به د ځورولو او تعذیب هر ډول نفسي او بدني وسایل کارېدل. هغه کسان چې د ځورولو له کبله له امریکایانو سره مرستې ته مجبور شول، چې پنځه نفره ول، درې یې خپلوان، یو یې ساتونکی او یو یې له خسرګنۍ څخه و.

په دې موده کې د صدام یو ماما سخت ناروغ شو، نو صدام په تیاره ماخوستن کې دوه ځلې د ماما لیدلو ته ورغی، په ډېر باور سره به یې حرکت کاوه. ان په دویمه لیدنه کې یې خپل د ماما زوی چې د (۳۵ کالو) وو یوه پټنځي ته ورسره بووړ، پنځه زره ډالر یې ور کړل چې د ماما تداوي پرې بشپړه کړي.

په سبا ورځ یې نوموړی هلک ونیول شو. زیات عذابونه یې ورکړل، په ورپسې ورځ کې یې اعتراف وکړ، معین ځای ته یې یووړ، هغه دوه منزله کور ورته په نښه کړ چې له ولسمشر څخه یې د دغه کور بهر پیسې تر لاسه کړې دي.

امریکایي ځواکونو ناڅاپي پر کور برید وکړ، د ۲۰۰۳م کال په اکتوبر کې یې درې ورځې وپلټه، په پای کې یې یو پټنځای وموند چې یوې کندې ته یې اشاره کوله او له هغې څخه یوې وړې یو نفره کوټې ته لاره ورغلې وه. دغه کنده په وښو پوښل شوې وه. د څلورمې فرقې کسانو تازه خواړه لاس ته راوړل، پر دې یې دلالت کاوه چې صدام حسین دغه کور ته تګ راتګ کوي.

امریکایان او اسرائیلیان یقیني شول چې "ګران بیه ښکار" نږدې شوی دی. نو ځکه یې څو کمینونه ونیول. یوه اونۍ یې له جنجاله نوموړی ځای څارل کېده. دې انتظار دوی ته شک پیدا کړ چې کېدای شي صدام پوه شوی وي، نو ځکه به د امریکایانو له لوري کشف شوي ځای ته نه ورځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اتمه ورځ، ناڅاپي د ده له خپلوانو يو ساتونکی کور ته ورنږدې شو. داسې ښکارېده چې ده به ورته ويلي وي چې د کور احوال ورکړي. نوموړی کس کور ته ننووت او له څار وروسته بېرته ووت.

په دې وخت کې له څلورمې فرقې سره دوه نظرونه ول. يا دا چې کس ونيسي او په زور د صدام ځای پرې معلوم کړي او يا دا چې د ځای د پېژندلو لپاره يې وڅاري.

چاره پای ته ورسېده، کس ونيول شو. په زښتنه دردناکه توګه عذاب ورکړل شو. وروسته يې اعتراف وکړ چې ولسمشر به له لنډې مودې وروسته دغه ځای ته راشي. امريکايانو د سيمې په محدودلو کې د اړيکو له نويو آلاتو څخه کار واخيست. دغه آلې د هغې سيمې شا او خوا په څلورو کېلومترو کې کېښودل شوې چې شونې ده صدام په کې وموندل شي. دغه آلې مخکې په افغانستان کې هم کارېدلې وې، ډېرې برياوې يې پرې ترلاسه کړې وې، د القاعدې د ډلې د اړيکو په شبکو يې اغېزه ښندلې وه، چې له امله يې مجبوره شوې وه چې ټولې اړيکې پرېږدي، هغه که د ګرځنده ټيليفون له لارې وي يا د ثابت (اينبي) ټيليفون له لارې. دغو آلاتو يوه بهرنۍ اړيکه وڅارله، دوی باور درلود چې صدام حسين له خپلې مېرمنې سره اړيکه نيولې وه. په پای کې چې د صدام حسين په غږ طارق عزيز و. اړيکه لس دقيقې وغځېده. ولسمشر ځای ته نږدې وو، داسې ښکارېده چې د خطر احساس يې هم کاوه، يا يې ځينې امريکايي ځواکونه ليدلي وو. نږدې وو چې امريکايانو نيولی وای خو په ډېره هوښياري له سيمې وتلی و. د امريکې د دفاع وزير ډونالډ رامسفيلډ پخوا اعلان کړی و چې د صدام حسين پلټنه لکه په يوه غونډۍ کې د ستنې پلټنه داسې ده. نو هر ځل چې به دغه ګران بيه ښکار ته ورنږدې شول، صدام حسين به په ډېر نادره ډول ځان وژغوره.



د ۲۰۰۳م کال د دسمبر په ۱۲مه د جمعې په ورځ، په بغداد کې د عراصات/اکرادې په سيمه کې په نږدې کور کې د امريکايي ځواکونو يو غير عادتي حرکت ته پام شو، پر نوموړي کور يې بريد وکړ، چې فاحشه خانه وه. ټول موجود کسان يې ونيول. له يوه لوري هم يوه مرمۍ نه ده ويشتل شوې. د نيول شويو کسانو يوه امريکايي نظامي ځای ته له بيولو وروسته له ټولو څخه څېړنې پيل شوې. د استخباراتو کسان د يوه کس په وړاندې ودرېدل، چې محمد ابراهيم المسلط يې ځان باله، ويل يې چې په اردو کې ډګروال و. په الکترونيکي وسايلو کې له څېړلو وروسته، د کار له ځايه پرته د ده د نوم او له دوی سره د زېرمه معلوماتو تر منځ مطابقت وشو. امريکايانو هم دغه ډګروال غوښت چې "ګران بيه ښکار" ته يې ورسوي. بې له دې چې د دغې څېړنې ډول او ځانګړنه بيان شي خو يوه ځانګړې څېړنه يې ور څخه وکړه. دوی ته يې وويل چې صدام په دوو ځايونو کې وي، په قضاء الدور کې چې د بغداد شمال لوېديځ لوري ته په ۱۸۰ کيلومتره کې پرته ده. سم لاسي، د امريکايي دفاعي فرقې له مشر کولونيل جيمز هيکلي سره اړيکه ټينګه شوه، د مقاومت له هر قسم عمليې سره د مقابلې لپاره ټينګ تدابير ونيول شول. ډګروال نکريت ته په نظامي الوتکه کې يووړل شو، د امريکايي او اسرائيلي استخباراتو شعبې يوې (ځانګړې) څېړنې ته تابع کړی و، چې په پايله کې يې ټول ورسره معلومات ورکړي وو.

د ۲۰۰۳/۱۲/۱۲ د جمعې د ورځې مازديګر دقيقاً په دريو بجو، له پنځوسو زياتو امريکايي موټرونو چې هوايي ملاتړ هم ورسره وو، له ځانګړو امريکايي ځواکونو، عراقي دلالانو او ژباړونکو او د جلال طالباني د پيروانو کردستاني ملت پاله اتحاد ګوند د پېشمرګې کسان له پوځيانو سره روان شول، بر سېره پر دې په بغداد کې نيول شوی ډګروال هم ورسره و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمه تینګه کلابنده شوه. ډګروال لومړی کور ور وښود، ښه یې وپلټه خو موخه یې ترلاسه نه کړه. خو په مقابل کې یې زړه ژېړه او سپینه ټکسي، موټرسایکل او آس وموندل. بیا ډګروال په فصل کې زوړ کور ورته په نښه کړ او وایي چې ولسمشر هلته دننه و. سملاسي دوه کسان ونیول شول او کور وپلټل شو، د امریکایي لښکر له اعلان سره سم زاړه خواړه او نور په ډبلیو (قوطیو) کې بند خواړه یې له ۷۵۰ زره ډالرو سره وموندل.

)د ډېرى روایتونو مطابق، هغه ډبلي چې موندل شوي ول، یوازې امریکایي لښکر استفاده کول.

وتلو ته د چمتووالي په حال کې وو، چې یوه پوځي تر یو ټوټه فرش لاندې یوه ډبره ولیده چې خوځېږي. کله چې له ډبرې څخه وانښه او خاوره لرې شول، ډبره د وسایلو په واسطه را پورته کړی شوه!! د "غني کور" ته یوه چوله ورغلې وه، چې یوازې یو کس په کې اوسېدی شوی. هلته یو د اوږدو وېښتانو او ږیرې لرونکی کس وو، پوځیانو ته یې په انګلیسي ژبه وویل چې : "زه ولسمشر صدام حسین یم". پوځیانو را وکیښ او توپانچه ورسره وه. په تکریت کې یې امریکایي اډې ته یووړ، بیا یې د امریکایي نظامي الوتکې په واسطه د بغداد د نړیوال هوایي ډګر په لوري د بند ځای ته یووړ.

د څېنو مرستندویانو له لوري وپېژندل شو، چې صدام دی. سملاسي، د دفاع وزیر رمسفیلډ، امریکایي ولسمشر او د منځنیو امریکایي عملیاتو مشر جنرال ابي زید خبر شول.

څیني مصدرونه وایي چې ولسمشر بوش وغوښتل چې له پرېمر سره یې سپیني ماڼۍ ته سملاسي یوسي او اعلان د نه کوي.

او د امریکایي ناول مطابق، په پټ ډول د امریکا د پلازمینې یوه ځای ته یووړل شو. د لېږد په جریان کې د اسرائیلي نشه کوونکي موادو پیچکاری ور ولګول شوې.



بوش غوښتل چې صدام حسین په ځولنو کې وګوري. همدا راز غوښتل یې چې نړۍ ته په داسې حال کې خبرې وکړي چې صدام د اوتوماتیکي خلاصېدونکي دروازې شاته په اوسپنیزه بندخونه کې وي. ناڅاپه خلکو ته ووایي چې دغه هغه کس دی چې نړۍ یې حیرانه کړې وه. بیا دروازه خلاصه کړي او صدام حسین یې په منځ کې په شرمېدونکي وضعیت کې را ښکاره شي. خو کولن پاول او د پنتاګون ډېرى کسانو دا نظریه رد کړه، ځکه دوی ویل چې دا به ټولو عربي ولسونو ته متوجه د دښمني او غچ پیغام وي. بیرته صدام حسین د بغداد هوایي ډګر ته راوړل شو. بیا د نیولو خبر خپور شو.

امریکا ته د ولسمشر د لېږد خبر هېڅ چا تایید او رد کړی نه دی.

داد صدام حسین د نیولو د کیفیت په اړه امریکایي ناول و.

کله مې چې ولسمشر ته امریکایي کیسه پای ته ورسوله، ولسمشر وخندل او رې ویل:

"امریکایان په دوبله کې استاذان دي، زه باوري وم چې دوی به حقیقتونه نحریفوي. دوی غوښتل چې په نا لایقه طریقه مې نړۍ ته وړاندې کړي، چې عراقیانو ته ووایي، دا مو ولسمشر دی او عربو ته ووایي چې دا مو د ملتپالنې اتل دی. همدا د دوی لاره ده، د سپکو کیوبایي فیلمونو لاره، چې دوی پرې مشهور دي. دوی د دې په اړه ښه پوهه لري. کله چې دوی په بنما کې خپل څواکونه کښته کړل او جنرال نور یې وتښتاوه او کوښښ یې وکړ چې بد اوازه یې کړي، نو څه چې پېښ شول ومو لیدل. د دوی تګلارې ټولې نړۍ ته معلومې دي. دا دی زه به رښتینې کیسه درته وکړم، په امریکایي ناول کې چې څه ویل شوي ډېرى یې په قاطع ډول ردوم، په ځانګړي ډول هغه نوم چې دوی یاد کړی چې هغه خیانت کړی، پر هغه کس زه ډېر باور لرم، امریکایان غواړي چې پانې ګډې وډې کړي او هغه رښتیني خاینان پټ کړي چې زه یې برغلګرو ته په لاس ورکړی یم."

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ولسمشر د خپل بندي کېدو معلومات پیل کړل، وې ویل:

"زه د صلاح الدین ولایت په قضاء الدور کې تل د یوه ملګري کور ته ورتلم. دا ځای مې ځکه ټاکلی و، کله چې ما په ۱۹۵۹م کال کې د عبدالکریم قاسم پر کاروان په برید کې ونډه واخیسته او د دجلې له سینده را واوښتم نو هم دغه ځای ته مې مخه کړې وه. چې دا د دجلې له سیند سره پروت دی، په دویم اړخ کې ده ته نږدې د ولسمشرۍ یوه ماڼۍ هم ده.

"د کور څښتن زما یو باوري ملګری و، نوم یې قیس نامق و، ما د ملاتړ لپاره دوه نږدې کسان را سره یوړل، خو د کور پر څښتن درنه پرې نه وځي او کور د امریکایي ځواکونو تر څار لاندې نه شي. د هرې نا متوقعې پېښې د مخنیوي لپاره مو یو موټر سایکل، آس او د کور مخ ته په نهر کې یوه وړه کښتۍ برابره کړې وه، چې ټول به د اړتیا په وخت کې کاروو. که امریکایان د دښتې له لوري راغلل، نو وړه کښتۍ به وکاروو. که د سیند یا سړک له لوري راغلل نو له آس څخه به کار واخلو او د زراعتي ځمکو په لاره به ولاړ شو. او که د زراعتي ځمکو له لوري راغلل نو کولای شو چې د موټر سایکل په واسطه د صحرا لاره ونیسو. د هر حالت لپاره مو چمتووالی نیولی و. د ډېرې پاملرنې له کبله مو تر ځمکې لاندې سمڅه وکښله، چې په بېړنیو حالاتو کې به هغې ته مخه کوو، دا هغو سمڅو ته ورته وه چې د عراق-ایران جګړه کې مو د هغو په جوړولو کې له عراقیانو سره مرسته وکړه.

"تر بل هر ځای مې په دغه کور کې ډېر وخت تېراوه. یو ځل څو ورځې په لرې ځایونو کې وم او د مقاومت ځینې لښکرې او د عراقیانو رول مې څېړه. دغه کور ته را وګرځېدم او زښته ستړی وم. مازدیګر وو، قرآنکریم مې را واخیست او ځینې آیات مې تلاوت کړل، تر ماښامه پاتې شوم. د دغه ملګري مېرمنې به خواړه راته تیارول. کله چې د لمانځه وخت راغی، قرآنکریم مې بند کړ او د لمانځه ځای ته مې مخه کړه، د کور څښتن له بهره په منډه منډه



را روان و او ناري یې وهلې: راغلل، دا عبارت یې څو ځله تکرار کړ. ومې پوښتل چې څوک به وي، ځواب یې را کړ: امریکایان.

سملاسي سمڅې ته کوز شوم، له څو دقیقو وروسته امریکایانو زما ځای پیدا کړ، بې له دې چې مقاومت ورسره وکړم ویې نیولم. بلکې ما هم مقاومت نه ورسره کاوه، ځکه زه رهبر وم او دوی پوځیان وو. دا معقوله نه وه چې زه دې ورسره جنګېدلی وای، یو، دوه مې ترې وژلي وای او بیا یې زه وژلی وای. دا له رهبرۍ څخه د تخلیې په مانا ده. ولس پر مونږ د رهبر باور کاوه نه د یوه پوځي. خو که بوش ورسره وای، نو بیا به هرو مرو تر بریا یا مرګه ورسره جنګېدم... زما له نیول کېدو وړاندې زما د ملګري د کور د څښتن په اړه ځینې کتنې راته پیدا شوې. له نیولو یوه اونۍ وړاندې چورتي راته ښکاره شو، د مخ رنګ یې اوښت او چلند یې غیر طبیعي و. خو دا چې ما ډېر باور پرې درلود، هېڅ شک مې نه پرې کاوه چې غدر دې را سره وکړي. کله نا کله به ډارېدلی او هک پک راته ښکاره شو. له بده مرغه چې د نفس یې ومنله او د شیطان پیروي یې وکړه، کېدای شي د امریکایانو د ژمنې د غنیمت له امله یې کړې وي. خو ما هومره مال نه درلود چې څوک د یې په اړه خیانت را سره وکړي. له ما سره ټول یو ملیون او دوه سوه او اتیا زره دینار وو، چې د مقاومت ځینې عملیات مې پرې اداره کول... نو ځکه، تاسې باید عراقیان خبر کړئ، چې قیس نامق او د هغه ورونو غداري او خیانت را سره وکړ.

"همدا راز ما ته د نشې راکول یې یو مخ ردوم. دا د امریکایي کیوبایي سریال یوه برخه ده. حقیقت دا دی چې زه نشه نه وم، خوراک او څښاک مې هم نه کول، نه د نیولو په لومړیو ورځو کې او نه هم وروسته. دا چې ځینې پوښتنه کوي چې زه یې متحده‌ایالاتو ته بیولی یم، نو ما داسې څه نه دي خوړلي چې حافظه دې له لاسه ورکړم، نه مې کومه خوب راوړونکې ماده خوړلې. دویم ځای ته له راتلو پرته زما ځای نه دی بدل شوی، په لومړیو کې د بغداد ساعت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته نږدې په لومړي زندان کې وم. دا هم ردوم چې زه يې د سانتيکو جزيرې ته لېږدولی یم. يوازيني ځای ته چې زه سر کال لېږدول شوی یم، هغه د ابن سينا روغتون دی، زما د دردولو لپاره يې له بېهوښۍ پرته زما جراحي عمليات وکړل، خو ما په لوی صبر سره تحمل وکړ. دوی غوښتل چې ما کمزوري کړي، خو زه له عملياتو را ولاړ شوم او په طبيعي شکل روان شوم، پر ما د دوی شوی ظلم مې ننګاوه او ورت ته مې وويل ايا دا مو انسانيت او ډيموکراسي ده... نور کله نا کله به چې زما د روغتيايي حالت غوښتنه کوله، نو روغتون ته به يې وړم. زه بيا وايم چې زه په عراق کې زېږېدلی یم، په عراق کې به پاتې کېږم او د ولس په منځ کې به مرم. له زندانه به يوازې هغه لوري ته وځم چې الله راته ټاکلی دی.

"زما د نيولو نېټه، په هغې ورځ وه چې زه د نوموړي ملګري کور ته راغلم د ۱۲/۱۲/۲۰۰۳ نېټه، د ماښام له لمانځه مخکې ونيول شوم. د کجورو د ونې او د کجورو انځور چې امريکايانو څرګند کړی و، او ډېريو څکه رد کړ چې زه د ژمي په موسم کې وم، نو هغه رښتيني و. دا څه نادره خبره نه ده. په عراق کې د کجورو بېلې ونې دي چې د ځينو مېوې وروسته پخېږي او ځينو ته يې څښتنان اړتيا نه لري نو د زينت لپاره يې په کې پرېږدي. د محکمه کولو په يوه ناسته کې د ولسمشر صدام حسين غړيز باوري ثبت را سره دی چې دی د هغو کسانو نومونه اخلي چې غدر يې ورسره کړی. مونږ په خپل ځای پوښتنه کوو چې ايا داسې کسان هم وو چې ولسمشر نه پېژندل او د نوموړي غدار او امريکايانو تر منځ يې رابطه کوله؟



## نيول، څورول او لومړني ليدونکي

"کله چې بې زه په مستقيم ډول ونيولم، وامې ورېدل چې يوه ويل: ولسمشر بوش سلام کاوه. بيا امريکايي ژباړن په عراقي لهجه خبرې وکړې، ښه يې ووهلم او سپکې او سپورې يې راته وکړې. ځينو نورو امريکايي پوځيانو په کنداغونو وهلم. بيا يې بغداد ته په الوتکه کې يووړم، په نامعقوله طريقه يې عذاب راکاوه. ږيره او د سر ويښتان مې اوږده وو. زما د معاينه کولو لپاره يې ډاکټر راووست، ما خپلې ژامې ته اشاره وکړه، فکر مې کاوه چې ژامه به مې د سخت وهلو له امله ماته شوې وي. د سخت عذاب په پايله کې د سر پر پوستکي باندې رامنځته شوې پړسوبونه يې هم وپلټل. دوی ډېر سپک کړی وم، هغه ځای هېڅکله اسانه نه و. بيا يې زما ويښتان او ږيره را وخرېيل. درې کسان يې راوستل، عدنان الباجه جي مې په کې وپېژاند، څکه هغه د عراق د بهرنيو چارو پخوانی وزير او سياسي سړی و. عدنان وپوښتلم: صدامه پر عراق د څه وکړل؟ ما هم ترې وپوښتل: ولې له دوی سره راغلی يې، ته خو سياسي سړی يې او تاريخ لرې؟

"بيا يې بل کس راووست، خبرې يې ونه کړې. دوی ويل چې احمد الجلبي دی.

خو دريم کس، موفق الربيعي و، چې له پنجرو بهر پاتې شو، زما او دده تر منځ تړلي سيخونه وو. ګرځېد را ګرځېد او ويل يې: پر تا د لعنت وي صدامه، نورې سپکې سپورې يې هم وکړې. بيا يې پوښتنه را څخه وکړه: اوس سړک نه وتلی شې؟ له ځايه را پورته شوم چې ښه درس ورکړم، خو امريکايانو ونيولم. ما ورته وويل: دا زما ولس دی، هر وخت ور وتلی شم او ورسره مخامخ کېدی شم، خو زه تا ننګوم، ته سړک ته ور ووځه. وروسته بيا لکه ناسو چې وکتل، قاضي جوحي وليدم. له دغو او امريکايي ساتونکو او افسرانو پرته بل چا نه يم ليدلی. سره صليب هم درې څله وليدم، زه ترې خواشيني وم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه دوی د جنیف د تړونونو مطابق کار نه کاوه. د دوی لیدنو ما ته ګټه نه کوله. که یې همداسې دوام کړی وای، نو ما به یې لیدنې ته رغبت نه وای ښودلای. دوه پیغامونه یې را کړل چې په یوه یې نېټه هم وه د ۲۰۰۴م اګست، چې دا د تېر پیغام په څېر و، اویا سلنه منځ پانګه (محتوا) یې حذف شوي وه... "ستا د هغې پوښتنې په ځواب کې باید ووایم چې که مې له کوم ملګري سره کتلي وي، له یوه سره مې هم نه دي لیدلي، نه یې زندان او نه یې احوال را معلوم دی. څه موده وړاندې امریکایي افسرانو راته وویل، چې زما د تره زوی علي حسن المجید ویل چې زه زړور نه وم. څو ځله یې دا خبره وکړه، ما ځان پرې واچاوه، دا خبرې مې د فتنې لپاره وګڼلې، چې په څېړنه کې یو ډول استدراج دی، باید ترې ووېرېږو.

"امریکایانو به په څېړنو کې تل د اتمي وسلو د ځای په اړه پوښتلم. ما به ورته ویل چې له ځانونو مو پوښتنه وکړئ، تاسې ښه پوهېږئ چې که له ما سره اتمي وسله وای، نو پر عراق یرغل او نیواک ته به را وړاندې شوي نه وای. بیا یې زما د ډېرو مالونو د پټنځي په اړه پوښتنه وکړه، زه یې تورن کړم چې زما حساب ۳۶ ملیارده ډالرو ته رسېدلی، نو ما ورته وویل: د نړۍ بانکونه یو یو ولټوئ، تر ځانونو لاندې ځمکه واړوئ، هېڅ به هم ونه مومئ. ځکه تاسو پوهېږئ چې صدام حسین رښتیني او وهمي اکونټونه نه لري. تاسې زما د کورنۍ په وضعیت پوهېږئ، هغوی ته د الله نېکه بدله ورکړي چې زما کورنۍ یې ساتلې او پاللې ده.

ډېرې سپکې پوښتنې یې را څخه وکړې، د څېړنې په ترځ کې مې د دوی تېروتنه احساسوله او دا چې دوی د سربښو په رښتیني ډنډ کې دي. نو ځکه به مې داسې موندل، چې د خپل مخ د اوبو ساتلو لپاره د هرې حللارې په لټه کې دي."



## د ولسمشر بندخونه

کله چې ولسمشر د خپلو بندي کېدو کیسه وکړه، چې سمځې ته ور کوز شوي وو، له ما سره شک پیدا شو چې له کوره بهر همداسې نامعلومه کړۍ شته چې ولسمشر پرې خبر نه دی، ځکه د امریکایانو پر راتګ د ده خبرېدل او سمځې ته ورکښته کېدل له لسو دقیقو کم وخت نه نیسي، او له سمځې څخه د بل له مرستې پرته نه شي را ایستل کېدی، لکه څرنګه چې امریکایانو هغه کنده ښکاره کړې وه چې ولسمشر په کې پټ و (که یې بدله کړې نه وي)، یو ووړ د دننه کېدو ځای و او یوه پټنځای ته ورغلی و. له ولسمشر سره د بد چلند لپاره یې ولسمشر پټنځای ته د ننوتو په ځای کې اېښی و، خپله په پټنځي کې نه و، بیا یې زښته په وحشي ډول وهلی و، چې له کبله یې توازن له لاسه ورکړی و، ولسمشر اویاوو کلونو ته نږدې و، بېهوښه لوېدلی و. بیا یې په تکریت کې هوایي اډې ته وړی و، بیا یې ژر بغداد ته لېږدولی و. د تمثیل فصلونه یې د ده په داسې طریقه را څرګنولو پوره کړل، چې نړۍ ولیده، ډاکټر یې ژامه معاینه کوله، وروسته له دې چې پر مخ یې سختې ضربې خوړلې وې، داکټر ته یې د ژامې له روغوالي څخه د تاکید لپاره اشاره کړې وه. همدا راز ډاکټر یې د سر په پوستکي کې پاړسوبونه کتل. کله چې مې ترې پوښتنه وکړه، چې که په همدې وخت کې یا وروسته بېهوښه کړی شوی وي، منفي ځواب یې راکړ او په قاطع ډول یې رد کړه: "له داسې وحشي ځور سره مخ شوم، چې لاره مې ورکه کړې وه". نو ځکه د غدر او خیانت موضوع ډېر درداوه.

ولسمشر د خپل زندان پر ځای او تفصیلاتو پوهېده. لکه څرنګه چې ده ویل هغه داسې وو:

"د کوټې مساحت ۵ په ۳ متره کې و، لوړې له چت سره نښتې کړکۍ یې درلودې. په یوه کونج کې یې حمام او کموډ وو. هره ورځ به یې یو ساعت یوه تالار ته وړم چې ۵ په ۱۰ متره کې مساحت یې درلود، چت یې کړکین و،

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې اسمان به مې ترې لید، خو د اوسپنې ځادر یې پرې اېښی وو او دوه متره ځای یې ماته خالي پرېښی و، د چاودنو غږونه او د الوتکو غرهار به مې اورېده. هر سهار به یې ژورې کندې (کوهي) ته ایستلم، ځکه هغه د یوسف د ځاه په څېر و، د نور په کور پسې و. لوړ دېوالونه یې درلودل، له ۱۰ په ۲۵ متره کې ځمکې ځخه یې زیاته نه وه نیولې، د اوسپنیزو چوکاټونو ځخه جوړو کړکیو باندې پوښل شوې وه، ځېمه پرې پرته وه او یو څه ځای یې لوخ پرېښی و، چې اسمان ترې ووینم. دغه ځای ته به یې له ځلورو اوسپنیزو دروازو وروسته راوړم...

"ما به پوښتنه کوله: ایا بندي د دې پروا لري چې بند د کړکۍ ولري یا یې ونه لري، یا د هغه دروازې چې دی ترې تېرېږي پنځه وي یا لس او یا یوه وي... تاسې زما پر صبر خبر یاست. دا د نېکیو ثواب او د بدیو کفاره ده. او د الله په ژمنه حمد وایو."

وخت ژر ژر تېرېده، ساعت ته له کتلو وېرېدم. وېرېدم چې افسر به راشي او وبه وایي چې وخت پای ته ورسېد. هیله مې درلوده چې د یو څه مودې لپاره د ساعت عقربې ودرېږي. خو وخت روان و او په تېزۍ روان و. نه زمونږ او نه زمونږ د دنني شوق په کیسه کې و... دا به نو ځنګه وخت و چې له ولسمشر صدام حسین سره تېرلی و.

## د قرانکریم او کورنۍ تر منځ

ولسمشر ته مې له کوره قرانکریم راوړی و، منته یې را ځخه وکړه. د ده په لاس کې د قرآنکریم مې یو کونج سوځلی ولید. له ولسمشر ځخه مې د هغه په اړه وپوښتل، راته وې ویل:

"له نیول کېدو څو ورځې وروسته یې له ما ځخه زما طبي عینکې واخیستې، نه پوهېږم څه کړې به یې وي. او له دغه قرآنکریم سره کیسه لرم. کله به مې چې له خلکو سره په بېلو ولایتونو او ځایونو کې کتل، نو د کور په ټولو کوټو کې مې د قران اېښودلو امر وکړ. له بندي کېدو وروسته یې داسې ځای ته راوړم، چې دننه کمود په کې نه وو، نو قضاء حاجت لپاره مې وتل وغوښتل. لکه د تل په څېر یې سترګې په یوه ټوټه را وتړلې، خو ما کولای شوای چې ووینم. په اوسني ځای پسې تړلي یوه وران ځای ته یې بوتلم، چې د بمبار له امله وران شوی و، دغه مصحف مې هلته پر ځمکه پروت وموند او یو کونج یې اور سوځلی و. په موندلو یې ډېر خوښ شوم. اجازه یې راکړه چې را وا یې خلم. په کوټه کې پوه شوم، چې لومړی او هغه مخ یې نه شته چې د (الفاتحې) سورت په کې دی، د بمبار له امله پرې شوی دی. را سره خوږه حلوا مې را واخیسته او په لاړو مې لنده کړه او د کمو مخونو پر ځای مې بسم الله او د الفاتحې سورت پرې ولیکل. او اوس همدغه مصحف لولم، ډېر پرې ویاړم، ځکه زما مخکنی مصحف دی، د ده په اړه هغه وختونه را یادېږي، چې مونږ ځنګه وو او عراق ځنګه و... الحمد لله... په هر حال الحمد لله."

دله امریکایي افسر متوجه کړو چې له پنځلس دقیقو زیات وخت نه دی پاتې. له ولسمشره مې وپوښتل، که غواړې چې کورنۍ ته یې پیغام یوسم، ځواب یې راکړ:

"که نه زما کورنۍ ځلور یا پنځه کسه ګڼې، نو زه درته وایم چې ټول عراق او عربي امت زما کورنۍ ده. زما سلام د فلسطین، عراق او اردن ولس، ټول امت او د انسانیت ټولو خیر غوښتونکو ته ورسوه. که یې زما وړې کورنۍ ته رسوې هم پروا نه لري. ستا ټولو ملګرو، کورنۍ او هغې مور ته چې ته یې زېږولی یې ورسوه. زما له لوري یې پر سر ښکل کړه او پر ځان پام کوه."

* * *

پانې مې را ټولې کړې، د الله په اماني غېږه مې ورکړه او لاسونه مې ښکل کړل. سخت دردېدم چې دی مې پرېښود... دوه زړی وم، دندې مې غوښتل چې پرې یې ږدم او د عراق په خاوره کې روزل شوي انسانیت او د ولسمشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوستی مې غوښتل چې ورسره پاتې شم. له ځانه مې پوښتل، څنګه یې د یرغلګرو په منځ کې پرېږدم او ځان پر دې تېر باسم چې هغه په خپله اراده، کلکوالي، عراق ته په ټولو لاسته راوړنو کې ازاد دی، هغه عراق چې ولسمشر پرې مین و، له دغې مینې پرته یې بل څه نه درلودل. عراق یې په وینه کې و... لوی رهبر له میدانه نه تښتېد... په بانکونو کې یې د ده پیسې ونه موندلې... رښتیا یې ورته ویلي وو، چې په عراق کې د ډله ییزو وژلو وسله نه شته، ده رښتیا ویلي وو، خو هغوی دروغجن ګڼه....

کله مې چې الله په اماني ترې اخیسته، په پلرنی ژبه او طبیعت یې راته وویل: "د الله ستاینه کوم چې دریېم بچی یې راکړ. بیا وایم چې کورنی او ماشومانو ته د زما سلامونه ورسوه، د مور سر د ښکل کړه او ورته ووایه: یو زړور سړی د زېږولی دی. څکه ستا او ملګرو دنده ډېره سخته او خطرناکه ده... بچیه الله د ستا ملاتړ وکړي او په الله د سپارم."...

ځان مې په واک کې نه و... اوښکې را باندې را روانې وې، د دجلې او فرات خوند او صافوالی مې په کې احساساوه. له ځانه سره مې وویل: دا ستا لپاره وفا ده. پر تا ویاړم. له تا څخه به دفاع کوم، که د سر په بیه راته پرې وځي هم. کله چې له ولسمشره را ووتم، امریکایي افسر را څخه وغوښتل چې هماغه موټر ته ورشم، چې د نظامي ملاتړ په موخه د نورو موټرو په منځ کې ولاړ و. د راګرځېدو په لاره کې، موټر ودرېد، لوړ امریکایي افسر راغی، سور مخ یې و، له ولسمشر سره یې زما د لیدنې په اړه پوښتنه وکړه، ځان او رتبه یې را وپېژندله چې د زندان مشر دی. غوښتل مې چې ور کښته شم او د ولسمشر په اړه خبرې ورسره وکړم. خو ده ونه منله، څو د زندان ځای په ډاګه نه کړم او وې ویل: په لیدنه کې به ستا دنده اسانه کړو، خو هېڅ چا ته به یې ځای نه ښیې، د عراق اسمان له مصنوعي سپوږمکیو ډک دی، مونږ وېرېږو چې ځینې دولتونه یې د ځای په اړه ځینو نورو ته معلومات ورنه کړي، چې شونې ده د



زندان ځای په نښه کړي، چې بیا به ټول مسئولیت ستا پر غاړه وي. ما ورغبرګه کړه چې د دغه سړي ژوند ما او د عراق ولس ته تر تاسې ډېر مهم دی. بیا مې له امریکایي څېړنځونو څخه شکایت ورته وکړ، چې په مطلوب وخت کې ولسمشر ته په رسېدو کې ستونزې راته پېښوي. د موبایل شخصي شمېره یې راکړه چې د اړتیا په وخت کې ورسره په اړیکه کې شم.

له دې لیدنې وروسته امریکایانو اعلان وکړ چې د ولسمشر بندځای یې الوزولی دی او ځای یې ور بدل کړی دی. بیا یې د اړیکې هغه کرښه هم پرې کړه چې امریکایي افسر راکړې وه. ورپسې معلوم شول چې امریکایانو نه د ولسمشر ځای الوزولی او نه یې بدل کړی دی، بلکې یو څه بدلونونه یې په کې را منځته کړي دي، لکه د ځای د نښو د پټولو لپاره یې ځینې شکلونه او نوکي پرې ایښي دي. زه ولسمشر پر دې خبر کړم او وې ویل: "ځای هماغه ځای دی، د نور بحیره، خو د پټولو لپاره یې برسېره څه پرې ایښي دي."

## مشر او د ټلیفون کارول

کله چې ولسمشر بندي وو او زه ورسره نږدې وم، پرې پوه شوم چې د امنیتي لاملونو له کبله یې د ټلیفون کارول نه خوښول، په ځانګړي ډول له ۱۹۹۰م کال وروسته، چې د عراق اسمان مصنوعي سپوږمکیو نیولی و او امریکایي او د دښمن د تجسس آلې په کې خپرې شوې وې. راته وې ویل، چې مونږ باید له ټلیفون سره ډېر پام وکړو، او وې ویل: "له ۱۹۹۰م کال وروسته مې نه یادېږي چې له ډېر مجبوریته پرته د ما ټلیفون کارولی وي، چې یا به وخت تنګ و یا به انساني قضیه وه. خو په نورو قضیو او دندو کې مې په رهبری کې له مشرانو او سکرتر سره وییزه او لیکنیزه وینا کاروله."

ولسمشر د جنګ په حالت کې د ټلیفون بالخصوص د سټلایټ پر خطر ټینګار کاوه، "څکه چې د دښمن چمتووالي په استخباراتي معلوماتو ولاړ دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جګړې په میدان کې یې د اړیکو د وسایلو له لارې ترلاسه کوي. څکه پوځونه په شفري خبرو اعتماد کوي، څو د دښمن جاسوسي شنډه کړي... ان د رهبرۍ په ټولنو کې مې هم نه یادېږي چې ما د د را ټولېدو لپاره یا په رهبرۍ کې د وروڼو د حضور لپاره ټیلیفون کارولی وي. سکرتر ته به مې د لیکلو یا ویلو له لارې دا کار بشپړاوه."



# نهم څپرکی

## صدام حسین

## او د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱مې پېښې

څو ځلې ویوښتل شوم، چې د ۹/۱۱ د مصیبت په اړه مو ولې بوش ته تسلیت ور ونه لېږه؟ زما ځواب دا و، چې دا کار د عراق او عراقیانو په حق کې جرم و. د بوش الوتکو په عراق کې ټول شته په نښه کول او ورانول. ماشومان، ښځې او سپین ږیري عراقیان یې وژل. داسې ظالمانه بندیز یې پر عراق لګولی و، چې له امله یې له یو نیم میلیونه زیات عراقیان قرباني شول. پر ماشومانو شیدې حرامې شوې، د مدرسو پر زده کوونکو کتابچې، پنسلونه او نور ودرېدل.

د رهبریت وروڼو ته مې وویل: که صدام تسلیت ور ولېږي، نو دا به د عراق او انسانیت په حق کې کمی نه وي، یا به کمزورۍ او نفاق نه بلل کېږي؟

په داسې حال کې چې مونږ کمزوري او منافقین نه یو. د دې په بدل کې مو موافقه وکړه چې د لومړي وزیر نایب استاذ طارق زمونږ ملګري کلارک او د هغه په واسطه غمجنو کورنیو ته د عراق د حکومت له لوري تسلیت ور ولېږي.

(په زندان کې د ولسمشر صدام حسین له یادښتونو څخه)

له ولسمشر سره مو یوه په بله پسې لیدنې وکړې، په هره لیدنه کې به مو له مخکنی څخه شوق ډېرېده، پوښتنو مې په سر کې ګڼه ګونه جوړه کړې وه، په ځانګړې ډول د هغو پېښو په اړه چې پر عراق او نړۍ تېرې شوې او د عراق پر ضد راغونډېدل ډېر شول.

له ولسمشره مې وپوښتل: د سپتمبر زلزله، چې د نه ماتېدونکي هېواد متحده ایالاتو په منځ کې وشوه. او مونږ باور درلود چې یو مېږی یې هم له پولو نه شي تېرېدی... ایا د سپتمبر زلزله د هغه روان حالت لپاره پرده نه وه چې ور پسې پر افغانستان او بیا پر عراق برید وشو؟

ولسمشر لږ وکتل، لکه د سترګو په وړاندې چې پېښې لولي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ما د هغې ورځې په بیگا کې په یوه ځانگړي ځای کې لامبو کوله. سیمه گڼو ونو پوښلې وه او ما به داسې ځای ډېر خوښاوه، تر کانکریټي چتونو لاندې او په دفترونو کې د کښېناستو طاقت مې نه درلود. یو خپلوان مې لامبو وهلو ته راوبللم، خو هغه دا غوره وگڼله چې د کښېناستو لپاره په ځانگړي ځای کې کښېني. زه په اوبو کې تلم راتلم، چې د تلویزیون غږ مې واورېد، یوه ناست وویل چې څه لکه چې پېښ شوي دي. ناڅاپه یو پیغام راوړونکی راغی، لکه غوښتل چې کیسه ترې وپوښتم. زما چې څومره په یاد دي ماښام شپږ نیمې بجې شا او خوا وې. ترې و مې پوښتل چې څه غواړي. ده وویل: ښاغلیه، له خبرونو څخه مو واورېدل چې پر امریکا د الوتکو په واسطه برید شوی، اوس یې د تلوېزیون په سکرین ښیي... ما لامبو پسې وکړه. له نیم ساعت وروسته را وختم او جامې مې واغوستې، بیا مې چای وڅښه.

"په همدې وخت کې ځینې انډیوالان راغلل، ما غوږ ورته نیولی و تول له نادره پېښې غږېدل. تر همدې وخته مې لا پېښه نه وه لیدلې. کښېناستم له دوی سره مې خارله، له یوه مې واورېدل چې ویل یې دا پلان شوې لوبه ده، او هغه الوتکې چې برجونه یې په نښه کړل، په ځانگړو مسافو رواني وې. بل ویل چې هغه تجارتي الوتکې وې. ځینو به څه او څه ور زیات کړل. ما یوازې غوږ نیولی و. کله مې چې خلک ولیدل چې وېرېدلي روان دي، له ځان سره مې وویل، چې د دغو خوارانو څه گناه ده.

**صدام حسین: د ۹/۱۱ کار ناسم او بې عذره دی**

"د ماسختن ډوډۍ مې له مېلمنو سره وخوړه، د پېښې ځای د تلوېزیون په سکرین کې تکرارېده. ما وویل، دا عجیبه پېښه ده، قربانیان یې بې گناه دي، دا تېری که هر لوري کړی وي، ناسم دی او هېڅ عذر نه منل کېږي. ان که یو څوک له امریکایي ادارې سره مخالف هم وي، نو د دغو بې گناه وگړو څه گناه وه. او ومې ویل زه هیله لرم چې متحده‌ایالات هم لکه د شوروي اتحاد



غونډې گډوډه او بېله شي، کېدی شي کړکېچونه په کې را منځته شي... دا هیله مې له ډېره وخته را پدېخوا درلوده. ما ویل چې د کمزورۍ او سقوط لامل به اقتصاد وي، متحده‌ایالاتو په خپل اقتصاد کې پراخی کړی و، او دا پراخی به نه شوی تحمل کولی. ځکه ځان یې په داسې اقتصادي لار ورکونو کې دننه کړی و، چې ورته اړه نه وه. ما ویل هیله لرم چې د دې سقوط او کمزورۍ په پایله کې ځینې ایالتونه له مرکزه بېل شي. دا مې هیله وه چې یو وخت پېښ شي. خو دا چې امریکا د له دننه په داسې لاره ووهله شي، دا نو یا گران کار و، چا یې د پېښېدو خیال هم نه و کړی.

"کله چې د حق د څښتن، حق ضایع شي، د قضیې قانونیت، د ملتونو تعاون او تایید ترې ورکېږي، بیا نو دغسې ترهگریز بریدونه کوي. د داسې کارونو پلانوونکي خپلو غوښتنو ته نه رسېږي، تل سرچپه ورسره کېږي. په هغه وخت کې مې وویل، چې دا ورځ نو ډېره سخته وي، لومړی به د کوونکي هویت یا د هغه شاته ولاړ لوری په ډاگه کوي. سره له دې چې پرمختللي وسایل به لري، خو شونې نه ده چې متحده‌ایالات د چټکې پایلې ته ورسېږي. خو دا هیله را سره وه چې د دغه کار کوونکي به ژر پیدا کړي، خو د مصیبت شاته اصلي او رښتینی کس به بربنډ نه کړي. یو معلوم لوری به یې مسئولیت پر غاړه اخلي، لکه د هر ځل په څېر. نو دغه اعتراف به د څېړنو ستړیا پرې اسانه کړي. امریکا او اسرائیلو پر هغه مقاومت کوونکي د "ترهگر" نوم ږدي چې د غصب شوي حق لپاره مبارزه کوي، او دې کار ته یې نړیوال قانون اجازه ورکړې ده، چې د نیواک وال پر ضد عملیات د ملل متحد ټولو قوانینو ته په کتو قانوني عملیات دي. خو نن زه د نیواک وال په ضد قانوني مقاومت او د داسې ټکو راڅوونکو تر منځ گډوډي گورم، پر ټولو د "ترهگرو" نوم اطلاقېږي، چې په دې کار کې د شرعي مقاومت د حق په اړه د مفاهیمو گډوډی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"کله مې چې وکتل چې حاضر کسان د دې ټکي په اړه زما د نظر په تمه دي، نو ما ورته وویل، زه به یوازې د انتحاریانو په اړه درته ووایم، چې دا الوتکې یې پټې کړې او انتحار یې پرې کړی. دا په دې مانا ده چې دغو کسانو د لوی ظلم احساس کاوه، د ډېر لوی ظلم، چې د متحده‌ایالاتو د دریغ له امله پر دوی یا د دوی پر کورنیو شوی. که مال دې ته اړ کړي وی لکه څرنګه چې ځینې وایي چې مال ورکوي، نو مال د روح په بدل کې څوک نه اخلي، ځکه له مرګه وروسته مال دوی ته ګټه نه کوي. نو وایم چې دغه کسان په اجاره نه وو نیول شوي... خو پر دوی د شوي ظلم له امله دوی دې کینې او د غچ اخیستلو مینې ته اړ کړي دي، لکه څرنګه چې وایي د ظلم پایله ډېره ناوړه وي، یوازینی شی دی چې غچ ته یو کس مجبوروي. خو له بده مرغه، د هغو بې ګناهانو په اړه پوښتنه کوم چې په دې ټکه کې یې وینې توی شوې... ایا امریکا به دا درک کړي وي چې د دې د ظالم سیاست له امله ډېری کسان داسې شوي چې انتحار وکړي.

"زه د امریکایي استخباراتو له وسایلو څخه هیله لرم، مخکې له دې چې د دغو "ترهګرو انتحاریانو" په اړه خبرې وکړي، باید د دوی شاته ولاړو هغو کسانو ته پاملرنه وکړي، چې دوی یې دغه ځای ته رسولي دي. زه شک من یم چې استخباراتو ته به بشپړ حقیقت معلوم وي، کېدای شي په اصلي لوري سترګې پټې کړي او تور یې په یوې ترهګرې ډلې پورې کړي.

"په هر حال، راتلونکې ورځې باید حقیقتونه بربنډ کړي، ځکه ناشونې ده چې د څو ساعتونو په جریان کې په چټکۍ سره د هغه لوری تورن کړي چې د دې خطرناک کار شاته ولاړ دی، او امریکایي ولس یې په نښه کړ. هغه ولس چې د تېري کوونکې اداري په کارونو نه راضي کېږي.

"د دغسې عملیاتو شاته پټ لاسونه وي. په معلومو ګټو سره را ټول وي، او دا اسانه نه ده چې استخبارات د د دې جریمې بشپړ ګډونکي بربنډ کړي...



مهمه دا ده چې امریکایي اداره پند ترې واخلي او له خپل سیاست او پر بشریت له خورونې څخه واوړي، د بشر طاقت هم پوله لري. او پر انتحاري کړنو ولکه نه شي کېدای، دا اخرینه کړې وي، چې پر یو چا ډېر ظلم وشي، نو د غچ لپاره داسې کار ته مخه کوي. امریکا ته دا ګټه نه کوي چې ژر تور پورې کړي او غبرګون وښیي، ځکه که دا د غچ په فکر کې شي، نو بیا به ملتونه له دې څخه ډېر غچ واخلي. په هر حال، بېړه نه کوو، راتلونکې ورځې به حقیقت بربنډ کړي.

ډېره اغېزه یې راباندې وکړه، کله چې انسانیت ورانېږي، بې ګناهان وژل کېږي. نو دردېږم.

"دا مو پرون د مصیبت د پېښېدو په ورځ ویلي وو. نن ورځ هم هماغسې وایو چې د امریکایي اداري ظلم او طغیان به خلک مجبوره کړي چې غچ ترې واخلي، هغه که په همدې لاره وي یا په بله.

موږ د هرې ترهګریزې کړنې مخالف یو، هغه که د دولتونو له لوري وي یا د افرادو له لوري... خو زه په باور سره دا ویلای شم چې هغه د امریکایي استخباراتو کار و، چې تر شا یې صهیونیت و، دا کار یې ځکه وکړ، څو د بانګو د چور او پر نورو د واک چلولو لپاره امریکا او د هغې ولس پر ویدو بې ګناه هېوادونو تېري ته مجبور کړي. او دا ډېر په پاملرنې سره پلان شوی و، ځکه د القاعدې ډله په افغانستان کې امریکا د شورویانو پر ضد جوړه کړې وه. له دې (د سپټمبر د ۱۱ له) ټکي (مصیبت) څخه یې پر افغانستان او عراق د برید او نیواک لپاره کار واخیست."

یا ولسمشر څه موده چوپ شو، ما هم سترګې را پورته کړې... ده ما ته کتل، خو زه پوهېدم چې ذهن یې هلته په عراق کې دی. په سترګو کې یې د غم نښې ښکارېدې او وې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"بې گناه تولنيزې وژنې او ورانونې خنګه وي، سره له دې چې د عراق اصيل او کريم ولس وځپل شو او وځارل شو... ايا دا د يوه دولت ترهګري نه ده، يوه منظمه ترهګري نه ده چې امريکا يې زمونږ او د هر ازادی ته تږي ولس پر ضد چلوي؟."

د ولسمشر له دې عبارت وروسته مې هغه را ياد شول، چې د ۲۰۰۱م کال له سپټمبر را پدېخوا متحده ايالاتو کول. څو يو داسې دليل ومومي چې ولسمشر صدام حسين له القاعدې سره وتړي. دا څرګندونه په سپينه مانۍ کې له ترهګرۍ سره د مبارزې د ادارې پخواني مسئول ريچارډ کلارک هم کړې وه. د ۲۱/۳/۲۰۰۴ کې يې "د ټولو دښمنانو په مقابله کې" د کتاب له راوتلو وروسته او له CBS NEWS سره په ليدنه کې يې دا څرګندونه کړې چې د ۹/۱۱ پېښې وروسته بوش ترې وغوښتل چې د دې پېښو او ولسمشر صدام حسين تر منځ د تړوني څېړنه وکړي، سره له دې چې ده ورته ويلي وو چې هېڅ اړيکه نه سره لري، له پېښې وروسته په مستقيم ډول رامزفيلډ دې ته لاره برابروله چې پر عراق بريد وشي. خو بوش ترې غوښتل چې څېړنه وکړي، څو داسې تړونی پيدا شي چې عراق په دې پېښو کې ښکېل کړي "بوش را څخه غوښتل چې داسې بيان ورته راوړم، چې په هغه کې ويل شوي وي چې عراق دا کار کړی."



# لسم څپرکی

## دولت او اپوزيسيون

دا معلومه خبره ده چې د هر دولت رئيس. د قوانينو او دستورونو مطابق ځينې محدود صلاحيتونه او دندې لري دا صلاحيتونه له ولسمشر څخه د هرې وړې او غټې مسئلې او هر څه مسئول کس نه جوړوي، په ځانګړي ډول د ولسمشر قانوني واکونه معلوم دي، چې دی د "ځايناستي" يا "د ناحيې د مدير" يا د "ترافيک" دنده نه شي کولای، چې په ډېرو دقيقو معلوماتو هم ځان خبر کړي. د کروپر په عسکري زندان کې مې له ولسمشر صدام حسين سره د عراقي مخالفينو په اړه اوږدې خبرې وکړې، او د هغو تېروتنو په اړه چې د ډېرو کسانو د خور لامل وې او ولسمشر ته يې قضيې نه وې رسېدلې. په دې موضوع کې ښه څرګند غږېده. ولسمشر ويل:

"هر سياسي نظام د نظر مخالفين لري، هغه که د قوانينو په اړه وي يا د موسسو په اړه، يا آن د دولت تر داخلي او بهرني سياست پورې لا غځېږي. دغسې مخالفين چې تر څو د دولت په چوکاټ او قوانينو کې وي، درناوی يې کوو. له ډېرو عراقي ملي شخصيتونو سره مو د نظر اختلاف درلود، خو په ډېرو چارو کې مو ګډ کار سره کاوه. ځکه د داسې مخالفينو موخه ملي وي، او عراقيانو چې تر څو له بهرني مرسته نه وي غوښتې، نو ډېر د عزت وړ وي."

له ولسمشر سره مې د ځينو داسې کسانو يادونه وکړه چې په هغوی کې ملي مخالفين "د ملي ائتلاف جبهه" چې دکتور عبدالجبار الکبيسي يې مشري کوله، چې بيا پر عراق د امريکا له يرغل سره او له پرديو څخه له ځواک غوښتلو سره هم مخالف و. دلته ولسمشر وويل: "زما سلام ټولو ته ورسوه او اتلانو عوني القلمجي، نوري المرادي او هارون محمد ته يې هم ورسوه."

(c) ketabton.com: The Digital Library



"که امریکايي برید نه وای شوی، نو نړدې و چې عراق ته د خدمت لپاره د ځینو مخالفینو له مشرانو سره ګډ دریځ ته رسېدلي وای. د مخالفت داسې پروژه، یوه ملي پروژه ده، چې له بهرني ځواک او ایجنټانو سره اړیکه نه لري. دوی په ښکاره کار کوي، دوی او نورو ټولو ته مونږ باید درناوی ولرو. خو څوک چې د ځان لپاره کار کوي او له بهرنیو ایجنټانو سره اړیکه لري، له پولو بهر په پټه کار کوي، چې ځینې یې ځان دیني هم نوموي، د عراق او عربو له دښمنانو سره اړیکې ټینګوي، ایران او نورو ته کار کوي، نو هغوی ته زمونږ په منځ کې ځای نه شته، خو که یې ځانونه اصلاح کړل، د هېواد له ګټو سره یې پروژه وتړله، په ښکاره یې کار وکړ، له بهرنیانو سره یې ټولې اړیکې وشلولې، نو بیا د عراق غېږ ورته خلاصه ده... له دې پرته به ورسره جنګېږو. دوی هغه کسان دي چې د خپلو بادارانو پر ټانګونو سپاره راغلل... دوی د عراق او ولس دښمنان دي."

د مخالفینو په اړه مو له ولسمشر سره ډېرې خبرې وکړې، د ځینو هېوادپالانو د بدنامولو لپاره له هڅو وغږېدو. ما ته یې وویل، یوه ورځ یو بیان ورته رسېدلی و، هلته په کې ویل شوي وو، استاذ طارق عزیز چې کله د بهرنیو چارو وزیر و، نو په نیویارک کې یې د ملل متحد د کارونو پر حاشیې له ځینو اسرائیلي اشخاصو سره کتلي دي.

"بیان لیکونکي او راوړونکي ته مې وویل، چې پر استاذ طارق زه ډېر باور لرم. استاذ طارق مې را وغوښت، یوازې مې په اړه پوښتنه ترې وکړه، ځواب یې را کړ: ما یو خبري کنفرانس درلود، داسې ښکارېده چې د نړۍ د هېوادونو او امریکا ځینې یهود ژورنالیستان هم په کنفرانس کې وو، خو اسرائیلیان نه وو. نو ایا ما کولای شوای چې خبري کنفرانس ته له ور ننوتو مخکې د دوی پېژندپاڼې وګورم؟."



ولسمشر پسې بشپړه کړه: "ما له دوی څخه وغوښتل چې هغه بیان لرې کړي او دا خبره پټه وساتي، څو د عراق په مخلصو وګړو کې تردید او شکونه پیدا نه شي"... بیا یې زیاته کړه: "دا عیب دی چې د ځان په اړه درته ووایم، خو بدنامول لا شته او تر دې حده خو رسېدلي."...

مونږ ټول له نیواک مخکې او په زندان کې استاذ طارق او د هغه ځلانده ملي دریځونه پېژنو. هغه له ما څخه وغوښتل چې له ولسمشر څخه د دفاع شاهد واوسي، کله چې ما او زما شهید ملګري استاذ خمیس العبیدي له بندیانو سره کتل، استاذ طارق عزیز د بندیانو او امریکایانو تر مخ په څرګند ډول راته وویل: "استاذ خلیله، هیله کوم، ما ته اجازه راکړې چې حق خبره وکړم او د دجیل په قضیه کې د ولسمشر لپاره شاهدي ورکړم."

داسې ډېرې بېلګې شته چې ځینو د کمزورو نفسونو خاوندانو د عراق مخلصینو زامنو ته دسیسې جوړې کړې او بلې کندې ته یې برابر کړل، د هغو مخالفینو په ځای کې یې حساب کړل چې د عراق پر ضد را ټول شول. کله چې مناسب وخت راشي، نو د مخالفینو په اړه به دقیق ترین معلومات بربنډ کړو، چې څنګه به ډېر هېوادپالان مجبورېدل چې د دولت او نظام ضد شي، هغه کوم لوري وو چې دوی یې مجبورول، دا ټول به د مؤثقو اسنادو او دلایلو په مرسته وړاندې کوو.

بیا ولسمشر موسکی شو او پسې یې کړه: "اې ښاغلیه، په یوه شېبه کې زه زر صدام حسین کېدی شم."

خوشونې ده چې له ځینو سره غداري شوې وي یا د شا او خوا او ځینو نړدې کسانو ظلم پرې شوی وي.

ولسمشر په خواب کې وایي:

"هو دا کېدای شي، خو ما ته چې د کوم مظلوم آه را رسېدلې، مرسته مې ورسره کړې، چا چې غوښتنه را څخه کړې مرسته مې ورسره کړې، د اړتیا لرونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې اړتیا ور پوره کړې ده. ما به ټولو عراقیانو ته په یوه نظر کتل او اوس هم. دېرې تېروتنې وشوې، خو مونږ تر خپلې وسې کوښښ کاوه چې په کې واقع نه شو. زما نه یادېږي چې پر چا مو د ظلم کړی وي، سره له دې چې مونږ له تېروتنو پاک نه یو. خو له عراقي څخه د بار پورته کولو لپاره چې څه باید راته رسېدلي وي، هغه نه دي راته رسېدلي، نو په دې کې خو زما گناه نه ده، ان کله به چې د دېوان یا ملاتړ کوونکو او یا نورو کسانو د غلط چلند په اړه خبر شوو، نو جزاء به مې ورکوله او له یوه ځایه به مې بل ته لېږه، یا به مو تقاعد کاوه، یا به یې داسې بله وړ جزاء لیدله. زمونږ په منځ کې داسې کس نه منو چې زمونږ د ولس زامنو ته زیان رسوي او زمونږ د لارې انځور بدناموي. داسې هم نه وایو چې پر مونږ را تاو او نږدې کسانو او خپلوانو کې بد نه وو."

ولسمشر زیاتوي:

"څوک چې زمونږ ملي نظام، اوس او مخکې دیکتاتوري نظام گڼي، او هلته له مونږ سره مخالفین وو، مونږ به ده ته او د ده نظر ته غوږ وو او په ځینو چارو کې به مو موافقت او مخالفت هم ورسره کاوه، او مونږ به ورسره ولاړ وو، مادي مرستې به مو ورسره کولې، احسان یې نه پرې باروو، څکه دوی د همدې ولس وو او دا یې حق و. که ښاغلی جلال طالباني څرگند وای، نو ډېر هغه څه به مو واضح کړي وای چې پرې خبر وو، همدا راز ښاغلی مسعود برزاني له ده سره به یې حافظه د هغه څه په وریادولو کې مرسته وکړي چې مونږ یې نه وایو، څکه بیا به یې داسې وفهموي، دا چې مونږ یې اوس ورته وایو، نو گواکې دریځ ته یې غوړه مالي کوو، دا د الله اراده ده، حمد یې وایو، مونږ یې د امر منلو ته غاړه ږدو."

زه چې په دې لږو کلونو کې له ولسمشر سره وم او د ده له ډېرو نږدې کسانو او پر ده را چاپېرو سره مې اړیکه نیوله، نو په بشپړه امانتولۍ وایم، چې ځینې له هېواد او ولسمشر سره مخلصین وو او ځینې بیا د هومره باور وړ نه وو، لکه



ولسمشر چې پرې کړی و، بلکې ځینې به د ولسمشر له ورسره کړې ښېگڼې څخه هم منکر وو، کوم امانت چې یې ورکړی، امانتولي یې په کې ونه کړه، ولسمشر هم د دوی لاسوهنو په غصه کاوه. په داسې حال کې چې ځینو ډېره پاملرنه ورته کوله او ولسمشر او هېواد ته وفادار وو، ځینې له ځانه ورته تېر وو، سره له دې چې امریکایي ځواکونه ورپسې وو، خو د محکمې په مخ کې یې د ولسمشر په گټه په څرگنده شاهدي ورکړه.

ولسمشر ته مې وویل چې ډېر مخلصین ان د ده په خپلوانو کې له ده څخه لرې وو، پر ولسمشر د هغې را تاو تنگې کړې د کارونو قرباني شول، چې ولسمشر او د ولس مخلصو زامنو ته یې زیان رساوه. ولسمشر وویل: "بلکل له دوی سره کمی وشو". د دغو ښو دریځونو د خاوندانو نومونه د امنیتي لاملونو له کبله نه اخلو.

زه خپله د لوی عراق د یوه بچي په صفت، تاریخ ته وایم چې صدام د عدل او انصاف قایمولو لپاره کوښښ وکړ، هر مظلوم چې یې دروازه ټکولې، انصاف یې ورکړی او له ظلمه یې خلاص کړی دی، او دی لا له خپلو زامنو او خپلوانو سره هم قاطع و.

## ولسمشر او د ده د ځینو خپلوانو تېروتنې

له ولسمشر سره مې په یوه لیدنه کې ترې وپوښتل چې د زامنو او خپلوانو له تېروتنو سره به یې څه چلند کاوه؟ وې وویل:

"یوه ورځ یوه افسر شکایت راته وکړ چې "عُدي" او ورسره یې یو ماما هغه وهلی دی. نو سملاسي مې دواړه راوغوښتل، له افسر څخه مې وغوښتل چې دواړه پر هماغې لکړه ووهي. خو هغه نه منله. ما تهدید کړ چې که داسې ونه کړې جزاء به ورکړم او رتبه به یې ترې واخلم. نو داوړه یې په نرمۍ ووهل. ما لکړه ترې واخیسته او "عُدي" مې وواهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"په یوه بله ورځ، قُصي تېروتنه کړې وه، نو له ځانګړي ساتونکي څخه مې وغوښتل چې په ځانګړې بندخونه کې یې واچوي.

"کله چې عُدي زمونږ ملګری مرحوم کامل حنا وژلی و، نو د بندي کولو امر مې وکړ. له قضاء څخه مې وغوښتل چې عادلانه پرېکړه وکړي. خو ومې پتیېله چې د عراقي عدالت او قضاء وزیر زما په مخ کې تنګېږي. نو د هغه د اعدام پرېکړه مې وکړه. خو د عُدي مور زما له خبرولو پرته ملک حسین ته استازی لېږلی و. سملاسي د ملک الوتکه راغله. ما هیله درلوده چې لیدنه به یې د عربو ورونو په منځ کې د عادتي مشورو په چوکاټ کې وي. خو ناڅاپه یې راته وویل چې د عُدي په ځای ښښنه غواړم، ملک حسین قسم وکړ چې که یې غوښتنه ونه منم، نو عراق به بیا په سترګو هم ونه ګوري. نو د عربي رواجونو مطابق مې غوښتنه په یوه شرط ومنله چې که د مقتول کورنۍ ښښنه ورته وکړي.

"یوه ورځ مې واورېدل چې وطبان وررور مې چې د کورنیو چارو وزیر و، یو ناوړه او غیر مسئولانه کار کړی دی، کله چې یې موټر چلوونکي په بغداد کې سرې اشارې ته موټر درولی و، نو دی را کښته شوی و او هلته د ټولو شته خلکو تر مخ یې د ترافیکو پر سره اشاره ډزې کړې وې. عصبي حالت یې سم نه و. کله چې خبر شوم، نو اړیکه مې ورسره ونیوله او د نوموړي کار په اړه مې ترې وپوښتل، په ځواب کې یې راته وویل چې په هغې شېبه کې یې پر اعصابو کنټرول له لاسه ورکړی و او ډېره ښښنه یې وغوښته. ما ورته وویل: نو زه ښښنه غواړم، زمونږ په رهبري کې لیونیانو او اعصاب خرابو ته ځای نه شته. له همدې شېبې وروسته د ځان له خپل دریځ څخه ګوښه وګڼه. همداسې مې د کورنیو چارو له وزارت څخه د وطبان وررور د استعفاء پرېکړه وکړه.

"ډېرې داسې کیسې تېرې شوې چې زه له خپلو بچیانو، خپلوانو او نورو سره قاطع وم. زه د عراقیانو تر منځ توپیر نه کوم.



"کله مو چې د صلاح الدین ولایت والي ټاکه، د دې لپاره چې معین والي خپلې دندې سمې سرته ورسوي، نو زما شخصي ملاتړ باید ورسره وای، ما هم ملاتړ ترې کاوه. یوه ورځ راسره په اړیکه کې شو او ویل یې چې د یوه خپلوان زوی ډېر په غرور او تکبر ګاډی چلوي، ما ورته وویل، چې ته خپله ور ووځه او ګاډی یې ور وسوځوه. یا یې د سوځولو امر ورکړه.

"کله به چې د عُدي په اړه معلومات راکېدل، ما به ځاره، ان په ډېرو کارونو کې مې صلاحیتونه ترې واخیستل. کله چې عراق کلابند و، داسې معلومات راورسېدل چې دی ډېر موټران لري، ځینې یې تجارانو ډالي ورکړې او ځینې یې ملګرو ورکړي دي. له ملګري څخه مې وپوښتل چې د موټرانو ځای را وښيي، کله چې پوه شوم چې د هېوادنۍ ناستې په تالار مراب کې دي، ولاړم او ټول مې وسوځول، ملګري را څخه وپوښتل چې ولې یې پر ولس نه وېشو، ما ورته وویل، څوک چې موټر واخلي، نو کېدی شي عُدي غچ ترې واخلي، نو زما له پوهې پرته به هغه ځورول شوی وي.

"کله به چې زما کوم خپلوان بد کار کاوه، زه به ډېر په غصه کېدم، ځکه د ده کار زمونږ پر اوازو اغېزه ښندله.

"کله چې د عُدي د وژلو هڅه شوې وه او وهل شوی و، والله ما د پېښې پوښتنه نه ده کړې او نه پر دې خبر وم چې څېړنه وشوه که نه. مګر دا چې د استخباراتو مدیر په خپله راغی او ځینې تفصیلات یې را کړل، یوازې د کورنۍ له ځینو غړو سره روغتون ته د ده پوښتنې ته ورغلی یم.

"په یاد مې دي یو خپلوان په پوهنتون کې را ولاړ شوی و او خپل استاذ یې وهلی و. کله چې خبر شوم، دواړه لوري مې را ټول کړل، له ملګرو مې وغوښتل، څه چې یې له استاذ سره کړي دي هماغسې جزاء د ورکړي."

دلته مې له ولسمشره وغوښتل، چې ایا زامنو یې په سیاسي پرېکړو کې رول لوباوه، ځواب یې راکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"زما ورې کورنۍ او اولادونو په سیاست کې هېڅ رول نه درلود نه یې د سیاسي پرېکړې په جوړښت کې درلود. بلکې پرېکړه به مونږ کوله او له ملګرو به مو اخیسته. یوه ورځ مې هم په یوه پرېکړه کې رایه یا نظر د غړونو ټولګه یا جمعه نه وه، د رهبر د پرېکړې او نظر باید وزن وي، په نیولو کې باید متردد نه شي، متردد او شکاک خلک مې نه خوښیږي."



# یوولسم څپرکی

## د ولسمشر صدام حسین
## په بدنامولو کې د امریکا هڅې

د الله په قدرت او ستاسو په برکت به آن زما هډوکي لا ورسره جنګیږي.

*(صدام حسین په زندان کې)*

### خطرناکې وسلې

جیمي کارټر وویل، پر عراق یرغل د هغو لاملونو له امله نه و، چې اعلان شول، بلکې صدام حسین په اسرائیلو ۳۹ توغندي ور توغولي وو.

سویډني کارپوه هانز بلیکس د عراق د یرغل په دریمه اونۍ کې ویلي، چې له ده سره داسې شواهد شته چې دا جنګ له ډېر وړاندې پلان شوی و، د پرمختګونو په غبرګون کې نه و او نه د څېړنیزو موخو لپاره و. که ورانوونکې وسله په دې جنګ کې دخیله هم وای، نو په څلورمه کټګورۍ کې به وای.

همدا راز، د اتمي وسلو د امریکایي کارپوه ډېوید کې ګواهي هم همداسې وه، له جنګه مخکې یې څرګنده کړې وه. کې د څېړونکو په ډله کې په دې بداوازه غړی و، چې په عراق کې یې د اتمي وسلې شتون رد او نفي کړی و. د امریکا د بهرنیو چارو په وزارت کې د اتمي وسلې په مسئوله برخه کې د اداري مسئول د هغې ادعاء دروغجنوالی بربنډ کړ چې پر عراق یې له افریقایي دولت څخه د یورانیمو د واردولو تور لګولی و... جریج ثیلمان ویلي وو چې د عراق په اړه د امریکایي استخباراتو په بیان کې امریکایي اداري لوبه وکړه او دا لوبه یې په عراق کې د خپلو موخو لپاره جوړه کړې وه، او د ده اداري هماغه فایل (دوسیه) لوستی و او دا یې موندلې وه چې د بهرنیو چارو وزارت نه راتلونکي اسناد ټول جوړ شوي وو. نو په خارجه کې یې مشرانو پاملرنه کوله او وېرېدل چې د دروغو او جعل په دام کې ونه نښلي.

*(په زندان کې د ولسمشر صدام حسین له یادښتونو څخه)*

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا د ولسمشر صدام حسین له نیولو وروسته هلې ځلې وکړې چې د ده رسنیز انځور په هر ډول وسایلو بدنام کړي، په دې کې یې له ځینو امریکایي شویو عربي سندریزو وسایلو څخه هم کار واخیست. پر همدې یې بسنه ونه کړه، بلکې د ده له شهادته وروسته یې هم هڅه وکړه چې له هغه انځور څخه یې ګټه پورته کړې چې ډېر او ډېر خپور شوی و، چې دی د شهادت او ویاړ زینو ته پورته کېده. غوښتل یې چې ټولو عربي مقاومت کوونکو ته یو پیغام ولېږدوي چې مونږ ته ډېر په اسانۍ او بې له کوم مقاومت څخه تسلیم شو، دا یې د نیولو په لومړیو کې وکړ، چې په یوه کنده کې یې په دوبله شوي انځور کې را څرګند کړ، چې هغه امریکایانو په ښه پام سره برابره کړې وه.

د ولسمشر د انځور د بدنامولو لپاره هلې ځلې رواني وې، څو د عراقي ولس، مقاومت او د عربي ولسونو معنوي روح ووژني، چې صدام حسین یې یو داسې مجاهد رهبر انګېره چې پر اسرائیلو یې په نه-دېرش توغندیو توغولو کې کمی ونه کړ. خو په ډراماتیکه محاکمه کولو کې د ده ټینګ دریځ او پر جلادي محکمه کولو د ده ځواک، د ده دښمنانو ته دا ثابته کړه چې دا سړی ډېر قوي او ځواکمن دی، د دوی ټولې هڅې ناکامې شوې او انځور به یې په ټوله نړۍ کې خپرېږي...

امریکایي ژورنالیست او سیاسي شنونکي جیف ارچر (مالکوم لاګوچ) داسې پوښتنې وکړې، چې نن نه اورېدل کېږي، لکه څرنګه چې وایي، خو کله چې د عراق قضیه را مخکې کېږي نو بیا ضروري دي. دا پوښتنه کېږي چې ولې هېڅ چا هم دغو پوښتنو ته ځواب نه دی ورکړی، ټوله نړۍ یوه ټکي ته ګوري، چې هغه د صدام حسین دکتاتوریت او د دجیل قضیه ده، سره له دې، بوش چې کله د تکزاس حاکم و، نو د عراق د محکمې د ۱۹۸۴م کال تر حکمونو یې ډېر د اعدام حکمونه صادر کړي وو. ارچر پوښتي:



- ولې له یوه څخه هم نه اورو څو له هغه عراقه وغږېږي چې په ۱۹۸۲م کال کې ملل متحد له بې سوادۍ څخه خالي هېواد غوره کړ، او په ۱۹۷۳م کال کې د تعلیم کچه له ۴۰٪ سلنې کمه وه؟
- ولې د ملل متحد د ۱۹۸۴م اعلان نه اورو، چې د عراقي تعلیم نظام د درېیمې نړۍ په نظامونو کې تر ټولو ښه نظام دی؟
- ولې د نیویارک ټایمز د ۱۹۸۷م کال وینا نه اورو چې عراق د منځنۍ ختیځ پاریس دی؟
- ولې هغه نه اورو چې په اویایمو کلونو کې به صدام حسین د عراق په سوېل کې د عراقیانو کورونو ته ورتلل، څو ځان ښه پوه کړي چې هر کور سړوونکی او برېښنا لري؟
- ولې هغه نه اورو چې په ملیونونو عربان به عراق ته تلل، څو له ځمکو داستفاده کولو هغه پروګرام وګوري چې بعثیانو جوړ کړی و؟
- ولې د عراقي پوهانو، ډاکټرانو په اړه نه اورو چې عربي هېوادونو ته ولېږل شول، څو د هغوی پروګرامونو ته پرمختګ ورکړي؟
- کله چې له عربو څخه په دفاع کې په عراقي ایراني جګړه کې عراق ډېر پوځیان له لاسه ورکړل، او عربي هېوادونو له عراق سره خپله نرمي وښوده ولې هغه نه اورو؟
- ولې هغه نظریې او فکرونه نه یادوو چې په نوییمو کې د امریکایي مراجعو له لوري صدام ته ور وړاندې شوي وو، څو د اسرائیلو پر هېواد اعتراف وکړي.
- ولې هغه نه اورو چې له ۱۹۹۱ – ۱۹۹۸م پورې د څېړونکو په ډله کې هر کس جاسوس وو، نه څېړونکی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپکې هڅې

د (صن) مجلې، چې د یوه میلیاردر استرالیایي یهودي مېردوخ وه، د ولسمشر صدام حسین د بدنامولو لپاره یې په لومړۍ پاڼه کې د هغه یو انځور خپور کړ، زېر پیراهني یې اغوستې وه. مجلې باور درلود چې دغه انځور به په عراقي مقاومت منفي اغېزه وښندي، ځکه د نړۍ د یوه هېواد د رهبر همداسې انځور نه و خپور شوی.

ولسمشر ته مې دا موضوع ور یاده کړه او له ده څخه مې وغوښتل چې پر دې موافقه را سره وکړي، څو مجله محاکمه کړو. ده وویل:

"د یوه مسلمان سړي په څېر چې لمونځ کوي، ما ته دا څه زیان رسوي چې خپلې جامې په خپله ومینځم، که څه هم دوی د دې کار لپاره یو خدمتگار راکړی و. خو ما ته دا خوند نه را کوي چې زما جامې د بل ومینځي. نو هیله کوم نوموړې مجله مه محاکمه کوئ، ځکه داسې انځورونه خپرول ماته څه عیب نه دی او زیان هم نه شي را رسولی. مونږ له دې بدیو لرې یو. او بله دا چې خپرېدا یې مونږ ته گټه را رسوي، څو نړۍ د لوېدیځ ډېموکراسي او د انسان د ځانگړنو تر پښو لاندې کول وپېژني. کله چې مونږ مهمه قضیه لرو، نو مونږ باید داسې قضیو ته د خلکو پام را وا نه ړوو، داسې کار باید ونه کړو چې اساس گډوډ کړي. پر دې برسېره زه دا نه منم چې زما په نامه داسې یوه دعوه یا شکایت وکړې چې له مال سره اړیکه لري."

* * *

ټولو هغو کسانو چې ولسمشر صدام حسین ته یې د انځور د بدنامولو له لارې زیان رساوه، د دغه سړي حقیقت یې نه و موندلی. که یې پر ژوند چاپې ورسره وهلې وای، نو اوس به د نړۍ په پلازمېنو کې په نعمتونو کې و، خو ده د دښمنانو د نیواک شاته د عراق لپاره د هغوی موخې درک کړې وې، دا یې هم درک کړې وه چې دوی عراق غواړي، که دی وي او که نه وي.



پر دې برسېره، دوی هڅه وکړه چې په نړیوالو تلوېزیونونو کې د ده د زامنو د جسدونو د خپرولو له لارې د ده ملا ور ماته کړي. له ولسمشر څخه مې هغه پوښتنه وکړه چې ډېری کسانو کوله: د عُدي، قُصي او مصطفی له خښولو وروسته ولې امریکایان څو ورځې په هدیره را تاو ول؟ ځواب یې را کړ:

"داسې اوازې خپرې شوې وې، ویل یې هغه کسان چې د ۱۲/۷/۲۰۰۳ په موصل کې شهیدان شوي، هغه زما زامن نه دي، یعني له دوی څخه یې جهادي اروا نفیه کوله، چې دا هم د بدنامولو بله هڅه ده. د دې دلیل چې امریکایانو د شهیدانو پر مخونو او ځینو برخو شمعې کېښودلې، څو ما او خلک وغولوي، چې هغوی زما زامن دي. دا کار یې ځکه وکړ چې زما پر نفس او مقاومت منفي اغېزه وکړي. خو دوی ځکه څو ورځې هدیره کلابنده کړې وه چې دوی زما په ور تگ باوري وو، نو دوی فکر کاوه چې ما به هم ونیسي.

"له وړاندې یې هم د ډېرو رهبرانو د بدنامولو هڅې وکړې، چې یو ولسمشر جمال عبد الناصر دی، هغه ته یې ډېر د زیان رسولو کوښښ کاوه، خو انځور یې پاک، صفا پاتې شو، ځکه عربي ولس بیدار دی او پوهېږي چې اصلي سړي څوک دي."

کله مې چې ولسمشر خبر کړ چې امریکایانو هڅه وکړه چې د عراق د بهرنیو چارو قانوني وزیر دکتور ناجي صبري الحدیثي بد اوازه کړي، نو په ټوکو یې څارنوالانو ته وویل:

"وگورئ استاذ خلیل د خپل ولایت د بچي لپاره تعصب کوي". بیا یې ما ته وکتل او وې ویل: "علي ناجي ته مې سلام وایه، ورته ووایه چې د دې شیانو پروا مه لره، د دوی له رذیلو څخه زمونږه باوري خلک زیات نیک نومه او لوړ مقام واله دي. او دا د دغه اصیل هېواد پاله سړي پر ضد مقصود او مغرضانه تبلیغ دی."

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امریکا دروغ

د صدام حسین په اړه د امریکا ټول د تبلیغاتو او دروغو ماشینونه چالان وو. د ۲۰۰۴م کال د دسمبر په میاشت کې متحده‌ایالاتو اعلان وکړ چې په عراق کې به د اتمي وسلو په اړه څېړنه په رسمي بڼه ودروي. چې د دې له امله په عراق کې د اتمي وسلو د څېړونکو د ډلو د پخواني رئیس رېټر سکوت په څرګندونه واوښت، په اوسنۍ زمانه کې دغه اعلان د دې ښکارندوی دی، چې زښته تېر ایستنه شوې ده. رېټر وویل چې پر عراق یرغل تر اوسه تر ټولو ناوړه جریمه ګڼل کېږي.

لاګوش تر دې عنوان لاندې "بیا ځلې عراقیانو ته ثابتېږي چې صدام ډېر ښه و" (۲۵-۲۶ فبروري ۲۰۰۵) په خپله مقاله کې د ولسمشر د بدنامولو لپاره د امریکا له لوري رایج شوي دروغ باطل کړل، وایي:

په ۲۰۰۳م کال کې امریکا اعلان وکړ چې د عراق په سوېل کې یې څلورسوه زره کسیزه ټولیزه هدیره موندلې ده. خو ورپسې ټوني بلېیر وویل چې شمېره له پنځه زره لوړه نه ده، او ډېری یې هغه پوځیان دي چې په ۱۹۹۱م کال کې متحده‌ایالاتو وژلي وو.

همدا راز لاګوش د ځینو هغو عبارتونو یادونه کوي چې ډېر تکرارېږي، د بېلګې په توګه "صدام د خپل ولس پر ضد زهرجن ګازونه استعمال کړل"... په حلبجه کې کردان د ایراني زهرجنو ګازونو په واسطه ووژل شول. دا هغه حقیقت دی چې په ۱۹۸۸م کال کې امریکایي استخباراتو کشف کړی و، په ۲۰۰۴م کال کې هم دا تایید شوه چې د کردانو پر ضد ایران زهرجن ګازونه کارولي وو.

دی زیاتوي چې د بشر د حقوقو کمېټې یادونه کړې وه، چې عراقي ځواکونو د ۱۹۸۸م کال د انفال په برید کې یو سل او اتیا زره کسان وژلي او ډېری یې



کردان دي، خو ورپسې یې اعتراف وکړ چې دا د امریکا د دروغو قرباني شوي وه، او نوموړې کمېټې یو جسد هم نه دی موندلی.

د دروغو دا سریال او ډرامه روانه ده...

## د وسلو پلټلو کیسه

ولسمشر د اتمي وسلو د څېړلو او د عراق د دولت د را پرځولو او د ټکنالوژي، نظامي امکاناتو او ځواک د له منځه وړلو په پار د څېړونکو د رول کیسه کوي، وایي:

"پر عراق له دېرشم برید وروسته، امریکا برېتانیې او ائتلافیانو یې د عراقیانو د هیلو د وژلو لپاره یو ظالمانه پروګرام پیل کړ. عراقیانو هیله درلوده چې هېواد یې د سیمه ییز او نړیوال توازن په ساتلو کې مرسته وکړي. د عراقي کېمیاوي یا بیولوژیکي وسلو یا چې دوی یې پراخ ورانی رسوونکې وسلې بولي، د هغو د څېړلو په بهانه یې د عراق ټول پروګرامونه له منځه یوړل.

"بیا هم موږ ټولو نظامي قطعو ته لارښوونه کړې وه چې د څېړونکو د ډلو د دندې د اسانولو لپاره هر ځای ته په تللو کې د هغوی امن تامین کړي، دا کار مو ځکه وکړ چې موږ خپل نېک ګومان ثابت کړو او موږ پر دې باوري وو چې له هغو وسلو پرته چې اجازه یې لرو نورې نشته، خو څېړونکي د امریکا "جاسوسان" او د استخباراتو کسان وو. کړکېچونه یې پیدا کول، ډېره هڅه یې وکړه چې پر موږ هجوم راوړي، د عراق سیادت یې تر پښو لاندې کړ. دا ټول یې ځکه وکړل چې امریکا ته یو دلیل برابر کړي څو عراق په نښه کړي او نړۍ پرې وکړي. یوه یې له عراق سره انصاف کاوه، حقیقت یې وویل، خو د هغه په څرګندونو یې سترګې پټې کړې. چې دا د رېټر سکوت و. امریکا دا نیت کړی و چې عراق په نښه او وران کړي. که امریکا پر دې پوهېدای چې عراق اتمي وسله لري، نو د تېري جرأت به یې نه وای کړای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"امریکایانو یعنې استخباراتو یې ستا له لومړي راتګ شپږ یا اوه میاشتې وړاندې له ما سره وڅېړله. ټولې پوښتنې یې د اتمي وسلو په اړه وې، چې څه دې کړې، په سوریه کې دې پټې کړې دي. ما ورته وویل: تاسې ښه پوهېږئ چې عراق داسې وسلې نه لري، ورته مې وویل چې دوی ته مو فرصت ورکړی وو چې ټول عراق وڅېړي، ګرځېدل را ګرځېدل به، زمونږ موخه دا وه چې دوی ډاډه شي چې له نړیوالې شورا سره مونږ په خپلو خبرو او ژمنو کې رښتیني یو. ما ورته وویل: امریکایانو تاسې باید وپوهېږئ، چې عراق د ایران په څېر یو ناوړه دښمن لري، چې مادي، بشري او نظامي امکانات ورسره دي، کله چې تاسې دیارلس کاله عراق کلابند کړی و، مونږ وېرېدو چې ایران به ستاسې تر ظالمانه کلابندۍ لاندې پر عراق ناڅاپي برید وکړي، پر دې برسېره تاسې د هوا په سور او اوږدو وېشلو کې اختلاف کړی او پر عراق مو په ظلم سره لازمي کړي دي. بیا څېړونکو د برېټانوي ټانګ یو انځور را وړاندې کړ چې یوه ډله عراقي ماشومان پرې ناست وو، او راته وې ویل: تا دغه ماشومان د بشري زغرو په توګه کارول، چې دا د ټولو قوانینو مخالف کار دی.

کله مې چې انځورته ښه په ځېر وکتل، نو ټانګ برېټانوی و، نه عراقي، خو دوی هغه انځور په دروغو خپور کړ، څو د نړۍ په مخ کې زما انځور بد نام کړي.

"همدا راز هر کله به یې پوښتلم، چې اسرائیل د ولې نه-دېرش توغندي ویشتي دي، حال دا چې د اسرائیلو دولت تاسې نه ګواښلی. ما ورته وویل چې اسرائیل یو مسخ شوی جریان دی، تاسې را منځته کړی دی، سیمې ته ټول مصیبتونه نوموړي جریان راوړي دي. بیا یې پوښتنه وکړه: تا ولې د فلسطینیانو ملاتړ کاوه او مالونه د ورکول، همدا راز تا هر هغه فلسطیني "ترهګر" ته چې ځان ته به یې چاودنه ورکوله، پنځه ویشت زره ډالره ورکول؟ ما ورته وویل، د عراق مادي او بشري امکانات د أمت د خدمت لپاره دي، چې د فلسطین



قضیې یې په سر کې ده. مونږ د فلسطیني قضیې له امله دلته په زندان کې یو. او کومو اتلانو چې په صهیونیانو کې یې ځانونه چوول، هغوی اتلان دي، شهیدان دي، انتحاریان نه دي. بیا یې د وسله‌والو ځواکونو او جیش القدس د دومره چمتووالي په اړه وپوښتلم، ما ورته وویل، زمونږ حنیف اسلامي دین مونږ ته امر کړی چې دښمن ته هومره چمتووالی ونیسو چې له وسه مو پوره وي...

په څو میاشتو کې یې ډېرې پوښتنې را څخه وکړې. له دې هم معلومېږي. چې پر عراق برید یې د اسرائیلو له امله او د دوی د اقتصادي ګټو له امله تاریخي ریښې لري."

## د ولسمشر د تېر ایستلو هڅه

امریکایانو هڅه کوله چې د ولسمشر د زیات پاملرلو له امله هغه تېر باسي، د هغه یې ښه روغتیایي پالنه کوله، دننه په زندان کې او کله نا کله په محکمه کې یې له صفویانو ساته. پر دې برسېره دوی اجازه ورکړې وه چې بدني تمرین وکړي، یو ثابت سپورتي بایسکل یې ورته راوړی و، د کوټې د هوا د درجې پاملرنه یې کوله... کله به مو چې یوازې سره لیدل، نو د داسې شیانو په اړه به یې خبرې کولې.

د نیولو په لومړیو کې امریکایانو هڅې کړې وې چې ولسمشر تېر باسي. څو دې داسې فکر وکړي چې ورسره ساتونکي، چې د نظامي عسکرو جامې یې په تن وې، نظامي عسکر دي. خو په حقیقت کې هغوی د امریکایي استخباراتو له ډلې و. له ولسمشر سره به یې کله جدي او کله نرم چلند کاوه، کله به یې تر نوم مخکې د vic مختاړی هم ورته کاراوه. کله چې ولسمشر د نوموړي مختاړي په اړه وضاحت ترې غوښتی و، دوی ورته ویلي وو very important criminal یعنې ډېر مهم مجرم. ولسمشر وایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ډېرې پوښتنې به یې را څخه کولې، ځینې به یې ډېرې هوښیارې وې، زمونږ او د دوی تر منځ به ډېرې خبرې کېدې. ما به ډېر په پاملرنې چلند ورسره کاوه. ما درک کوله چې داسې پوښتنې امریکایي استخبارات او د فدرالي څېړنو دفتر کوي، د څېړونکو له جملې ځینې کسان په زندان کې له ماسره د څېړلو لپاره پرله پسې اوه میاشتې پاتې شول. خو له دوی دا هېره وه چې زه پر دې پوهېدم چې دغسې پوښتنو ته مونږ ځواب نه لرو."

کله مې چې پوښتنه ترې وکړه، که یې باور پرې کړی وای چې هغوی یوازې نظامي عسکر او افسران دي، په خندا کې یې ځواب راکړ: "ابوعلاء څه در باندې شوي دي، دا (زمونږ بوختیا ده)، زه د دوی لوبو ته بیدار یم."

خو د دغو امریکایانو څېړونکو چې کوم څه ویلي، چې ولسمشر ترې غوښتي وو، ځو د ولسمشر پر روغتیا له گمارلې شوې نرسې سره خبرې وکړي، نو دا دقیقه خبره نه ده. ولسمشر ته نږدې کسان پوهېږي، چې هغه د شخصیت څښتن و، شا او خوا ټولو ته به یې درناوی کاوه، ان پوځیانو، افسرانو او ساتونکو ته. ولسمشر به ویل: "زه د دوی انسانیت او آدمیت ته درناوی کوم، دوی خو مکلف دي، د امرونو له پلي کولو پرته بله لاره نه لري."

د زندان په منځ کې د ترور د احتمال په اړه ولسمشر وویل: "اې "ابوعلاء" ښاغلیه، که امریکایانو زه وژلی، نو کله چې یې ونیولم همالته به یې وژلی وای، خو دوی غوښتل چې ژوندی پاتې شم، ځو ایران او په معین حکومت کې د هغه پیروان را باندې و وېروي."

## د ولسمشر بدنامول

د ولسمشر د بدنامولو ډرامه روانه وه. په دې ډرامه کې د معلومو لورو او د اجیرو رسنیزو وسایلو له لوري ادعاوې هم کېدې، چې گواکې ولسمشر صدام حسین له امریکایي مرکزي استخباراتو سره اړیکه لري!

ولسمشر ډېر وخندل او وې ویل:



"دا ادعاوې ورې نه دي چې غبرگون د پرې وشي. لکه څرنگه چې ټول پوهېږي، مونږ د خپل ولس یوه برخه یو، هغه ولس چې زمونږ په ضمیر او وجدان کې ژوند کوي، زه د پټې مبارزې او فعالیت په فضل له هغه وخته مبارز وم.

خو کله مې چې د گوند پرېکړه پلې کړه او د عبد الکریم قاسم په ویشتلو کې مې ونډه واخیسته، مجبور شوم چې قاهرې ته ولاړ شم او هلته د حقوقو له پوهنځي سره یو ځای شم. که زه له امریکا یا د هغې له سفارت سره په اړیکه کې وای، نو لومړی به هغه دولت رسوا کړی وای چې په کې اوسېدم، او د دې پر ځای چې دښمنان مو له الوتکو او ټانگونو سره راشي او نړۍ زمونږ پر ضد راټوله کړي، دغه گټوره پانګه به یې کارولې وای. که ما له امریکایي استخباراتو سره اړیکه درلودای، نو د عراق-ایران جگړې موده به یې نه اوږدولای، کله چې یې په ۱۹۹۱، ۱۹۹۸ او ۲۰۰۳ م کلونو کې پر مونږ برید وکړ، نو مونږ به یې په سیمه کې د ناروا گټو ملاتړ کړی وای.

"دا د امریکایانو عادت دی، کله چې غواړي یو رهبر یا مشر، ان عادي کسان راوپرځوي، نو دوی کوښښ کوي چې د دوی له استخباراتو سره کار ته یې برابر کړي، بیا مرحله وار څه کارونه پرې وکړي، بیا بې له دې چې پوځیان او الونکې وکاروي، د رسنیو په واسطه د رسوا کولو له لارې یې را پرځوي. نو که مونږ اړیکه ورسره درلودای، نو هغه څه به نه وای شوي چې وشول. مونږ د الله شکر کوو چې له خالق سره به په پاکو لاسونو او رښتیني زړه مخامخ کېږو، او همدا بریا ده."

## موساد د ولسمشر له مدافع وکیل څخه ځواب غواړي

زه په مخکې وخت کې د څېړنو د غونډو په جریان کې او را وروسته، یوازینی مدافع وکیل وم چې له ولسمشر صدام حسین څخه مې د دفاع کمېټه درلوده. د ولسمشر د محاکمه کولو لومړنی ناسته د ۱۹/۱۰/۲۰۰۵ ورځ وه. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷/۱۰/۲۰۰۵ نېټه، له ما او زما له نورو ملګرو څخه چې د نورو زندانيانو وکيلان ول، زمونږ د شخصي ملاتړ د تامين مسئول کيپټن مايکل ماکوي را سره په اړيکه کې شو، چې د (امريکايي اړيکې) دفتر يې هم اداره کاوه، د بغداد تر هوايي ډګره به يې زمونږ حرکت برابراوه، له ولسمشر سره به يې ليدنې او بيا محکمې ته تګ به يې راته چمتو کاوه، همدا راز زمونږ ټول پيغامونه به يې برابرول، له غرمې وروسته دوه بجې د يوې عراقي الأصله امريکايي ژباړنې په واسطه را سره په اړيکه کې شو. سبا اتو بجو ته يې ټاکل شوي ځای ته ور وغوښتم. ما له ولسمشر سره ليدنه ترې غوښتې وه، نو ګومان مې وکړ چې د همدې له امله به يې ور غوښتی يم.

زه به له خپلو اولادونو سره د کور پر چت ويده کېدم. له نيمې شپې لږ ور هاخوا وه، هوا لا ګرمه وه، په ځانګړي ډول په انبار کې او برېښنا هم بيخې نه وه. ناڅاپه د امريکايي ټانګونو او ګاډو اوازونه راغلل، په هوا کې (بلک هاک او اباچي) الوتکې را نږدې کېدې. له پنځوسو مترو ها خوا زمونږ او د ورونو او ترونو پر کور را تاو شول. د کور له چته ور پورته شوم چې وګورم څه کيسه ده، ناڅاپه يې د ټانګونو رڼا را باندې واچوله او لوړ غږونه يې وکړل، چې ژر لرې شم، کنه نو وبه وژل شم او پر کور به بمبار وشي. له ماشومانو مې وغوښتل چې دننه کور ته کښته شو، زه په خپل ځای پاتې شوم او ځار مې کاوه... دې ډېر ځورولم چې په سبا کې مې له ولسمشر سره د ليدو ورځ وه، د بغداد لاره هم بنده وه، نو بايد په اوږده لاره تللی وای، چې د ۹۰ کيلومترو پر ځای مې بايد ۳۰۰ کيلو متره لاره وهلې وای، نو زه بايد سهار په څلور نيم بجې روان شوی وای. خو څنګه مې کولای شوای چې له دې ناوړه پېښې او کړۍ بهر شم، چې څښتنان يې د ښه سخت ځواک له منطق پرته پر بل څه نه پوهېدل. پر دې پوه شوم چې په دې چاپه کې موخه زه نه وم، بلکې کوم جاسوس زما د يوه ورور او د تره د زامنو جاسوسي ورته کړې وه. يرغلګرو د هغو ځېزونو



له غلا کولو وروسته چې پرې توانېدلي وو، يو بوډا سړی او د هغه زامن ونيول. سهار په څلور بجې يې ځواکونه په شا کړل. تر هماغې شېبې پورې مې ځارل. بيا مې د ورونو او تره زامنو د ملاتړو له لوري پر الله توکل وکړ، ځينې هغه کسان مې له دې وېرې په کور کې پرېښودل چې هسې نه جاسوسي يې شوې وي او په بغداد کې يې ونيسي. ګاډی مې ډېر ورو چلاوه، په داسې حال کې چې زه بايد له ډېرو پوستو تېر شوی وای، خو د خلکو د په غصه کولو له امله دوه هاموي ګاډي په مخ کې ورو ورو روان وو. ما هم صبر کاوه، څکه دندې همدا را څخه غوښتل. په دې وخت کې کيپټن ټليفون راته وکړ، ويل يې چې وخت ماسپښين دوولسو بجو ته ځنډېدلی دی. زه حيران شوم، چې ايا له دې وهلې فاصلې وروسته کور ته وګرځم او که بغداد ته ولاړ شم او هلته وېرېدم چې هسې نه مليشې زما ملاتړي وتښتوي يا يې ووژني. يو څه موده ودرېدو، بېرته ورو ورو روان شوو، بيا د عامرېې په سيمه کې امريکايي ځنځيرونو ته نږدې انتظار شوو.

په ټاکلي وخت او ځای کې زما ګاډی د شپږو هاموي امريکايي ګاډو په منځ کې روان و. په هوايي ډګر کې د امريکايانو لويې اډې ته ورسېدو، چې له امريکايانو پرته بل ځوک په کې نه وو. ګاډی مې پرېښود او د ټينګو ساتونکو په منځ کې په امريکايي ګاډي کې سپور شوم. له پنځه څلوېښت دقيقو وروسته، موټر ودرېد، پوه شوم چې د ولسمشر د ليدلو وخت راغلی دی.

دا چې سبا لومړنۍ محاکمه پيلېده، نو ولسمشر يې چمتو کاوه چې ځينې ښې بې پټې شي او بدن يې روغ ښکاره شي، د همدې کارونو له امله ولسمشر د ماسپښين تر دوو بجو پورې را نه غلو.

ولسمشر ډېر په عزت کې زما ښه راغلاست وکړ او په اوږه يې وټکولم، د روغتيا پوښتنه يې را څخه وکړه، د مقاومت کوونکو عراقيانو او هغو کسانو پوښتنه يې هم وکړه چې تر هوايي ډګره را سره را ملګري وو. دا نو د روژې

(c) ketabton.com: The Digital Library



میاشت وه. امریکایانو ماښام اوه بجې روژه ماتی راوړ، خو زه د ملاتړو ډلې ته ډېر خواشینی وم.

اوبه مې وڅښلې او خواړه مې ونه خوړل. مخکې له دې چې ولاړ شم له امریکایانو مې وغوښتل چې ولسمشر ته سر خرېیونکی راولي. څکه سبا ته محاکمه وه او ما غوښتل ولسمشر په داسې حالت کې را څرګند شي، چې ورسره ښايي، د ولسمشر مېرمنې د عُدي مور هم اړیکه را سره نیولې وه، را څخه غوښتې یې وو چې د ولسمشر وېښتانو ته تل پاملرنه وکړم. وروسته یو څو کسان راغلل، ملکي جامې یې په تن وې، لنډې ږیرې یې درلودې. د عادت مخالف یې بوتلم، له وړاندې خبر هم نه وم، وې ویل: له مونږ سره راشه چې له ټولو اړخونو د انځور واخلو، دقیقې معاینې یې وکړې او انځورونه یې واخیستل، سترګې یې هم را معاینه کړې او وزن او جګوالی یې هم وکچل. پر دې اجراءاتو برسېره یې وویل، چې له ما به سل پوښتنې وکړي، زه یې باید ډېر په دقت ځواب کړم. ویل یې چې دا یو عادي کار دی، خو سبا ته محکمې ته د ننوتلو لپاره اړین دی. بیا یې وویل چې شونې ده پوښتنې له سلو واوړي، زه باید ټولې ور ځواب کړم او ټول معلومات ورکړم، د هر شکمن ځواب له امله به مې دوی د محکمې تالار ته ور پرې نه ږدي.

وخت د ماښام اته نیمو بجو ته نږدې وو، خو زه لا تر اوسه خپلو ملګرو ته فکر وړی وم، سره له دې چې پر دوی باوري وم. وسلې ورسره وې، زما شخصي توپانچه او کلاشنکوف هم ورسره ول، چې اویا مرمۍ په کې وې (یو RBK او یو عادي جاغور پکې وو)، د بېړني حالت لپاره مې سرچپه سره تړلي وو، سرې سیمې ته لکه امریکایانو چې نوموله (د عباس ابن فرناس مجسمه) له دننه کېدو مې له ملاتړو سره پرېښي ول. بیا مطلوبې معاینې وشوې، دوی چې د امریکایي استخباراتو کسان وو، بل دفتر ته یې یووړم او دوی له دفتره بهر پاتې شول. دننه زما هرکلي ته یو ژباړن او دوه نور کسان ول، یو یې



لنډی و، په کمزوري انګلیسي ژبه یې خبرې کولې، تقریباً په عبري ته ورته لهجه یې خبرې کولې. ژباړن به د ده او هغه بل کس تر منځ معلومات بدلول. دوی فکر کاوه چې زه وېرېدلی یم، او پوښتنې یې پیل کړې، خو پر ما دې فضاء یو څه اغېز ښندلی و. نوموړی د شارون کس و. ټولو دلایلو دې ته اشاره کوله چې پر عراق په جنګ کې اسرائیلي کړیو هم ګډون درلود. حواس مې د دغه اسرائیلي پوښتنو ته په پام سره د ځواب ورکولو لپاره را ټول کړل، چې زه باوري شوم چې د موساد کس دی، دا هم راته معلومه شوه چې په دې برخه او د ځواب غوښتلو په برخو کې ډېری کسان د موساد دي. پوښتنې یې عادي نه وې، د ډېرو لرې خپلوانو په اړه یې لا کولې، یوه پوښتنه چې د ځواب تر لاسه کولو ډېر کوښښ یې کاوه هغه د ۳۶ ملیارده ډالرو په اړه وه، دوی باور درلود چې ولسمشر صدام حسین یې لري او په بانکونو کې یې په وهمي رصید او نومونو پټ کړي دي.

د شپې لس بجې را ووتم، د امریکایي زندان مشرې ته مې وویل چې په خپل موټر کې مې ورسوي. کسان مې په انتظار وو. نوموړې شپه په بغداد کې لازمي وه، خو چېرته، د دغو وحشیانو په منځ کې. د یوه ملګري د ملګري کور ته ولاړو، یو څه نښې نښانې مو سره پټې کړې. کور یې په داسې ځای کې و چې تل د امریکایي الوتکو غږونه په کې اورېدل کېدل. یو ساعت ویده شوم، سهار مې کسانو د محاکمې د لومړنۍ ناستې لپاره خضراء سیمې ته یووړم.

**د نیواک د وزیرانو لیدنې**

د ۲۰۰۵م کال له پیله را پدېخوا، مې له ولسمشر سره لیدنې زیاتې شوې، د عراق، عراقي ولس او مقاومت او د نیواک په لاس جوړ حکومت په اړه به مو خبرې کولې... لنډ خواږه تفصیلات به یې را کول. په هماغه وخت کې بوازینی مدافع وکیل وم چې لیده کاته مې ورسره کول، یعنې له بهرنۍ نړۍ (له زندانه بهر) سره یې اړیکه زما له لارې وه، ځینې پېښې به مې ورته بیانولې. ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترې وپوښتل چې له ما او سره صلیب پرته بل چا هم ورسره لیدلي دي، ده وويل:

"ځینو را سره ولیدل، ځانونه یې وزیران نومول، خو زه نه پوهېدم چې له زندانه بهر څه روان دي. په لومړي ځل یوه کس را سره وکتل، ویل یې چې د انسان د حقوقو وزیر دی. که څه همداسې ښکارېده چې له ما سره خبرې کول یې خوښول، خو له ما سره یې چلند مناسب نه و. نو ما هم ورته شا کړې وه او ځان مې نه پرې پوهاوه، چې له امله یې ژر منصرف شو". له ولسمشره مې وپوښتل: بختیار امین خو به نه وو؟ ځواب یې را کړ، هو داسې یې ځان را معرفي کړ.

ولسمشر بشپړه کړه: له یاده مې وتلي چې یوه اونۍ او که زیات وخت وروسته، دوه نور کسان راغلل، یو یې ځان زمونږ د کردي ولس ښوود، فکر کوم نوم یې ابراهیم و" پوه شوم او ولسمشر ته مې وويل: برهم صالح خو به نه نومېده؟

ولسمشر وويل: "هو، خو نه پوهېږم د څه وزیر و، بل یوه ویل چې د نقیب له کورنۍ وزیر دی. په جدي ډول چلند یې کاوه، لکه د همدې موخې لپاره چې راغلي وي. ما هم توجه ورته نه کوله، ځان مې نه پرې پوهاوه، دوی هم ولاړل.

"بیا جعفر الموسوي راغی، په ښکاره خو یې ځان خواخوږی را ښوود، خو زه پوهېدم چې دننه او د ناروغ نفس دننه څه په کې ګرځېدل.

د ټولو راغلیو نفسونه ناروغان ول او پر بدو یې امر ورته کاوه، ځینې یې زما د روغتیا پوښتنې ته راغلي ول، دروغ یې ویل هلاک د شي، یا زما د ننګولو لپاره، دوی فکر کاوه چې صدام حسین به پازاب شي. نو ابوعلاء دا څه روان دي؟

په بغداد کې مې ملګرو ته دا موضوع ور وړاندې کړه، یوه راته وويل چې یو وزیر یې د خپلوانو له جملې څخه دی، هغه خبر شوی و چې نیواکګرو او د نیواک د حکومت اداري له وزیرانو غوښتي، چې د ولسمشر لیدنې ته په منظم ډول ورشي او ولسمشر وننګوي او سپکاوی ورته وکړي. ځینو دغه چټله دنده ومنله. خو دغه وزیر، یاده دنده د ولسمشر د بند له امله ونه منله!



# دوولسم څپرکی

## د لېوانو ډیموکراسي

په عراق کې د کمېټې یوازینی دفتر د رمادي په ښار کې و. له ولسمشر څخه د دفاع د قضیې په خاطر زما کور له ښاره بهر و، قبیلې او ټبر زما د امنیت لپاره ملاتړي کسان راکړي وو. زه باید هره ورځ د رمادي ښار ته تللی وای، هلته رسېدل هم ډېر ګران او له سختیو ډک کار و. په ښار له دریو لورو د فرات سیند او د ناظم الورار (چې د سوېل او سوېل ختیځ له لوري د حبانیه په ډنډ کې تویېږي) را چاپېره شوي وو. په را چاپېره شویو ساحو کې نظامي موانع او پوستې وې، چې بریدګرو کوماندو ځواکونو اداره کولې. نوموړي ځواکونه ډېر عقدتي او حساس وو، په مذهبي جګړو هم مشهور وو، او ورسره د امریکایي نیواک ځواکونه وو.

زه مجبور وم چې هره ورځ ښار ته په ځانګړي ډول د کمېټې ځای ته تللی وای، څو له عُمان څخه له مرکزي کمېټې، اتحادیې، محکمې او نورو څخه راغلي لیکونه تر لاسه کړم او باید ځواب یې کړم.

### امریکایي موانع

د ۲۰۰۵م کال د مارچ میاشت وه، د شنبې د ورځې د سهار نهه بجې وې. د رمادي ښار د شمال له لوري پر الجزیره پله مرکزي قره ول ته مخامخ مې موټر چلاوه، یوه امریکایي عسکر ودرولم، اشاره یې راته وکړه چې کښته شم، څو ما او موټر وپلټي. په دې وخت کې د دننې بریدګرو له ډلې یو کس راغی او ډېر په دقت یې تلاشي کړم، پېژند پاڼه یې را څخه وغوښته. سره له دې چې تر هماغې شپې پورې مې له رسنیو سره څه فعالیت نه وو کړی، خو ډېر په ځیر ځیر یې راته کتل. کله چې یې زما په پاسپورټ کې ولیدل چې د سوریې او اُردن څمکو ته ننوتی یم، نو را څخه ویې غوښتل چې د ځان په اړه ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وواېم. ما هم يوازې د امريكايي افسر په مخكې خبرې ومنلې، كه داسې نه واى، نو بيا زه په خپل مسير پوهېدم.

د امريكايي افسر دفتر ته يې دننه كړم، د معاينې پر آله د كښېناستلو يې راته وويل. بيا يې پوښتنه را څخه وكړه، چې زه څوك يم. نو ما هم په ځواب كې ورته وويل: چې تر هغه به خبره ونه كړم، چې دغه داخليان (خپل وطني نظاميان) ونه وځي. امريكايي افسر له دوى څخه وغوښتل چې ووځي، له يوه د جګړنې رتبې لرونكي افسر پرته نور ووتل، داسې ښكارېدل چې ياد شوي افسر زه ډېر پېژندلم. ما وغوښتل چې هغه هم ووځي، يوه امريكايي پوځي زورور غبر پرې وكړ او افسر په وېره ووت.

هغه پېژندپانه مې ور ښكاره كړه، چې ما نه غوښتل داخليان په ځانګړي ډول د بدر كنډك پرې خبر شي. سملاسي، له هغه امريكايي مشر سره په اړيكه كې شو چې زه يې ورغوښتى وم، هغه هم زه ژر ور وغوښتم او د ښه چلند توصيه يې ورته وكړه. سترګې يې را وتړلې او په هاموي ګاډي كې يې د امريكايي مشر په لوري بوتلم.

د نوموړي مشر له كوټې سره په څنګ كوټه كې انتظار وم، سترګې مې تړلې وې، كېداى شي د هغه جاسوس په اړه يې را تړلې وې، چې د مقاومت په اړه يې دوى ته معلومات وركول، پر دې هغه وخت پوه شوم، كله چې نوموړى جاسوس د امريكايي مشر له دفتره ووت. او سترګې يې را لوڅې كړې، لاسپوڅي مې له دفتره بهر وليد.

امريكايي مشر هركلي راته ووايه، هغه سند يې را څخه وغوښت چې دا ثابته كړي، چې زه له ولسمشر څخه د دفاع د كمېټې رئيس خليل دليمي يم. داسې يو سند هم ما نه را سره ګرځاوه، ما ورته وويل چې يا دې د وكيلانو له اتحاديې سره اړيكه ونيسي، يا دې د هغه زندان له مشر سره په اړيكه كې شي چې ولسمشر په كې بندي دى او يا دې له امريكايي سفير سره اړيكه ټينګه كړي.



دا چې وخت د مازديګر څلورو بجو ته رسېدلى و، اتحاديه هم رخصت شوې وه، نو ده له امريكايي سفير سره اړيكه ونيوله، هغه زما د خبرو تاييد وكړ، امريكايي مشر عذرونه كول او ويې غوښتل چې ډوډۍ ورسره وخورم، ما ښېښنه وغوښته، دا چې د څېړنو وخت پاى ته رسېدلى و، نو له يوه افسره يې وغوښتل چې هغه ځاى ته مې بېرته ورسوي چې ورنه راغلى وم، ما ورسره ونه منله، خلكو ته به مې څه ويل چې له امريكايانو سره مې وګوري، كه څه هم ډېرى زما پر دنده خبر نه وو، خو ما له دوى ښېښنه غوښته چې تر هغه ځايه د ما نه رسوي.

## د ولسمشر لاسي ساعت

په يوه ليدنه كې ولسمشر را څخه وغوښتل چې له كورنۍ سره يې په اړيكه كې شم، څو ژمنۍ جامې ورته راولېږي. كورنۍ يې جامې، لمريزې عينكې، لاسي ساعت او درې قوطيه سګرېټ ورته رالېږلي وو. د كولونيل ستيل له پلټنې وروسته ما ولسمشر ته ور كړل. ولسمشر مننه را څخه وكړه، او د زندان د رئيس او د الكترونيكي څارنې د ډلې په مخ كې يې مخكينى ساعت راكړ او له ما يې وغوښتل چې اصلاح يې كړم او بېرته يې ده ته وركړم. خضراء سيمې ته راغلم، سبا ته محكمې ته د حاضرېدو لپاره زه او زما ملګري د ولسمشرۍ په يوه ماڼۍ كې پاتې شوو. ساعت مې وكوت، ولاړ و، وروسته له دې چې په روغېدلو يې ډاډه شوم، نو په سبانۍ ناسته كې مې ولسمشر ته وركړ. دلته هغه امريكايي لوري دخالت وكړ، چې ليدنه يې الكترونيكي څار څارله، د مارشال (امريكايي نظامي عسكرو) له برخې يو افسر راغى، ملكي جامې يې په تن وې، اوږد سړى وو، دى او په محكمه كې د مارشال نور ځواكونه له عراقيانو او ختيځ والو سره ډېر ورته ول. داسې ښكارېده چې په همدې اساس غوره شوي دي، څو په محكمه كې د كېمرو په مخ كې داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاره شي چې ګواکي عراقيان دي، کېدای شي نړۍ ته يې دا ويل چې محکمه د عراقيانو له لوري اداره کېده او امريکايانو دخالت نه په کې کاوه.

افسر ته مې وويل چې کولی شي د زندان له مشره ځان ډاډه کړي، چې ما دغه ساعت له ولسمشر څخه اخيستی دی. بيا مې د ساعت کيسه ورته وکړه، او ورته ومې ويل چې زه خضراء سيمې ته ننوتی يم، ښه په دقت تلاشي شوی يم، پر دې برسېره په دريو قره ولونو کې هم تلاشي شوم، په ټولو ځايونو کې ساعت را سره و، په داسې حالت کې چې په داسې ځايونو کې د داسې ساعتونو ګرځول نا شوني دي. نو قناعت يې وکړ او ويې غوښتل چې ولسمشر ته به هر شی د دوی په موافقه ورکوم.

افسر ساعت واخيست، داسې ښکارېده چې قاضيانو ته يې ورکړی و، هغوی د امريکايي استخباراتو کوم افسر ته ورکړی و.

د محاکمې په سبا ورځ، يو مشاور راته راغی او له ما سره يې يوازې خبرې کول وغوښتل. د محکمې د اپارتمان دننه يو څو قدمه سره مخکې لاړو، راته وې ويل: استاذ خليله، زه بيخي ډېر درناوی درته لرم، که څه هم ته له ما وېرېږي خو زه ستا زيات غمخور يم، چې څه ضرر درته ونه رسېږي، نو استاذ خليله، تا ته به مصيبت پېښ شي، ما ورته ويل، ولې؟ ده وويل: تا چې کوم ساعت صدام ته ورکړی و، د هغه په منځ کې ثبتوونکي آله وه، ته خو پوهېږې چې دا کار ستا په دنده کې ستونزې را ولاړوي. ما ورته وويل: ساعت له تا سره دی که تهران ته د ثبتوونکې آلې د ابښودلو لپاره وړل شوی دی، زه به ګواښ ته سر ټيټ نه کړم.

دی مې پرېښود او کيپټن (مايکل ماکوي) مې خبر کړ، هغه به ويل، څوک چې څارنوالانو ته زيان رسوي، نو زه به يې سر ترې غوڅ کړم. ساعت يې راوړ... دا زما د څورولو يوه وړه نمونه وه.



## بندي ولسمشر سره يې څنګه معامله وکړه

بندي ولسمشر
ډيور کيبل ولسي محکمې يو بيان صادر کړ، د هغو څارنوالانو په ترور پورې اړوند درلود چې د صدام حسين له محاکمې سره يې اړيکه درلوده. په اړوند درلود چې خميس العبيدي، سعدون الجنابي، عادل الزبيدي وو او د ثامر الخزاعي د ترور هڅه وه. په بيان کې هغه مخالفتونه هم راغلي وو چې د محکمې په تمثيل کې د ولسمشر صدام حسين پر ضد شوي وو. د بيان يوه برخه داسې وه:

پر موږ لازمه ده چې دا ثابته کړو، چې ښاغلی صدام حسين د جنګ بندي دی، څکه هغه د متحده ايالاتو پر ضد په جګړه کې د ټولو عراقي وسله والو ځواکونو مشري کوله. نو د جنګ د بندي په څېر دی، له هغو حقونو ګټه پورته کولای شي چې په ۱۹۴۹م کال کې د جنيف په تړون کې او وروسته د جنيف له تړون سره په لومړني تړل شوي پروتوکول کې ليکل شوي دي. د جنګ د بنديانو په منع کولو پورې اړوند د انساني قانون له ټولو پېژندل شويو حقونو څخه برخمن کېدای شي. د ښاغلي حسين د منع کولو په قضيه کې مهمه کتنه داده، چې د ده دوامداره منع کول د يوه بندي په څېر د جنيف د تړون له ۲۲ فقرې سره په ټکر کې دي، په هغې کې د بنديانو منع کول او ګوښه کول يوازې په يوه حالت کې جواز لري، هغه دا چې د جنګ د بنديانو په ګټه وي. داسې ښکاري چې د ښاغلي حسين منع کول او ګوښه کول د تړون له ۲۲ بند سره په څرګند ډول په ټکر کې دي. بر سېره پر دې، که د تړون د ۲۵-۲۶-۲۷ بندونو حقوق تر پښو لاندې شوي وي، چې په نورو شروطو پورې اړه لري، نو موږ بې پوښتنه کوو. د دې په رڼا کې، موږ د زندانونو له مسئولينو څخه غواړو چې د نړيوال سور صليب کمېټې او نورو تمثيلوونکو کمېټو او هيئتونو ته اجازه ورکړي، څو وګوري چې په زندان کې ټول لازمي شروط برابر دي. همدا راز

په څرگنده ښکاري، چې متحده‌ایالات پر هغه زندان په بشپړ ډول واکمنان دي چې ښاغلی حسین په کې اوسېږي."

د بروکسېل د محکمې په ادرس خپور شوي بیان د هغو مخالفتونو څېړنه کوله چې د ولسمشر صدام حسین په حق کې شوي وو. په دې وینا پای ته رسېدلې وو: "هیله کوو، کوم قواعد چې د صدام حسین په محاکمه کې یې برابرول لازمي وو ، پر هغو د تېري کولو پر ضد مو غږونه اوچت کړئ."

نو څکه د جنیف له تړونونو سره سم، ولسمشر د جنگ بندي بلل کېده. امریکایانو هم د ده د نیولو په وخت کې دا اعلان کړی و. خو د دې تړونونو مطابق له نیول کېدو وروسته له ولسمشر صدام حسین سره څنگه معامله او چلند شوی؟

**دا پوښتنه مې له ولسمشر څخه وکړه، هغه راته وویل:**

"ښاغلیه زه ډېر حیران یم، چې دوی څنگه له ډیموکراسۍ او د انسان له حقوقو غږېږي. ستا تر لومړۍ لیدنې مخکې یې له ما سره زیات بد چلن کاوه. په لومړۍ ورځ مې لا و رته وویل، چې پر عراق د غیر قانوني جنگ له امله به په سیمه کې گډوډي جوړه کړی او د "ترهگرو" نوي نسلونه به را منځته شي. ما ته یې زیات شدید عذاب راکړ، ډېر بد یې ووهلم، پر بدن مې تناکې را وختې، د بدن څینو برخو په ځانگړي ډول لینگي مې زیاتې ضربې لیدلې وې، ماتېدو ته نږدې ول. څینې له شپږ میاشتې استراحت وروسته او څینې له درې میاشتې استراحت وروسته ښه شول. دوی سخت وحشیان دي، له انسانیت سره هېڅ اړیکه نه لري. په بېلو لارو یې څورولم او غوښتل یې چې نفسي مې وڅوروي، خو دا چې پر الله باندې مې د ایمان او توکل څواک ډېر و، نو بې حده زیات صبر یې را وباښه.

"زما وېښته او ږیره لوی شوي وو، کله چې بندي شوی یم، دوی یو ځل په چاړه باندې زما وېښتان وخرېیل، مخ او غاړې مې حساسیت ورسره پیدا کړ. د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ږیرې د کمولو لپاره مې بیاتې ترې وغوښتله، خو دوی نه منله، څه موده وروسته راغلل، راته وې ویل: چې دوی موافق دي، خو که یې مراجع ومني. خبره له یوې میاشتې زیاته کښته او پورته شوه. خو په پایله کې "مراجعو" هم زما غوښتنه ونه منله. دوی وېرېدل چې ځان به پرې حلال کړم، خو که ما داسې کار کولای، نو مخکې به مې کړی وای. ما ورته وویل زمونږ لوی دین دغسې کار منع کړی دی، او بیا صدام داسې څوک نه دی چې ځان وژنه د وکړي. یو ځلې مې بیاتې ترې وغوښته او ورته ومې ویل چې که زما پر ژوند دارېږئ، نو یو ساتونکی دې نږدې را سره ودرېږي. خو دوی څوروونکې معامله راسره کوله، کله به مې چې څه ترې غوښتل، نو پلي کولو به یې اوږده موده نیوله.

"خو ستا له لومړۍ لیدنې وروسته د دوی چلند بدل شو، استاذ خلیله کله چې تا په رسنیو کې د رسوا کولو گواښ ورته وکړ، نو چلند یې سم شو. دوی نه غواړي چې نړۍ د د ناوړه او کرکجن مخ په حقیقت پوه شي. بیا به یې له ما سره ښه چلند کاوه، کله چې تا ورته ویلي وو، چې زما وېښتان او ږیره دې ستا په شتون کې را وخرېیي. نو له هغه وروسته به یې هر وخت خرېیونکی را ورست. یو ځل مې له یوه افسر سره ټوکه وکړه او ورته ومې ویل: ولې بیاتي له ما سره نه پرېږدې چې ځان پرې اصلاح کړم. ژمنه کوم چې ځان وژنه نه کوم. که وېرېږې چې زه به ستاسو پوځي پرې ووهم، نو دا ناسم فکر دی، ځکه زه بندي رهبر او ولسمشر یم، یواځې په یوه حالت کې لاس اچوم، هغه دا چې له بوش سره مخامخ شم. هغه بیا نه پرېږدم، نو په هماغه وخت کې تاسې باید پام وکړی، ځکه زه یې وهم، هغه زما دښمن دی. بیا مې ورته وویل: پرېږدی یې چې راشي، مه پرې وېرېږی.

"د کمود کارول هم څورونکي وو. له قصده یې حمام ډکاوه، دوی غوښتل چې زما عبادت ناقص او بې اودسه شي، پر دې برسېره حمام دروازه هم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلوده، ساتونکی به راته ولاړ و، پر حمام پرده هم ځوړنده نه وه. دا د دوی تمدن دی، دا د دوی ډیموکراسي او انسانیت دی، دوی په همدې سپېړمې شخې نیولې چې عراق ته یې راوړی دی. دوی به هڅه کوله چې له بېلو لارو مې وځوروي.

"د خوړو په اړه به ووایم چې زه وږی نه یم. د نیولو په لومړیو کې یې په ناوړه لاره خواړه راوړل، نو ما به نه خوړل. بیا چې به یې راوړل ویل به یې چې دا د امریکایي پوځ خواړه دي، ته ورسره عادت نه یې. د روژې په میاشت کې مې ډېره ستونزه ورسره درلوده، په پېشلمي کې به یې خواړه ناوخته کول، ان د پېشلمي وخت به پای ته رسېدلی و، دوی غوښتل چې روژې خوړلو ته مې مجبور کړي، په روژه ماتي کې به یې هم په همدې غرض ناوخته کول. دا چې مونږ د کجورو هېواد یو، کجورې به یې راته نه راوړې. د مسلمان دا عادت وي چې د کجورې په خوړلو روژه ماتوي.

"تا د مجلو پوښتنه وکړه چې که راته رسېدلې وي یا مې خبرونه اورېدلي وي. زه خبر نه یم چې بهر څه تېرېږي، ځکه زه له ټولې نړۍ ګوښه شوی یم. قصداً یې د رسنۍ ټول وسایل را څخه منع کړي وو. تاسې فکر وکړی، ځوک به دا ومني چې امریکا له صدام څخه د راډیو، تلوېزیون او مجلو مخنیوی کوي؟

له نیول کېدو څخه کمه موده وروسته مې له ځینو ساتونکو سره اړیکې په ښه کېدو شوې، ورځ په ورځ به راته نږدې کېدل او د ډېرو چارو په اړه به یې پوښتنې را څخه کولې. دا مې ومونډله چې دوی کارکوونکي دي، سیاسیون نه دي. کله به مې چې د هېواد او ولس په اړه خبرې ورسره کولې، په مخونو کې به یې د حیرانۍ نښې نښانې ښکارېدې، دا ځکه چې دوی د سیاسي چارواکو له لوري تېر ایستل شوي وو. یو ځل خو لا یوه راته وویل، چې بوش غولولي دي، هغه دروغجن دی. کله به چې زما او دوی تر منځ اړیکې ځواکمنې او په پخېدو شوې، نو چارواکو به دوی ژر ژر بدل کړل. او زما د



ساتنې لپاره به بله نوې ډله راغله، ما به ورته ویل چې زه د امریکا له ولس سره دښمني نه لرم، زما دښمني د امریکا له حکومت سره ده. او یوه ورځ به د حقیقت ویلو لپاره د نوموړي حکومت یو غړی هم را وځي. "په یاد مې دي، یوه ورځ یې د نور بحیرې ته نږدې وایستم. ناڅاپه د مقاومت د اتلانو له لوري راتوغول شوی راکټ د بحیرې په لوري راغی. ساتونکي ډېر په بېړه راغلل او پر ما د وېرې له امله یې دننه یووړم، خو زه په دې راکټ ډېر خوښ وم. ما ورته وویل، زما له ولس څخه پر ما مه وېرېږئ. دوی د خپلو مشرانو د امرونو پیروي کوي. کله نا کله به مو خبرې سره اړولې را اړولې، دوی به د خپل حکومت دروغو او کارونو ته په غصه وو. دوی به څرګندوله چې د عراق له یرغل او د ملګرو له وژلو څخه خوښ نه دي. خپلو هېوادونو او کورنیو ته به یې ډېر زړه کېده...

"په بله ورځ، زه ستا لیدو ته در روان وم. دوی راته وویل چې که ترهګریز برید در باندې وشي، نو مونږ به په خپلو سرونو او ځانونو له تا څخه ساتنه وکړو. ما بیا هم ورته وویل، زما له ولس څخه پر ما مه وېرېږئ. ما ورته وویل، کله چې عراق ازاد شي او تاسې خپل هېواد امریکا ته ګرځئ او عراق ته بیا ژوند را وګرځي، نو زه به مو لیدنې ته را وغواړم. دوی ډېر خوشاله شول او ژمنه یې وکړه چې بلنه به مني...

کله چې به د کوم لامل له کبله ما خواړه نه خوړل، نو دوی به هڅه کوله چې خواړه را باندې وخوري. کله به چې نا توانه شول، نو ویل به یې چې وکیل به دې را وغواړو، ته یې ښوولې، یواځې هغه تا قانع کولای شي. او کله به چې نه راتللې، نو له تا څخه به یې غوښتل چې ما قانع کړې.

"ځینو به امضاء را څخه غوښته او ورسره ساتله به یې، ځینې مې ولیدل چې به ګرځنده ټیلیفونونو کې یې زما انځورونه ساتلي وو. یوه ورځ یو امریکایي افسر راغی، هغه کس چې له تا یې غوښتي وو، چې د امریکایي ځواکونو مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وواييې چې دى د له دې ځايه نه بدلوي. ډېره مينه يې را سره کوله، په رښتيا يې زما خدمت کاوه. افسر راغى او سترګې يې له اوښکو ډکې وې، وويل يې چې دوى يې بل ځاى ته لېږدوي. او ويل يې: زه نه غواړم چې له تا څخه لرې و اوسم. کله چې يې د لېږد پرېکړه وشوه، ما ته راغى او ټينګه غاړه يې راکړه، په زوره زوره يې ژړل، سلګۍ يې وهلې، ان پر ما يې لا اغېزه وکړه.

همداسې چې کله به له کومو ساتونکو سره زما اړيکه پخه شوه، دوى به بدل کړل. د ساتونکو اخيرنۍ ډله چې راغله هغوى بد خلک وو، مزاحمت به يې کاوه، لکه په زوره موسيقي چالانول، اتڼ او بازي د خسته کُنو غږونو چالانول او د پښو په واسطه به يې پر ځمکه درب او دروب جوړ کړى و. خو دغو ټولو زما پام نه ور اړاوه او نه يې زما عزم را کمزورى کاوه. نن چې دغې ليدنې ته په لاره کې نظامي ګاډي ته پورته کېدم، زما او د ګاډي چلوونکي او افسر تر منځ يې موانع کېښودل، په ځولنو هم تړلى وم، دا کار يې ځکه وکړ چې په لاره کې برید را باندې ونه شي، چې بيا به وتښتم... وګورئ دوى څومره د وېرې او نفسي کمزورى په حالت کې دي... د دغو لنډو لېږدونو په ترڅ کې به مې هغه نورې او د کجورو ونې ليدلې، چې ما يې د کرلو مسئوليت درلود او بيا به مې خپله اوبولې، خو اوس مې وچې او خُشکې وليدلې. ډېره اغېزه يې را باندې وکړه، په اړه يې ما ځينې دردوونکي بيتونه هم وويل.

"پر دې مصروفيت (د شعر په ويلو) د بوختېدلو دليل يوازېتوب و، ځکه هېڅوک هم نه وو چې خبرې مو ورسره کړې واى او راز او نياز مو کړاى واى. ومې مونډله چې يوازې شعر زمونږ له وجدانه تعبير کوي.

## له خوړو څخه ډډه کول

"د خميس العبيدي له شهادت وروسته (۲۱/۶/۲۰۰۶) چې کله ما خواړه نه خوړل، نو دوه امريکايان راته راغلل، يو يې جنرال و، له ما يې وغوښتل چې خواړه وخورم. بيا يې راته وويل چې د رهبرى غړي د جولاى په اتمه اعتصاب



کوي. ما ورته وويل، داسې پيغام راته راوړى چې ستاسو خبره تاييد کړي، نو د طارق عزيز پيغام يې راته راوړ.

ما هم پرېکړه وکړه چې له ملګرو سره يو ځاى اعتصاب وکړم، د اعتصاب له لومړنۍ ورځې تر دېرشمې پورې مې له يوې قصيدې ډېر څه ووليکل... امريکايانو به سهار او ماښام زما روغتيايي حالت څاره. په روغتون کې يې ځينې معاينې هم راته وکړې، د رګونو او پوزې له لارې يې تغذيه راکړه. په لومړنۍ اعتصاب کې په يوويشتمه ورځ افسر راته وويل چې زما روغتيا ته په تشويش کې دى. دى زما تر څنګ ولاړ و، زما په کوټه کې يو د اوسپنې صندوق و، چې زما شخصي اړتياوې په کې وې او ډېر دروند هم و. صندوق مې له خپله ځايه را پورته کړ او پورته مې جګ کړ، افسر ډېر راته حيران شو. امريکايان ډېر حيران وو، ځکه له هومره مودې اعتصاب سره سره صدام حسين بيا هم خاندي، شعر ليکي او په طبيعي ډول ژوند کوي.

"له لومړنۍ ليدنې وروسته يې له ماسره چلند ښه شو. بايسکل يې هم راته راوړ، هره ورځ به مې لس يا پنځلس کيلومتره کاراوه. الحمد الله، زما روغتيا بېخي ښه وه. ن زما د کوټې د تودوخې او رطوبت درجه يې دوه ځله په ورځ کې برابروله او احياناً هره ورځ به يې دوه ځله معاينه کولم، چې بيا وروسته ما ورسره نه منله. که په انصاف سره ووايو، نو زما روغتيايي حالت ته يې زياته توجه وه. زه به چې په زندان کې يوازې شوم، نو طبي تعليمات را باندې لازم وو. ډاکټر راته وويل چې د پروټيسټاټو معاينه به دې وکړو، خو ما قناعت درلود چې ښه (روغ او جوړ) يم، د دوى خبره مې هم نه ورسره منله، په ټوکه مې ورته وويل، که زما ولس غواړي، نو بل واده به هم وکړم.

"د خميس العبيدي له شهادت وروسته ما ورته وويل چې تر هغه به اعتصاب کوم، څو چې يې له جنايت کارانو څخه کسات نه وي اخيستى، امريکايان به

(c) ketabton.com: The Digital Library



له وکیلانو څخه ملاتړ کوي او د امریکایانو له لوري زما د غوښتنې د منل کېدلو خبر به استاذ خلیل یا د هغه وکیل را رسوي."

## ولسمشر د خپلو دوو زامنو او لمسي د شهادت خبر واورېد

ولسمشر د اخرین ځل لپاره له خپل زوی قُصي سره د ۱۱/۴/۲۰۰۳ په نېټه ولیدل او د ولسمشر لا تر هماغه وخته نظامي جامې په تن وې، دواړو له بغداده د وتلو او په خپل منځ کې د ملاتړو کسانو د وېشلو پرېکړه وکړه. وروسته یې بیا تصادفي د رمادي ښار په سوېل غرب کې د یوې مهمې عراقي کورنۍ په مېلمستون کې سره ولیدل. خو د دغه کور له بمبارولو وروسته، هر څوک په خپله مخه ولاړل. د ولسمشر صدام حسین د خاپوړو په ځای تکریت کې ولسمشر ته ځینو خپلوانو مشوره ورکړه چې له زامنو سره دې په یوه ځای کې نه یو ځای کېږي، څو د نېواک د ځواکونو ښکار نه شي. په هغو کې ستر جنرال ماهر عبد الرشید ډېر نږدې خپلوان و، چې د ولسمشر په هره تېروتنه به یې انتقاد کاوه. په بشپړه زړورتیا یې خپل نظر څرګنداوه، په ځانګړي ډول قُصی د هغه مشر اوښی و، د جګړو ډګرونه یې هم لیدلي ول، عراقیانو مینه ورسره درلوده او بیا دغه مینه او اخلاص یې د هغه له زوی عبدالله سره هم کاوه.

د ولسمشر زامنو عوجې ناحیې ته مخه کړه. کله چې د عُدي شپه د یوه خپلوان په کور کې وه، نو د کور په بله کوټه کې یې د چاودنو غږونه اورېدلي وو، نو ورته څرګنده شوې وه چې څه خیانت شوی دی، ده او سکه ورور قُصي یې پرېکړه وکړه چې د صلاح الدین له ولایت څخه ووځي، د لسمشر شخصي سکرتر هم ورسره و. د ولسمشر له لوري یې له دوی سره د پاتې کېدو پرېکړه شوې وه. ټولو د سوریې د پولو په لوري مخه کړه او د عراق د مخلصو قبیلو د مشرانو په واسطه پولو ته نږدې کلیو ته په تېرېدو بریالي شول.



د جنګ لمبو دا ټوله سیمه ګواښله، له هر لوري د باروتو او مرګونو بوی پورته کېده. د واشنګټن، ډیک چیني، رامسفیلډ، پول او ولفوویټز عینکو هم د سوریې لوري ته مخه کړې وه، د بغداد له سقوط وروسته یې هغه د بحري ځواکونو په لاسونو کې بندي ګڼله.

سوریې ډېره هڅه کوله چې په هر ډول وي، خو له دې شر څخه ځان، خپل ولس او سیمه وساتي. کله چې سوري چارواکي د ولسمشر د زامنو او عبد حمود په ورتللو خبر شول، نو قُصي او عبد حمود ته یې ښه راغلاست ووایه، خو له عُدي څخه یې وغوښتل چې د سوریې ځمکې پرېږدي، هر لوري ته چې خوښه وي، مخه د کړي، لامل یې دا وه چې قُصي او ملګري یې پټولای شوای، ځکه د هغه شخصیت یې پېژندلی و. خو د عُدي ډېر عراقي دښمنان سوریې ته ننوتي وو، نو دا له هغو او د عُدي له خپلوانو څخه پر دوی وېرېده، ځکه د دوی تر منځ دښمني وې. بر سېره پر دې امریکا به هم په عُدي خبر وي چې په سوریه کې دی، نو سوریه به د دې کار له امله ګرانه بیه ورکړي. خو قُصي د ورور بېلتون نه مانه، درې واړه عراق ته را ستانه شول، دا چې قُصي د موصل له خلکو سره ښې اړیکې درلودې، نو په موصل کې د پاتې کېدا پرېکړه یې وکړه. خو کله چې درې واړه پولې ته ورسېدل، نو عبد حمود د بېرته ګرځېدا پرېکړه وکړه، عُدي او قُصي یې خپلې پرېکړې ته پرېښودل. أخوان او مصطفی بن قصي د تل لپاره د یو شخص کور غوره کړ، نو بیا لعنتي غداري او خیانت وشو.

## د غدارۍ او خیانت کیسه

عیني شاهد چې د ولسمشر صدام حسین نږدې کس و او د ولسمشر ډېر درناوی به یې کاوه، همدا راز له قُصي سره یې ټینګه اړیکه درلوده، هغه د عُدي، قُصي او مصطفی د شهادت کیسه په تفصیل سره داسې بیانوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د ۵/۴/۲۰۰۳ ورځ د ولسمشر صدام حسين د وړې لور حلا، مېړه ښاغلی جمال مصطفی را سره ملګری شو، زه او زوی مې د أم البطول له جامع مسجد سره نږدې د کرفان په لوري وو، چې له "قُصي" سره مو ولیدل، کمال مصطفی، سکرتر او دوه افسران هم ورسره وو. پرېکړه مو په دې وکړه چې زه به زوی ورسره پرېږدم، چې که یې وغوښتل له کورنیو سره تاکل شوي ځای ته راشي، پر دې ولسمشر صدام حسين هم پوه و. له دوو میاشتو وروسته، نا څاپه خبر شوم چې قصي او عدي، چې فلانی او فلانی د فلاني زامن او د دوی د خور هغه فلانی زوی نواف الزیدان ته ورغلي وو، چې بیا د دوی د خور هغه فلاني زوی له نواف سره د قصي او عدي مالونه وتښتول. ډېر زيات مال و، د سرو زرو بکسونه هم ورسره وو. خو هلته یو کس و، دغه مالونه او تښتېدونکي یې خارل، دوه کسان یعنې نواف الزیدان او د عدي او قصي یو ملګری یې لیدلي وو چې د هغه کور له دېواله اوښتل، چې جریمه په کې وشوه، دېوال به یو نیم متر لوړ و، دواړو د کور د دېوال شاته درې بکسونه لاهو کړل چې له پیسو او سرو زرو ډک وو، او دوی پسې ور واوښتل، دا د یوې ورځې په سهار وختي کې وو. بیا دواړه په هغه یوه موټر کې سپاره شول چې دوی ته په انتظار و. له څه وخت وروسته اصلي تورن نواف کور ته یوازې راغی... دا هر څه د امریکایانو له راتلو مخکې وو.

د راتلونکې شپې له نیمایي وروسته، اصلي تورن نواف او ورور یې په هماغه وخت کې په موصل کې د امریکایي ځواکونو مشر ډیویډ پټریوس ته ورغلل، هغه یې خبر کړی و، چې "عُدي او قُصي" د ده په کور کې دي. د پټریوس په دفتر کې د موصل یو مشر و، چې پټریوس ته ډېر نږدې و او د شپې به هم ورسره و. هماغه شخص (د نوم له ښودلو یې ښښنه غواړو) همدا کیسه یوه بل مشر ته کړې وه.



د ځای د معلومولو په موخه ټول په ملکي موټرو کې ووتل. پټریوس یو نیم ساعت وروسته بېرته یوازې راغی او له مېلمه یې ښښنه وغوښته، هغه مېلمه هم بیا وروسته د مقاومت د اتلانو په لاس ووژل شو.

وروسته، پټریوس د هاموي ګاډو او ټانګونو له کاروان سره بهر شو، اصلي تورن نواف یې په مخ کې و. کله چې یې کور ته ورسېدل، نواف کور ته ولاړ، "عُدي او قُصي" ویده وو. او امریکایانو ته د (هوکې) د حالت د اشاره کولو لپاره راووت، بیا له خپل زوی (ش) سره ولاړ او په یوه هاموي موټر کې سپاره شول، کور یې امریکایانو ته پرېښود، هغوی ته یې اجازه ورکړې وه چې څه یې زړه وي هغه د پکې وکړي.

عیني شاهد (ص) وایي: زما ټلیفون زنګ وواهه، زنګ وهونکی د پېښې د کور یو بل ګاونډی و، له ما یې وغوښتل چې (عُدي، قُصي او مصطفی) وژغورم. زه او یوه ډله سړي ورغلو، خو جګړه پیل شوې وه، وا مې ورېدل امریکایانو، عُدي، قُصي او مصطفی ته نارې ور وهلې چې د خپلې سلامتیا لپاره باید هرو مرو تسلیم شي. خو قُصي به له کړکۍ څخه د (آر، پي، جي ۷) او بلې وسلې په خوله ځواب ورکاوه. عُدي له بلې کړکۍ په سنېفر جنګ ورسره کاوه. او مصطفی بیا د کور له بامه مرمۍ پرې پیرولې. کور د ۲۰ زغره والو، ۲۰ ځنځیري او ۲۰ هاموي ټانګونو له خوا کلابند شوی و. بیا د امریکایانو د ملاتړ لپاره د پېشمرګې ځواکونه هم راغلل، د ژغورلو هېڅ چانس یې نه و. او وامو ورېدل چې ۱۳ امریکایان یې وژلي دي.

کله چې دریځ کلک شو، امریکایي ځواکونو ګازي راکټونه پرې پیر کړل او کور یې والوزاوه...

ما نه غوښتل چې نوي زخمونه را وسپړم، خو د ولسمشر صدام حسين او عراق زخمونه رغېدلي نه وو او نه به تر هغه ورغېږي څو چې عراق د نیواک او غلامانو له تېرې ازاد شوی نه وي... زه باوري وم چې ولسمشر له هر ټپ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواکمن دی او یوازینی تېپ یې په زړه کې د عراق تېپ دی. همدې باور وهڅولم چې له ولسمشر څخه وپوښتم چې د خپلو زامنو او لمسي خبر د څنگه واورېده، ده راته وویل:

"کله مو چې پټ فعالیت ته مخه کړه، لکه په ۱۹۵۹ کال کې چې مو داسې کړي وو، نو ما به د عراقیانو دروازې ور ټکولې او په کورونو کې به مې ورسره کتل... یعني کلونه له ولس سره بوخت وم، که زما له شخصي ملاتړ پرته ولس زما ملاتړ نه وای کړی، نو مانا به یې دا وه چې په ما کې به تشه وه او څه به مې نه وي ورته کړي."

"د ۲۰۰۳م کال د جولای د میاشتې په یوه ورځ کې زه د یوه عراقي په کور کې وم، ښه پالنه یې را څخه کوله، خو په مخ کې یې حیراني او گډوډي راته ښکاره شوه. ما ته یې وویل: ښاغلیه، زه په دوه کې لوېدلی یم چې خبر د کړم او که نه... ما ورته وویل: په دوه کې مه لوېږه. ده وویل: عُدي خپل عمر تا ته در وباښه. ما موسکا وکړه او ورته ومې ویل: الحمد لله. بیا یې پسې کړه: همدا راز قُصي هم در وباښه. ما ورته وویل: الحمد لله. بیا یې راته وویل: ښاغلیه، مصطفی هم شهید شوی دی. ما ورته وویل: الحمد لله، حمد او ثنا ټوله د هغه ذات لپاره ده چې زه یې په داسې اتلانو عزتمن کړم چې د هېواد په لاره کې شهیدان شول او خیانت یې ونه کړ، نه یې چانې ووهلې. په تقدیر او قضاء د الله حمد وایم. دوی د عراق بچیان وو، حالت یې داسې دی لکه د عراق په لاره کې چې شهیدان شوي وي.

"له دې وړاندې، ځینو نظامي مشرانو، خپلوانو او ځینو عراقیانو راته ویلي وو، چې عدي او قصي د یو ځای نه اوسي، چې په یوه ځای یې له لاسه ورنه کړم. ما همالته هم ورته ویلي وو، الله سبحانه وتعالی چې زمونږ لپاره څه غواړي، هغه مونږ ټولو ته ښه ده، د عراق لپاره فدایان او ساتونکي دي. زه مې زامن او



لمسی له الله سره د عراق په لاره کې فدایان گڼم. تر وروستی شېبې وجنگېدل او تښتېدنه یې ونه کړه.

"یوه شیبه مو هم په فکر کې نه راگرځېدل چې عراق د پرېږدو او د ارزانه ژوند لپاره د بې غیرتانو په څېر وتښتو، ځکه مونږ د ځان لپاره د گران عراق له خاورې پرته بل ځای نه پېژانده ...

"تاسې مې زامن او وروڼه یاست، ټول عراقیان مې زامن دي. مشر باید د خلکو له زامنو وړاندې خپل زامن جگړې ته ور مخکې کړي. د عراق-ایران په جگړه کې هم عُدي او قُصي په جبهه کې وو، هلته یې عمرونه هم کم وو.... ان شاء الله عرب به غنیمت وړونکي وي، خو ډېرو کمو به خپلې بشپړې یا زیاتره کورنۍ د هېواد لپاره وړاندې کړې وي. کله مې چې وموندله چې زامن مې د عراق د خدمت لپاره ښه ول، نو زه وایم چې باید واده وکړم، سره له دې چې ټول عراقیان مې اولادونه دي.

"د ۲۰۰۳م کال له یرغل وروسته او د نیواک تر اعلان وړاندې جنگ ډېر سخت و، یوې لور مې را څخه وغوښتل چې کورنۍ له عراقه بهر ولېږم، ځکه دوی ښځې دي او زه به یې له وروڼو سره یو ځای جگړې ته ښه خلاص شم. خو ما نه منله. بیا چې کله بمباریانې او جگړې ډېرې سختې شوې او دښمنان هم کور په کور ورپسې ول، نو څو ځله یې غوښتنه را څخه وکړه. ما ورته وویل: نه، تاسې له دېرشو کلونو زیات له سلطې او واک څخه خوند او امتیازات ترلاسه کړل، اوس یې له ولس سره باید په اور وسوځي. په قاطع ډول مې رد کړه.

"له ځینو لورو به غوښتنې راته کېدې چې له عراقه بهر شم. خو ما به ویل: څنگه وتلی شم او عراقی ولس په داسې حالت کې پرېښودلی شم، چې له خپل حتمي مسیر سره مخامخ دی. خو دوی صدام نه پېژاند او نه یې دا درک کړې وه چې هېڅ عزتمند عراقی له شریف ژوندانه یا شهادت پرته بل څه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



منې. خو لاسپوڅي بیا تښتي او له پردو ملاتړ غواړي. ته فکر وکړه امریکایي بې شرمي کوم ځای ته رسېدلې وه، دوی په دې سپکه غوښتنه بسنه ونه کړه، چې زه او کورنۍ مې عراق پرېږدو، بلکې په غیر مستقیم ډول یې وړاندې دا هم راته را رسولې وه چې که مې کوم دولت ته مخه کړه، نو هغه هېواد به دوی ته زما د تسلیمولو لپاره په تنګ کړي او که په عراق کې پاتې شوم او د دوی غوښتنې مې ونه منلې، نو په هره لاره چې وي، دوی به مې نیسي. له همدې هم معلومېږي چې دوی پر عراق د یرغل هوډ درلود، نو درې ګوني لاملونه یې کېښودل، دوی ته یې د عراق یرغل توجیه کړ، یو یې اتمي وسله، بل له القاعدې سره اړیکې او دریم له صدام حسین څخه ځان خلاصول، څکه چې هغه دیکتاتور دی."!

خو په حقیقت کې دوی صدام حسین نه پېژاند، چې عراق نه پرېږدي او ځان ته یې د هېواد پر خاوره شهادت ټاکلی دی.

دا ښه ځای و چې د کورنۍ لیدلو ته یې راوبولم، ما هیله درلوده چې له ګوښه والي یې را بهر کړم، د کورنۍ غوښتنه یې ومنم چې د ده لیدلو ته لېواله وه او دی مې هم درک کاوه چې لیدو ته یې لېواله دی، خو ده وویل:

"استاذ خلیله، یوه غوښتنه د هم نه ردوم، ته زړور سړی یې، خو زما پر تاریخ او د عراق پر عزت د حرص له امله کورنۍ ته اجازه نه ورکوم چې ما وګوري، څکه امریکایان د رښتیا خبرو خلک نه دي، باور نه شي پرې کېدی. او د نفسي او ټولنیزو لاملونو له کبله نه غواړم له کورنۍ سره ټیلیفوني اړیکه ونیسم، څکه یوه لور به مې ژاړي، د بلې به سلګۍ وي. خو الحمد لله ته یې دا دی خبرې راوړې، ته مې زوی او ورور یې."

هره ورځ چې به ترې تلم، ببرته ژر لیدلو ته به یې په هیله وم. داسې لوی مشر او انسان چې په دنیا کې د ده د پېژندلو غوندې کوم بل شی نه وو. ایا حالاتو داسې غوښتي وو چې زه د دی یوازې په بند کې وپېژنم، ساعتونه او ساعتونه



ورنه غوږ شم، کله به مې چې دی د څلورو دېوالونو تر منځ بند لیده، ډېرې به خپګان غلبه را باندې وکړه... خو دی لا په زندان کې هم لوی و، زولنو او د دښمن طاغوتي قدرت مات کړی نه و، لکه له زندانه بهر چې د اتلانو فعالیت وینې او احساسوي یې، همدې به ځواک، کلکوالی او باور ورکاوه چې د بریا ورځ راتلونکې ده او عراق به د اتلوال مقاومت په واسطه له مخکې ډېر ښایسته او ښکلی شي. د تاریخ په اوږدو کې عراق د ډېرو وحشي قومونو د یرغلونو شاهد و. د ورانۍ، تخریب، وژنې او هلاکت ډېر عملیات پرې شوي وو... خو له دې ټولو سره، لکه د عنقاء مرغه په څېر یې ځان څنډلو. څو نیواکګر وشړي، او له ځانه د ورانۍ او تخریب دوړې او ګردونه ایسته کړي او ببرته له سره د تمدن بچیانو ته ورشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دیارلسم څپرکی

## صدام حسين راتلونکی څنګه ليد؟

دا د بخت نصر له دورې د صدام حسين تر دورې پورې
د يهودو غچونه دي، دا له ذي قار، مثنى او لومړی قادسيې څخه
تر دويمې قادسيې پورې د کسرى غچونه دي،
د صدام تر وياړلې قادسيې پورې، هغه قادسيه چې عراق يې
د دوی له شرونو او کينو څخه وژغوره.

*(په زندان کې د ولسمشر صدام حسين له يادښتونو څخه)*

نن، عربي سيمه د ماينونو د لويې کتلې په څېر ښکاري، چې د عراق، فلسطين، لبنان، سوډان او صومال په منځ کې وېشلي دي. سوريې ته هم ګواښ ښکاري. داسې برېښي چې ټولې سيمې ته د اور ورکولو هڅه روانه ده، چې د امريکا د ګواښ او ائتلافيانو له خوښې سره سم پيل يې له "نوي منځني ختيځ" يا نوي سايکس پيکو نومې پولو څخه دی. د روانو پېښو په جريان کې چې لويې چاودنې په کې را منځته شوې، ايران ته هم د ذروي پروګرام د درولو لپاره امريکايي ګواښ پيل شو، د معلومو اړخونو په منځ کې د ټکر کولو هلې ځلې پيل شوې. ډېرو به پوښتنه کوله چې ايا امريکا او اسرائيل به رښتيا هم ايران په نښه کړي، حال دا چې ايران خو له دوی سره د عراق پر ضد د ورانوونکو پېښو ائتلافي و...

### امريکا او ايران

له ولسمشر صدام څخه مې وپوښتل، څکه ايران يې تر ټولو ښه پېژاند. او عراق د تاريخ په اوږدو کې د ايران او صفويانو له شرونو څخه دردېدلی و، ولسمشر وويل:

"امريکا او اسرائيل به هېڅکله په ايران بريد ونه کړي. امريکا خپله ايران ته اجازه ورکړې وه چې د عراق په ورانولو کې رول ولوبوي، يعنې د امريکا اصلي دښمن عراقي مقاومت دی، ايران نه دی. ما د عراق-ايران جګړې په مهال سيمه په سيمه ځايونه وليدل، زمونږ په پټو ځواکونو مې ځان وپوهاوه او زمونږ د وسلې ډول ( نوعيت) مې وساته. له همدې ځايه د ايران پر ټولو دسيسو پوهېږم. د عراق شيعه ګان د هېواد اوبدونکي دي. او زمونږ د مېړني اردو اکثريت زمونږ د ډلې شيعه ګان دي.

"دا مې ډېر دردوي چې د لبنان د يرغل (۲۰۰۶ جولای) په اړه عرب په بېلو برېنډو دربځونو کې ولاړ و، چې په دې سره يې ايران ته فرصت ورکړ څو په احساساتو لوبه وکړي. عربو اوس زمونږ هغه لومړنی دريځ څه کړی دی؟

"ايران نه د اسرائيلو د ګواښونو په اړه مونږ تجربه لرو. ايرانيانو غوښتل چې د عراق له لورې دننه شي او له اسرائيلو سره وجنګېږي، مونږ دوی ته وويل چې زمونږ په منځ کې بايد سوله وي، نو بيا به مونږ اجازه ورکړو چې زمونږ د ځمکو له لارې قدس ته تېر شي! خو دوی ويل: چې لومړی بغداد او بيا قدس. د لبناني قضيې په اړه، زه په دې باور يم چې لبناني مقاومت او هغه سړی چې مشري يې کوي اسانه نه دی، که د مقاومت پر ضد لکه د سختې پانې په څېر راټول نه شول، نو د اسرائيلو پوزه به ور په خاورو کړي، او تر بېخه به ولوېږي، ان که مزارع شبعا سيمه را ګرځېدلې هم نه وي چې ښه هم همدا ده چې اوس را ونه ګرځي، څو په لبناني سويل کې مقاومت همداسې بل (لګېدلی) پاتې شي، چې په لبنان کې به يې اوازه لويه شي، او زه داسې وايم چې د مزارع شبعا حل د فلسطين او جولان له قضيو سره يو ځای وشي.

"د عراق-ايران په جګړه کې به زه له عربي څخه د کردي افسر په دې خبره ډېر خوښېدم. په حقيقت کې مونږ له ايران سره له مذهبي تعصب څخه لرې وجنګېدو، په داسې حال کې چې ايران غوښتل زمونږ پر ولس باندې داسې مذهبي جنګ بار کړي، چې د هېوادنيو اړيکو شلوونکی وي. د عراق او عربو له ورانولو څخه دواړه اصلي استفاده کوونکي ايران او اسرائيل دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"هر څوک چې وایي چې امریکا به ایران په نښه کړي، زه یې سرچپه خبره کوم. امریکا که داسې پرېکړه کولای، نو باید د هُرمُز په تنګي او د عربي خلیج په ختیځ کې پر ځمکه ځواکونه سمبال کړي، چې په دې وخت کې به ایران، تنګی له راکټونو او توپونو ډک کړي. او د امریکا له لوري پر ایران هر وار به د یو بېلر تېلو قیمت له ۱۵۰-۲۰۰ ډالرو پورې لوړ کړي، او دلته نو بیا دا هیله کېږي چې که پر ایران هر برید وشي، نو ایران به د تنګي بندولو ته مخکې شي.

"سوریه باید پام وکړي. ایران به د لبناني مقاومت د غځولو لپاره تر ټولو ډېر ځواک ولري، ځکه په مستقیم ډول مرسته ورسره کوي. دا سمه ده چې سوریه له مقاومت څخه په وېره کې ده، ځکه داخلي حالت یې ځانته ځانګړنې لري. د جولان د جبهې پرانیستل د سورېې په ګټه نه دي، ان د حافظ اسد په وخت کې لا د هغوی اخیرنۍ موخه جولان نه وه، خو په دې کې یې ګټه ده چې له لبنان سره پوله خلاصه کړي، د لبناني مقاومت ملاتړ وکړي او د رضاکاره مبارزینو لپاره دروازې پرانیزي. او بیا د لبنان او سورېې تر منځ اړیکې تل ښې وې، که بهرنۍ مداخله وشي، نو دغه اړیکې به خرابې شي. په لبنان کې زمونږ خلک باید له سوري ورونو سره په ګډه د امریکایانو له قبضې پرته دغه قضیه حل کړي. ځکه دا یې د ځینو د تصور خلاف ډېره ژر له منځه وړي، او دا یې د عراقي مقاومت له کبله وکړل.

"زه وایم اسرائیل د دې ته په انتظار دي چې د ایراني زروي وسلو د جوړولو ځایونو د په نښه کولو لپاره شنه رڼا ترلاسه کړي. خو تر څو چې ایران اسرائیلو ته رسېدونکي توغندي لري، نو اسرائیل یې د امریکا پر ځای نه شي په نښه کولای. او اسرائیل عربو ته هم کراري او امن نه غواړي، غواړي چې نیم له ایران او نیم له اسرائیلو سره بوخت وي. مونږ وکتل چې له ۱۹۸۸م څخه تر ۱۹۹۱م کال پورې اسرائیلو د لبنان لوري ته یوه مرمۍ هم ور ونه ویشته، که عراق په پخواني حالت وای، نو مونږ به ورته ویلي وای چې د لبنان د بیا رغولو لپاره پر ټولو لازمه ده چې کار وکړي.



"خو د ترکیې په اړه زه باوري یم چې د امریکایانو له اجازې پرته به هېڅ کار ونه کړي. او د ترکانو او کردانو تر منځ چې امریکا د کوم جنګ اجازه ورته کړې، هغه یې په ګټه نه دی.

"امریکا هومره ځواک لري چې هغه څه په ایران کې ویران کړي، چې دا یې غواړي، خو دا په غبرګون کې د هُرمُز د تنګي له بندېدو وېرېږي. ځکه ډېر په پام سره ګام پورته کوي او نړۍ هم نوی جنګ زغملای نه شي. کله چې پر ایران لوېدیځوال برید وشي، نو د وچې له لارې به نه وي او نه به ګټور وي، ځکه دوی باید د هُرمُز په تنګي کې د ایران غبرګون په حساب کې ونیسي، ځکه د تنګي په ختیځ کې ایراني ځمکنی ځواک شته. کله چې په عراق کې د امریکا موجود ځواکونه کافي نه وي، نو خو ایران ته به هم ډېر ځواکونه ورلېږي، نو بیا به د عراق د سرښنو له ډنډ څخه ایران دوی ته لوی د سرښنو ډنډ وي، د هُرمُز د تنګي بندول به د نړۍ لپاره مصیبت وي، وروسته له دې چې پر عراق د جنګ له امله د نفتو بیه لوړه شوه، نړیوال اقتصاد نور د نفتو په اړه زیادت زغملای نه شي.

"لوېدیځ، ایران نه شي په نښه کولای، ځکه همدا برید به د دوی وژنې ځای وي، متحده‌ایالات به د خپلو ګټو مطابق له ایران سره تفاهم کوي، د همدې تفاهم بیه به عراقی ولس له خپلو پانګو، خپلواکي او ملي یووالي څخه ورکوي. پر ایران دا ټول تشویش یې ځکه را منځته کړی چې عرب په دې قضیه کې بوخت شي، صهیونیت نه غواړي چې ایران په نښه کړي. امریکا عراق ته د دې لپاره نه ده راغلې چې یوازې صدام حسین له واکه لرې کړي، سره له دې چې دا موخه اعلان شوې نه وه، بلکې د یوې اوږدې مودې د ستراتېژۍ لپاره راغلې ده، په ترڅ کې یې صهیوني موخې هم ترسره شوې، که

(c) ketabton.com: The Digital Library



امریکا ایراني ذروي وسلې جوړوونکي وسایل صهیوني جریان ته خطر ګڼلای، نو ایران به یې د یورانیمو ډېربښت ته له رسېدو وړاندې په نښه کړې وای، لکه صهیوني دښمن چې د عراقي جولای له جوړون‌ځایونو سره وکړل. له دې امله امریکا عراقي مقاومت خطر ګڼي او له ایران سره اړوندې ډلې یا په عراق کې د ایران مداخله خطر نه ګڼي.

"ډېر لږ د دې فکر کېدای شي چې امریکایي الوتکې د معلومې موخې د لنډمهال لپاره په نښه کړي، وروسته به د اوربند اعلان وکړي. خو امریکایان باید د ایران غبرګون وګڼي. او شونې ده، خو ډېر لږ احتمال لري چې د ډیموکرتانو له لوري د په نښه شي، خو د امنیت د شورا په پرېکړې سره، نه د امریکایي پرېکړې په واسطه، لکه په عراق کې چې وشول.

"ما دوی ته په واقعیت کې ایراني خطر څرګند کړ. او اوس امریکایان او عربي واکمنان له مخکې څخه ډېر د ایران په خطر پوه شوي دي. زه وایم امریکایانو که په عراق کې خپله ستونزه حل کړه، نو بیا شونې ده چې ایران په نښه کړي، هلته به بیا یوازې امریکایان نه جنګېږي، بلکې د اروپایي دولتونو ائتلاف به هم ورسره وي. مونږ عربو ته ایران تر اسرائیلو ډېر خطرناک دی، عرب باید پر دې ځان پوه کړي. او لکه څنګه چې ته پوهېږې، د ایران او اسرائیلو په منځ کې له هغه تاریخه ائتلاف شوی دی چې بخت نصر بادشاه هغه یهودانې نیولې وې، چې بابلي وینزې بلل کېږي. بیا له هغه کوروش سره ائتلاف لري، چې یهود یې فلسطین ته راوستل.... خو که ایران ذروي بم (اتوم بم) ترلاسه کړ، نو بیا به تکړ ورسره ګران وي."



## بیا ولسمشر زیاته کړه..

"زمونږ په چاپېر کې چې څه دي، ترې خوښ نه یو، مونږ را منځته کړي هم نه دي، منځ کولای یې هم نه شو، خو په مخه کې یې درېدلای شو. په لبناني سوېل کې اسرائیلو جنګ پیل کړ، د امریکا په اشاره یې پراخه جبهه پرانیسته، خو په عراق کې له پېښو څخه توجه واوړي، خو د سرېښو په حقیقي ډول کې یې ونښلول، او پایله به د انساني او عربي مبارزې په ګټه وي. اسرائیل اوږد جنګ نه شي زغملای، له سوېل څخه د خلکو هجرت ته به هلې ځلې وکړي، چې د دوی په باور د دوی او جنګیالیو تر منځ به له امنه ډکه سیمه برابره کړي او د مقاومت وسلو ته به پاملرنه وکړي. سره له دې چې دواړه ځواکونه سره برابر نه دي، خو حزب الله به پر صهیوني دښمن بریدونه کوي، او اسرائیل له سیاسي، نفسي او اقتصادي اړخه اوږد د تیارسئ حالت زغملای نه شي. د دغو او نورو لاملونو مطابق به اسرائیل د اوربند غوښتنه وکړي، خو په مستقیم ډول نه، د ځینو عربي حاکمانو له لارې به یې وکړي.

"مونږ به تل ویل چې له اسرائیلو سره د جنګېدو لپاره د لښکرو د ور لېږلو لامل نشته، له ننوتلو پرته د اُردن له لوري پر پولو د توپونو ایښودل به اسرائیلو ته ګواښ وي، چې په لومړۍ مرحله کې د ۱۹۶۷م کال پولو ته وګرځي. که یوازې حزب الله د اسرائیلو اوازه اچولې ده، نو هلته به وضعیت څنګه وي چې عرب بې ټول یوځای په مخ کې ودرېږي. او ما وویل عراقي لښکر چمتو دی چې پر پولو ودرېږي او ووایو چې راکټونه او توپونه ور وار کړئ او د جنګ پای له شپږو میاشتو مخکې مه ګڼئ، نو اسرائیل د دومره مودې د توپونو جنګ نه شي زغملای، مهمه دا ده چې د عربو توپونه په دوامداره توګه له وچې او بحر څخه بنه په همت سره ور وویشتل شي، اګر که لا دوه متره هم ور مخکې نه شو. او هلته به مجبورېږي او په ټیټ سر به سوله امضاء کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"لبناني او عراقي مقاومت به امریکا ته د عربي شخصیت په پېژندلو کې درس ورکړي او د عربي مبارزې د تاریخ په پېژندلو کې به غربي حافظه فعاله شي. په عربي سیمه کې غصه ډېرېږي، زه ډارېږم چې ورپسې به غټه چاودنه را منځته شي، هغه ځواکونه چې د چاودنې په پایلو به لوبې کوي اوس را ټول شوي دي. زما په باور چې مصر او سعودي او بیا المغرب به دې چاودنې ته نوماندان وي. که په سعودي کې هم یو څه وشي، نو مذهبي فتنه به ګټه ترې پورته کړي، همدا راز په مصر او لبنان کې هم."

د سکوت شېبې اوږدې شوې. په دې جریان کې ولسمشر لرې وړاندې، داسې ښکارېده لکه له خپلې بډایه حافظې څخه چې څه لولي، ډېر وخت لا نه و وتلی چې وې ویل:

"ما عربو ته وویل، که چېرې عراق د ټوټه کېدو په لوري لاړ، نو مصر او نور هېوادونه به هم ټوټه شي، عراقیان په شهامت کې پېژندل شوي دي، کله چې د حق په مقابل کې هره توره له تېکه وتلې، نو عراقي توره امت ته نږدې وي. ما وړاندې عربو ته ویلي وو، دوی باید دا په یاد ولري چې بغداد دوی له لیبیا نیولې د مشرق او مغرب تر اخیرنیو ټکو پورې ساتلي دي. خو په هغه وخت کې ځینې عربي دولتونه د خمیني په انقلاب وغولېدل، دوی باوري وو چې نوموړی انقلاب د عربو او مسلمانانو په ګټه دی. زما لا تر اوسه هغه په یاد دي، چې د عراق-ایران جګړې په جریان کې لیبیا ایران ته راکټونه ورکړل او بغداد په هماغو راکټونو وویشتل شو. وروسته د لیبیا استازی تونس ته ولاړ، نو هلته مرحوم حبیب بورقیبه ورته وویل: ایا بغداد ستاسې په راکټونو ویشتل کېږي؟

خو د یمن رول باید ډېر لوی وي، په ځانګړي ډول د ولسمشر علي عبد الله د نوي ټاکل کېدو وروسته، ځکه هغه پوه سړی دی او اصلي ملتپاله دی.



په عامه بڼه به ووایم چې سیاسي وضعیت د امریکا کړنو او د دې له لوري پر
لسطیني ولس د پرله پسې بریدونو لپاره د صهیونیانو هڅولو خراب کړی دی.
صهیونېت دې ته په انتظار دی او هیله کوي چې دلته او هلته غولوونکې پېښې
په ځانګړي ډول په منځني عربو کې، څو دوی ګړندي شي او غاښونه
وښي به تېنګ کړي. زه باوري یم چې دا حالت به د عربي امت غبرګون را
وپاروي، امت متفق نه دی، ټوټه ټوټه دی، کله چې متحد شي نو شپېته سلنه
مجوم او تنګول بسنه کوي چې ځواکمن غبرګون ولري، خو ټوټه ټوټه بیا له
نوي سلنې ډېر تنګولو ته اړتیا لري چې غبرګون یې پوخ شي. زه باوري یم
چې غبرګون به راځي سره له دې چې عربي تعاون او یو له بله دفاع اسانه نه
ده.

"اې ښاغلیه، زموږ ولس ډېر لوی ولس دی، لوی میراث، تاریخ او امکانات
لري، په خپله ژورتیا او له عربي امت سره په اړیکه کې به ډېر ځواکمن وي او
په نړیوال چاپېریال کې ډېره اغېزه لري. خبرونکو راته وویل: ولې دا ټول
لښکر، جوړښتونه، اپارتمانونه او... او... طبیعي ده چې د ولسمشرۍ ماڼۍ یې
نه یادولې. ځکه هغوی پوه وو چې دا ماڼۍ د صدام حسین ملکیت نه دی، نه
د هغه کس ملکیت دی چې له ده وروسته راځي، بلکې دا د عراقي
ماڼۍ جوړولو په فن کې لوړې څوکې دي او د عراقي ولس ملکیت دی."
ولسمشر دلته د هغه چا په اړه غږېږي چې د عراق د لوی مسیر په اړه طعنې
کوي، ولسمشر وایي:

"خو هغه څوک چې د ۳۵ کلنې لارې په جریان کې له شوو تېروتنو غږېږي،
نو ورته وایو: څوک چې کار نه کوي، نه تېروځي، ایا داسې کېدای شي چې
بر انقلاب د دومره ډېرې لاسته راوړنې ولري او لوی ارزښتونه د وزغمي او
دله او هلته د تېر نه وځي. او ایا د نړۍ انقلابونه هم بې تېروتنې وو، ایا داسې
انقلاب شته چې له دغو ټولو پرمختګونو، اقتصادي، بشري او علمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروگرامونو سره سره يې تېروتنه نه وي کړې... مونږ خبر يو چې د دې لوی انقلاب له پيله يې دوی پر ضد وو، پر دې خبر يو چې دوی هغه وخت زمونږ پر ضد را ټول شول چې په ۱۹۷۲م کال د نفتو انقلاب ملي شو. ان زمونږ د کُردي ولس په اړه که ووايو چې خپلواک پرېښودل شوی و، مونږ پوښتنه کوو: ايا کُردانو ته په گاونډيو هېوادونو کې داسې حقونه ورکړل شوي وو لکه څرنگه چې زمونږ عراقي کُردانو ته ورکړل شول او حال دا چې د عراق له کردانو يې شمېر هم زيات دی. که شاته ور وگرځو او د انقلاب له لارې سره و اوسو، نو و به پوښتو چې ايا لکه د درېيمې نړۍ کوم بل هېواد دومره ژر او په لنډه موده کې بې سوادي له منځه وړې ده، لکه عراق چې ختمه کړه؟ حتی په عراق کې د روغتيايي نظام کچه له ډېرو پرمختللو هېوادونو څخه لوړه وه، همدا راز بشري پرمختگ، چې په پروگرامونو کې يې لسگونه زره علمي کدرونه بهر ته په درسي بورسونو کې ولېږل. د انقلاب په دوره کې مو له پوهانو، مفکرينو، استاذانو، قاضيانو، څارنوالانو او متخصصينو څخه اردو جوړه کړه، دوی د ولس او امت پانگه دي...

"خو کوم کسان چې له ډيموکراسۍ څخه غږېږي، دوی لومړني کسان وو چې مخې ته يې موانع ورته کېښودل. له کله نه چې مسئوليت را په غاړه شو، په هره برخه کې مو يوه پرېکړه هم د رهبرۍ د ورونو له گډون پرته نه ده کړې. خو د لوېديځ ډيموکراسي چېرته ده چې په ميليونونو ولسونه يې د عراق د جنگ پر ضد مظاهرې کوي، خو غږونه او نارې يې نه اورېدل کېږي. صدام حسين ته په دې قهر نه ورځي چې هغه لاسپوڅي او غلامان د خبرې وکړي، چې نيواکگرو راوستي او دلته يې د دې لپاره کښېنولي چې څانونو ته قاضيان ووايي، خو دا مې دردوي چې دا غلامان را ولاړېږي او ملي اختر او ملي نښې په ناوړه شيانو بدلوي. د دې پرځای چې پر هغه انقلاب او ملي اخترونو وویاړي چې له امله يې مونږ گرانې وينې توی کړې، دوی د هغو جرمونو په اړه غږېږي چې دوی يې جرمونه نوموي. او لکه زمونږ دولت چې قانوني، عادل او د امن او امان دولت نه و. ما



دوی نه ووېل، يوه ورځ يوه چارواکي د قاضيانو په دنده کې مداخله کړې وه، زه چې خبر شوم، په هماغه شپه تر هغه ويده نه شوم چې حق مې حقدار ته نه و ورکړی. د قاضيانو مناسب ځای و، عزتمن ژوند يې درلود، په بېله بڼه به مو پالل، څو عدل وکړي او له مظلوم سره انصاف وکړي، الحمد الله په قضاء کې هېڅ ډول خرابی او بې قانوني نه ده شوې. ولس د قانوني دولت په سيوري کې په بشپړ امن او امان کې اوسېد. خو کله چې دوی له ډيموکراسۍ غږېږي، نو دوی او د دوی په مخ کې امريکايانو د هغې ډيموکراسي مخه ډب کړه، چې مونږ يې ولس نه غوښتنه کوله، هغه ډيموکراسي چې د ولس اصليت او سرچينه يعنې واضح اسلامي دين ساتي او د نورو يعنې زمونږ د پلرني ولس د ډلو د حقونو درناوی کوي.

په ۱۹۹۰م کال کې عراق د گوندي تعدد لپاره پروگرام برابر کړی و، مونږ دې ته نږدې وو چې فعال يې کړو او عمل پرې وکړو، خو هغه حالات چې امريکا، نړيوال صهيونيت او په سيمه کې د دوی غلامانو او لاسپوڅو را باندې راوست، نو دا کار نيمگړی پاتې شو.

"هو، مونږ وړاندې هم له ځانه ولس ته ډېره پاملرنه کوله او اوس يې هم کوو، د ناکنې په اړه يې هم په حق کې پاملرنه کوو، کله مو چې د دوی په وړاندې ستره لُوړه وکړه، نو خپله ژمنه مو وساتله، له هر عراقي، د هغه له ملي عزت او اصلي گټو مو دفاع وکړه. که څه هم په درنه راته پرېوته، خو د ده په اراده کې مو خيانت ونه کړ، د خپل ولس لپاره د هغې ملي ارادې له رول څخه تېر نه شوو، چې له امله يې عراقيانو څو لسيزې سيندونه وينې قرباني کړې. په همدې اساس مو د برغلگرو غوښتنه مخکې هم رد کړې وه او اوس به يې هم ردوو.

او کوچنۍ تېروتنې مو له لويو لاسته راوړنو سره نه دي پرتله کړې، ځکه هغه داسې شيان دي چې نه پرې حساب کېږي او نه زموږ د لارې په څېر لويه لاره پرې کمېږي، او څه چې وشول د هغو ټولو لامل دې نه گڼل کېږي، ځکه په اصل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې اشرارو او بریدگرو پر عراق د یرغل او په عراقیانو کې د بدی او فساد را وستلو هوډ کړی و.

"تن چې زموږ صابر ولس په داسې څه اخته شوی دی، چې له زړونو وینې ورته خاخي، یوازینی لامل یې دا دی چې دا ولس د امت د لومړیتوبونو په خدمت کې دی، که نه نو عراق څه کړي، ایا له تم ځایونو ور تېر شوي یو او پر امریکا مو تېری کړی، ایا موږ امریکا ته اړولي وو... په الله قسم چې دا د دوی او فارسیانو د پخوا زمانې غچونه دي....

"زموږ د ولس وینې وبهېدې او لا تر اوسه به بهېږي، خو د الله په اجازه په پای کې به بریالی کېږي، راتلونکې لاره به یې ډېره کلکه وي او رهبري به یې هغه اتلان کوي چې لوړ مورالونه لري، د هغو ټولو لاره چې د عراق په ازادولو کې یې ونډه اخیستې ده، زه پر خپل ولس او د امت په سرېو باور لرم، د دښمنانو په مقابله کې د دوی پر ځواک باوري یم.

"په حقیقت کې د هغو وینو چې بهېدلې دي او لا هم بهېږي لومړنی مسئول اشغال دی. هغه که د جنگ په ډگرونو کې وې چې په دې برخه کې ډراماتیکې محکمې هم دي یا په عراق کې د جهاد د ځمکې په کوم بل ځای کې وې. امریکایان هم اوس په عراق کې د سرېښو په لوی ډنډ کې پر ننښتلو اعتراف کوي، مقاومت هم زموږ له غوښتنو سره سم روان دی، کله یې چې اتلولیانې اورم نو ډېر خوښېږم لکه زه چې د دوی په منځ کې ژوند کوم. کله چې د الله په اجازه عراق ازاد شي، نو پر خپلو لومړیتوبونو د کلکو ولاړو مؤمنو غوره کسانو به د عراق په مشري کې اصلي او ښکاره رول وي. عربي ولس هم نه هېروو، د هغو کسانو رول هم نه هېروو چې د صدام حسین د دفاع په جریان کې له عراق، د عراق له ارزښتونو او لومړیتوبونو څخه د دفاع لپاره راغلل. دښمن به د الله په اجازه او د اتلانو په همت په کډه کېږي، او امریکا به زینه په زینه یوې ملعونې او ژورې کندې ته ور لوېږي...".



# څوارلسم څپرکی

## صدام، عربي نړۍ او نړیوال دریځ

په عراق کې د روانو حالاتو په لیدو سره د انسان زړه غمجن کېږي. پوښتنه دا ده چې د هغو دولتونو مشران چېرته دي، چې له دغه هېواد سره یې گډې گټې درلودې؟ د عربي دولتونو مشران او عربي تعاون چېرته دی؟ ولې ډېری چوپ دي او عراق یې پرېښی چې د میلیونونو شاهدانو په مخ کې ټوټه-ټوټه او وژل کېږي؟ ځینو سترگې پټې کړې دي او ځینو بیا د عراق په ورانولو کې ونډه اخیستې ده او حال دا چې ولسمشر صدام له یوه سره هم کمی نه دی کړی.

له ولسمشر څخه مې وپوښتل چې ایا له جگړې څخه وړاندې یې له نړیوال او عربي دریځ سره تړون کړی و، ایا دا هیله یې درلوده چې کوم دولت د غږ پورته کړي او و د وایي چې د امریکا کړنه په بشپړ ډول لېونتوب دی؟

"بلکل ښاغلیه، موږ له نړۍ څخه په یوه گوښه جزیره کې نه اوسو او عراق خو بیا یوه ژوندۍ نمونه گڼل کېږي. د یوه دولت نه بلکې د نړۍ د گټو سیمه بلل کېږي. عراق له ځینو دولتونو سره ټینگې اړیکې درلودې، د قانوني گټو اړیکې یې درلودې، همداراز له عربي دولتونو سره یې د گډې دفاع ژمنه درلوده. د عربي قضیو په اړه د شوروي اتحاد دریځ په داسې حالت کې نه و چې د څه غوښتنه د ترې وشي. خو روسیې هم له عراق او عربو سره ډېره ناځواني وکړه، لږ تر لږه په عراق کې خو یې باید د خپلو گټو ملاتړ کړی وای.

"دا سمه ده چې د شوروي د کمزورۍ او را پرځېدو له امله امریکا د یوازیني قطب په توگه غرور کاوه، روسیه تر پخوا کمزورې شوې وه، خو تر اوسه لا په نړۍ کې دوهم ځواک گڼل کېده، ډېر څه یې کولای شوای او د خپلو گټو، ژمنو او تړونونو په مټ په دې پورې د اړوندوگټو ملاتړ یې هم کولای شوای.

"خو د فرانسې دریځ د متحده‌ایالاتو په کاروان کې د ځینو روانو غربي لورو په دریځ تأثیر وکړ. فرانسه له خپلو هغو دریځونو څخه لرې شوه چې د دیغول

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ورځو کې یې درلودل. زما په باور په نړۍ کې د یوازیني قطب په توګه د امریکا د پاتې کېدو له امله به فرانسه هغه وخت د امریکایي سیاست پر وړاندې راشي چې د چین او د هغه د ائتلافیانو په څېر بل قطب را څرګند شي.

"تو مونږ وایو، له بده مرغه نړیوال دریځ د دې وړ نه و چې په لږه کچه هم پر عراق د دواړو بریدونو یعنې د ۱۹۹۱ او ۲۰۰۳ ز کلونو د بریدونو په مخنیوي کې څه ترې وغوښتل شي، خو زه باوري یم چې د امریکا له راپرځېدو وروسته، چې د الله په امر سره به را پرېوځي، یو موټی اروپا به په نړیوال سیاست کې د مرکزي قطب په توګه را ښکاره شي، په نړیواله کچه به په دریځونو کې خپلواکه وي، ورپسې به ځینې اروپایي دولتونه ازاد شي او د امریکایي سیاست له پیروۍ څخه به خلاصون ومومي.

"له ۱۹۹۰ ز کال وړاندې، د شوروي او د شرقي کتلې راپرځېدل پېښ شول، چې له دې سره د ځواک د تلې په پلو کې ګډوډي رامنځته شوه او هیله وه چې امریکا به په نړۍ باندې د یوازیني واکدار په توګه پاتې شي او عرب به له همدې امله لوړه بیه ورکوي.

"کله چې نړیوال ځارونکي په خلاص لاس په عراق کې ګرځېدل، مونږ باوري وو چې د کوم څه لپاره چې دوی راغلي دي هغه نه لرو (اتمي وسلې). سره له دې چې زه او په رهبرۍ کې نور ورونه پر دې پوه وو چې هغوی څېړونکي نه بلکې د امریکایي پلان د چوپړ لپاره جاسوسان دي، خو مونږ له عربو ورونو او د فرانسې، روسیې او په اسیا او اروپا کې د مهمو دولتونو په څېر له ملګرو هیله درلوده، چې له حق سره مرسته وکړي او د جنګ د نه پېښېدو لپاره سپر شي یا په ډېره لږه کچه امریکایانو ته نصیحت وکړي چې له عقل څخه کار واخلي او په خپلو کم عقلیو پسې ولاړ نه شي. پر دې سربېره نړیوالو افکارو هم جګړه ردوله، په ځانګړي ډول د جګړې اور بلوونکي هېوادونه امریکا، برېتانیه او ځینې نور دولتونه وو. نو مونږ د امریکا له حکومت څخه هیله



درلوده چې له پوره پامه کار واخلي. همدا راز له ځینو دولتونو لکه له روسیې، فرانسې، چین او ان جاپان څخه مو هیله درلوده چې جګړه ودروي، ځکه په عراق کې یې مهمې ګټې وې. عراق مهم دولت دی او په نړۍ کې تر ټولو دوهمه غټه پطرولي زېرمه لري. په همدې اساس د ځینو هېوادونو ترمنځ د ګټو د سیالۍ له اړخه هم مونږ هیله درلوده چې متحده‌ایالات به پرېږدي چې د خپلې مشرۍ په لېونتوب پسې لاړه شي او د عراق پر ضد په خطرناک تصمیم لاس پورې کړي. دا هیله مو د ځینو مهمو عراقي ښارونو له نیول کېدو وروسته هم درلوده. له دغو نړیوالو ګټو او د عراق له اهمیت سره سم د جګړې په نه پېښېدو یا لږ تر لږه وروسته کېدو باور و، او مونږ ویل که جګړه و هم شي خطرناک پرمختګ به ونه کړي او هغه څه ته به ورسېږي چې اوس رسېدلې ده او له خپلو چمتو امکاناتو او اختیاراتو سره مو سم د جګړې د پېښېدو لپاره چمتووالی ونیو".

لکه څرنګه چې ښکاري ولسمشر صدام حسین داسې هیله نه درلوده چې متحده‌ایالات دې د عراق نیواک ته را وړاندې شي، سره له دې چې عراق اعلان کړی و چې د برید د مخنیوي لپاره چمتو دی. داسې یو دلیل هم نه و چې د امریکا برید ته د برائت ورکړي، په ځانګړي ډول عراق جاسوسو څېړونکو او نورو ته هم خپلې دروازې پرانیستې وې.. خو بیا هم ټول احتمالي حالات پېښ شول. سره له دې چې عراق ځواک درلود، خو د درېیمې نړۍ یو هېواد د نړۍ د غښتلي ځواک او پوځ مخه نه شي نیولی او عراق خو بیا تر دیارلس کاله دوامداري کلابندۍ لاندې کمزوری شوی و. له دې وړاندې هم په ۱۹۹۱ ز کال کې څلوېښت ورځې پراخ برید پرې شوی و، چې متحده‌ایالاتو یې مشري کوله او له پنځه ویشتو څخه د ډېرو هېوادونو پوځونو ونډه پکې اخیستې وه، همداراز د ۱۹۹۱ او ۲۰۰۳ ز کلونو ترمنځ د امریکایي او برېتانوي ځواکونو له لوري د ورځنیو هوایي بریدونو او ځلورو تېرو شاهد

(c) ketabton.com: The Digital Library



و. نو څنګه یې کولای شوای چې د نړۍ له مغرور ځواک سره په نا برابر ځواک مقابله وکړي.

ولسمشر به هر وخت دا پوښتنه کوله: "نړیواله ټولنه او زمونږ ملګري څنګه متحده‌ایالاتو ته اجازه ورکوي چې عراق په نښه کړي، په ځانګړي ډول د دغو هېوادونو ډېرى ګټې زمونږ په هېواد کې وې، پر دې سربېره متحده‌ایالات د عراق په نښه کولو سره د ملګرو ملتونو امنیت شورا پرېکړې ته هم اړ ول، ایا روسیه، چین او فرانسه به په لرې او بېلو دریځونو کې ودرېږي؟".

ولسمشر زیاتوي:

"امریکا یو مفسد او منحرف دولت دی، خو مونږ هم په داسې نړۍ کې ژوند نه کوو چې د ځنګل قانون پکې حاکم وي. نړیوال قانون، ژمنې او عرفونه یې چېرته دي، نړۍ او زمونږ عرب ورونه چېرته دي؟ زه لرې نه ګڼم چې ځینو عربي هېوادونو به له دې امله چوپتیا غوره کړې وي چې په عراق له برید سره موافق دي.

"مونږ هیله درلوده چې متحده‌ایالات به عراق په الوتکو او لرې نښه ویشتونکو راکټونو بمبار کړي او لکه د ۱۹۹۱ز کال په څېر به ټاکلي اهداف او ځایونه په نښه کړي. سره له دې چې دا ځل له امریکا سره داسې هېڅ دلیل نه و چې لوی دولتونه، زمونږ ملګري او ورونه د له امریکا سره موافق شي او د غوسه ناک امریکایي شیطان پر وړاندې د تر شا تړلي لاسونه ودرېږي. خو ما هیله نه درلوده چې امریکا د ځمکنیو، سمندري، هوایي او نورو ځواکونو په توګه وسله‌وال یرغل وکړي، که و یې هم کړي، محدود به وي او په داسې توګه به نه وي لکه چې و یې کړ. مونږ د ټولو احتمالاتو غم خوړلی و، خو د الله په اجازه او خوښه به یې زمونږ د ولس بچي مخه نیسي "او دا خو پر مونږ څه نوی یرغل نه دی"، عراق له تروریستي حملې مخکې او وروسته د یرغل ټولې څپې



زغملې دي، زه باوري یم چې زمونږ د پتمن ولس بچي به ورته په کمین کې وي".

## له ایراني وزیر سره د ولسمشر لیدنه

ولسمشر د عربو او ګاونډیو هېوادونو له مشرانو او سیاسیونو سره د لیدنو او کتنو ډېرې کیسې راته وکړې، چې یوه یې دا ده:

"یوه ورځ په ۱۹۷۹ ز کال کې د ایران د بهرنیو چارو وزیر چې نوم مې یې سم نه دی په یاد، له ما سره کتل وغوښتل. په کتنه کې یې هڅه کوله چې د خمیني انقلاب او اهدافو ته تبلیغات وکړي. له اسرائیلو سره د شاه د اړیکو په اړه یې راته وویل. له مونږ عربو څخه یې غوښتل چې اسلامي انقلاب ته هرکلی ووایو او د ډېرو عجیبو مزاحمو غوښتنو له ډلې څخه یې یوه دا وه چې عراق دې د ایران په چارو کې مداخله نه کوي.

ما ورته وویل چې خپل انقلاب مو در خپل کړی، د ګاونډیو هېوادونو ولسونه پرېږدی چې خپله لاره په خپله انتخاب کړي او تاسې باید له درې ګونو عربي جزیرو څخه کډه بار کړئ. داسې ډېرې خبرې مې ورته وکړې. نو په ډېرې بې شرمۍ سره یې ځواب راکړ: تاسې د درې ګونو جزیرو په اړه د مداخلې حق نه لرئ، چا نه دي درته ویلي او نه یې مکلف کړي یاست چې د اماراتو د دولت په استازیتوب خبرې وکړئ، په دې برخه کې مونږ له تاسې سره خبرو ته نه یو چمتو. ما پوه کړ چې باید زمونږ تګلاره ښه ولولي څو په خپلو کارونو کې تېر نه وځي، باید مونږ وپېژني، هره عربي قضیه زمونږ خپله ده، دې ته اړ نه یو چې څوک د مونږ پرې مکلف کړي.

"عربو ورونو او په ځانګړي ډول مشرانو ته لازمه ده چې هغه ور یاده کړي چې عراق څنګه د فارسیانو او د هغوی د ناوړه نیتونو په وړاندې ولاړ و. ایران د عراق له ځوړتیا وروسته عربي خلیج ته په زوره د ننوتلو خوب ویني، حتی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلان يې دی، او که عراق له ظالم بريده په مخکني حالت کې پاتې واى نو ایران به زمونږ پر عربو ورونو تېری نه وای کړی.

"کله چې خميني له امريکا څخه د هغې د دفاع په واسطه واک ته راغی، ولې يې په ايران کې لويه ګډوډي جوړه کړه. مونږ هماغه وخت وويل چې دا انقلاب نه دی، بلکې ګډوډي ده."

"زمونږ عرب ورونه بايد د شاه هغه وصيت په ياد ولري، چې خپل زوی ته يې کړی و او ورته ويلي يې وو: اې ښاغليه، عرب کڅ او "د فارس" خليج ختيځ کڅ مې درته وسپاره، ته بايد لوېديځ کڅ ملاتړی او ترلاسه کړې خو کويټ به لومړنی زيان موندونکی وي. الله د زمونږ پر بادار د اسلام پر دوهم خليفه حضرت عمر رضي الله عنه باندې ورحمېږي، چې ويلي يې وو: کاش چې زمونږ او فارس ترمنځ د اور غر وای".

دلته ولسمشر د عراق زيارتونو ته د ايران د هرې ډالۍ د ردولو د لامل په اړه کيسه کوي او وايي:

"کله چې زه د ولسمشر نائب وم، يوه ورځ مې د بغداد په ځينو سيمو کې ګکر واهه، په يوې را غونډې شوي مظاهرې ور پېښ شوم، ځينو مظاهره کوونکو اوسپنيزې کړکۍ اخيستې وې، له موټر نه ور کښته شوم او پلی ورغلم. له يوه څخه مې د کيسې په اړه وپوښتل، راته وې ويل: دا له مونږ سره چې څوک دي، ايرانيان دي، له ايران څخه يې زمونږ د نيکه حسين لپاره ډالۍ راغوښتې دي. ما ورته وويل: مونږ خو له يوې کړکۍ پرته بله نه وينو. په ځواب کې يې وويل: بله کړکۍ په فلانۍ سيمه کې ده. سملاسي هماغې سيمې ته لاړو، هماغلته مو هم راغونډه شوې مظاهره وليده، مظاهره چيانو داسې کړکۍ بار کړې وه چې هر عراقي پېښ په ډېرو لږو مهارتونو سره تر هغې زر څله ښه جوړولی شوای. دلته مو مطلوب وزارتونه پوه کړل چې د ايران يوه ډالۍ هم ونه مني، حسين زمونږ نيکه دی او تر ټولو لومړی مونږ بايد د مرقدونو لپاره د



عراق له ډېرو پانګو څخه، څه ورکړو. له بده مرغه ايرانيان همداسې دي، د ځينو ساده خلکو له ښو نيتونو ګټه پورته کوي څو خپل ناوړه پلان پرې پلی کړي، خو اوس هيله لرم چې عراقيان به دغې مسئلې ته پاملرنه وکړي".

**له ځينو ورونو سره يادښتونه**

له ولسمشر سره په خبرو کې له عربو ورونو سره د ده ځينو يادښتونو ته ورسېدو، ده وويل:

"په ۱۹۸۰ز کال کې مو له سعودي سره د دولتونو د وېرولو پرېکړه وکړه چې قدس ته سفارتونه ونه لېږدوي. څنګه چې مو دا خبره وکړه چې مونږ به د هر هغه هېواد پر وړاندې د نفتو وسله وکاروو چې قدس ته خپل سفارت لېږدوي. مخکې له دې چې زه بغداد ته را وګرځم، دولتونو تل ابيب ته د خپلو سفارتونو لېږد پيل کړ.

له سعودي سره مو ښې اړيکې درلودې. ملک فهد ورور راته وويل: اې فلانيه، د عراق او سعودي ترمنځ د سرحدي سيمې د موضوع د پای ته رسولو په اړه څه نظر لرې. په هماغه وخت کې مې د رهبرانو له مداخلې پرته د بهرنيو چارو وزير وګوماره".

## په ۱۹۹۰ ز کال کې له سعودي څخه د ولسمشر ليدنه

عراق په ۱۹۸۸ ز کال کې د ايراني نظام له لوري له شوي بريد او سختې جګړې څخه لويه بريا ترلاسه کړه، چې د عربو په نوي تاريخ کې داسې برياليتوب نه و ترلاسه شوی. د دې پر ځای چې کمزوری او ناکام شي، د نړۍ د څلورم ځواکمن پوځ په توګه ترې ووت. نوې وسلې، تکړه پوځ او داسې رهبري يې درلوده چې په هر ډول جګړه کې يې هر اړخيز معلومات درلودل. کله چې ملک فهد بن عبد العزيز مملکت ته د ولسمشر صدام حسين په ورتګ خبر شو، الوتکه يې لا په هوا کې وه چې د لوی مبلمه هر کلي ته ورغی. په ۱۹۸۰ ز کال کې چې دی وليعهد و، لا ټينګه اړيکه يې ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



درلوده. ولسمشر په هوايي ډګر کې له الوتکې نه را کوز شو، ملک توده غېږ ورکړه. په تصادفي ډول اسمان هم باراني شو. نو ملک، ولسمشر ته وويل: والله ان اسمان هم ښه هرکلی درته وايي.

دواړه مشران د ولسمشر لپاره په ځانګړي شوي ځای کې سره کېناستل. د امت د دردونو، د عراق او د سعودي ترمنځ د ټينګو اړيکو، د سيمې د راتلونکي او په ځانګړي ډول د فلسطين د قضيې په اړه يې اوږدې خبرې وکړې، چې په منځني ختيځ کې د لانجې محور جوړوي.

ولسمشر صدام حسين ملک ته د کوېټ د کړنو په اړه خپل سخت خپګان ښکاره کړ او پوه يې کړ، چې کوېټ په خپله خوښه داسې پازابول نه کوي، بلکې د پرديو له لوري دغه کار ته مجبوربېږي او وې ويل، چې عراق د هرې بهرنۍ مداخلې پرخلاف له سعودي او نورو خليجي هېوادونو څخه د ملاتړ ژمنه کوي.

ملک له ولسمشر څخه وغوښتل چې وضعيت ته په کتو ګام پورته کړي او سعودي به په سيمه کې د ټولو پيدا شويو ستونزو او په ځانګړي ډول د عراق او کوېټ ترمنځ د را ولاړو شويو ستونزو د حلولو لپاره خپلې ټولې هڅې وکړي، مملکت (سعودي) به د عراق د اقتصاد په ښه والي کې هم مرسته وکړي څو بېرته روغ شي او د خليج له هېوادونو څخه به وغواړي چې له عراق سره مرسته وکړي او وې ويل: اې د عدي پلاره، هيله لرم چې نه مونږ او نه تاسې داسې کړنې ترسره کړو چې په سيمه کې کړکېچ زيات کړي او د جنګي بېړيو او پوځونو د راتګ ذريعه شي، که نه په ټوله سيمه کې به داسې مصيبت را منځته شي چې د امت حاضر او راتلونکی به ګواښي او له ولسمشر څخه يې وغوښتل چې د کوېټ په موضوع کې د نه کېږي او وې ويل، چې کوېټ خو يو کوچنی دولت دی، د لوېديځ او امريکا لويې ګټې پکې نغښتې دي او هره نښته به ورسره سيمې ته هلاکت راولي.



دلېدني له پای ته رسېدو وروسته ولسمشر له ملک څخه وغوښتل چې عراق ته ور مېلمه شي، ملک هم بلنه ومنله او په هماغه کال عراق ته ورغی.

## له سکه اردن سره د عراق اړيکه

ولسمشر ور غبرګه کړه: "مونږ د اردن په ځمکو کې د ننه د اردن د ملاتړ لپاره هوايي ډګر درلود، ملک حسين ورور را څخه و پوښتل: په دې موضوع کې ستا حکمت ته بلنه ورکوو، ما ورته وويل: هوايي ډګر د هم د ستا وي، ځمکه د هم د ستا وي، له هوايي ډګر وروسته او مخکې د هم د ستا وي او دا ټول د سياست په اړخ کې، نه د مشرۍ په اړخ کې.

"په ياد مې دي چې سکه اردن يو کال له ملي تنګلاسۍ سره مخ و. زه خبر شوم چې ملک حسين کوېټ ته په لاره دی. کوېټيانو هم ورته ويلي وو، چې د کوېټ د بهرنيو چارو وزير به په هوايي ډګر کې د هرکلي لپاره ولاړ وي، حال دا چې د کوېټ امير جابر هم په کوېټ کې و او داسې بوختيا يې هم نه وه چې وواېو، عذر يې درلود او داسې کړنه له رسمي پروتوکولونو او زمونږ له عربي اخلاقو سره نه ښايېدله.

ملک په تنګ شو. ما اړيکه ورسره ونيوله او ترې و مې غوښتل چې د سفر لوری يې بدل کړي او بغداد ته مخه کړي. سملاسي، هوايي ډګر ته د ده د هرکلي لپاره لاړم، ان ځينې ملګري وارخطا هم شول، ځکه له مخکې يې د ليدنې په اړه معلومات نه درلودل. عراق په هغه وخت کې سخت کلابند و، د چټکو اجراآتو لپاره مې له سکرتر څخه وغوښتل چې د مرکزي بانک ساتونکي او د ماليې وزير راولي، له دواړو مې وغوښتل چې په عراقي زېرمه کې د شته پيسو په اړه معلومات راوړي. بيا مې ترې وغوښتل چې پيسې د نيمايي کړي، نيمايي د زېرمه کړي او نيمايي نورې د زمونږ اردني ورونو ته ورکړي. د ملک حسين غوښتنې منل کېدلې، ځکه عراق او اردن په يوه حالت کې ګنډل کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"داسې حالت له ولسمشر حسني مبارک سره هم وشو، چې د مصر مالي وضعیت دېوالي و. مونږ داسې دریغ غوره کړ چې نه غواړو تفصیلاتو ته یې ورننوځو، خو دا چې دی زمونږ پر ضد ودرېږي، نو دا ډېره د حیرانتیا وړ ده، داسې هېڅ هم نه وو چې داسې کار د وشي.

"مونږ چې دغه دریځونه یادوو، د دې له امله یې نه یادوو چې پر چا احسان بار کړو یا پر دې خبره غره شو، بلکې د دې لپاره یې یادوو چې عربي مال یو دی، د امت پانګې او ثروتونه باید د هغه د ولس په خدمت کې وي، یوه ورځ هم ځان غوښتونکي نه وو او نه، تنګ نظره (دیګماتیست) وو، بلکې عراقي او موریتانیایي ته مو په یوه سترګه کتل. فلسطیني، مصري، اردني، خلیجي او نورو ته هم همداسې. دغه نظر مو دښمنانو ته خوند نه ورکاوه، ځکه دغه نظر د سایکس بیکو او نورو له لوري د تجزیې او وېش رسم شوی حالت له منځه وړ.

"د عربي مشرانو په کنفرانسونو کې به امریکا په پراخه کچه مداخله کوله یا د لیکلو پیغامونو له لارې یا د استازو له لارې او پر دوی به یې خپلې ویناوې او کارونه منل. مونږ به عربي مشرانو ورونو ته ویل چې امریکا ته مه تیتېږئ او دومره سپکوالی بس دی... داسې ښکارېده چې پر امت تکلیف دی، کله نا کله به د چوکۍ له امله هم تنګي پرې راتله. خو صدام حسین به تنګي نه منله، بلکې امت او مبارزه به یې منله. مونږ به تل ویل چې ځواکمن عراق کولای شي چې هر خنډ له لارې پورته کړي او د امت ملاتړ وکړي، خو ځینو عربي چارواکو یا د لټۍ له امله یا د کمزورۍ په خاطر او یا په بل خاطر په عراق سترګې پټې کړې او دا یې هېره کړه چې عراق د دوی لپاره سندان دی چې په ځټک یې پر دوی د دښمنانو د برید خوبونه ماتولی شي. لکه په عربي هېوادونو کې چې مشهوره ده، د مشریو په منځ کې غیرت دی، کله چې یو د مشر په توګه را ځرګند شي، نو د غیرت غشی پرې ور وارېږي.

ځکه مونږ له عربي ورونو په ځانګړي ډول له چارواکو وغوښتل چې د امت په وړاندې مسئولیتونه وزغمي او داد مې ورکاوه چې ما ټینګه کړې نیولې ده".



# پنځلسم څپرکی

## له واکه ګوښه‌توب ته د ولسمشر بلنه او د شیخ زاید وړاندیز

لکه څرنګه چې مونږ یو، الحمدلله ولس هم همداسې
په پاک لاس او رښتینولۍ پېژندلي یو.
او همداراز په مونږ کې یې ځواک، قاطعیت
عدالت او مهرباني لیدلې ده.

*(صدام حسین په زندان کې)*

مخکې له دې چې له ولسمشر څخه د عربي اماراتو د دولت د مشر مرحوم الشیخ زاید آل نهیان د بلنې په اړه وپوښتم، چې ولسمشر صدام حسین یې له واکه د ګوښه کېدو لپاره بللی و او بیا دغه بلنه وړاندیز نومول شوی و، له ولسمشر سره مې د واک پرېښودلو موضوع وټاکله، ده راته وویل:

"هو خلیله، مخکې مې پرېکړه کړې وه چې ان شاءالله نور به د هغې مودې له پای ته رسېدو وروسته ارام وکړم چې ولس د خپل چوپړ لپاره ټاکلي یو (وروستی ولایت په ۲۰۰۹ ز کال کې)، او د عراق مشري به رهبرو ورونو او ملګرو ته پرېږدم. ډېر ستړی شوم، غواړم چې ارام وکړم او په لویه بڼه د الله عبادت ته فارغ شم. خو دا چې له هغه ځایه په زوره و ایستل شوو چې لوی ولس مونږ ورته ټاکلي یو، نو دا کار ناشونی دی، ځکه مونږ ظلم ته غاړه نه شو ایښودی".

### دشیخ زاید وړاندیز

کله چې بوش د جګړې ډولونه وهل او پر عراق د یرغل نه کولو هېڅ ناره یې نه اورېدله، د متحده عربي اماراتو د دولت رئیس شیخ زاید پر عراق د جګړې د مخنیوي لپاره وړاندیز وکړ، چې په غبرګون کې یې له واکه د ولسمشر ګوښه کېدل او د عراق پرېښودل وغوښتل شول. دغه وړاندیز په یوه پیغام کې وشو او شیخ زاید د بحرین ملک شیخ حمد بن عیسی بن سلمان آل خلیفه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



واستاوه چې هغه د عربي مشرانو د غونډې رئيس ګڼل کېده. دغه غونډه د ۲۰۰۳ ز کال د فبروري د میاشتې په پای کې په خلیج کې وشوه او په پیغام کې څلور ټکي نغښتي وو:

۱- د عراقي رهبرۍ له واکه ګوښه کول او له عراقه وتل، څو عراق ټولې ور بنسټيزې ترلاسه کړي، چې دغه کار به د عربي وړانديز د منلو له نېټې وروسته په دوو اونيو کې کېږي.

۲- عراقي رهبرۍ ته به په سیمه بیزه او نړیواله کچه لازم قانوني ضمانتونه ورکول کېږي چې په هېڅ ډول به تعرض نه پرې کېږي او نه به څارل کېږي.

۳- ټولو عراقيانو ته د عراق دننه او بهر د پراخې او عامې عفوې اعلان.

۴- په عراق کې به د انتقالي مودې لپاره وضعيت د ملل متحد د سرمنشي په مرسته د عربي دولتونو د ټولنې په لاس کې وي چې په ترڅ کې به يې لازمي اجرآات ونيول شي، څو چارې د عراقي ولس له باور سره سم طبيعي حالت ته ور وګرځي.

يعنې وړانديز په دې مانا چې په عراق د جګړې د مخنيوي لپاره يوازينی حل د صدام ګوښه کول دي! خو د عربي مشرانو کنفرانس دغه وړانديز رد کړ او خطرناک يې وګاڼه. زمونږ لا تر اوسه د پرېماکوف دوهمه ليدنه په ياد ده، چې د جګړې له پيلېدو وړاندې عراق ته راغلی و او ولسمشر ترې پوښتلي وو: که مونږ داسې وګڼو چې دغه سپکه غوښتنه مو ومنله، يعنې له واکه ګوښه کېدل او له خپلې کورنۍ سره له عراقه وتل، نو ايا زمونږ ولس به د دوی له شر څخه خوندي شي. پرېماکوف منفي ځواب ورکړ او وې ويل: امريکايان به عراق ته ننوځي، که ته وې او که نه وې.

زما او د ولسمشر ترمنځ د شيخ زايد د وړانديز په اړه خبرې رواني وې او دا چې ده په هماغه وخت کې وړانديز رد کړ، نو وې ويل:"چا چې د پېښو په ليدلو کې خير له لاسه ورکړی وي، نو هغه بيا وايي چې عراق او صدام حسين



ولې دغه وړانديز ونه مانه، عراق به يې بچ کړی وای؟ دوی ته وايم، شيخ زايد د عربو د حکيمو حاکمانو يو حکيم، حاکم و او پوهېده چې څه وکړي خو د وړانديز په نوم چې د کوم نسبت ده ته کېږي، هغه د ده وړانديز نه و، بلکې په فشار ور پورې نښلول شوی و او د ده په نوم را مخکې شو. مونږ په دې خبره دې ډېر ګرماوه چې دغه ناوړه نومې وړانديز يې څنګه زغملی دی.

ما هماغه وخت ابي احمد (عزت الدوري) ته ويلي وو: "دښمنان يو ځل بيا چټي ګومان کوي، دوی د بعث تګلاره نه پېژني او نه د صدام حسين او د هغه د ملګرو حقيقت پېژني. دوی په ځانګړي ډول بوش ته هيله لري چې په ګواښ او اخطار سره کولای شي چې عراق او ملي نظام ته يې ماته ورکړي. کله چې د اشرارو نيتونه د هغو ناروغو نفسونو له خاوندانو سره ګډ شي. چې په امريکا او د هغه په «روزونکي» اسرائيل کې د طاغوتيانو له امرونو څخه په ذلت او سر ټيټۍ سره پيروي کوي، نو هر چوپ انسان ته چې دوی زيان رسوي، هغه مجبوروي چې له حق څخه د دفاع لپاره په لوړ غږ سره غبرګون وښيي او د تاديب او حق غوښتنې لپاره باطل د حق په ډېره وولي".

"ما ډېر باور درلود چې نائب عزت الدوري به په غوښتونکي دريځ دريږي، خو چټک سفر يې د خطرناک امر په اړه بحث منع کړ.

"د دغه نظر خاوندانو فکر کاوه چې ملي قيادت او صدام حسين به دغه ناوړه نظر ته هو ووايي، دا يې د هغې وېرې له امله کاوه چې په ناروغ خيال کې يې درلوده، دوی فکر کاوه چې دغه وېره به د ايمان څښتنان مات کړي او ملي قيادت به د عراق ولس او د مبارزې ملګري يوازې پرېږدي چې په يوازې ځان د امريکا او صهيونيت له بريد سره وجنګېږي... تقدير د دغه مسئوليت لپاره د ۱۹۵۹ ز کال له پيله انقلابيان او مجاهدين ټاکلي يو څو د دغه لوی ملت يوه برخه و اوسو، دغه ملت ډېرې قرباني ورکړې دي، مونږ منګولې پرې خښې کړې دي او پرې به يې نهږدو، لکه څرنګه چې مو دی په سختو شرايطو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه پرېږدي... مونږ څو ځله ویلي دي، څوک چې له امریکا او صهیونیت څخه د کمزورۍ په دلیل وېرېږي، نو مونږ کولای شو او چمتو یو چې پر ایمان او حق یې څواکمن کړو. مونږ امریکا او اسرائیلو واک ته نه یو رسولي، نو څرنګه به ترې وېرېږو... څکه خو زمونږ پر ضد را ټول شوي هم دي. ان کومو دولتونو چې له هغه وړاندیز نومي سره موافقت وښود یا موافقت ته مجبوره شول، چې په شیخ زاید پورې یې نښلوي، په حقیقت کې دغو دولتونو د عراق لپاره بدي نه زغمله، خو په اصل کې یې د صهیونیت خباثت او دسیسې سمې نه دي لوستلې، خو د کوېټ له شیخانو پرته عراق ته هره بدي غواړي.

"مخکې له دې چې مونږ هغه وړاندیز نومی رد کړو، ډېری عربي مشرانو ورونو رد کړی و، چې سعودي هم پکې و. هغوی د خوار شي چې باور یې درلود چې صدام او ملګري به یې عراق له هر څه سره ورته وسپاري. مونږ ورسره جنګېدلي یو او ورسره جنګېږو به، څو یې له پښو وینې وبهېږي، خپل هېواد به ترې ازادوو او داسې به یې ماتوو چې ټوله نړۍ یې له شر څخه خلاصه شي.

"دوی فکر کاوه چې مونږ به وړاندیز ومنو او عراق پرته له جګړې ورته وسپارو او که د دوی غوښتنې ونه منو، دوی به د ګډې دفاع له ژمنې سره سم د عربو ورونو له دریغ څخه عراق محروم کړي، چې مسئولیت به یې د صدام او عراق پر غاړه وي. په دواړو حالاتو کې به د امریکا او صهیونیت ناوړه او چټل اهداف ترلاسه شي او په یوه ډبره به یې دوه مرغۍ ویشتې وي. خو دوی به تل مونږ په خپلو سینو کې ومومي، د جګړو په خندقونو کې به مو ومومي... مرګ غواړو خو ذلت نه زغمو".

## بوش او د ګوښه کېدو بیه!

په هغه وخت کې چې په ولسمشر ټول فشارونه راواړل شوي وو چې له واک څخه ګوښه شي، ټولو باور درلود چې له واکه ګوښه کېدل به د عراق په ګټه وي،



پر دې سربېره چې پریماکوف د عراق په دوهمه لیدنه کې څه وویل، همداراز د ولسمشر صدام حسین او لویو مرستیالانو د ګوښه کېدو لپاره چې متحده عربي اماراتو د عربي مشرانو په کنفرانس کې هلې ځلې وکړې، دغه وړاندیز په هماغه وخت کې لومړی ځل ګڼل کېده چې یوه عربي هېواد داسې رسمي نارې وهلې.

د ۲۰۰۷،۹،۲۶ نېټه د هسپانوی ال پاییس ورځپاڼې خپرې شوې خبرپاڼې ته په کتو بوش په هماغه وخت یعنې د ۲۰۰۳،۲،۲۲ نېټه کې د هسپانیې له لومړي وزیر خوزیه أثناء سره د تکزاس په کراوفورډ کې په خپل کښت کې یو ځای و. بوش د دې لیدنې په ترڅ کې وویل چې صدام حسین د منفي ځواب لپاره چمتو دی، خو په دې شرط چې یو میلیارد ډالر ترلاسه کړي. أثناء پوښتنه ترې کړې وه چې صدام حسین ریښتیا هم کډه کوي، بوش په هو ورغبرګه کړې وه او بل احتمال یې هم یاد کړی و چې دی به ترور کېږي. خبرپاڼه وایي چې په هماغه وخت کې بوش د ملل متحد پیرو د امنیت شورا په غړو هېوادونو فشار راوړ چې د ځواک کارولو د پرېکړې پخلی وکړي، او ویل یې: هر څه چې کېږي "خو د مارچ په پای کې باید مونږ په بغداد کې وو".

د خبرپاڼې له مخې، بوش د عراق بیارغونې ته پر دې باور اشاره وکړه چې عراق "کېدای شي د یووالي په چوکاټ کې منظم شي". او وې ویل: "صدام نه بدلېږي او لوبه به کوي. خو اوس یې وخت راغلی چې ځان ترې خلاص کړو".

څوک چې صدام حسین پېژني، پر دې پوهېدای شي چې د نړۍ ټوله شتمني یې نه شي غولولی چې خپل عراق او ولس دغو احمقانو او رذیلانو ته پرېږدي... لکه د ده او عراق دښمنان چې باوري وو، که شتمنیو غولولی شوای، نو بیا یې ولې هغه وړاندیز ونه مانه. په حقیقت کې ولسمشر د دښمنانو او په ځانګړي ډول د بوش پر نفسي ژورتیا پوهېده او باوري و چې که په هره بیه وي دوی د عراق نیواک غواړي او صدام د دوی په مریو کې نښتې مړی ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپاړسم څپرکی

## د ولسمشر د ژغورلو لپاره ډیپلوماتیکې هڅې

زه نه پوهېږم چې عربي ټولنه د نیواک له سمبولونو سره
څنګه چلند کوي، سره له دې پوهېږي هم چې عراق له امت
څخه د دفاع د لومړنۍ کرښې ممثل دی،
نو د عراق را پرځېدل او د دغې کرښې را پرځېدل پر ټولو
د توپان راتلو په مانا دی.

*(صدام حسین په زندان کې)*

ولسمشر صدام حسین بشپړ باور را وبانه چې چارو ته په کتو د هغو دولتونو د لیدلو لپاره وخوځېږم، چې پر عراقي نندارہ یې اغېزه ښیندل شوې. ولسمشر به زما د رول او د ده د مخالفینو او د عراق د دښمنانو د غبرګونونو د خطرونو له امله زما درناوی کاوه. په ځانګړي ډول کله چې پوه شو چې زما د ترور هڅې کېږي (یوولس ځله هڅې)، د ملګرو په مخ کې به یې زما د رول ستاینه کوله، د قانوني چارو له چوکاټه بهر یې هم په ډېرو چارو کې پر ما اعتماد کاوه. له همدې ځایه او کله چې د ۲۰۰۶ ز کال په مې میاشت کې د محاکمې ډرامه ګرندۍ شوه، نو ولسمشر زه وګومارلم چې د عراق د وضعیت د انځور ښکارولو لپاره د ده کتبي او شفاهي پیغامونه ځینو مشرانو ته ورسوم، بې له دې چې مشخصې خبرې راباندې لازمي کړي، زه یې د وړ وینا کولو لپاره ازاد پرېښودم. زما لومړی هدف د ولسمشر ژغورل او د ولسمشر له لارې د عراق ژغورل و. د ډېری عربي او پردیو دولتونو له سفیرانو او استازو سره مې وکتل. له سفیرانو سره به مې د هغوی په دفترونو کې کتل او ټولې اسانتیاوې به یې راته برابرولې. ځینې به مې ماښام له دفترونو بهر کتل. ولسمشر هم زما هلې ځلې ښې ګڼلې، له ما او ملګرو سره یې د ۲۰۰۶ ز کال د اکتوبر د میاشتې په ۳۰مه نېټه په لیدنه کې وویل: "د دفاع کمېټه، یو اخلاقي او جهادي فعالیت



دی، انقلابي مبارزه ده، د ټولو هدف یو دی. الله دې ستاسې په هڅو کې برکت واچوي، ستاسې فعالیت هم د استاد خلیل له فعالیت سره برابر دی او له کمېټې سره په یوه لوري دی"، ملګري مې د هلو ځلو پر بل ماهیت خبر نه وو او هغه له مشرانو او سفیرانو سره اړیکه وه. خو د ظالمې پرېکړې له صادرولو وروسته چې په ورستیو ورځو کې امریکایي اړخ له دې منع کړم. چې بغداد ته دې د ولسمشر د لیدو لپاره مخه کړم، نو ما او ولسمشر به د یو بل کس په مټ پیغامونه لېږل را لېږل.

ولسمشر چې کومه دنده را سپارلې وه، په هغې کې مې ترلې مطلب درلود، یعنې د عراق ژغورل. ما چې له کومو مشرانو سره لیدل، نو ورته ویل به مې چې د عراق جوړېدل له صدامه پرته ناشوني دي. ما به قناعت ورکاوه چې له صدامه پرته به ګډوډي رامنځته کېږي، عراق به ضایع کېږي او پر عراقیانو له هغې لارې پرته چې پرې را لوی شوي دي په بله لاره پرې حکومت نه شي کېدای. په دې اړه مې له مشرانو او سفیرانو څخه ژمنې هم واخیستې، چې هرومرو به صدام بېرته واک ته را ګرځي او له ځینو هغو تېروتنو به لاس اخلي چې تېر وخت یې کړې وې. دوی ټول په یوه خوله وو چې د عراق د ورانولو او عربو او مسلمانانو ته د فارسېزم خطر راښکاره کېدلو له امله سیمې خپل توازن له لاسه ورکړی. خو د دوی هلې ځلې څکه بریالۍ نه شوې چې فردي هلې ځلې وې.

دلته باید هغه ګمانونه رد کړم چې ویل کېږي، چې ما او د ولسمشر ځینو خپلوانو له ځینو مشرانو سره د اړیکې لپاره شخصي هلې ځلې کړې دي. دا خبره ناسمه ده، ولسمشر صدام حسین له ما څخه غوښتي وو، څکه د زندان په موده کې یې زه ځان ته تر ټولو نږدې ګڼلم او له ما سره د ده په لاس لیکل شوي پیغامونه شته چې د عراق په اړه یې د عربو ځینو مشرانو ته لیکلي وو. زه بې تاریخ ته ساتم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ مې د یوه عربي هېواد په پلازمېنه کې له یوه مهم سفیر سره د لیدو ژمنه کړې وه، خو کله چې ځای ته ورسېدم، هلته د مذهبي ملېشو ځینې کسان وو، داسې ښکارېده چې زه یې ځارلم، نو مونږ بل ځای وټاکه او هلته مو هم هماغه کسان وموندل، نو ما هم سترګې پرې پټې کړې، ما ویل هسې نه چې سفیر ته د زیان لامل شم. د ناستې په وخت کې د یوه عربي دولت قونسل راسره مخ شو، ټینګه اړیکه مې هم ورسره درلوده، روغبړ مو سره وکړ، بیا یې متوجه کړم چې د عراقي ملېشو د کسانو له لوري تر ځار لاندې یم. په هماغې موده کې زه په عمومي سړکونو تلم او دا چې شخصي ګاډی مې نه درلود، نو دربس به مې نیوه. ما به له وخته مخکې تګ کاوه، ځکه وخت په چټکۍ روان و او د نوموړي کس مسئولیت زه مجبورولم چې د ژغورلو لپاره یې چټک ګامونه پورته کړم. دنده سخته وه، ما باید یوازې دغه کار کړی وی، ځکه ما او ولسمشر پرېکړه کړې وه چې په پټه به یې کوو. په هماغو سختو شېبو کې ما داسې احساس کاوه چې د ولسمشر د ژغورلو هڅه کوم، هغه بیا د عراق د ژغورلو هڅه کوله... دنده ډېره درنه وه. له بده مرغه، ځینو زمونږ د کار درناوی نه کاوه، په داسې حال کې چې زه به له یوه سفارت څخه وتلم او بل ته به ننوتلم او د عربي پلازمېنې په سړکونو به ګرځېدم. هغو دردوونکو مخنیونو ته نه ورځم چې په دې برخه کې ورسره مخامخ شوم.

زما هدف د الله او د خپل ملي انساني ضمیر راضي کول وو. هغه ښه راغلاست چې به ما د سفیرانو له لوري لیده، زما دنده به یې اسانوله. دلته باید د تاریخ د پوهاوي لپاره یوه اشاره وکړم، ټولو هغو عربي او بهرنیو سفارتونو ته چې زه ورغلی یم، سفیرانو یې ما ته تود او له درناوي ډک هرکلی کړی، د فلسطین له سفارت پرته چې نه یې په ورتللو کې هېڅ چا ښه راغلاست راته ویلي او نه یې په راوتلو کې...



## د عربو له مشرانو سره اړیکې

ولسمشر هیله درلوده چې عربي مشران به د ختیځ امت د دروازې ساتونکي (عراق) دفاع ته را و دانګي. ما خبر کړ چې له ځینو عربي مشرانو سره مې وکتل او د عراق حالت مې ورته انځور کړ او پر سیمې د را روان حالت انځور مې ورته وکېښ. ټولو له عراق او ولسمشر صدام حسین سره زړه غوښت. له عربي مشر سره مې ولیدل چې د ده ډېر درناوی یې کاوه، په عراق کې د روان حالت او په زندان کې له ولسمشر سره د په زندان کې د شویو کارونو په خاطر ډېر په غوسه و، او وې ویل: ما هیله درلوده چې د جګړې په ډګر کې شهید شي! څه چې له ولسمشر صدام سره کېږي، هغه زمونږ د ټولو سپکاوی دی. د وکیلانو هڅې یې وستایلې، خو ده هڅه کوله چې ولسمشر د محاکمې ناستو ته را نه وستل شي. ما ورته وویل، چې که دی را نه شي، دوی به یې په زور راولي. نو یوه شو او ژمنه یې وکړه چې د عراق او ولسمشر صدام حسین لپاره به ټولې هلې ځلې کوي.

له یوه بل مشر سره مې چې لیدل، هغه راته وویل: خلیله وروره، ولسمشر صدام حسین د عربو کلا وه او څه چې مو په لاس کې دي، له هغو څخه په کار اخیستنې سره به پوره هڅه وکړو چې حق حقدار ته ورکړل شي. د عدي له پلاره (صدامه) غواړم چې صبر وکړي، یوازې صبر وکړي. که څه هم چې په عراق کې زمونږ ګټه نشته، خو د عدي پلار د دې امت لپاره د امن او امان ناظم و. دغه مشر چې څه کولای شوای، هغه یې ټول وکړل، خو امریکایانو د اصلاح لپاره ټولې هلې ځلې وشړلې.

(د ولسمشر له وژلو وروسته مې له یوه رئیس سره وکتل، ډېر متاثر شوی و، ان ډېر ځله یې په هغه څه وژړل چې له ولسمشر سره وشول او له عراق سره کېږي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته مې د ځينو عربي مشرانو له استازو سره وکتل، ټولو له عراق او ولسمشر صدام حسین سره مینه لرله. تاریخ ته وایم، د دوو دولتونو مشرانو او استازو را سره ونه کتل. یوه کېدای شي عذر لرلای، چې په بل کڅ کې و، خو دوهم هیڅ عذر هم نه درلود. بې له عادته پرې فشار و، مشر یې کولای شوی چې په پټه را سره وګوري، لکه له ټولو مشرانو سره چې مې له رسنیو لرې او پټ وکتل.

ولسمشر وایي: "عربي واکداران نه ملامتوم، نه یې تنګوم، خو عذر هم نه ورته کوم، زما غاړه له دوی لرې پربږدئ. غاړه مې الله ته ایښې ده، ژوند ته هومره ارزښت نه ورکوم لکه څومره چې له ما سره د تاریخ انصاف ته ارزښت ورکوم".

خو زه وایم چې د ځينو عربي مشرانو په دریځ ولسمشر صدام حسین وشرمېده. د ولسمشر صدام کلک ملتپاله دریځ او ورسره په امت کې د عراق فضیلت یې په یوه تنګ ځای کې پرېښود. ځينو په پوهې سره او ځينو په ناپوهی د عراق په ورانولو کې هم ونډه واخیسته. امریکايي غواکونه د ځينو عربي هېوادونو د ځمکو له لارې عراق ته ننوتل او ور پسې ځواکونه د ګاونډي هېواد، اسلامي دولت [ایراني دولت] له لورې راغلل.

ولسمشر ډېر څله عربي ټولنه او ښاغلی عمرو موسی ملامت کړل، "د عراق له نیواک څخه تر اوسه مو ښکاره دریځ ونه لید، بلکې زه نه پوهېږم چې عربي ټولنه د نیواک له سمبولونو سره څنګه چلند کوي، سره له دې چې پوهېږي چې عراق له امت څخه د دفاع د لومړنی کرښې ممثل دی، نو د عراق را پرځېدل او د دغې کرښې راپرځېدل پر ټولو د توپان راتلو په مانا دی".

په دې جریان کې اوازه خپره شوه چې عمرو موسی عراق ته ځي. ځينو چارواکو ویل چې له ولسمشر صدام حسین سره به په زندان کې ګوري.



ولسمشر راته وویل ایا دا خبره رښتیا ده، ما ورته وویل: ځينو خبرپاڼو یاده کړې ده. ده وویل:

"که یې را سره ولیدل، نو بشپړ ښه راغلاست به ورته ووایم. دا ښه کار دی، ځکه دا لیدنه د نهایي بدلون تکی دی، ډېرې چارې به بدلې کړي، هرومرو به خبر شي او په داسې مثبت ډول به ورسره تفاهم ته و رسېږم، چې صابر مجاهد ولس ته مې خدمت وکړي".

خو عمرو موسی رانغی...

## دولسمشر د را خوشي کولو لپاره ځينې وړاندیزونه

کله چې د ولسمشر له لوري له ځينو عربي مشرانو سره په اړیکه نیولو وګمارل شوم او ما هم اړیکه ورسره ونیوله او د عراق حقیقت مې ورته وښود چې څومره ورانی، خرابوالی او تیت او پرک والي پکې روان دی، نو ځينې یې را ولاړ شول او امریکايي ادارې ته یې د ولسمشر صدام حسین د خوشي کولو د قناعت ورکولو هلې ځلې وکړې. خو هغه ټولې هلې ځلې د دوو لاملونو له کبله ناکامې شوې:

**لومړی:** هلې ځلې فردي وې، ځينو عربي مشرانو ته مې وویل چې د مشرانو یو کوچنی کنفرانس د جوړ کړي او وړاندیز د پکې وکړي، چې د زندان د پنجرو شا ته د ولسمشر صدام حسین پاتې کېدل شرم او عار دی.

**دوهم:** د امریکايي ادارې کبر او حماقت، ایران او په عراق کې یې د ننه لاسپوڅو ځينې سیاستوال او پوځي مشران امریکایان د ته اړ کړل چې په عراق کې د روانو حقیقتونو مخ پټ کړي او سپینې مانی ته څه و نه وایي. زه پوره خبر وم چې ځينو عربي دولتونو تر یوه حده امریکايي اداره قانع کړې وه چې دغه سیاسي او ډګریز پوځي مشران بدل کړي. بیا امریکايي ادارې ته یو څه حقیقتونه ور رسېدل او دریځ هم لږ لږ بدلېده. کله چې ایران او د ایران پیروان پر دې بدلونونو خبر شول، د وخت له لاسه ورکولو مخکې یې بیړه وکړه او

فشار یې زیات کړ څو له ولسمشر صدام حسین څخه ځان خلاص کړي. دا چې دغو عربي دولتونو ته د عراق او ولسمشر صدام په حق کې د دریغ له امله ستونزې را ولاړې نه کړو، نو نومونه یې د دې شدت تر ختمېدو پټوو. خو د شخصي وړاندیزونو په اړوند، زه به د امریکا متحده ایالاتو یا برېتانوي حکومت له استازو سره د هرې لیدنې په تفصیلاتو خبرېدم. ځو وړاندیزونه وو چې د بېلګې په توګه په لاندې ډول یې لنډوو:

په ۲۰۰۵ ز کال کې یوه ورځ د امریکایي ادارې استازي او د تړوني بلېر استازي و غوښتل چې د بعث ګوند له استازو سره په یوه عربې پلازمېنه کې تر عربي پالنې لاندې وګوري. په هماغې عربې پلازمېنې کې لومړنی لیدنه د برېتانیا د یوه سفیر په شتون کې د تړوني بلېر له مشاور سره وشوه. د عربي دولت وړاندیز په لاندې ډول و:

- د بعث له بېخه ایستلو د قانون لغوه کېدل.
- د فدرالي نظام د لغوه کولو او د پانګو د وېشلو د قانون تعدیلول.
- د عراق یووالی ساتل.
- په عراق کې د سیاسي فعالیت ازادي.
- د پخواني عراقي پوځ بیا را ګرځول.
- د ټولو زندانیانو او بندیانو خوشي کول.

د عراقي لوري غوښتنې داسې وې:

- لومړی شا ته تګ.
- د عراقي پوځ او ټولو قانوني موسسو بېرته را ګرځول.
- د بندیانو خوشي کول چې ولسمشر صدام حسین به هم پکې وي.
- په ۲۰۰۳ ز کال کې چې نیواک څه اجراآت برابر کړي او قوانین یې صادر کړي د ټولو ملغی.
- د خبرو اترو په هر ټکي کې ولسمشر صدام حسین ته ور تګ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



برېتانوي مشاور چې عربي یې هم ښه زده وه، ور غبرګه کړه: د صدام حسین په اړه خبرې نه شي کېدای، ځکه هغه له یوه شدید سرې سره دی (په خندا یې وویل)، په نورو چارو کې شونې ده. دغه څرګندونې به زه خپل دولت ته بوسم.

خو دغو خبرو اترو هېڅ ګټه ونه کړه، ځکه امریکایي او برېتانوي پلاوي خپلو هېوادونو ته ستانه شول او هېڅ ځواب یې را نه کړ. دا ټولې خبرې اترې د ولسمشر له پوهې یا موافقې پرته د عربي منځګړیتوب منل و.

ولسمشر صدام حسین مې په دې وړاندیزونو او په بېروت کې د عربي ملتپاله کنفرانس د بنسټګر او د پخواني مشر دکتور خیرالدین حسیب په وړاندیز خبر کړ، نو ده له امریکایانو او برېتانویانو سره هره داسې اړیکه رد کړه چې په زندان کې د قانوني قیادت له پولو بهر د عراق راتلونکی محدودوي او وې ویل: "که امریکایان جدي وي، نو دلته او هلته چلونو ته اړتیا نشته او نه پر دغه یا هغه اړخ را ټولېدل شته. مونږ ورسره یو. له مونږ سره اړیکه سخته نه ده، مونږ دا نه منو چې زمونږ رول ته د پاملرنه ونه شي. امریکایان د مقاومت په ښه کولو لپاره هڅه کوي چې د ګوند او پوځ مشران معلوم کړي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوولسم څپرکی

## ولسمشر او د محکمې تګلوری

په ۲۰۰۶ کال کې د ولسمشر صدام حسین او مدافع وکیلانو د لیدنې په ترڅ کې ښاغلي رمزي کلارک نظر ورکړ، چې محاکمه له عراقه بهر ولېږدول شي او وې ویل: امریکایي ستره محکمه اوس د خپل حکومت پر ضد دعوې قبلوي، ان که هغه د امریکا له خاورې بهر هم شوې وي. اوس هم د امریکایي حکومت پر ضد څو دعوې شوې دي، نو وکیلان کولای شي چې د ولسمشر په ګټه د امریکایي حکومت پر ضد خپله دعوا اقامه کړي، ښاغلی طارق عزیز هم کولای شي چې داسې دعوه وکړي.

د طارق عزیز، عواد البندر او نورو ملګرو په اړه ولسمشر ویل، چې دوی داسې دعوې کولای شي، هر یوه ته چې دا دعوه ګټوره ښکاري، زه یې مخنیوی نه کوم. خو شخصاً ځان ته یې نه غوښته او زیاته یې کړه: "ما له ځوانی نه تر اوسه پورې له چا څخه مهرباني نه ده غوښتې او نه یې غواړم، څو ځله د اعدام حکم را باندې وشو، ما ژوند نه دی غوښتی، اوس به یې څنګه غواړم چې عمر مې نږدې اویا کلونو ته رسېدلی دی. پوښتنه دلته را ولاړېږي چې د محاکمه کېدو نېټه د ۲۰۰۶،۱۰،۱۶ نېټه وه اوس ولې یوه میاشت یا لږ او زیاته وځنډېده". ولسمشر به پوښتل: عجیبه ده، د امریکایي محکمې د غبرګون لپاره کار څومره وخت نیسي. خو ښاغلي رمزي کلارک ټینګار کاوه چې له هماغې نېټې وروسته دعوه وشي. د نورو وکیلانو نظر هم همدا و. ولسمشر وویل: "که مونږ نړیوالې محکمې ته لاړ شو، نو لکه د ولسمشر یوګلاسوي میلوسوویچ په څېر به مونږ هم څو کاله په څېړنو او محاکمه کې پاتې شو او له عراقه د بهر محکمې منل د تسلیمېدو او په تور د اقرار په مانا ده او پر دې اعتراف دی چې مونږ ګناهکاران یو. زه باور لرم چې امریکایانو او داسې محکمې ته امان نشته او په ۲۰۰۶،۱۰،۱۶ به پرېکړه وکړي".



ولسمشر زیاته کړه:

"زه د استاد رمزي کلارک او د هغه د عزتمنو ملګرو وکیلانو په انسانیت او زما د ژوند د ژغورنې لپاره په ټولو هڅو خبر یم، خو زه یې په دې لاره ژغورل نه غواړم. الحمدلله خپله دنده مې پوره کړې ده. د دې پر ځای چې صدام د دښمن په لاس زر کاله ژوند وکړي دا به ښه وي چې د دښمن په لاس ووژل شي. همدا زما هیله ده. الله جل جلاله حسین رضي الله عنه په کربلا کې شهید کړ، دا چې دی مظلوم وفات شو، نو لا تر اوسه د میلیونونو وګړو په زړونو کې اوسېږي، د خلکو په زړونو کې مظلومان اوسي، ظالمان نه او حسین زمونږ نیکه دی. وکیل خافییر په یوه ناسته کې راته وویل، چې د حلبچه ښار د ناوړه پېښې په اړه به د ایران پر ضد دعوه وکړي، ما ورسره ونه منله او ورته و مې ویل؛ مونږ ته نیکونو را ښودلي چې له هېچا شکایت ونه کړو، ځکه زمونږ د نیکونو له عاداتو سره سم شکایت کول عیب ګڼل کېږي. په همدې اساس مو دا میراث وړی دی. صدام حسین د هېچا د محاکمه کولو صفت نه لري، مخکې مې د صن خبرپاڼې محاکمه کول هم ونه منل، چې د جګړې د بندي په څېر یې زما حقوقو ته زیان رسولی و. زه باوري یم چې تاسې به د حلبچې اسناد لرئ، خو ورونو زه په عراق کې زېږېدلی یم، په عراق کې ژوند کوم او په عراق کې به مړ کېږم. زه له دې سره عادت شوی یم چې په خپل هېواد کې ژوند وکړم، ساه پکې واخلم او د ولس په منځ کې واوسم... او د محاکمې قضیه د عراق له نورو ټولو قضیو سره یوازې د مقاومت زړور اتلان پای ته رسولی شي او کومه عراقي نومې محکمه چې ده هغه د سیاسي حالاتو او بدلونونو تابع ده، امریکایي ولس هم فشار اچولی چې له عراقه په شا شي. نو زه له هېچا څخه مهرباني نه غواړم. نو ځکه عراقي محکمه او په عراق کې یې ښه ګڼم څو ولس په حقیقت خبر شي، پر دې سربېره په محکمه باندې د مقاومت شدت هم اغېزه ښیندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"زه نه غواړم چې دغه محکمه د نړیوالې هغې ته ولېږدول شي، ځکه نړیواله محکمه د سیاسي دریځ په بدلون سره نه بدلېږي او زه یې ځکه نه منم چې که نړیواله محکمه پرېکړه هم وکړي، نو عفوه نه شي کولای. که په امریکا کې پرېکړه وشي، نو دا به جریمه را منځته کړي، د امریکایي ولس او نورو ولسونو په ګټه به وي او امریکایي حاکم ته به ننګونه وي، چې په نړۍ به هم اغېز وښیندي او امریکایي حاکم به پوه شي چې که یې حکم او سلوک غیر قانوني وي، نو ولس به دی ونه مني او زه له دې څخه په تنګ کېږم چې د تاسې تګ او راتګ به تاسې ته پراخ خطرونه پېښ کړي.

"زه نه په دې محکمه کې اعتراف کوم او نه یې په تأسیس اعتراف کوم، کله چې قاضي جوحي راته وویل: ته صدام حسین یې، په ۱۹۳۷ ز کې پیدا شوی وې، د عراق د جمهوریت پخوانی رئیس وې او د منحل شویو وسله‌والو ځواکونو اعلی سر قومندان وې او د انقلاب د منحل شوي قیادت د شورا رئیس وې... ما ورته وویل: زه صدام حسین د عراق د جمهور رئیس، د وسله‌والو ځواکونو اعلی سر قومندان او د انقلاب د قیادت د شورا رئیس یم او لا تر اوسه په عراق کې اوسېږم. کله یې چې پوښتنه وکړه چې زما په فکر له حقوقو فارغ شوی یې؟ ما ځواب ورکړ: زه فکر کوم ته قاضي یې... او ورته مې وویل: اې د جوحي زویه، که د صدام په وخت کې قاضي شوی نه وې، نو پر الله قسم چې اوس به قاضي نه وې، ځکه که صدام حسین ستاسې لپاره حالات برابر کړي نه وای، نو د بزګرانو او نورو زامنو ته به د درس فرصت برابر نه و".

په یاد مې دي چې له جوحي سره د محکمې د لومړنۍ استماعیې وروسته ولسمشر پوښتنه را څخه وکړه چې ناسته تلویزیون او نورو رسنیو خپره کړې ده، ما ورته وویل، ځینې برخې یې خپرې شوې، د عربي ولس په روحیه یې ډېره اغېزه ښېندلې ده، ټولو ویل چا چې د ولسمشر صدام حسین محاکمه کول



غوښتل، هغوی د ولسمشر له لوري محاکمه کېدل او عربي ملت کلک ولاړ دی او سره له دې چې ډېر فشارونه پرې وشول، خو له خپل دریځ څخه نه اوړي... ولسمشر وایي:

"دا محکمه غیر قانوني او دستوري ده، د نیواک له لوري جوړه شوې ده، د دروغجن یرغل له لوري را وړاندې شوې، له نړیوال قانون، ارزښتونو او له عدالت څخه د بهر برید د جریمې یوه ثمره ده". او وې ویل: "دا عدالت او قانون ته سپکاوی کوي، په اصل کې د نړیوال نظر د غولولو لپاره یوه ډرامه ده، دوی خو د قانون او عدالت خبره کوي، خو دوی ترې تر ټولو لرې دي. د جنیف تړون مې ولوست، په ځانګړې ډول د بندیانو په اړه. ځکه زه دا وایم چې د عراق د قانون او دستور او د جنیف د تړونونو د مخالفې محکمې د تشکیل په ضد څه تشکیل جوړ شي، ځکه د هر شي بنسټ چې باطل وي، نو هغه باطل دی"... بیا یې زیاته کړه: "په باطلو پرېکړو، د نیواک تر چتر لاندې او د امریکایي واکمن په لاس یې محکمه تشکیل کړې ده. دا یعنې د قانوني ځواک غصبول دي او پر عراقي او نړیوال قانون یو ډول پراخ تېری دی. ځکه زه هیله درنه کوم چې دفاع مو قانوني، سیاسي او رسنیزه وي".

کله چې قاضي د څېړنې په یوه ناسته کې له ولسمشر څخه پوښتنه وکړه، چې ملګري یې وایي چې امرونه ده صادرول، ولسمشر ځواب ورکړ: په ۱۹۶۴ ز کال کې زه د قیادت غړی وم او انقلاب مو پلان کړ. بیا درې میاشتې وروسته لکه د قیس د خیانت په څېر په خیانت سره بندي شوم. د څېړنې په وخت کې یو بندي کمزوری شوی و او پلان یې افشا کړی و. کله چې له ما څخه قاضي وپوښتل، ما ورته وویل چې پلان زما و. قاضي وپوښتل: او ابوهیثم (احمد حسن البکر)؟ ما ځواب ورکړ چې زه له عبدالسلام عارف سره د ابوهیثم په اړیکه شکمن یم. له هغه مې بار پورته کړ. سړي په همداسې ځایونو کې معلومېږي".

او ولسمشر خبرې بشپړولې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"مونږ د قرباني لپاره پیدا شوي یو، مشر باید قرباني و زغمي، که بوش پر ما د اعدام حکم وکړي، زه یې له بوټونو سره هم نه برابروم. کله چې قاضي د اعدام پریکړه لولي، نو دی باید دا په یاد ولري چې زه یو پوځي سړی یم او باید په مرمی وویشتل شم".

ولسمشر و پوښتل:

"ایا مدافع وکیلان کولای شي چې د مؤکل پیغام د هغه کورنۍ ته و رسوي؟ که د سره صلیب له لارې وي، دا نو په دې مانا چې مونږ بندیان یو او بندي محاکمې ته نه ځي، خو که د دې خلاف وي، نو دا بیا دوه ژبي ګڼل کیږي.

زه دا پوښتنه کوم چې څارنوالان ولې په بغداد او د عراق په نورو سیمو کې د مذهبي فتنې په پایله کې د لسګونو بلکې سلګونو کسانو د وژل کېدو په اړه نه خوځېږي؟

"له مونږ سره د محکمې له لوري په کارول شوي اسلوب او لاره، لکه د زندانیانو وېش یا د ټولو حاضرول یا د وکیلانو له لوري دننه کول مونږ نه یو وارخطا کړي. ما قاضي ته وویل چې لکه د قانوني اړخ په توګه د شرعي او خلاف په منځ کې ګډوډي روا نه ده. ما ترې وغوښتل چې زما وضاحت ثابت کړي چې عراق د امریکایانو له لوري محکوم دی، کله چې پر ما په غوسه شو، ما ورته وویل چې پر ما غوسه مه کوه زه تر تا پورته یم. څوک چې شرف او غیرت لري، داسې ډرامه ییزه محکمه نه شي منلی.

"په نننۍ ناسته کې مې د ځینو وکیلانو ورونو په خبرو کې بدلون ولید، چې محکمه یې عادلانه وبلله. دا چې محکمه غیر قانوني ده او زمونږ له لوري هېڅ ډیپلوماټیکه وینا نه اورېدل کیږي، نو ځکه یې مونږ داسې ګورو چې د استاد خلیل موخه کول یې غوښتل، ځکه هغه ښه چلند نه ورسره کاوه. محکمې ته خبرې کول زمونږ ښېګڼه ګڼم، دوی غیر قانوني دي. د لومړیتوبونو په بیه ښه چلند ځوروونکی وي او منفي پایلې لري. پر مونږ لازمه ده چې له ښه چلند څخه لومړیتوبونه لرې کړو. تاسې باید له خپلو دریځونو را ټیټ نه شئ او د



محکمې د تېروتنو او اشتباهاتو له ځوابولو څخه کښته نه شی، په ځانګړې ډول په اجرائیوي مسایلو کې او د قاضیانو د تعینولو او د سیاسي او مذهبي بنسټونو په اړه باید کمی ونه کړئ. دا په یاد ولرئ چې دا محکمه د فارسیزم په طریقه روانه ده".

دله ولسمشر را څخه وغوښتل چې قاضي رزګار محمد ته یې سلامونه او منني ورسوم او خبر یې کړم چې ولسمشر یو شعر ورته لیکلی دی. لکه څرنګه چې ولسمشر ویل، رزګار چې کله له حقیقته خبر شو، نو بېرته وګرځېد.

ولسمشر وکیلانو ته وویل:

"اې اتلانو تاسې زه غښتلی ښکاره کړم او ما تاسو. په تېره ناسته کې مو د دفاع شاهدان ولیدل، له عراق او لارې څخه یې دفاع کوله، مونږ د صدام حسین دفاع نه غواړو. په وکیل د محکمې هجوم د حق په دفاع پورې تړلې هڅه ده، د باطل هجوم دی، چې په زرګونو کمزوري ټکي لري. د دوی هدف د اتلو وکیلانو په عدالت کې شک اچول و.

"هغوی چې په عراق حکومت کوي او د اعدام حکم نه کوي، دا یې د ځانونو لپاره دی، ځکه دوی غواړي چې دا ثابته کړي چې دوی د اعدام پر ضد دي، خو ځان ته هم لاره برابره کړي. پوښتنه دا ده: دغه محاکمه د څه لپاره؟ زما کمه هیله دا وه چې دوی به سپکه پریکړه وکړي، ځکه دوی ولیدل چې په دې قضیه کې د لوبې او چل ول ځای نشته، هر څه په چټکۍ پکې بربنډ شوي دي، دوی غواړي عوام وغولوي چې محکمه عادلانه ده او ځینې کسان ازادوي. له بلې خوا، هغو امریکایي چارواکو په بېړه د پرېکړې کول غوښتل، چې شونې ده په حکومت کې هم موجود وي.

"یوه لړۍ مخالفتونه یې هم وکړل، تاسې پوهېږئ چې پر مونږ قاضي یا محکمه پریکړه نه کوي، بلکې امریکایان پرېکړه را باندې کوي. زه په همدې حقیقت قانع شوی یم. امریکا او صهیونیت پر مونږ پریکړې کوي او زما پر ضد خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لسگونه کاله وړاندې پرېکړه شوې وه. خو ما ته یوازې د ډېرې کسانو نظر مهم دی او پر دې هم قانع یم چې زما په حق کې شوې پرېکړې مخکینی دي.

"د دوی مخالفتونه چې د دفاع کمېټې ته نه درناوی یې څرگندوي، هغه په بې شرمۍ سره د استاد ډوبلیر په نېکتیایي د دوی تبصره ده. دوی هڅه وکړه چې د هغه شخصیت کم کړي او سپکاوی ورته وکړي. قضا به په داسې حال کې څنگه پاکه وي چې د عدلیې وزیر د نیواک د حکومت یوه برخه وي".

ولسمشر زیاتوي:"پوښتونکی پوښتي، چې ولې یې د دجیل قضیه لومړی کړه، په ځانگړي ډول د دعوت گوند دومره قوي هم نه دی چې پر محکمه د خپله پرېکړه ومني. زه باوري یم چې دغه پرېکړه امریکایانو کړې ده. زما په نظر، محکمه دوې لارې لري؛ یا دا چې اقرار وکړي چې هېڅ پردې ته اړتیا نه لري او دوی به خپل ناولي نیتونه تطبیق کړي، یا دا چې که یې د بلې پردې، پردې ته اړتیا درلوده، نو مرافعه محکمه دې د ۲۰۰۶،۷،۲۴ نېټې ته وځنډوي. مونږ باید پوه شو چې د محکمې له لوري د نرمی له ښکاره کولو پرته زمونږ تگ محکمه نوره هم دې ته هڅوي چې مونږ او وکیلانو ته ضرر ورسوي او هم یې وشړي، چې په ټولو کې گواښ او شړنه لومړی استاد خلیل ته متوجه ده، ځکه هر هغه وکیل چې د محکمې له لوری جوړ شوی سیوری خرابوي، نو د شړلو جزاء به ور کول کېږي".

**په څو ناستو کې مدافع وکیلانو ته د ولسمشر لارښوونې**

د محکمې په اړه ولسمشر ځینې ملاحظات څرگند کړل:

"زمونږ په مخ کې دوه حالتونه دي، یا به دفاع کوو او یا به نیوکه، خو زه وروستۍ حللاره ښه گڼم.

- دکتور نجیبه! تاسې وینا او څرگندولو ته اړ نه یاست، ځکه یو ماشوم لوی سړی نه شي بد اوازه کولای، بلکې سرچپه ده، زه هیله لرم چې تاسې د لوی عراق پر ولس د دغو ناپېژندل شویو کړنې ونه گڼي. دوی ناپېژانده دي.



-زه ستاسې د تگ او بېرته راتگ له پیل څخه هغه څه اندازه کولای شم چې تاسې ترې دردېږی او ښاغلی کلارک او ښاغلی ډوبلیر چې له څه شي څخه دردېږي، هغه هم اندازه کولای شم. تاسې په بشپړ ډول مجاهدین یاست.

- که مونږ داسې فرض کړو چې د محکمې بنسټ قانوني دی، خو د محکمې په ډرامتون کې چې دوی څه کوي، هغه باطل دي او د دوی غیر قانوني بنسټ ولس ته رسوا کوي.

-زه د محکمې د غیر قانوني والي په اړه د ښاغلي احمد بن بېلا پیغام تأییدوم، ځکه لازمه ده چې په دوامداره ډول همدا د حق چیغه تکرار شي او استاد خلیل په دې برخه کې کمی نه دی کړی.

-دکتور نجیب النعیمي اصلي عرب مبارز دی، څه چې وشول، هغه د ده عزت او شرف دی.

-علي حسن المجید ته فرصت ورکړی چې خپلې گواهي ته دلیلونه راوړي، ځکه دی اړتیا ورته لري.

- د نیولو امر باید عراقی قاضي وکړي او عراقی قوه یې پلی کړی او د نیولو امر له شپږ میاشتني زندان وروسته شوی دی.

-په محکمه کې امریکایي اړخ په پوره قوت شته او جمهوري او ډیموکراسي جریانونه ورسره په سیالۍ کې دي.

-استاد خلیله، الحمدلله زما زنداني ورونه ستا شجاعت او دریځ ته حیران دي او ستا له دندې اداء کولو څخه ډاډه دي.

- د څارنوال کړنه ځوروونکې او نالایقه وه، داسې نه و لکه ادعا چې کوي، داسې وه لکه د شخصي دښمنی دنده چې یې اخیستې وي. که محکمه په دې لاره لاړه شي، دا نو په دې مانا چې محکمه د حکومت تر فشارونو لاندې روانه ده. کله چې ظلم له خپله حده زیات شي، نو انسان غچ اخیستو ته مجبوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



-مونږ داسې توقع نه لرو چې قاضي دې د دفاع د حق لپاره پر بنسټيزو حقوقو سترگې پټې کړي، خو کېداى شي پټې يې کړي يا يې هم پرې ور پټې کړي چې دا به يې د پرېکړې په پايله اغېزه ولري.

-د محکمې د دې دريځ په اړه چې عربي او بهرني وکيلان نه مني او ځنډوني کوي، هيله لرم چې ستاسې دريځ بايد ډېر جدي او ټينگ وي.

- استاد رمزي، تاسو امريکا ته داسې اعلان وکړ چې شل سفارتونه او په ميليونونو ډالره يې نه شي کولاى، د امريکايي ولس په مخ کې دې داسې انصاف وکړ، چې ټول چينلونه او رسنۍ يې نه شي کولاى.

-انسان کار کوي، خو د رحمن رب له ارادې پرته څه نه شي کولاى. ما هم په پوره ژورتيا او د مبارزې په طريقه کار وکړ او څه چې غواړم درته و يې وايم، هغه دا چې که هره پرېکړه را ووځي، نو يو دې هم نه گډوډېږي، تاسې لکه څرنگه چې مو خپلو هېوادونو ته کار کړى، همداسې مو عراق او صدام ته هم کار کړى دى. ځکه د عراق ولس او هغه وگړي چې د پرېکړې د صادرېدو په وخت کې ذهناً نشته، تاسې به يې را ټولوى، ځو دې ته يې پام شي چې پرېکړه واکدارانو کړې او ولسونه له داسې ناوړو کارونو سره اړيکه نه لري... تاسې د اوس او راتلونکي لپاره کار کړى دى.

- په محکمه کې له څو کسه کارکوونکو پرته ټول زما اعدام غواړي. خو هغه کسان چې اعدام نه غواړي، هغوى پر ما مهرباني نه کوي، بلکې له عاقبتونو څخه يې وېرېږي.

-ستاسې پام را اړوم، چې د محکمې د ټاکلې دفاع د دفتر په لايحه کې لاتيني کلمې او عبارتونه دي.

-زه په دروغجن کردي شاهد سره وارخطا نه شوم. د ده وينا ته د دقت په ترڅ کې معلومه شوه چې هغه د اسرائيلو جاسوس دى.



-کله چې تاسې له يوه بل زنداني څخه دفاع کوى، لکه له ما څخه مو چې دوه ځله کړې وه.

-که مونږ له خپلې پرېکړې وگرځو، نو دوى به تورن او وکيلان به سپک کړي.

-د دجيل د خلکو لوى شمېر د دفاع شاهدان به د دجيل له ښاره دغه بار پورته کړي، ځکه ځينو يې اوازه ور بده کړې ده. دا د دجيل ښار په گټه ده چې وگړي يې د عراق د لارې په حق کې شاهدي ورکړي، نه د صدام حسين په حق کې.

-د شاته تگ غوښتنه وځنډوى، ځکه پر قاضي عبدالله العامري له ټولو لورو ستر فشار دى.

-قاضي عبدالله العامري ته پرته له دې چې مونږ ووايو، درنه خبره يې وکړه، بوش ته د ده خبره د داسې پرېکړه کوونکي قاضي خبره وه چې دوى په داسې محکمه کې گمارلى چې هغه محکمه هم د دوى صنعت دى. دا خبره به بوش ته په ټاکنو کې ډېر زيان و رسوي، ځکه يې هم ورته وکړه. خو قاضي رزکار استعفا ورکړه او ځان يې خپلواک کړ، ځکه دى له پخوا پوهېده چې پرېکړه به د بل چا په لاس وي.

-مونږ ته پر استاد خليل د فشار کچه معلومه ده، ځکه مونږ وايو چې خپلې هغه خبرې چې دى يې غواړي، ملگرو ته د وکړي او مبارزه د ور پسې وکړي.

-پرون مو و غوښتل چې محکمه په څرگند ډول هغه څه ته متوجه کړو چې پېښېدونکي دي، خو له لومړۍ شېبې هدف د ډېرو کسانو متوجه کول و څو د حق پټولو ته وېښ وي.

-وکيلانو نوښت وکړ او يوه ښه ډله يې تشکيلوله.

-له تاسې سره زما د تړون پر اساس، زه به زما له لوري د وکيلې د دفاع کمېټې د شتون لپاره د دجيل د محکمې د قضيې له دوسيې څخه د دفاع د دفتر لايحه ايستل وغواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- که د دفاع کمېټه حاضره نه وي، نو له حاضرېدو څخه به يې ډېرې شکمنې پوښتنې را ولاړې کړي، ان له وخته به ګټه پورته کړو. دلته پوښتنه دا ده چې: که د دفاع د کمېټې د وکيل په نه شتون کې محکمه پرېکړه وکړي؟ زما په باور حللاره يې دا ده چې د دفاع کمېټه په يوه قانوني مرکز واوړي او د دفاع بله کمېټه وټاکي، خو د دغې قضيې لپاره نه، بلکې د نورو قضيو لپاره.

-بله پوښتنه: که مونږ محکمې ته حاضر شو يا په زورسره حاضر کړای شو، نو ايا دفاع به کوو او که نه؟ کومه يوه ځواکمنه ده چې دفاع مو ليکلې ولولو او که زمونږ د احتجاج د يوې برخې په څېر هېڅ ويل ونه منو او داسې ثابت پاتې شو او ووايو چې مونږ ليکل شوې دفاع لرو. خو زمونږ احتجاج د دې لپاره دی چې د قانوني دفاع غوښتنې نه منل کېږي، نو مونږ هم دفاع نه کوو او له محکمې بهر يې کوو.

-خوند نه راکوي چې د دغه مسخ شوي (العربيي) له لوري چلېدونکې ناستې ته حاضر شم. د دغه قاضي په اړه چې مې څه معلومات درلودل، کله چې مې د هغو يادونه وکړه، زما هدف عراقي ته زيان رسول نه و، بلکې د ده په اړه مې ده ته هغه څه ور يادول چې دی پرې خبر نه و، چې يوه ورځ يې په څېړنه کې وويل: زه په بغداد کې د لسو مشهورو کورنيو له يوې کورنۍ څخه يم.

- د استاد طارق شاهدي مهمه ده، ځکه دی د خبرو اترو د هيئت غړی و او همدا راز له ده سره د کېمياوي وسلو په اړه معلومات هم شته او هغه کسان هم پېژني چې دغه وسلې يې وکارولې.

## په دجيل کې څه وشول؟

د ۲۰۰۵،۱۲،۵ نېټې د محکمې د ناستې په مداخله کې ولسمشر صدام حسين پوښتي:



- کله چې پر جمهور رئيس، ان پر هغه رئيس چې امريکايانو ګمارلی وي ډزې وشي، ايا څېړنې نه کېږي؟ ايا امنيتي ارګانونه حق نه لري چې داسې پېښه وڅاري؟
- مسئول صدام حسين دی، کولای يې شوای چې د اعدام د پرېکړې پر نه څېړلو او نه تصديق يې امر کړی وای.
- هغه باغونه چې ډزې ترې وشوې او استملاک شول، څښتنانو ته يې بدله ورکړل شوه، وروسته يې له بدلې سره بېرته څښتنانو ته ورکړل شول.
- که تاسې او که امريکايان غواړئ چې محاسبه وکړئ، نو ما د دولت د رئيس په توګه خپل قانوني او دستوري صلاحيتونه کړي او مسئول يې يم.
- دغه لوبه نوره بس کړئ، که د صدام حسين غاړه غواړئ، نو هغه د ستاسې وي.

له ولسمشر سره مې په يوه ځانګړې ليدنه کې هغه ته وويل چې ځينې امريکايان وايي چې د دجيل د قضيې تور يو بې ارزښته تور دی، د دومره غوغا مستحق نه و او کوم امريکايان چې دلته په زندان کې يا د محکمې د دېوالونو په منځ کې ګورو هغوی د حقوقپوهان هم نه دي، بلکې افسران او د نورو رتبو کسان دي...

ولسمشر نظر پرې ورکړ او وې ويل:

"کله چې د ډبليو بوش حکومت، صفوي لاسپوڅي او د عراق د ننه او بهر مرستندويان ناکام شول، د عراقي اتمي وسلو د حقيقت په جعلي کولو کې له ترهګرۍ سره د عراق په تړلو کې ناکام شول، نو دغه محکمه يې جوړه کړه او د زنګ وهليو تورونو په اړه څېړنې کوي. بيا يې داسې حقوقپوهان را وستل چې بلکل له دغې عزتمنې دندې سره نا اشنا وو. دغه کار يې د نفساني غوښتنو يا د رټل شوي شيطان د غوښتنو لپاره وکړ يا يې د دندې لوړه ماته کړه. خو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی کې عزتمن سړي هم وو، د قضا په دنده کې يې انصاف کاوه او د حق مرسته يې کوله چې په سر کې يې زړور او امانت ساتونکی استاد رزګار محمد امين او قاضي عبد الله العامري وو. د دوی په څېر د حق په اړخ کې د قانون سړي وو، زړور وکيلان، د حق د بريالي کولو لپاره له خپلو سرونو او ارواوو تېر شول، سره له دې چې په لارو کې يې ډېر خطرونه وو، مونږ هم له وړاندې ورسره اړيکه نه درلوده، خو د دوی تکړه والي دوی دغه زړور دريځ ته مجبوره کړل. په هر حال د يرغلګرو او لاسپوڅو له هڅې وروسته د دجيل قضيې په نومولو حقيقتونه خراب شول، مونږ دا پوښتنه کوو چې دغه قضيه څه شی ده چې صدام حسين او ملګري يې پرې محاکمه کېږي او هغه کسان پرې محاکمه کېږي چې دوی راوړي دي او د صدام حسين لوی مرستيالان يې نومولي دي، خو په حقيقت کې هغوی کارکوونکي، د پيليزو مدارسو معلمان او د بزګرانو د ټولنو خلک دي...

"په هماغه وخت کې عراق د خميني د هيلو په وړاندې له ختيځې دروازې څخه دفاع کوله. پر مونږ لازمه وه چې د ولس له لوري مو له پوځي جبهې سره مرسته کړې وای، دېوال مو جګ کړی وای او ژوند ته مو ادامه ورکړې وای. هغه بايد زمونږ د ولس حال ليدلی وای، زمونږ ښارونه، کلي او باندې يې ليدلي وای. دا ځل مو د فارس (دجيل) قضاء ليدله. کله چې کاروان ورسېد، په قضاء کې عراقيانو په تود او عزتمن ډول هرکلی وکړ، دوی عزت پېژانده، حالت يې د عراق د نورو ښارونو او باندو د حالت په څېر و. "د قضاء وګړو زمونږ د عزت لپاره هڅې کولې. ځينې مېرمنې مونږ ته زمونږ د حال احوال پوښتنې لپاره راغلې. څومره چې زما په ياد دي، زه په دريېم يا څلورم موټر کې ور پسې وم.

"له ليدنې وروسته د کاروان د تګ په وخت کې مونږ له مرکزي سړک څخه تېرېدو، يوه ډلګی د ايران لاسپوڅي مجرمان را ولاړ شول او پر کاروان يې



ډزې وکړې. ډزې د سړک د کيڼ لوري باغونو څخه وشوې، د کاروان ځينې موټر ولګېدل او زياتره ډزې يې پر هغه موټر وشوې چې د پنځې نښه پرې شوې وه. د ځانګړي ملاتړ څو کسان شهيدان شول، چې ځينې يې د دولت رئيس ته تر ټولو نږدې او ځينې يې بيا په دوهم قدم کې وو. د هليکوپټر الوتکو په هماغو باغونو کې د مجرمانو ځايونه په نښه کړل، بېلې وسلې وکارول شوې چې ماشين دارې هم پکې وې. په هغې پېښه کې مو ځينې پيلوټان هم له لاسه ورکړل. دا خو طبيعي ده چې د ملاتړ کسانو به د جنايتکارانو پر ضد ژر غبرګون کاوه، هغوی د ګڼو باغونو لوري ته وتښتېدل او د سيمې وګړو ته هم خطر شول. دلته د دجيل د وګړو غيورو کسانو متې را بډ وهلې او د ملاتړ له لښکر سره يې مرسته وکړه او څو تنه مجرمين يې ووژل چې د سيد کربلايي په نوم يو مجرم هم پکې و، چې د ترور د عملياتو مشر او پلانوونکی و. نوموړی کس ايرانی و، عراقی نه و.

د دجيل عامو وګړو او مشرانو له مونږ څخه ښښنه و غوښته او خپل تأسف يې وښود. زما ليدنه هم بشپړه شوه او بغداد ته راغلم. بيا د پېښې په څېړلو او د مجرمينو په څارلو پسې دولتي ارګانونه را ولاړ شول. دغه جنايتي کار د داخلي جبهې د برابرېدو لپاره خطرناک ګواښ تشکيلولی شوای. زمونږ له مداخلې پرته قضايي ارګانونو په څېړنو او محاکمه کې خپل رول ولوباوه او دا خو طبيعي وه چې د جنايتکارانو په حق کې پرېکړه وشي، خو بيا مو هم ډېر وبښل. له همدې امله د پرېکړې خاوند ځانګړي لوري له قانون او دستورسره سم د باغونو د استملاک پرېکړه وکړه، ځکه د ښار او مرکزي سړک امنيت ته ګواښ و. څښتنانو ته يې بدله ورکړه، چې له څه مودې وروسته يې زراعتي او استوګنيزې ځمکې ورکړې. بيا ور پسې د ځمکو څښتنانو ته استملاک شوې ځمکې هم ورکړل شوې.

"او د مجرمینو کورنۍ همداسې کورونو ته یوووړل شوې چې امنیت یې خوندي و. دغه کار مو د دوی د ګټې لپاره وکړ، چې څوک غچ ترې وانخلي. دوی بشپړه ازادي درلوده او سامان الات یې ساتل شوي وو. خو هغه کسان چې د دغې قضیې په اړه وايي چې په دې کې د ځینو عراقي مېرمنو بې عزتي وشوه، مونږ وایو چې دا خبرې زمونږ د لارې د بدنامولو لپاره کېږي. ټول خلک پوهېږي چې که کومه عراقي مېرمنه ځورول شوې وي تر هغه صدام حسین وېده کېدای نه شي څو چې مرسته یې ورسره کړې نه وي.

"هغه پېښه داسې وه. که دغه ادعا رښتینې وای، نو د قضیې اصلي دوسیه به یې راوړې وای، چې د مجرمینو اعترافات او لاسلیکونه پکې وو، چې پلان د دوی و او تر شا یې ایران ولاړ و. داسې چې په عراقي قانون او دستور کې دغه سپک او بې غیرته منع شوی کار د دعوت ګوند کړی دی. دغه ګوند ته د نیواک د حکومت د رئیس نسبت هم کېږي، ان دغه خبر مخکې له دې چې د عراق راډیوګانې یې اعلان کړي، ایران اعلان کړ.

"خو د دوی په خوله تورنو (یعنې زندانیانو) او د دفاع د کمېټې وکیلانو چې د قضیې د اصلي دوسیې غوښتنه کوله، نو له پوره کولو څخه دوی عاجزه دي. دوی ته معلومه ده چې زندانیانو او وکیلانو ته د مرګ ګواښ وشو. د مدعیانو او د هغوی تر شا یرغلګر او لاسپوځي یې پوهېږي چې د قضیې دوسیه چېرته ده. دا هغه قضیه ده چې صدام حسین او ملګري یې پرې محاکمه کېږي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اتلسم څپرکی

### په خبرو اترو کې د ولسمشر چانې وهل

خپل ولس او مجاهدو وسله‌والو ځواکونو ته بلنه ورکوم چې د تېرې کوونکو دولتونو د حکومتونو او ولسونو ترمنځ توپیر وکړي.
او پر دې اساس له سترګو ړندوونکو کینو او حسد څخه لرې په حکمت او څیرکۍ سره کار وکړي.

*(صدام حسین په زندان کې)*

د ۲۰۰٦ ز کال د اکتوبر د میاشتې په لومړیو کې مې له ولسمشر صدام حسین څخه و پوښتل چې که امریکایانو هڅه کړې وي چې چانې ورسره ووهي، ده ځواب راکړ:

"زما له نیولو لس ورځې وروسته یو امریکایي جنرال راغی، زما په ګومان د زندان له جنرالانو څخه و، یو مصري ژباړن هم ورسره و او په لاس کې یې یوه پاڼه وه. جنرال راته وویل: صدامه یو اخرنی فرصت هم لرې، یا د ناپلیون غوندې شه او یا د موسولیني غوندې... راپورته شوم او ژباړن مې په لاس وواهه او ورته ومې ویل: ځه له بادار سره د لاړ شه، زه به یوازې صدام حسین یم، ولس به د عراق د ازادۍ خپلولو ته راوبولم. د جنرال هدف دا و چې زه له ولس څخه وغواړم چې مقاومت و دروي... خو ما نه منله دوی دې ذلیله شي...

"نورې خبرې اترې لکه د بوش بې ځایه لیدنه، یا هغه چې مصري خبرپاڼې را اخیستې وې، چې استاد خلیل راته راوړه، چې ګواکې زما او د رامزفیلډ ترمنځ خبرې اترې وشوې، نو والله هېڅ چا هم خبرې نه دي راسره کړې... دوی هڅه کوي چې زما رول څنډې ته کړي یا یې بېخي ختم کړي، له ولس څخه مې ګوښه کړي. دوی فکر کوي چې په دې طریقې سره به وتوانېږي چې زما په دریځ کې بدلون راولي. دوی خیال کوونکي دي. زمونږ دریځ په ښکاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بنسټونو ثابت او ولاړ دی. دا چې ویل کېږي چې له ځینو سره خبرې روانې دي، نو مونږ نه چاته واک ورکړی و چې زمونږ په استازیتوب له چا سره وغږېږي او نه به یې ورکړو، مونږ ورته معلوم یو، له دوی سره یو، زه له دښمن څخه یوازې یو شی غواړم، هغه دا چې د ولسونو د لارې ټاکلو د حق درناوی وکړي. مونږ ولس ټاکلي یو او د الله په مرسته هېڅکله به ولس ونه شرموو. نو مونږ وایو چې قیادت له دوی سره شته او قاید هم ورسره دی، که له مونږ سره خبرې نه غواړي، نو بیا د غږېږي. مونږ کوم شخصي هدف نه لرو... مونږ اوس په چوکۍ او له چوکۍ بهر یو، مرګ او ژوند راته یو شی دي. ټولو ته به مرګ راځي... نو پرېږده چې ټولې دروازې وټکوي، کله چې عاجز شي، سمې دروازې به و پېژني، هغه دروازې چې دوی یې باید وټکوي "کله چې د موریو لوګی او لوخړې پورته شي، نو سهار نږدې وي".

"زه له زندانه بهر د ګوند رهبري او پوځي رهبرۍ ته وایم، پام کوی چې له دښمن سره خبرې اترې ونه کړی. ستاسې ګوزارونو د دښمن اعصاب ګډوډ کړي دي. دښمن د دغو رهبریو د تشخیصولو په هدف کوښښونه کوي څو په اسانۍ سره یې په ښنه کړي. که له چا سره د خبرو اترو لپاره امریکایانو اړیکه نیولې وي، دوی باید ورته ووایي چې هم رهبري او هم یې مشر له تاسې سره دی، له هغوی سره خبرې وکړی. مونږ وایو چې که په پټه یې غواړي، ممانعت نشته، که یې په ښکاره غواړي، نو خبره دوی ته ورګرځي. خو دا چې مونږ به د خبرواترو لپاره د دوی دروازې ور ټکوو، دا کار زمونږ دریځ کمزوری کوي. دا ناشونې ده او هېڅکله به ونه شي.

"څوک که سوله‌یېزه حللاره غواړي، نو سمه دروازه د وټکوي او و د وایي چې خبرې اترې غواړو. په عراق کې سوله‌یېزه حللاره د امریکایانو لپاره تر ټولو اسانه لاره ده، سره له دې چې عراقیان "انعطاف نا پذیره" دي خو بیا هم "انعطاف پذیري" لري.



مونږ تاریخ لرو. که بریالیتوب او توفیق و، نو د الله له لوري دی او که تېروتنه وه، نو هغه زما ده او له الله پرته بل هر څوک تېروځي. ولس ته چې زه کوم څه ورکولی شم، هغه همدا ثبات او ټینګ پاتې کېدل دي.

خو د دوی او طه یاسین رمضان او عبد حمود ترمنځ چې د خبرو اترو په اړه ویل کېږي، زه وایم چې دا امریکایان څېړونکي دي، په هره لاره چې وي غواړي اعتراف ترلاسه کړي او له سیاسي پرېکړې سره هېڅ اړیکه نه لري، دوی له ما سره او یا له ما پرته له بل چا سره د خبرو اترو په مانا خبرې اترې نه دي کړې، دوی غواړي چې مونږ لټ کړي، خو زه وایم چې زمونږ عزم به ونه ټکوي او دوی باید زمونږ دروازه وټکوي چې له عراقه وتښتي".

دلته د ولسمشر، رمزي کلارک ته پام شو او په ټوکه یې وویل:

"ښاغلی رمزي، لکه چې بوش د نړۍ او د عراق په نیولو سره د سرښنو په ډنډ کې له ښښتو څخه وساتلئ، په حقیقت کې یې له نورو څخه خپل هېواد ته ډېر زیان ورساوه، کېدای شي مونږ ته به لیکل شوي وي چې د بوش د وړتیا د معلومولو لپاره بوش یو ځل بیا تجربه کړو... ایا د جمهوریپالو اصلي کسانو او رئیس، بېرۍ په خپل حال پرېښې ده، څو له یوه څنګ سره وموښل شي او ماته شي؟ عراق خو امریکا تجربه کړې ده او خطر یې هم تجربه کړی دی، تاسې په نړۍ کې یوازې له امریکایي ادارې څخه وېرېږۍ، خو مونږ بیا له امریکا څخه نه وېرېږو.

"استاد رمزي هغه څوک دی چې واقعاً زما هېواد ته په ښه سترګه ګوري، زه هم په نرمۍ چلند ورسره کوم، کله چې زما هېواد ته په ناوړه نظر ګوري، نو زه په شدت ورسره چلېږم، خو که دښمن راسره شدید شي، نو بیا زه ډېر سختي کوونکی یم. خو له متقابل انسانیت څخه ورهاخوا کولای شي چې زما یو لړ حقوق هم واخلي. دوی د صدام حالت پېژندلی او پوه شوي چې د عراق امنیت د سړیو له لوري راتلی شي او زه مې هم ژوند نه ګرانوم".

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته ولسمشر د ډېرو شیانو په اړه وغږېد او زمونږ ترمنځ د ښې فضاء جوړولو لپاره یې یو څه ټوکې هم وکړې، وې ویل:

"د (۲۰۰۶،۱،۱) اتلانو یو راکټ را وویشت او په بحیره (بحیرة النور) کې ولګېد، یوه امریکایي را منډه کړه او غوښتل یې چې زما د خوندي کولو لپاره ما د نه بوځي! ما ورسره نه منله او ورته ویل مې چې ما پرېږدئ چې د اتلانو ډزې واورم... ملګرو ته مې وویل چې مونږ به هغه وخت وځو چې پسرلی باراني شي. فکر کوم مونږ په راتلو (زېږېدو) کې وروسته شوي یو، مونږ باید سل کاله وړاندې راغلي وای.

ما عراقیان داسې نه دي عادت کړي چې نن یوه خبره ورته وکړم، سبا بله. مونږ وایو، څوک چې په خپل حق ټینګار کوي، قانوني لاره ور وښیئ او له هغه وروسته قاطع و اوسی".

## د امریکایانو او روسانو په اړه خبرې

دلته ولسمشر، استاد رمزي کلارک ته پام وکړ او د امریکایي ټاکنو په اړه یې ورته وویل:

"زما په فکر ډیموکراتان که له عربو مرسته ونه غواړي د ژغورنې لارې ته رسېدلي شي، ځکه عرب پر دې قانع دي چې که بد هم وي خو د صدام حسین عراق تر ازاد عراق ښه دی. خو عرب دغه رایه تر هغه وخته پورې نه شي ښکاره کولای چې له امریکایانو څخه یې نه وي اورېدلي، که په ټاکنو کې ډیموکراتان ډېری شول، نو دوی به ژر د بوش د ګوښه کېدو نظر ورکړي او بوش نور نه ژغورل کېږي، ځکه په امریکا او بهر کې یې اوازه ختمه شوې ده. زه تاسې ته وایم چې امریکا مخکې دا نه خوښول چې له هغو اسرائیلو ملاتړ وکړي، چې د امریکا پر ځای جګړې کوي، خو اوس ډېره ناخوښه ده، ځکه اوس خپله جنګېږي، په هر ځای کې عراقیان او مسلمانان وژني. ولس ته یې اعلان کړی و چې په عراق یرغل د کېمیاوي وسلو له امله دی. خو تر



اوسه یې لا خپل ولس او نړیوالې ټولنې ته دروغ ویلي دي، پر دوی لازمه ده چې یا حکومت نسکور کړي او یا د په نیمه ورځ کې ویده شي. دوی اوس په عراق کې نښتي دي او حالت یې وایي چې "چا چې په دام کې اچولي یو، هغه د مونږ خلاص کړي"... دوی فشار راوړي چې ما په ډېرو تګلارو ګوښه کړي، څو بدلون وکړم، خو "په دې کې د صدام حسین عیب نه دی چې حالاتو بدل کړی؟"... د زندان یوه مسئول جنرال ته مې وویل: پاتې شی او د دروازو مخې ته ګرځی را ګرځی، خو په پای کې به حقیقي دروازه وپېژنی. والله داسې ښکاري چې ډلې (امریکایانو) بې غیرتي وکړه. له امریکایانو څخه خو عراقي جنګیالي او عراقي ماشوم هم ډېر کلک دي. استاد رمزي کلارکه، که له امریکایي ولس سره د خبرو مجال درته پیدا شو، نو ورته ووایه چې صدام حسین که د خپل ولس او امت پر ځای خپل سر هم وبایلي، نو د مهربانۍ غوښتلو دریغ به خپل نه کړي".

ولسمشر په خبرو کې بلې موضوع ته ولاړ او وې ویل:

"په عمومي ډول لوی غربي دولتونه او په نړۍ کې ټول لوی دولتونه لکه چین او روسیه په یوه هېواد کې هم د یووالي او پرمختګ شعار نه غواړي او نه غواړي چې نفت ولري او ارام وي، دغه هېواد که ایران وي او که کوم بل وي. خو دوی د فلسطین له قضیې سره د حساسیت له امله له عربو سره ډېر تشدد کوي، خو له ایران سره بیا دغسې حساسیت نه لري. زه وایم که لوی دولتونه غواړي چې د نورو جنګونو مخه ونیسي نو باید ځواک ونه کاروي او یوازې اشاره ورته وکړي. خو که یې ورښکاره کړي او د غوښتنې وړ پایلې ونه لري، نو دا به لوی مصیبت وي.

"د خبرپاڼو په اړه، هغو خبرپاڼو ته وایم چې لږ لږ به ما ته را رسېدلې، دوی ډېرې واقع کېدونکې پېښې را لوڅوي، په ځانګړي ډول اوس د عراقي قبیلو خوځښت، ان زه لا خبر نه یم چې څه روان دي.

د استاد رمزي کلارک د هغې خبرې په غبرگون کې به ووایم چې وايي امریکايي حکومت چې په عراق کې هر څه غوښتل، ترلاسه یې کړل. هو داسې خو ده، د لاسپوڅي حکومت په برکت به په راتلونکي کال کې ۲۰۰ میلیارده ډالره گټه تر لاسه کړي، چې د دغې شمېرې اعلان ډېر اړین دی او د عراق له نفتو به په لویه کچه گټه واخلي. خو ډېره گټه د امریکايي حکومت ائتلافي شرکتونه اخلي او زیان یې امریکايي ولس گوري. د نړۍ په مخکې یې زیان وکړ او د ځواک کسان یې زیانمن کړل. مونږ حقیقتونه د وېرې له امله نه وایو او نه یې د دې رغبت له امله وایو چې امریکايي ولس د مونږ سره مرسته وکړي چې له زندانه ووځو. بلکې د حقیقت لپاره یې وایو. د عراق حکومت او ولس یوه ورځ هم د امریکا پر ضد نه و، تاسې زمونږ لاره او سیاسي عقیده پېژنی. په جگړه کې د امریکايي ولس لپاره گټه نشته، بلکې تاوان یې دی. یوه ورځ به دا بربنډېږي چې د دوی حکومت د خمکې د ولسونو په حق کې څومره جرمونه کړي دي، چې په هغو ولسونو کې به عراق هم وي. دا زما اخلاقي مسئولیت و چې امریکايي ولس ته مې وویل او په یوه پیغام کې مې وپوښتل، چې ایا امریکايي ولس خبر نه دی چې په عراق کې خطرناکې وسلې نشته، که خبرېدلی نشي او که نه غواړي خبر شي. همداراز مې د عراق او ترهگرۍ ترمنځ د اړیکې نه شتون ته هم اشاره وکړه. ما ورته وویل؛ حکومت مو په داسې دریځ کې نښلولي یاست چې ستاسې گټه پکې نشته، او ورته و مې ویل چې که تاسې وغواړۍ او په خپلو غوښتنو کې قاطع و اوسی، دغه دریځ سمولای شی، هلته به مو ټول انسانیت ژغورلی وي، چې عراق هم پکې دی".

**ولسمشر امریکايي ولسونو ته وايي:**

"یو مهم ټکی را سره و، غوښتل مې په پیغام پورې یې وتړم، خو نه غواړم چې اوږد شي او هغه په ټوله سیمه کې «سوله» ده. د ۱۹۹۰ ز کال د پسرلي د

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستۍ میاشتې په پای او د چنگاښ په پیلېدو کې د امریکايي مشرانو د ناستې یوه پلاوي را سره ولیدل، چې د پلاوي مشري «سناتور باب ډول» کوله. زه په موصل کې وم، دوی مې په ځانگړې الوتکه کې هلته را وغوښتل. له دوی سره مې ولیدل او ورته و مې ویل چې د منځني ختیځ سیمه به نړۍ ته د پیلیزې په توگه له اتمي وسلو څخه پاکوو، متحده‌ایالات به په دې کې فعال رول لوبوي. هلته عراق له دوی سره مرور و، پر ایران بریالی شوی و او له متحده‌ایالاتو سره مو هېڅ ډول ستونزه نه درلوده. کله چې ولسمشر حسني مبارک را سره ولیدل، ما ورته وویل چې د عراق او مصر په استازیتوب د وغږېږي، کله چې مې ورته وویل چې غواړو د منځني ختیځ سیمه چې اسرائیل هم پکې دي، له اتمي وسلو څخه په بشپړ ډول پاکه وي، حیران شو او وې ویل: دا ته وایې؟ ما ورته وویل: چې ته زمونږ په استازیتوب خبرې کولای شې. په همدې مفرداتو مې د امریکا سفارت ته هم پیغام واستاوه. سناتور ته مې څرگنده کړه چې دا باید وڅېړل شي او ترې و مې پوښتل: که یو ترهگر را ولاړ شي او اتمي وسله په موټر کې ځای پر ځای کړي او په واشنگټن کې یې والوزوي، تاسې به څه وکړۍ؟ او نصیحت مې ورته وکړ چې امریکا د پر فلسطیني ډلو فشار ودروي، په داسې حال کې چې د عربو پر ضد له اسرائیلو سره مرسته کوي او ورته و مې ویل چې که اسرائیلو مونږ وویشتو، نو مونږ به یې هم وولو. خبرې مې ښکاره وې، ورته و مې ویل؛ سره له دې چې مونږ سیمه له اتمي وسلو څخه پاکه غواړو، خو عربان د دښمن د وسلو په څېر د وسلو لرلو حق لري. ځینو زمونږ خبرې اسرائیلو ته گواښ وگڼلې. دا خبرې له جگړې یعنې کوېټ ته له ننوتلو څخه مخکې وې. د اتمي وسلو د موضوع له را ښکارېدو مخکې وې. صدام حسین د ځان او نورو لپاره تلپاتې سوله غوښته، صدام حسین د وسلو را ټولوونکو له غوښتونکو څخه نه و. خو مونږ هلته هم قانع وو او اوس هم قانع یو چې عراق باید تل ځواکمن وي. له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایران سره پولي یې لازموي چې ویښ وي. مونږ تر عربو له ایران سره اوږده پوله لرو، نو که عراق کمزوری شي، و به خوړل شي...

"والله، له ۱۹۵۹ ز کال څخه موضوعات پر صدام حسین واکمن وو. هلته واک د شعوبیت (د عربو لوږ نه ګټلو) په لاس کې و او د ایران د دغه ناوړه انګار له امله همدا حقیقت واقع و، خو شعوبیت له لرې بې غیرتي ده چې وژل کېږي.

"کله چې وضعیت پر مونږ مسلط و، زه نه ترې په تنګېدم، ځکه زه یوه ورځ هم په لقبونو کې بوخت شوی نه یم او ما ته هېڅ ارزښت نه لري. کله چې مې د "رئیس" لقب خپل کړ، دا مې د ځان لپاره نه و، بلکې د ولس د هغې ارادې په خاطر و چې زه یې نیولی وم. الحمد لله مونږ د شهرت پروا نه لرو، زمونږ ولس مونږ ته زمونږ په ژوند کې تر ټولو ډېره ژوندۍ او فعاله برخه راکړې ده او د قربانۍ او زړورتیا په اړه که وغږېږو، عیب دی، خو کله نا کله واکمن باید ثابته کړي چې زړور دی. دلته په بشپړه زړورتیا سره وایم چې د بندیز په وخت کې چې مونږ کومې لاسته راوړنې لرلې، زمونږ د پنځه دېرش کلونو له کارونو سره برابرې دي.

"اوس پوښتنه کوم چې دغه امریکایي سناتور ولې نه راځي او له طارق عزیز سره نه مخامخ کېږي چې په ټولو کارونو خبر شي".

ولسمشر مې د روسي ډیپلوماتانو له تښتولو څخه خبر کړ، ده وویل:

"زه فکر کوم امریکایانو به تښتولي وي او د دې لپاره به یې تښتولي وي چې له عراقه کډه وکړي، څو ونه وایي چې عراق له وسلو پاک دی او په عراق کې د امریکایانو په رښتینې وضع او د دروغو په ادعاګانو خبر نه شي.

"مونږ نه غواړو چې امریکا د پانې پړانګ وي او که پر ځمکه زمری هم وي، نه ترې وېرېږو او نه غواړو چې ظلم وکړي، بلکې د حق لپاره یې غواړو. دوی ته په ځمکه کې یو فرصت و. که افغانستان ته په ننوتو یې بسنه کړې وای او ویلي یې وای چې دلته درېږو، ځکه څه چې مو غوښتل هغه مو ترلاسه



کړل، نو دا به تر دې ډېر ورته ښه وای چې ځواکونه یې هلاک شي او ځان د سرېښو په دغه ډنډ کې ونښلوي. که امریکا د صدام ژوندي پاتې کېدو ته اړتیا نه لرلې، نو مخکې به یې پرېکړه کړې وای. خو د ایران د ګواښلو لپاره، په صدام سره د داخلي توازن ساتلو لپاره، او د عراقي مقاومت د غبرګونونو لپاره یې ژوندی ساتي. کله چې یې جنرالان د مقاومت له لوري ونیول شي، نو صدام به ډېره ګران بیه پانګه وي.

"خو بوش غواړي چې وخت ترلاسه کړي، چې په ترڅ کې به یې امریکایي ولس ته ګواښ وکړي، خو په حقیقت کې هغه په یوه لوی مصیبت کې اخته دی. څه موده وړاندې ملګري د بوش له بې باوره کېدو راته وغږېدل، ما ورته وویل: مونږ ټول غواړو چې امریکایي ولس حقیقتونه وپېژني او هلته به وایو چې پای ته ورسېدل. اوس موضوع په وخت پورې اړه لري. خو رئیس چې د واک په دوهمه مرحله کې لوبېږي، بیا یې ژغورل ناشوني دي... په پای کې به حق بریالی کېږي او بریا به یوازې د عراقي ولس نه وي، بلکې هغه امریکایي ولس او نور چې جنګ ته نه! ویونکي دي، هم به بریالي وي. دلته غواړم قاضي (صادق علي) ته ووایم، اې قاضي، زه دا خوښوم چې په مخ کې بې ودرېږئ او ووایاست چې دغه کار غلط دی. امریکا یو متجاوز دولت دی، له عراق څخه به یې باسو او دوی به خوړتیا مومي"...

## واشنګټن ته پیغام

د ولسمشر صدام حسین او د دفاع د کمېټې تر منځ چې کومې لیدنې کېدلې په دوو لیدنو وېشل کېدای شي؛ یو له وکیلانو سره عامې لیدنې وې او بل ځانګړې لیدنې وې، چې ولسمشر به له امریکایي اړخه غوښتل او د دفاع د کمېټې له رئیس سره به ځانګړې وې.

په ۲۰۰۷.۸.۷ ز د دفاع ډلې په عمان کې د ملکې علیا له نړیوال هوایي ډګر څخه د بغداد د نړیوال هوایي ډګر په لوري مخه کړه او د دفاع د کمېټې ډله

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ولسمشر سره د لیدو لپاره د تل په څېر ځانګړي ځای ته لاړه، چې د هوايي ډګر سوېل ته د ځانګړي جمهوري ساتونکو په یوه پوځي ځای (رضوانیه سیمه) کې و، چې اوس د سمندري ځواکونو ځانګړې فرقه پکې ده او د قیادت غړي هم پکې بندیان دي. ولسمشر صدام حسین په امریکایي موټرو کې را ورسېد، په دروغو یې پر یوه د سره صلیب (امبولانس) ټاپه لګولې وه، بیا امریکایي مشر د دفاع له ډلې وغوښتل چې د لیدنې ځای ته دې نه د ننه کېږي او وې ویل چې ولسمشر یوازې د کمېټې له رئیس او د کمېټې له غړي ښاغلي رمزي کلارک سره لیدل غواړي. زمونږ له ننوتلو وروسته یې زمونږ تود هرکلی وکړ، مونږ ورڅخه وغوښتل چې د ډلې غړو ته د ننوتو او پر ده د سلام اجازه ورکړي. بیا وروسته هغوی ووتل، زه او ښاغلی کلارک پاتې شوو. ولسمشر فکر کاوه چې زه په انګلیسي ښه پوهېږم او ښاغلي کلارک هم ښه ژباړن ته اړتیا لرله.

ولسمشر غوښتل چې موضوع د رسنیزو شننو او د مغرضینو له چوکاټ څخه بهر پاتې شي او د ښاغلي کلارک له لارې امریکایي حکومت ته ځانګړی څرګندوونکی غږیز پیغام ور ولېږي، له ما او ښاغلي کلارک پرته د بل چا خبرول یې نه غوښتل، خو دا چې د ژباړې له امله یوه ژباړن ته اړ شوو، نو مجبوره شوو چې یو عرب ملګری هم راولو چې د ولسمشر او کلارک ترمنځ خبرې وژباړي، ولسمشر هم امریکایي ولس ته په پیغام بسنه وکړه. کلارک ته یې اجازه ورکړه چې هر څنګه کولای شي هماغسې یې د امریکایي ولس ته و رسوي. هغه که په متحده‌ایالاتو کې په چینلونو کې د خپرېدو له لارې وي او که له امریکا بهر د عربي چینل له لارې وي. ښاغلي کلارک ته یې وویل:

"زه امریکایي ولس ته یو کتبي پیغام لرم، هغه یو اوږد پیغام دی، ستاسې هلو ځلو ته مې هم اشاره پکې کړې ده، دې ته مې هم اشاره پکې کړې ده چې د دغه پیغام په رسولو مې څکه ښاغلی کلارک ګمارلی چې هم زه او هم امریکایي ولس باور پرې لرو، نو که د خوښه وي یوازې تا پرې ګمارم څو یې امریکایي



ولس ته و رسوې، او ته له رسنیو سره ازاد یې او کولای شې چې د امریکا یا د کوم عربي چینل له لارې یې خپور کړې".

خو غږیز پیغام چې د عراق او سیمې په پراخې حللارې پورې تړلی دی، چې ولسمشر غوښتل د ښاغلي کلارک له لارې یې ولېږي، نو حالاتو او ژبې و غوښتل چې هغه پرېښودل شي. ولسمشر مجبور شو چې امریکایي ولس ته یوازې معلوم کتبي پیغام ولېږي.

لکه مخکې چې مې وویل: له ولسمشر صدام حسین سره هېڅ کره خبرې اترې ونه شوې. کله چې مې له یوه وکیل ملګري سره په کروپر کې ولید، له ولسمشر څخه مې وغوښتل چې اجازه راکړي دا ځل په بشپړ ښکاره ډول خبرې ورسره وکړم. ترې و مې غوښتل چې د متباقي عراق د ساتنې، د ملي وحدت او د ګواښلي جریان د ساتنې لپاره له امریکایي اړخ سره تفاهم وکړي، دا غوښتنه د هغو خلکو د ټینګار او پیغامونو پر اساس وه چې د ولسمشر ژوند یې غوښت. وکیل ملګری مې هم زما په هدف او له لیدو څخه د یوې ورځې وړاندې له پېښې څخه خبر و، دا مې د دې لپاره وویل چې څوک مو په دې تورن نه کړي چې ولسمشر ته مو زنګ-وهلی-امېد ورکړی، د هماغه له امله یې په چارو پسې سم نه کتل. زما له ډېر ټینګار وروسته ولسمشر وویل:

"انشاءالله هېڅ کمی به نه کوم، خو دوی تر اوسه هغه حد ته نه دي راغلي. دوی پوهېږي چې له چا سره په اړیکه کې دي. په زندان کې چې زما له هر ملګري سره په اړیکه کې شوي څو له دوی سره مرسته وکړي، نو هغوی له امریکایي لورو سره مرسته کول نه دي منلي. که امریکایانو خبرې اترې و غوښتې، نو دوی باید د مساواتو د منطق خبرې اترې وکړي، مونږ له هېڅ چا څخه د لوړوالي منطق نه منو. که یې په عقلانیت سره چلند وکړ، نو دوی به ومومي چې له عراقي سره چلند اسانه دی، خو که یې په فوقیت سره چلند وکړ، نو له عراقي څخه به کلک او سخت څوک ونه مومي او دوی پر دې خبر دي چې صدام حسین کیلي ده".

# نولسم څپرکی

## هیلې، احساسات او پیغامونه

زمونږ گوند په میراث، سیرت، لاسته راوړنو، پاملرنه، ملتپالنه او انسانیت کې لوی او مخکښ گوند دی.

*(صدام حسین په زندان کې)*

ولسمشر صدام حسین په ډېرو خبرو کې هیلې ښکاره کړې او د عراقي وروڼو او زامنو ارزښتمن احساسات یې بیان کړل. بیا یې د معلومو پیغامونو په اړه وویل:

"زه چې څه تمه لرم، هغه دا ده چې د مالکي له حکومت وروسته به بل حکومت راځي، بیا به بوش یا امریکایي حکومت د سمې دروازې ټکولو ته راځي او د بعث گوند څخه بهر خلک یا تشکیل به را غواړي او وایي به؛ دغه حکومت د ولس تمثیل کوي. فکر کوم چې دا به د راتلونکو شپږو میاشتو په ترځ کې پېښ شي.

"څلور ورځې وړاندې (۲۰۰۶،۹،۲۸) مې په محکمه کې له زنداني ملگرو سره خبرې کولې، ورته و مې ویل: چې که دغه کړکېچ پای ته ورسېد او عراق ازاد شو، نو کیسه به داسې وي:

**د بریا بیان:**

۱- لومړی بیان: څوک چې عراق ته را گرځي نو ټولې پخوانۍ تېروتنې د یې الله وبښي، په دې کې هغه کسان هم دي چې د صدام حسین له زامنو سره یې غداري کړې ده یعنې هرڅه چې پېښ شوي.

۲- دوهم بیان: څوک چې وسله پورته کوي تر مرگه ورسره وجنگېږئ یا تر هغه چې تسلیم شي، بیا به د جریمې له قانون سره سم چلند ورسره کېږي.

"یوه ورځ مې په زندان کې داسې احساس وکړ چې په بغداد کې وضعیت عادي نه دی، کله چې مې په اړه وپوښتل، دوی وویل: حکومت امنیتي پلان

(c) ketabton.com: The Digital Library


وضع کړ. ما وخندل. تاسې فکر وکړی، له درې کاله نیواک وروسته امریکایان او لاسپوڅی حکومت غواړي چې امنیتي پلان وضع کړي. انبار ته یې امریکایي ملاتړ زیات کړی، دوی ته ۱۵۰،۰۰۰ پوځ څه کړي چې دا فرقه یا کلاک به یې ورته وکړي. بغداد به دوی هم تېر کړي او د دوی په څېر زرگونه نور بې تېر کړي. هغه کسان چې د دستور وضع کېدل غواړي، ورته وایم: د نیواک په شتون کې هره کړنه پر نیواک اقرار دی او ورته وایم: له چا سره چې ولس نه وي، هېڅ هم نهشي سمولی. په عراق کې د ۱۹۶۸ د جولای له ۱۷-۳۰ د انقلاب په یوه ورځ کې هم د چکر وهلو مخه نه ده نیول شوې. زه د ولس په بهېدونکو وینو دردېږم، مونږ ته گرانې دي. زه تر هر چا خپل ولس ښه پېژنم، ځکه ما یې پر سر له ایران سره جگړه وکړه، ما ته دا مهمه ده چې زما ولس او د عراق مقاومت او ټول امت بریالی شي. د ذلت ژوند نو څه په درد خوري، مونږ د ذلت ژوند نه غواړو، د عزت جهنم هم ښه کور دی. مخکنیو او لومړنیو همداسې ویلي دي.

"واک ته له رسېدو وړاندې، خلکو په غریبۍ کې ژوند کاوه، ما ښه عزتمن ژوند ورته برابر کړ او صدام لا تر اوسه د انقلاب د رهبري د شورا د رئیس د نائب په معاش ژوند کوي. له ځان او ملگرو څخه به شرمېدم چې د معاش پورته کول ترې وغواړم. کله چې د آلوگانو بیه لوړېده، صدام به د شپې خوب نه کاوه. خو اوس ...".

**مدافع وکیلانو ته یې په خطاب کې وویل:**

"عراقیانو ته ووایاست چې تاسې د یوه ولس په څېر ژوند کړی، باید همداسې ژوند وکړئ او بهرنیان باید وشړئ. که ما ته بېرته را گرځېدل په تقدیر کې لیکل شوي وو، نو زه عراق د پردیو له مرستې پرته د اوو کلونو په ترځ کې له سویسري ساعت څخه ښه جوړولی شم چې ځلېږي به. خو که د چا مرسته وه، نو د پنځو کلونو په ترځ کې به ځلېږي. زه فکر کوم چې امریکایان به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتلونکو پنځوسو کلونو په موده کې د بل هېڅ دولت ورانولو ته لاس ور اوږد نه کړي او امريکايي قبضه به د پخوانيو قبضو پر خلاف ډېره ژر له منځه ولاړه شي.

"کله چې زما ليدو ته راځی، تل د ولس د احوال او خبرونو په اړه پوښتنه در څخه کوم او په عراقي لهجه درته وايم چې د الله په مرسته او ستاسې په ژوند، ان زما په هډوکو به ورسره جنګېږو او عراق به ازادوو، وايي چې يوه صحرايي له څلوېښتو کلونو وروسته غنچ واخيست او وې ويل چې بېړه وشوه... پرېږده په مونږ کې حالت جګړې ته بلل کېږي... د نېزې ښار ځنګه دی، ما يې له سرو سره ژوند کړی، لوړې قرباني ورکوي. زه له دې په تنګېږم چې د ولس زامن مو مذهبي جګړې سره کوي. ما ته دا مهمه نه وه چې انسان ګونډي دی او که بې ګونده، شيعه دی که سني، مسيحي دی او که بل څوک، تنګ شاليدونه مې نه شي په تنګولی. يوه ورځ مې د دېوان رئيس احمد حسين ته وويل: ته بايد له خلکو سره د عراقي انسان پر اساس چلند وکړې، د شاليد پېژندل اړين دي، خو مونږ يوازې د استحقاق پر اساس چلند کوو. کله چې له صفويانو غږېږم، وايم چې دوی غولېدلي نه دي، ځکه له ايران سره د دوی اړيکې دوی د ولس دښمنان کړي دي. پټ فعاليت يې د حقيقت استازيتوب نه کوي، ځکه هر پټ فعاليت ملي نه وي، په داسې حال کې چې ولس بل هغه لوري ته مايل دی چې دغه پټه ډله ورسره جنګېږي. کېدای شي دا به اړينه وي چې يو څه وخت حکومت وکړي څو حقيقت بربنډ شي، چې دا د الله له لوري مقدره ده، ان ځينې چې دوی لکه د زرقاوي يا بل چا غونډې "ترهګر" بولي، نو د هغوی د فعاليتونو زيان د دغو کينه کښو د فعاليتونو له زيان څخه لږ ګڼو.

"راتلونکي ته په کتو چې زما کوم نظر دی، وايم که بوش خپله تېروتنه ومنله، نو څه چې يې خراب کړي هغه بايد و رغوي... امريکا به ډېر زيان وکړي او



دخپلو جرمونو بيه به وپېژني. زما په نظر ولسونو ته پانګه وال نظام او کمونېزم ګټه نه کوي، عدالت د ولسونو د استقرار ضمانت دی. د برېتانيې په اړه مې له ملګرو سره خبرې کولې چې د کارګر ګوند له د ننه به داسې څوک را ښکاره شي چې د ګوند د ژغورلو هڅه به کوي، خو خپله د بلېر د ژغورلو هڅه به نه کوي، چې دغه لاره د مسئوليت له ګډوډۍ څخه د خلاصېدو او د ګوند ور څخه خلاصولو ښه لاره ده. دا په برېتانيه کې شوې او کېږي به. په امريکا کې به جمهوري‌پال په دغسې پلان کار کوي".

## طالباني ته د ولسمشر پيغام

د ولسمشر په نيول کېدو پسې جلال طالباني اعلان وکړ، چې دی چمتو دی چې د ولسمشر کورنۍ راوبولي(مېلمه) کړي. د استاد خميس العبيدي له لارې يې را ورسوله چې جلال طالباني غواړي چې د دفاع د کمېټې له رئيس او د هغه له نائب خميس العبيدي سره وګوري. په موضوع کې د رايې په اړه مونږ بيا ولسمشر صدام حسين ته ور ورسوله، هغه وويل:

"زما په نظر د عراق په شمال کې زما د کورنۍ د مېلمه کولو لپاره د چمتووالي اعلان که په پرېکړې پسې تړلی و، نو رښتينی رغبت به هم ورسره وي. دې ته بايد په قدر وکتل شي. خو د کمېټې د رئيس او نائب د ليدنې په اړه يې تاسې دواړو ته پرېږدم. زه وايم چې کېدای شي ښاغلی جلال به فکر کوي يا به يې اټکل کړی وي چې امريکايان قانع شوي چې عراق له صدام حسين پرته لا بد وضعيت خپلوي، که دوی انګېرلې وي چې د عراق ټوټه کېدل يا په عراق کې د ايران واک د دوی ګټې ګواښي، نو د دوی له لوري د دې موضوع د جدي حل احتمال شته. که جلال دغه دريځ لمس کړی وي او که هيله يې لري، نو نږدېوالی يې د تګلارې يوه برخه ده. که يې تاسې ليدنې ته ور وغوښتلی، نو ورته ووايئ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"صدام دربانديِ سلام وايي او درته وايي؛ کېداى شي عراقيان په خپلو منځونو کې اختلاف وکړي، خو بهرنيان د دوی په منځ کې جګړې ته د اور ورکولو لپاره له دغه اختلاف څخه ګټه پورته کوي او ته خو پوهېږې چې صدام له دې څخه ډېر خوړېږي چې عراقيان په خپل منځ کې سره وجنګېږي، که هغه په هر نوم وي. ځکه خو يې په کردستان کې حالت داسې پاتې شو چې له تاسې سره مخکې چا داسې تړون نه و کړی. يوازې د اربيل په قضيه کې پوځي ځواک وکارول شو، چې په لاملونو يې هم تاسې خبر ياست. د عراقيانو ترمنځ د فتنې په ختمولو کې زه ستاسې د دريځ قدر کوم، که تاسو لکه د تل په څېر د ځانګړو سياسي حسابونو تر څنګ اوس تر څه حده خپل دريځ نهائي کړی نه و".

خو پورته ذکر شوې ليدنه ونه شوه، نو ځکه د ولسمشر پيغام هم جلال طالباني ته ونه رسېد.

د جلال طالباني په اړه له ولسمشر څخه د پوښتنې په غبرګون کې ولسمشر بشپړه کړه:

"جلال يو هوښيار سړی دی، خو په ځينو قضيو کې کله نا کله بېړه کوي... زه ډېر څه د ويلو لپاره نه لرم، ځکه په زندان کې يم، که په زندان کې نه وای، نو ډېر شيان را سره دي، هغه به مې ښاغلي مسعود برزاني ته هم ويلي وای، که مې اوس وويل نو دوی به دا اخځ وکړي چې زه په زندان کې يم او زما کمزوري ده".

## په عربو او عراقيانو وياړل

"اتل انبار ته سلامونه، پر سماوه، دېوانيه او عماره خوښ يم، دوی د عربو قوت دی. تاسې ته وايم د ولس په خبرو مې موړ کړی. د حسني امام په دريځ خوښ يم، چې په څرګنده يې ويلي چې له مقاومت سره دی. د بغدادي امام



په اړه مې ملګرو ته ويلي وو چې بعثيان به ورسره يوځای کېږي. ځکه هغه د ولس د ډلو په منځ کې توپير نه کوي.

تاسې ته وايم هغه تخريب چې په عراق کې وشو. زموږ ولس به يې داسې جوړ کړي چې له سره به په جذبې سره رغونې ته را ودانګي. رغونه به ځلېږي او هېواد به د الله په مرسته روښانېږي. ټولو عربو ته مې د سلام وي، په ځانګړې ډول زموږ اصيل عربي اردني ولس ته. دلته درته وايم چې عراق به لکه د ژمني په څېر لوی پاتې کېږي. لا تر اوسه د مشر ښنستګر خبره په خوږو کې ده چې عراق به د عربو جنډه اخلي او يو ښېل هېواد به وي. د هغه ښکار پر ځای و. الله د پرې و رحمېږي، د هغه کورنی ته د زما سلامونه او درناوی وي".

ولسمشر يوه شېبه چوپېږي. زموږ په منځ کې به عراق له ټولو ولايتونو، ښارونو، اتلو سړيو او وياړلو ښځو او... او... سره حاضر و او همداراز انبار به تر صلاح الدين ډېر حاضرېده. ولسمشر وايي

"په ۱۹۹۱ ز کال کې چې زموږ خولۍ کږه شوې وه، انبار را سمه کړه او اوس استاد خليل او کورنی يې هڅه کوي چې خولۍ را پورته کړي او زموږ پر سرونو يې را کېږدي. دوی له ټولو عراقيانو سره زموږ لوی وياړ دي. د انبار، صلاح الدين، ديالي او نينوي ولايتونه لومړني ولايتونه دي چې د نفتو د ملي کولو لپاره يې وسله را پورته کړه".

ولسمشر يې پسې بشپړوي:

"زه د معلومو ګڼلو له امله د صلاح الدين ولايت په اړه ډېرې خبرې نه کوم. که د ديالي بچی دوه ځله جنګېدلی، نو د صلاح الدين بچي بايد څلور ځله وجنګېږي. ځکه په دې کتنه کې جوړونه صلاح الدين ته اخرنی څېز و چې ور رسېده. د عوجې کلي په اړه، مې دوی ته وويل چې زه يې د عراق په نورو کليو نه لوړوم، ان په ناحيې باندې د بدلولو پرېکړه ما پخپله لغوه کړه.

پر فلوجې، بصرې، بيجي او نورو ګرانو ښارونو مې سلامونه وايئ. په منځني فرات کې مشرانو ته ووايئ چې ستاسې تاريخ لوی دی او عربي خوی مو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلک دی. پر شیخ حارث الضاري مې سلامونه وایئ. د البو عامر پر قبیلې او مشر یې سلامونه وایئ. د کردي ولس په اړه مې وایم، زه به ډېر خوښ وم چې په کردانو کې به مې یو مشر موموند، تر هغه به مې ځارل چې تکړه مشر به شو. کله چې به مې په شمال کې د اوسېدونکي ولس غوښتنې لوستلې، د غوښتنو تاریخونو به یې د مخکنیو هغو تاریخونو ته اشاره کوله، ځکه دوی هیله درلوده چې یوه ورځ به مې ګوري".

شیبې تېرېدې، ما فکر کاوه، هغه ورځې مې را یادولې چې ولسمشر به په رسمي او نورو مناسبتونو کې ولس ته وینا کوله، چې ځینې یې زما په یاد دي او ځینې مې بیا په ځینو کلیوالي ناستو کې اورېدلې دي. ده به ویل: "د نفتو له ملي کېدو مخکې چې د ځینو خلکو پانګې استعمار چور کړې وې، ځینې خلک ډېر غریبان وو، پښې یې لوڅې وې. نو ځینې چې په ښارونو کې اوسېدل، په ځانګړي ډول د نفتو له ملي کولو وروسته، به یو له بله تنګېدل او ځینو به دا خبرې نه منلې، ځکه چې دوی په ښارونو کې اوسېدل". خو زه رښتیا وایم، سره له دې چې په هغه وخت کې مې عمر کم و د ۱۹٦۸ او ۱۹٦۹ ز کلونو په منځ کې زه لوڅې پښې ګرځېدم. خلکو هېڅ نه درلودل. ان مونږ به د شپېتمو کلونو تر پایه پورې شیطان ځراغ ته درس لوست، پاکې اوبه او وړ روغتیايي خدمتونه به نه وو. خو عراق د ولسمشر صدام حسین په دوره کې په ټولو برخو کې د پرمختللو هېوادونو لیکې ته ور واوښت، چې دا ټولو ته معلومه ده.

## ملي جریانونو ته پیغام

ولسمشر مې په عراق کې له را ښکاره شویو ملي جریانونو څخه خبر کړ، چې نیواک یې نه مانه. داسې اوازه وه چې د بعث ګوند د ځینو ملاتړ کوي، ده را غبرګه کړه: "زه په زندان کې یم، په عمومي کرښه کې د وروښو دریځ راته معلوم نه دی. د ګوند په عمومي کرښه کې پر ګوند لازمه ده چې د ټولو هغو



جریانونو ملاتړ وکړي چې له ایران سره اړیکه نه لري، او لازمه ده چې ټول هغه جریانونه تشویق کړي چې د عراق د یووالي لپاره کار کوي او له نیواک سره یې دریځ مخالف وي. نو پر مونږ لازمه ده چې مرسته یې وکړو او و یې هڅوو".

## بعث او راتلونکی

ولسمشر صدام حسین په راتلونکي کې د بعث لپاره د تصور په اړه غږېږي:

"زمونږ ګوند یو لوی ګوند دی، لاره یې په فکر او مبارزه بډایه ده. څومره شمېر چې په کومه مرحله کې مطلوب وي، که شمېر په ناسمو بنسټونو ولاړ وي، کله نا کله پر لاره او د ګوند پر ملا مضر او دروند تمامېږي. خو مونږ له دغو سختو برېښونو او د عراق له ازادۍ وروسته وایو: کله چې د الله په اجازه دوه سوه مؤمن مبارزان په کلک ایمان او د زړورتیا او پر ځان د باور پر اساس ووځي، نو دا به را بلو. خو له ښه شمېر سره په یوه خندق کې د ناسم شمېر شتون، بد شمېر یې نه بولو ناسم یې بولو، ځکه زمونږ د ګوند په لیکو کې یوازې ښه خلک دي، د تکړه ایمان لرونکو مؤمنانو ښو کسانو ملا درنوي او یو څه ګډوډي جوړوي او الله دې نه کوي چې لیکې سره ننباسي، نو په راتلونکې مرحله کې زمونږ له ګوند څخه غوښتل کېږي، چې د ښه شمېر له نه سستېدو سره په ځرنګوالي هم تاکید وکړي. سره له دې چې زه باوري یم چې له ازادولو وروسته به په راتلونکې مرحله کې زمونږ له ګوند سره نور ګوندونه هم وي. عراق د هغوی دی چې ازادوي یې، د عراق د ازادولو لپاره د جګړې میدانونه اوس له بعثیانو پرته په نورو اتلانو ډک دي".

**استاد عزت الدوري ته د ولسمشر پیغام: بعث او ایمان**

په ۲۰۰۵،۹،۱۳ نېټه، بندي ولسمشر، صدام حسین د لارې ملګري او ورور عزت الدوري ته یو مهم غږیز پیغام واستاوه، هغه دا دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ابا احمده دوی ته ووایه چې شیعه ګان هم زموږ د ولس مهمه برخه دي، که شیعه ګان نه وای، نو له ایران سره به په جګړه کې نه وای بریالي شوي. د شیعه خاینانو د کړنو لپاره ټول شیعه ګان مه ملامتوئ. او هیله لرم چې ټولو جریانونو او دیني لښکریانو ته به دا ښکاره کړي چې ډېره لویه تېروتنه د دې خبرې منل دي چې موږ له دوی سره مرور او د دوی دښمنان یو. موږ په پخوانی سترګه درته ګورو او په ځانګړي ډول، له تاسې سره د دین په چارو کې اختلاف نه کوو. موږ په همدې کې یو، یو دولت چې اخلاقي، دیني او عرفي فکرونه پکې وي. پر دې سربېره د یتیمانو پالنه او په عراق کې ټولنیز اړخ به هم پکې وي. موږ یوازینی دولت یو چې بهرنیانو ته یې نفوذ نه دی پرېښی، عراق یوازینی دولت دی چې دیني زده کړې یې له ابتدائي دورې نه نیولې تر ثانوي دورې پورې عامې کړې دي او پر ټولو باندې لازمي دي، که هغه عمومي مدیر دی او پسې پورته، که د فرقې غړی دی او پسې پورته او ان که کوم قاضي دی. همداراز عراق شراب پلورنځي بند کړي دي، په روژه کې یې علني روژه خوړونکي او همداراز قسم ماتوونکي ته جزا ټاکلې ده.

"ورته ووایه، موږ تل اسلام ته بلنه کوو، موږ په دې کې یوه لوري ته کاږه نه یو، زموږ تګلاره دا ده چې دولت په مذهبیت کې نه ننباسو".



# شلم څپرکی

## د ولسمشر پر بندخونې د برید هڅې

د عمار پلاره ستا کار رغاند دی، زموږ کورنۍ او تر ناوخته راسره کېناستونکی بې کیسې راته کوي، مخکې شه له تا دې د دښمنانو نفسونه خار شي او رب به هر وخت کې (پر دښمنانو) قاهر دی.

*(صدام حسین په زندان کې)*

یوه ورځ استاد زیاد خصاونه اړیکه را سره ونیوله، چې په هماغه وخت کې د اسنادو د کمېټې رئیس و، زه یې په بېړه دفتر ته ور وغوښتم، چې هلته یو کس و، له اغلې رغد صدام حسین سره یې لیدنه غوښته. کله چې ور ورسېدم، له سړي سره مې یوازې ولیدل، له پنځه پنځوسو کلونو څخه یې عمر زیات و. داسې ښکارېده چې د چټک غبرګون سړی دی. راته وې ویل چې د ځانګړو ځواکونو افسر دی. بیا یې یو ګوماني نوم را وښود او ویل یې چې له اغلې رغد سره لیدنه غواړي، د لامل پوښتنه مې ترې وکړه، ویل یې، غواړي د ولسمشر پر ځای برید وکړي "چې موږ او ده ته له سپک وضعیت څخه یې بهر کړو". د عراق د سوېل په لهجه غږېده. د ټلیفون شمېره مې ترې وغوښته، ښنه یې وغوښته او ویل یې چې دی ټلیفون سم کارولی نه شي. خبرو یې شکونه را ولاړول. له څېړنو وروسته مو معلومه کړه چې د صفوي لورو له خوا رالېږل شوی دی، تر شا یې د ایران لاس و، دوی غوښتل چې د ولسمشر پر زندان برید وکړي او ولسمشر ایران ته وتښتوي، صفویانو او ایران فکر کاوه چې امریکا به پر ولسمشر پرېکړه ونه کړي او بېرته به واک ورکړي! په دې اړه یې لویه اوازه هم خپره کړې وه.

داسې هلې ځلې څو ځله تکرار شوې. د ولسمشر کورنۍ او په ځانګړي ډول د ولسمشر لور رغد مې خبره کړه، هغې په بشپړ ډول له داسې کسانو سره لیدنه رد کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ د ولسمشر د لیدو لپاره بغداد ته په لاره وم، هغه کس راته راغی چې د بغداد د ننه او بهر ځایونه به یې راته داده کول او د خپلو کسانو په مټ به یې زما شخصي ملاتړ کاوه، ده د عراقي مقاومت د یوه لښکر مشري کوله، پر ولسمشر صدام حسین ډېر گران و، ما ته یې وویل چې ولسمشر خبر کړم چې دی به د ولسمشر د ژغورلو او پر ځای یې د برید کولو لپاره د ځانگړو ځواکونو له کسانو او فدایانو څخه یوه فرقه برابره کړي. ولسمشر چې مې خبر کړ، ډېر خوشاله شو او وې ویل:

"والله ښاغلیه نه غواړم چې زما له امله دې یوه عراقي ته زیان ورسېږي، خو بیا د هم ځواک برابر کړي او چمتو د اوسي، د پلي کولو پرېکړه به یې حالاتو ته په کتو کوو. داسې هیله ده چې امریکایان خپله لاره ومومي او پوه شي چې صدام حسین لا تر اوسه کلک دی، زما د گوښه کولو هلې ځلې یې بې گټې دي، خو که له امریکایانو سره د حل بله لاره نه وه، نو زه به ډلې ته موافقت ورکړم چې پر زندان برید وکړي".

یوه ورځ مې په عربي پلازمېنه کې له یوه شخص سره چې (ابو عمار) کنیه یې کوله، ډېر ټینگار یې وکړ لیدنه مې ورسره وکړه، له مونږ سره د ولسمشر یو مخلص د تره زوی هم و. ابو عمار وویل: مونږ اوس داسې ځواک یو چې د پوځ له بېلو لیکو یوه فرقه گڼل کېدای شو، د ځانگړو ځواکونو لواء لرو، چې د دغه ځواک بنسټ ولسمشر له نیول کېدو وړاندې ایښی و او دا دنده یې ور سپارلې وه چې که دی ونیول شي، دوی به یې پر زندان برید کوي، سره له دې چې ولسمشر فکر کاوه چې د نیول کېدو احتمال یې ډېر کمزوری دی. ولسمشر زمونږ په منځ کې د راز خبره کړې وه. ما هم د دوی او ولسمشر په منځ کې د راز د متفقې کلمې غوښتنه ترې وکړه. بیا یې وویل: مونږ چمتو یو چې د ولسمشر پر ځای برید وکړو او د مقاومت مشرۍ ته یې را وباسو او وې ویل: مونږ له څلوېښتو ډېر ځایونه ورته برابر کړي دي او عملیات ۹۰ فیصده



بریالي گڼو. شرط یې کېښود چې ځواب به د ولسمشر په خط لیکل شوی وي، خو په هغه حالت کې د ځان ملاتړ وکړي چې که هڅه ناکامه شي او یا یې ځوک ملامت کړي...

له ولسمشر سره مې د راز د خبرې په اړه خبرې وکړې، ده وویل: "الحمد لله، ما یوه لواء پرېښې وه او اوس یوه فرقه یا هم ډېر شوي دي، دوی د عراق له عزتمنو او تکړه کسانو څخه دي". بیا یې وویل: "ورته ووایه چې د موخې په اړه دقیق معلومات ترلاسه کړي، بیا یې پرېږده چې د بریالیتوب یا ناکامۍ فیصدي محدوده کړي، بیا د دښمن د ځایونو په اړه، د کارېدونکو وسلو په اړه او د بریدگرو او ملاتړ کوونکو ځواکونو په اړه معلومات ورکړه". بیا یې له ما څخه په زندان کې د بیا بیا لیدنې غوښتنه وکړه (چې ځینو پر هوس تفسیر کړې ده).

ډله مې خبره کړه، ځای یې وکوت او ځواکونه او وسلې یې موخې ته نږدې ولېږدولې، او وې ویل: ولسمشر ته ووایه چې مونږ چمتو یو او وخت د معلوم شي.

ولسمشر را څخه وغوښتل چې کورنۍ یې خبره نه کړو او موضوع د بېخي پټه پاتې شي. و یې غوښتل چې جامې ورته راوړم چې د وتلو په وخت کې یې واغوندي (زرغون عربي کمیس، سره گامچه او نور) او راته وې ویل چې په (فلانۍ) ورځ یې لیدو ته ورشم، نهائي پرېکړه به هم راکړي او وخت به یې هم ټاکلی وي.

بیا یې وویل: "را د شي خو له هر یوه سره دې تر مخ لېږونکي وي".

د عملیاتو له پیل څخه څو ورځې وړاندې یو کس چې له عراقه بهر اوسېده، د ثریا ټلیفون په واسطه راسره په اړیکه کې شو راته وې ویل: ابا علاء، ولسمشر ته ووایه چې پیغام ور رسېدلی؟ کله چې مې وضاحت وغوښت، نو له هغې موضوع سره یې اړیکه نه وه چې مونږ یې د پلي کولو په لاره وو او نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې خبر و... خو دا ښکاره وه چې ده د خپل فعالیت او کلکو هڅو په مټ کارونه سخت کړي وو او پلان یې ځنډولی و، د عملیاتو د پلي کولو ټولې هلې ځلې درول شوې وې، که هغه ده غوښتې او که یې نه غوښتې.

کله چې ولسمشر ته ورغلم، هغه له بې خوبۍ څخه ستړی راته ښکاره شو. د ستړیا نښې یې په مخ او سترګو کې ښکارېدې، و یې ویل:

"ښاغلیه! څلور ورځې وړاندې مې د ټوپکونو ډزې واورېدې چې ډېرې یې کلاشنیکوفونه وو، د زندان پر بهرني دېوال وشوې. امریکایان ور اوچت شول، او د دفع هڅه یې وکړه. درې ورځې کېږي چې دوی دغو څلورو دروازو ته شپه او ورځ د کولپونو مضبوطولو لګیا دي، د دغو غږونو د شدت له امله مې یو ساعت خوب هم نه دی کړی، خو نه پوهېږم چې څوک د دغو ستړیاوو لامل شول. نو (أبو عمار) او کسان یې پرېږده څو چې وضعیت برابرېږي دوی د خپل کار وکړي".

بیا یې را څخه وغوښتل چې ډله خبره کړم چې ځانونه ښه برابر کړي، یو پر بل تکیه وکړي او د برید ټول پلان یې راکړ. کله چې ما ترې وغوښتل چې د برید له ځواک سره شریک شم، ده راته وویل: "اې ابا علاء، تا کله هم کمی نه دی کړی، زه په نورو ځایونو کې درته اړتیا لرم، له دې موضوع دې لرې غواړم، هسې نه چې وخارل شې یا ونیول شې".

مونږ خبر وو چې امریکایانو به د غږ ثبتولو کومه آله د لوی مېز په کومه برخه کې ایښې وي. نو له مېزه به لرې لاړو او تر ایرکنډېشن لاندې به ودرېدو او ولسمشر به یې درجه هم ور لوړه کړه څو امریکایان او د دوی الې زمونږ غږ وا نه وري. دا لومړی ځل نه و چې مونږ به دغه طریقه کاروله.

زه پر دې عملیاتو ډاډه وم، چې د ولسمشر د باور وړ هغو کسانو ونډه پکې درلوده، چې پخوا له ولسمشر سره وو. ځینې یې په محکمه کې هم ښکاره شول او له ولسمشر څخه یې دفاع کوله. ځینې بیا داسې هم وو چې ولسمشر



یې یوازې د تلویزیون له لارې پېژانده. ځینې یې عزتمن خپلوان او له ده څخه لرې وو. دا هغه سړي وو چې په سختو شرایطو کې په مېړانه او اصلي ملي والې سره را څرګندېږي.

عملیات وروسته ته وځنډېدل. ولسمشر بل وخت وټاکه، چې د خبرو اترو لپاره امریکایانو ته اخرنی فرصت ورکړي، د ځواک مشر ته یې هم همداسې امر وکړ.

د عملیاتو لپاره په بشپړ پټوالي چمتووالی ونیول شو، د ټاکل شوي هدف پر عملیاتو یوازې زه او د پلي کوونکي ځواک درې مشران خبر وو. د عملیاتو سیمې ته ولاړل او د ولسمشر لپاره بدیل ځایونه برابر شول چې له هماغه ځایه به د مقاومت په رهبرۍ پیل کوي، د امریکایانو له لاسه به هغه ځواکمنه پایه ولوېږي چې په بند کې یې ډېرې لوبې پرې وکړې، پر ولس او اتلوال مقاومت یې د ده شتون درولی و.

ولسمشر ځواک ته امر وکړ چې ځان ښه چمتو کړي، د عملیاتو د پیلېدو لپاره یوازې د وخت ټاکل او پر الله توکل پاتې و... دغه ځواک ته ډېره عزتمنه دنده ور له غاړې وه، بیا یې له ولسمشر څخه لیکل شوی امر او د راز کلمه وغوښته.

ولسمشر پر دغو بیتونو ور غبرګه کړه:

الرحمن (الله) په ډېرې ښې ډالۍ عزتمن کړي یو، ډالۍ یې دا ده چې رحمن مو ملګری دی.

همداراز عبد ربه زمونږ په امت کې باز (الوتونکی) دی، شیطان چې ورته را مخکې شي، رسوا شي.

په هره برخه کې د دوی نېکې کړنې ځلېږي، نېکې کړنې یې څو رنګه دي.

را وړاندې شه او کارونه د بریالي شه، عزم عزم دی او کمزوري کمزوري ده.

بیا یې را څخه وغوښتل چې استاد عزت الدوري د پر عملیاتو خبر کړي او پلان د تر پلي کېدو مخکې همداسې پټ پرېږدي. د ولسمشر نږدې کس د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوري ليدو ته ولاړ، خو څو اوني بې له دې چې "ابو احمد" ته ورسېږي وځنډېده، ځکه امنيتي وضعيت ډېر سخت و.

د ۲۰۰٦ ز کال د اګسټ په ۲٦ امريکايي اړخ (د اړيکو دفتر) راسره په اړيکه کې شو او د ولسمشر د ليدو غوښتنه يې را څخه وکړه، د ليدنې ورځ يې د اګسټ ۲۸ وټاکله. زه له ولسمشر سره د هغه د رغبت پر اساس په دې ليدنه موافق وم، ځکه دغه ليدنه به د ولسمشر د بندي کېدو د وضعيت پای ته رسوونکې وي، ولسمشر د دغې ليدنې لپاره پلان نيولی و او ماته يې لارښوونه کړې وه چې يو ملګری هم له ځان سره ورولم، څو پر زندان د بريد پړه پر ما وانه چول شي. لکه د تېر په څېر دغه ليدنې به د ځينو معلومو لورو په موافقت کېدلې او دغه لوري به په ليدنه بشپړ خبر وو. خو دا چې ځينو ډېره ځانغوښتنه کوله او چارې يې په لازمي ډول پر مخ نه وړلې، نو د دغې ليدنې په اړه تشويش پيدا شو چې دا زما شخصي رغبت دی او دا به د ۲۰۰٦،۹،۹ نېټه د کمېټې په ټاکل شوې ليدنه اغېزه وښيندي، سره له دې چې امريکايي اړخ تاکيد کاوه چې دغه ليدنه به د ټاکل شوې ليدنې په پروګرام هېڅ اغېزه ونه کړي.

له دې وروسته امريکايانو د ولسمشر د ساتلو په اړه اجراآت ټينګ کړل، هغه ځواک چې دی به يې ساته، هغوی يې هم بدل کړل، خو دا ځل يې په داسې ځواکونو بدل کړل چې ولسمشر په ډېرو ناوړه صفتونو ياد کړل... دلته وايم چې د ولسمشر د ژغورلو فرصت ضايع شو.

د ۲۰۰٦،۱۱،۵ نېټه پر ولسمشر صدام حسين د اعدام امريکايي ايراني ظالمه پرېکړه وشوه. ما او ملګرو له ولسمشر سره د ۲۰۰٦،۱۱،۷ نېټه په محکمه کې وليدل او د ۱۱،۹نېټه مو بغداد پرېښود. ولسمشر په دې ليدنه کې داسې وصيت راته وکړ: "استاد خليله، کله چې خوځېږې په ځانګړې ښه وصيت درته کوم، ستا له فکرونو او هيلو سره سم د هر کار اجازه درکوم، خو شرط يې دا دی



چې د عربو له واکدارانو يا نورو سره به د د خبرو په تله کې د صدام حسين غاړه نه ږدې، يوازې خپل دريځ او د ولس دريځ په عام ډول روښانه کړه. خو صدام حسين، الله او د عراقي او عربي ولس نېکان بچي او په انسانيت کې خير غوښتونکي لري. الله چې څه مقرره کړې وي، هغه ردبدلی نه شي. کېدای شي الله سبحانه و تعالی بل دريځ راته غوښتی وي، نو الحمدلله. الحمدلله او کورنۍ نه مې داډ ورکړه او ورته ووايه "الله چې څه وغواړي، هماغه به کېږي". نور نو د الله په امان کې اوسې. د الله په امان".

څو ورځې وروسته مې د اړيکو دفتر (امريکايي اړخ) ته د ولسمشر د ليدنې او د بغداد له هوايي ډګره تر ولسمشره پورې زما د ملاتړ کولو لپاره يو ليک ور واستاوه. ځواب يې راغی چې زه صبر وکړم. يوه اونۍ وروسته مې بل ليک ور واستاوه، راته وويل شول چې د "عراقي حکومت" له لوري زما د نيولو لپاره حکم شوی دی. د نيواک د حکومت د کورنيو چارو وزارت ته او د محکمې رئيس ته مې ليک ور ولېږه او وضاحت مې ترې و غوښت، خو هغوی د نيولو د کوم حکم شتون رد کړ. بيا د دغې محکمې د ادعا رئيس جعفر الموسوي زما په حق کې د کوم حکم د نه شتون اعلان وکړ.

دلته پوه شوم چې د دې لپاره چې ولسمشر له نړۍ سره د اړيکې له حلقې محروم کړي، نو د هغه پر ضد څه شی شته. له يوه وکيل سره مې ولسمشر ته کتبي پيغام ور ولېږه، هغه را څخه وغوښتل چې له داسې عربي لوري سره اړيکه ونيسم چې له امريکايانو سره ښه اړيکه ولري، څو زما ليدل اسانه شي. د برېښناليک په واسطه مې په عمان کې له امريکايي سفير سره د اړيکې نيولو هڅې وکړې، خو راته ښکاره شوه چې په کار کې پټ راز او دسيسې دي چې راتلونکې ورځې به يې بربنډې کړي.

د ولسمشر له ليدلو څخه زه د (...) په لامل محروم شوم، خو په راتلونکو ورځو کې به د لامل کوونکو او لاملونو بربنډولو ته مخه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د برید پلان

کله چې ټولې سیاسي هڅې ناکامې شي او هېڅوک خبرې اترې ورسره ونه کړي، نو ولسمشر صدام حسین د مقاومت د اتلانو له لوري پر زندان د برید لپاره بشپړ پلان داسې جوړ کړی و:

### دښمن

لومړی: دوی خبر کړه چې د دښمن ځواکونه له یوه سره لږ دي، یوه برخه یې په څلورو اوسپنیزو برجونو کې وېشل شوي دي، چې په اسانۍ سره بوختېدلی شي او زیان ورته اوښتی شي. پاتې ځواکونه، په پورته پوړ کې په واړه کور کې موندل کېږي (ولسمشر په ځمکتل کې بندي و) او ورته ووایه، د هغو ځواکونو وسلې چې ولسمشر یې خوندي کړی، خفیفي او منځنۍ دي (د جي سي او پي کي سي توپکونه)، لاسي بمونه او تومانچې " کاروي، ولسمشر راته وویل چې ځواکونه بې غیرته دي او کسان یې ماشومان دي، هر څوک کولای شي چې په څاپېره هم وسلې ترې واخلي.

### بریدګر ځواکونه

دوهم: درې دراند‌ه بیلدوزر د تیار کړي چې په فولادو پوښل شوي وي په ځانګړي ډول د چلوونکي ځای او د چلوونکي ښي او چپ لوري ته د سوري وکړي، چې توپکونه (پي کي سي) پکې کېښودل شي چې یو به مرکزي دېوال خلاصوي. له دغو عملیاتو وړاندې به ځواکونه د دښمن د بوختولو لپاره د خضراء پر سیمې هاوانونه، راکټونه او کاتیوشا اوروونکي واروي. همداراز نور ځواکونه به په هوایي ډګر کې د سمندري ځواکونو پر مرکز برید کوي، چې هغوی هم بوخت کړي. یوه ډله به هغه د وتو او ننوتو لارې بندوي چې ولسمشر به یې له ازادېدو وروسته نیسي. یوه بله ډله به له الوتکو سره د مقاومت لپاره (ستریلاو او ار پي جي ۷) توغندي او د الوتکو مقاومت کوونکي یو دزي او منځني توپکونه (پي کي سي) له ځان سره لري. له بغداده د صلاح



الدین په لوري په لاره کې به یوه لواء وي او همداراز له بغداده د انبار په لوري لاره کې به وي. وروسته به ډله پر دې ځای برید کوي، د دېوال له ړنګولو وروسته به له (آر پي جي ۷) څخه کار اخلي. (پي کي سي) به د پوښښ لپاره ورسره وي او داسې نور. په دې ډله کې به د هر کس ځای ته بل کس چمتو وي، بل بیلډوزر به دروازې په شا کوي، ځکه کولپونه یې د ماتولو یا چوولو وړ نه دي". ولسمشر به په همدې ورځ چمتو وي او هماغه جامې به یې په تن وي.

ولسمشر زیاته کړه: "باید ځانګړي او عام موټر هم برابر کړل شي، چې هر کله بدل شي. د هدف له را ایستلو وروسته به ځواکونه د هاوان او کاتیوشا په مټ زندان سخت بمباروي، نور ځواکونه به پر کروپر برید کوي، چې زمونږ ملګري د رهبري غړي، وزیران او نور ټول زندانیان ازاد کړي". بیا به ولسمشر انبار ته ځي، وروسته به په بیړه د مقاومت د یو کولو پلان برابروي او پر بغداد به برید کوي او وروسته به د مقاومت ټولې لښکرې په هر ولایت کې پر دښمن برید کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یوویشتم څپرکی

## د ولسمشر د برمته کولو هڅې

پر الله قسم له دې ځایه به یا ولسمشر وځم،
لکه ولس چې غوره کړی یم
او یا به د قبر لوري ته شهید ورځم.

*(صدام حسین په زندان کې)*

عراق ته د امریکایانو مشر پول پریمر د خپلې شورا له غړو وغوښتل چې د ده په شرطونو او غوښتنو لاسلیکونه وکړي. خو ځینو انکار وکړ، ده ګواښ ورته وکړ او وې ویل: که لاسلیک مو ونه کړ، نو صدام دلته نږدې دی او را وبه یې ګرځوو. نو ټولو غړو لاسلیکونه وکړل. وروسته بیا په دې اړه خبرونه، مقالې، څرګندونې او بیانیې ډېرې شوې، چې په عراق کې اتمي وسلې نشته، د عراق او القاعدې ترمنځ هم اړیکه نشته، اوس چې په عراق کې څه پېښېږي، تر دې د صدام په وخت کې عراق ډېر ښه و او امریکا بیا د خپلو سیاسیونو او په نړۍ کې د منځلارو د نصیحت او د عراق دننه د غوښتنو پر اساس مجبوره شوې ده چې ده ته مخه کړي. پر دغو څرګندونو نیوکې پیل شوې. لومړنۍ نیوکه کوونکی ایران و، بیا مقتدی الصدر و، بیا د کردي ګوندونو مشران او نور وو. د محاکمې او محکمې د جدیت په اړه شکونه را ولاړ شول، او ویل کېدل چې دغه کار د امریکایي ادارې په موافقت کېږي څو صدام اعدام نه شي، د دې احتمال هم شته چې د شرطونو او تړونونو موافق واک ته راشي، یا دغه کار ځکه کېږي چې په دې سره به د صدام د اعدام په حالت کې په عراق کې دننه او بهر ګواښونه وشي، ټول د ده د اعدامولو له غبرګونونو څخه وېرېدل چې په دې کې امریکایان هم وو.

د دې په مقابل کې هغه ادارې او ګوندونه چې پر امریکایي ټانګونو سپاره راغلي وو، له خپلو بادارانو سره یې د دښمن په ادارو کې مشورې پیل کړې،



په ځانګړي ډول په ایران او اسرائیلو کې له ولسمشر صدام حسین څخه د خلاصېدلو یا د هغه د چوپولو لپاره یې څو فکرونه او پلانونه جوړ کړل او د محکمې او محاکمې پر ترلاسه کېدونکې پایلې نا باوري یا که وضعیت د دوی د تصور په ډول وي نو پر ده به اساني وکړي چې خپل شرطونه پرې ومني، د دې لپاره یې پلانونه برابرول. بې له دې چې دوی د ولسمشر شخصیت، کلکوالی او د هېڅ ډول چانو نه منل سم وپېژني.

## د ولسمشر د خلاصولو یا له ولسمشر څخه د خلاصېدلو هڅه

د ۲۰۰۶ ز کال په پیل کې هغه معلوم لوري چې د نیول شوي عراق په سیاسي لید او له اسرائیلو او ایران سره یې په ائتلافونو خبر یو، همداراز په عراق کې د یوه حاکم ګوند رئیس دی، هغه را ولاړ شو او یو کس یې له استاد زیاد خصاونه سره په اړیکه کې کړ او هغه ته یې لاندې عریضه وکړه:

دغه لوري ژمنه کوي چې په هره لاره وي، ولسمشر صدام حسین به له زندانه باسي، په هر ځای کې چې وي له هر ډول بدلې پرته به یې مونږ ته یا د ولسمشر له لوري ټاکل کېدونکي کس او یا به یې کورنۍ ته سپارل کېږي. دغه لوري له خلیل دلیمي سره د لیدو غوښتنه کوله.

استاد زیاد خصاونه اړیکه را سره ونیوله، خپل دفتر ته یې ور وغوښتم، دفتر یې د ټولو هغو کسانو دفتر ګڼل کېده چې په رضاکار ډول یې له ولسمشر صدام حسین څخه دفاع کوله، او لا تر اوسه د هغه دفتر مسئولیت د ده پر غاړه دی. ورغلم، کیسه یې راته وکړه. د موضوع د څېړلو او ولسمشر ته د وړاندې کولو له امله مې ترې وغوښتل چې کیسه د پټه پاتې شي، ورته و مې ویل چې هماغه لوري ته زما د ټیلیفون شمېره ورکړي چې مستقیمه اړیکه را سره ونیسي.

دوه ورځې وروسته هماغه کس اړیکه را سره ونیوله، هغه کیسه یې راته وکړه چې استاد خصاونه ته یې کړې وه او وې ویل: استاد خلیله ته یوازې موافقت وښیه، بس نور به مونږ ولسمشر تا ته وسپارو، په هر ځای کې چې غواړې، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



عراق کې دننه او که بهر، کولای شې ته یا بل څوک د امانت (ولسمشر) د رک روغ تسلیمېدو لپاره راشي. څېرته چې وغواړې هلته به یې در ورسوو. که یې د اوسېدلو او لېږدولو مصرف نه لرې، نو هغه اسانتیاوې به هم درته برابرې کړو. د زیات باور لپاره به مونږ د ولسمشر تر در رسېدلو پورې یو مهم کس د یرغمل په توګه له تاسې سره پرېږدو، څو ورځې وروسته به یرغمل کس پرېږدی.

دېرې پوښتنې مې ترې وکړې، لومړی مې فکر وکړ چې لېونی دی یا خوب ویني. پوښتنه مې ترې وکړه: تاسې به دغه خطرناک عملیات څنګه ترسره کړی، ایا امریکایان درسره دي، ایا ایران مو تر شا ولاړ دی، ایا اسرائیل او موساد درسره دي، یا... ایا....

ده راته وویل: ته یې یوازې ومنه او نورې پوښتنې مه کوه. یوازې د ولسمشر د تسلیمېدلو لپاره پلان ونیسه، خو شرط یې دا دی چې له ازادېدو وروسته به څه اوسېدلی شي. دا ضمانت به هم درته وکړو چې یو لوری به یې هم نه څاري، نه د امریکا متحده‌ایالات، نه عراقي لوری او نه هم بل څوک او کورنی ته یې د رک روغ سپارلو ضمانت کوو، تاسې یوازې له مونږ څخه تسلیم شی. که مو پیسې غوښتې، هغه به هم درکړو، د ده او د کورنی مالي وضعیت هم ور برابروو، ان ستا هم.

له دېر دېخوا او هاخوا وروسته، مې ورته وویل: ما پرېږده چې خبره تر اصلي کسانو پورې ورسوم.

زه له لومړیو په داسې غوښتنو پورې اړوند نظرونه ساتم، نه پوهېږم چې تر شا به یې څه دسیسې وي. کیسه مې هغو ته وکړه چې څینې چارې ور سپارل شوې وې، ځواب یې دا و چې صدام حسین به څېرته وړو، هغه خو عادي کس نه دی چې پټ یې کړو، بیا که دغه کسان په جدیت چلند کوي، نو دوی



غواړي چې له سیاسي مخ څخه صدام حسین لرې کړي، څکه دی دوی ته نږنولو خواکمن سیال او حریف دی، یا دوی غواړي چې په دې لاره څان نږې خلاص کړي. بیا یې وویل: مونږ موافق نه یو او داسې مسئولیت پر غاړه نه اخلو.

د امریکایي اړیکو له دفتر (زمونږ د ملاتړ او تر محکمې د رسولو له مسئول اړخ) سره مې اړیکه ونیوله، چې که په نږدې فرصت کې د ولسمشر د لیدنې وخت راته وټاکي. کله چې مې ولسمشر ولید، کیسه مې د الکتروني ثبتوونکي په نېږ ایستونکي لاره ورته واوروله، چې مخکې مې هم یادونه کړې وه. دا هغه لاره وه چې ولسمشر به له ما سره په څانګړو لیدنو کې کاروله.

ولسمشر ته مې ټوله کیسه وکړه، احتمالات او بدنیتي مې ورته روښانه کړه. کیسه د راز وه. ده وویل: ستا نظر څنګه دی. ما د موضوع په اړه خپل ساتل شوی نظر ورته تشریح کړ. ورته ومې ویل چې یوازې د دې لپاره مې خبر کړې چې دا یو امانت و او ما ژمنه ورسره کړې وه چې د ده په ژوند پورې څانګړي څه به نه ترې پټوم.

ده وویل: په نظر کې درسره موافق یم، زما او هغه چې اشاره مې ورته وکړه د هغوی نظر سم دی. او وې ویل: "که کیسه د صدام حسین په ژوند او غاړې پورې تړلې وي، نو ما ژوند څو کاله مخکې پرېښی دی، زه به د خپل ژوند په لاره کې پر عراق او د هغه په ازادۍ چانې ونه وهم. زه دا عریضه په بشپړ قاطعیت ردوم او هغوی ته ووایه: صدام حسین دوه انتخابه لري، د عراق ازادي او داسې راګرځېدل لکه ولس چې غوره کړی وم، یا داسې شهادت چې هېواد، د عربي امت ټول خیر غوښتونکي، د عراق ولس او د انسانیت خیر غوښتونکي پرې و ویاړي."

د عراق دښمنانو به همداسې پلانونه ورته نیول. په معادله کې سخت عدد ولسمشر و، ترې تېرېدل او نه پاملرنه ورته ناشونې وه. دوی یې له پاتې کېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېرېدل، همداراز د اعدام له ترلاسه کېدونکو پايلو څخه هم وېرېدل. چې دا د عراق په اړه د ايراني او اسرائيلي استخباراتو پر ژورې پوهې دلالت کوي. له موساد او په عراق کې يې له مشهورو ائتلافونو پرته او له ايراني استخباراتو او د نيواک په حکومت کې يې له غلامانو پرته څوک دومره جرئت لري چې ولسمشر له زندانه وباسي او له عراقه يې بهر کړي. دوی غوښتل چې په دې لاره د ولسمشر خوله بنده کړي او کمزوري يې وباسي او ورپسې به يې ووژني او تاريخي انځور به يې بد نام کړي.

هغه کيسه مې هم په ياد ده چې ولسمشر راته کړې وه. په ۲۰۰۵,۱۰,۱۹ ز کې چې د محاکمې د لومړۍ ناستې له ټاکل شوي وخت څخه مخکې زه د ده ليدو ته ورغلی وم، په تېره ورځ کې يې د شپې ولسمشر د محکمې ودانۍ (د ملتپالنې د رهبرۍ ودانۍ) ته رسولی و، چې د محاکمې د تمثيل لپاره ځانګړی شوی ځای و. امريکايي زندان ساتونکو ته امر شوی و، چې که ولسمشر د ځای او ودانۍ د نوم پوښتنه ترې کوله، نو دوی به ورته وايي چې دا د پوځي روزنې ودانۍ ده. نو کله چې ولسمشر پوښتنه ترې کړې وه، دوی هم هغه ځای ورته ښودلی و چې امر ورته شوی و. کله چې ولسمشر صدام حسين د محکمې په تالار کې په لومړۍ ناسته کې و درېد، قاضي ته يې وويل: دا د پوځي روزنې ودانۍ ده. ده غوښتل چې مقاومت ته پيغام ولېږدوي، څو ځای په نښه کړي او څه چې پکې دي، هغه وران کړي. بيا محاکمه وځنډېده او په کروپر کې مې ورسره وليدل، کيسه يې راته وکړه. ما ورته وويل چې هغه د پوځي روزنې ودانۍ نه ده، بلکې د ملتپالنې د رهبرۍ ودانۍ ده، خو دا چې مونږ وکيلان يو، د محاکمې تر کېدو د محکمې ځای را څخه پټ وي، د همدې لامل له کبله يې له مونږ څخه پټ کړی و، هسې نه چې مقاومت او فدايان پر ځای بريد وکړي او که د محکمې پر ځای بريد شوی وای، داسې وژنځای به ترې جوړ شوی وای چې يو کس به هم نه وای ژغورل شوی، ځکه امريکايي اړخ ډېر سخت تدابير نيولي وو او زېرمې يې برابرې کړې وې.



خو امريکايي اړخ هېره کړې وه چې که د مقاومت رهبران د ولسمشر پر ژوند او روغتيا نه وېرېدای، نو له ولسمشر سره زما د لومړۍ ليدنې ۲۰۰۴ ز په دوهمه ورځ به يې پر زندان بريد کړی وای، خو د مقاومت اتلانو چمتووالی نيوه، ځکه مقاومت او عراقيانو باور درلود چې امريکا د ولسمشر په نيولو او په دوامداره توګه په ساتلو سره عراقيانو، عربو او مسلمانانو ته ننګونه کړې ده. خو د ولسمشر سلامتيا يې مخنيوی کاوه. کله چې ولسمشر د محاکمې په ناسته کې د محکمې ځای وښود، په محکمه کې د امريکايانو له لوري لېږد قطع کړی شو. د همدې لامل له کبله امريکايانو د تمثيل واقعې، شل دقيقې وروسته ولېږدولې او ثبت يې فلتر کړ.

امريکايانو د ولسمشر سلامتيا او د ځای پټېدا ته ډېر پام کاوه. کله چې به مونږ ليدو ته ورغلو يا به يې چې محکمې ته لېږداوه، نو په بشپړ پټ ډول به يې لېږداوه. د لېږد وسايل يې هم بېل وو، کله به يې د سره صليب اشاره لرونکي ګاډي (امبولانس) کې لېږداوه او کله به يې په بلک هاک الوتکو کې لېږداوه.

ايران، ولسمشر ته په رسېدو کې ډېر جدي و، په ځانګړي ډول ايران ته پيرو مليشې (بدر او الصدر) د ايران استخباراتو وکولای شول چې له امريکايي پوځ سره په ژباړونکو کې روزل شوي کسان ور ځای کړي، يو خو يې په عراق کې له نفوذ او بل يې له امريکايي حماقت څخه ګټه پورته کړه. ان و يې کولای شول چې د دغو ژباړونکو په مټ تر يو څه حده ولسمشر ته نږدې شي. يوه ورځ يې اعلان وکړ چې صدام ته نږدې دي او هره شېبه چې وغواړي کولای شي ولسمشر پر سر باندې وولي. ما به تل امريکايان دې ته متوجه کول. کله چې مې وليدل چې ولسمشر ته ډېرې نږدې ژباړونکي مسيحيان يا عرب دي او له امريکايي پوځ سره راغلي دي، نو اندېښنه مې ختمه شوه.

د ایران او ملېشو پلان یې داسې و. کله چې د ولسمشر د بند ځای وټاکل شي، نو ایراني استخبارات او د ملېشو تکړه کسان به په بند توغندي او پرمختللي ایراني دګریز راکټونه ور وتوغوي او بند به له هر څه سره وران کړي. بل پلان بې تر څه حده بریالی هم شو هغه دا چې "کله چې له امریکایانو څخه په چل ول کې ور تېر شي او ولسمشر ته ورسېږي، نو پر دې دنده ګمارل شوی کس به امریکایي پوځي غافلوي او وسله به ترې وړي او ولسمشر به پر سر ولي او یا به ځانوژنه کوي. د محکمې په اړه هم همداسې پلان نیول شوی و او د ولسمشر له وژلو وروسته به د پوځي ملګري را ولاړېږي او پوځي به وژني، څو د جریمې نښې له منځه ولاړې شي. خو کله چې مو څو ځله امریکایان متوجه کړل، که هغه په رسنیو کې وو او که د ولسمشر د لیدنې په ترځ کې له دوی سره په لیدنو کې وو او یا د محاکمې د تمثیل په موده کې وو، بیا امریکایانو هم دې ته ډېره پاملرنه کوله.

## د ولسمشر د لرې کولو وړاندیز

د شیخ په خلیج کې د ۲۰۰۳ ز کال د فبروري د میاشتې په پای کې د عربي مشرانو له یادې غونډې او هغو وړاندیزونو وروسته چې ولسمشر ته د ګوښه کېدو او لرې کېدو لپاره وشول، ولسمشر به په دوامداره ډول ردول او ویل به یې: په عراق کې مې ژوند کړی او پکې مرم به.

په ۲۰۰۵ ز کال کې د لرې کېدو د وړاندیز هڅې تکرار شوې. دوه عربي دولتونه یې هرکلي ته نوماندان وو، یو یې (...) دولت و. مانۍ مې هم په خپلو سترګو ولیده. د ولسمشر صدام حسین د هرکلي لپاره چمتو شوې وه. خو راته وې ویل چې دا یې وروستی مانۍ نه ده، چې له کورنۍ سره د پکې واوسي، پر دې سربېره هومره پیسې به ورکړي، څومره چې ولسمشر وټاکي. د ځینو نورو معلوماتو په ترځ کې یې په غرض پوه شوم، خو نه غواړم پکې ولوېږم څو څوک په تنګ نه شي. خو ولسمشر رد کړ، څو ځله یې دا جمله وویله: "پر



فهم له دې ځایه به یا ولسمشر وځم، لکه ولس چې غوره کړی یم او یا به د قبر لوري ته شهید ورځم".

د ولسمشر سره په یوه ځانګړې لیدنه کې مې بیا پوښتنه ترې وکړه چې که د امریکایانو یا بل لوري لخوا خبرې اترې ورسره شوې وي. خو ده په بشپړ ډول رد کړه. د امریکایي جنرال له هغې غوښتنې پرته چې د بندي کېدو له لومړنیو ورځو وروسته یې ور څخه کړې وه. دغه غوښتنه تړلې وه، خبرې اترې نه وې. دا پوښتنه له یو لړ خبري او رسنیزو ویناوو وروسته راغله. چې هدف یې ښکاره او معلوم دی، یعنې د دغه لوی سړي او ۳۵ کلنې مبارزې بدنامول. همداراز دغه پوښتنه د امریکایي پوځ د یوه افسر له خبرو وروسته راغله، هغه د ولسمشر د نیولو یو ځانګړی ساتونکی و، دغه افسر د څېړنې له ډرامې څخه خوښ نه و، د محاکمې له پیله وړاندې یې زه وپوښتلم: ایا د دعوې پاڼې د کتلو دي، ایا له مؤکل سره د بحث کړې دي... همداسې تر پایه قانوني پوښتنې، داسې برېښېده چې دی له روان حالت څخه خوړېده، په ځانګړې اتاق کې به و او بهرته به راغی، دا هغه اتاق و چې زه به د ولسمشر صدام حسین لیدنې ته پکې ناست وم. لږ وخت نه و وتلی چې وې ویل: فکر نه کوم چې دغه لاره د تا او ستا مؤکل ستاسې غوښتنې ته ورسوي، ډیپلوماتیکه لاره سمه ده. ما ورته وویل، زه وکیل یم...

دا خبره مې ولسمشر ته وکړه، هغه وویل: "زما دروازه یې د خبرو اترو لپاره نه ده را ټکولې او دا ناشونې ده چې زه به د دوی دروازه ورټکوم، ځکه دا به بیا زمونږ کمزوري ګڼل کېږي".

ما په خپله ټول، هدفي لوري پر دې خبر کړل، د خپلې خطرناکې دندې له لومړۍ ورځې پر دې پوه وم چې دا د ژغورلو لاره نه ده، ځکه امریکایان د قانون په ژبه نه پوهېږي. زه پر دې قانع وم چې سیاسي لاره د ولسمشر د خلاصون او له ستونزو څخه د عراق د خلاصون لپاره تر ټولو سالمه لاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د چل ول ښکار لوبه**

امریکایانو هیله درلوده چې ولسمشر صدام حسین به د ځان د خلاصون په بدل کې عراقي مقاومت ودروي او همداسې له عراقه بهر ته به لاړ شي. په یاد مې دي، یوه ورځ د ۲۰۰۵ ز کال په وروستۍ ربع کې د مشورو په چوکاټ کې د یوه عربي هېواد له لیدنې را گرځېدم. کله چې په عربي پلازمېنه کې یوه هوټل ته ورسېدم، یو امریکایي را سره په اړیکه کې شو، د لیدلو غوښتنه یې وکړه، ما بښنه وغوښته، ځکه زه سفر ستړی کړی وم او غوښتل مې چې د کورنۍ د لیدو لپاره عراق ته ستون شم. ورته و مې ویل چې له عراق څخه له راگرځېدو وروسته به یې وگورم. خو سړي ټینگار وکړ او ویل یې چې کار ډېر اړین دی. نو د شپې په دوه بجو مې ورسره ولیدل. ما فکر کاوه چې دغه کس د امریکایي استخباراتو سړی دی، ځکه دا معقوله نه ده چې امریکا او استخبارات دې د دفاع کمېټه له توکو یا خارگرو پرته داسې پرېږدي چې څه کار یې خوښ وي هغه وکړي.

ما ته یې وویل: ښاغلی خلیل، زه پوهېږم چې ته د صدام موضوع ته څومره پاملرنه کوې او دا هم راته جوته ده چې په ټول ژوند کې دې له زندانه پرته بل ځای نه دی لیدلی او یوه ورځ هم واک ته ور نږدې نه وې او... او... تر پایه، خو زه غواړم دوه پوښتنې در څخه وکړم، د هغو له ځوابولو وروسته شونې ده ستا غوښتنه در پوره کړم (د ولسمشر ژغورنه)، خو لومړی غواړم دا وپوښتم چې ولې د په خپل او د کورنۍ په ژوند خطر منلی؟

ما ورته وویل: پر عراق د امریکا برید، داسې څه دي چې مونږ یې امریکا ته نه شو وربښلی، ما لکه د یوه عراقي په څېر هغه لاره ولیده چې امریکا زمونږ د تنگولو هڅه پرې کوله، زمونږ د ولسمشر په نیولو سره او د تلوېزیون په صفحه یې په داسې ډول په راښکارولو سره مونږ په تنگولو، چې د عراقیانو او عربو ارواوې پرې ووژنې، پر دې سربېره تاسې زما هېواد را وران کړ او قانوني



عراقي رهبر مو زندان ته د ننه کړ او بله دا چې د ولسمشر صدام حسین عمر اوبا کلنی ته رسېږي، نو اخلاق یا عدالت دا نه ایجابوي چې داسې څه وشي لکه تاسې چې وکړل.

ده وویل: که ولس او وسله والو ځواکونو انقلاب کړی وای، نو دریغ به د څه وای؟ ما ورته وویل: زما دریغ به د ولس له غوښتنو سره و او ته خو ښه پوهېږې چې ولسمشر صدام حسین د خلکو له لوري دوه ځله وټاکل شو، ټولې نړۍ د دغو دواړو ټولپوښتنو پایلې ولیدلې، هېڅ لوري دخالت پکې نه و کړی او په همدې اساس یې قانونیت او شرعي دساتیر ترلاسه کړل. چې دا د ولس غوښتنه او اراده ده. مهرباني وکړه او پوښتنې د وکړه.

ده وویل: صدام حسین پر تا باور لري او درناوی درته لري، مونږ پوهېږو چې ته اغېزه پرې ښیندلی شې، نو ایا کولای شې قناعت ورکړې چې د محکمې په یوه جلسه کې پر مقاومت غږ وکړي چې د امریکایانو پر ضد عملیات ودروي؟

بلکل مې رد کړه او ورته و مې ویل: زه داسې څوک نه یم چې داسې څه به نرې غواړم.

بیا را وگرځېد او پوښتنه یې را څخه وکړه: ایا صدام مقاومت چلوي او له ده پرته چې نور کسان یې چلوي د هغوی نسبت به څومره وي؟

ما ورته وویل: ولسمشر صدام حسین مقاومت ته پلان جوړ کړی و او د مقاومت د عملیاتو د رهبرۍ له ۸۵ سلنه ډېر واک له ده سره دی او بله دا چې هیله کوم، پر دې پوه شه چې زه مدافع وکیل یم، سیاستپوه نه یم او پرېکړه مې وکړه چې د امنیتي لاملونو له کبله د عراق پر ځای سوریې ته لاړ شم.

امریکایي استخباراتو داسې هڅې کولې چې له څو دروازو راته راشي، خو دوی خبر نه وو چې د عزتمن عراقي اراده چانې وهل نه منې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې مې د دغه کس خبرې ولسمشر ته ورورې، هغه وویل: "ډېر ښه ښاغلیه، څه چې وایي لکه مخکې چې مې وصیت درته کړی و، دوی کوښښ کاوه چې د مقاومت په درولو خپلې غوښتنې پوره کړي، خو زه به دا کار ونه کړم، که څه هم زما غاړه په تله کې کېږدي او دغه سړي غوښتل چې پر مقاومت د صدام حسین پر اغېزه پوه شي، خو مقاومت یوازې له صدام حسین څخه دفاع نه کوي، بلکې له ټولو بندیانو او زندانیانو څخه دفاع کوي او په اصل کې له عراقه دفاع کوي".

## د چانې وهلو نه شتون

زه دا تکراروم چې د الله او تاریخ پر وړاندې مسئول یم، چې له ولسمشر صدام حسین سره له نیول کېدو را پدېخوا هېڅ چانې نه دي وهل شوې. که امریکایانو غوښتي وای چې خبرې اترې ورسره وکړي، نو داسې څه به پېښ شوي وو، که له نیول کېدو وروسته نه وای نو د اعدام د پرېکړې له کېدو وروسته به وای، چې دلته به د ولسمشر په مخ کې سختې ټاکنې وې، څکه د امریکایي انتخاب موافق به وو. خو دا هر څه نه دي پېښ شوي. کومو سرکوزو خاینانو چې له امریکایانو سره مرسته وکړه، ائتلاف یې ورسره وکړ، مشوره یې ورکړه او کومو کسانو چې له ولسمشر سره یې په امانت، ژمنه او وعده کې خیانت وکړ او امریکایانو ته یې وویل چې ولسمشر له تاسې سره د خبرو اترو لپاره زمونږ مخې ته سخت خنډ دی، همدغو د ولسمشر له پانې څخه سوځولې پانه جوړه کړه. خو خبرپاڼو چې څه د چانې وهلو په اړه ترلاسه کړل، هغه د رسنیز بحث، خبري سیالیو او نور هغه غرضونه وو چې مونږ ته معلوم دي.

## نا څرګنده وینا

د ۲۰۰٦،۱۲،۲۴ نېټه په عمان کې د "اسناد" (له ولسمشر او د هغه له ملګرو څخه د دفاع د اسناد کمېټه) په دفتر کې یو کس را سره په اړیکه کې شو او



ویل یې؛ له مصر څخه دکتور فلانی دی. د دغه کس په اړه مې له وړاندې کوم معلومات نه درلودل او نه مې یې په اړه څه اورېدلي وو. ویل یې چې له ده سره د عراقي رهبرۍ بیان دی چې په عراق او سیمه کې روانې پېښې یې روښانه کړې دي، په عراق کې د اتمي وسلو نه شتون یې په ډاګه کړی دی، همداراز په عامه توګه د منځني ختیځ د قضیې، چې د فلسطین قضیه هم پکې ده، له حلالرې څخه د عراق د مخنیوي نه شتون یې په ډاګه کړی دی او د ټولو دولتونو په مرسته له اتمي وسلو څخه د منځني ختیځ د سیمې پاکول یې پکې واضح کړي دي.

د دکتور، ګومان ته په کتو دغه بیان له برید څخه وړاندې عُدي، صدام حسین ده ته سپارلی و، یعنې پر عراق له امریکایي یرغل څخه اته څلوېښت ساعته مخکې. دغه کس له عراقه په وتلو بریالی شوی نه و څو دغه بیان خبري اژانسونو او بېلو رسنیو ته ورکړي، د امریکا د متحده ایالاتو له لوري په قصدي ډول د ده د سفر په مخ کې خنډونه واقع شوي وو. دکتور همداسې ګومان کاوه.

پوښتنه مې ترې وکړه چې څه غواړې، څواب یې را کړ: غواړم بیان تاسې ته درولېږم او تاسې یې ولسمشر ته وسپارئ، هغه کولای شي چې څه پکې بدل یا یې ترې حذف او یا یې ور زیات کړي، یا د دغه بیان پر ځای د حقیقتونو د ښکارولو لپاره بل بیان ولیکي، څو له برید او وراني وروسته نړۍ په حقیقتونو پوهه شي، څکه حقیقتونه په بشپړ ډول پټ کړ شوي دي، په ځانګړي ډول هغه حقیقتونه چې په ولسمشر پورې تړاو لري. وروسته بیا دوکتور یو بیان راولېږه.

د ۲۰۰٦،۱۲،۲٦ نېټه د ولسمشر د لیدنې لپاره د درې ملګرو وکیلانو تر ټاکلو وړاندې د "اسناد" په دفتر کې زمونږ د غونډې په ترڅ کې مو دغه موضوع له شته ملګرو سره وڅېړله او پر دې مو اتفاق وکړ چې بیان د ټاکل شوي ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخلي، ولسمشر د پرې خبر کړي چې د صحت پخلی یې وکړي او انتخابونه یې هم مخې ته خلاص دي. دا تړون مو یو داسې فرصت وباله چې ولسمشر به زغرده وینا هم پکې وکړي، له اوسني سخت حالت څخه به د عراق او د ده د ملګرو په را ایستلو کې مرسته وکړي. خو ولسمشر صدام حسین پر موضوع تبصره ونه کړه. له ګمارل شوي ملګري سره مې اړیکه ونیوله، هغه ځواب راکړ: "موضوع مې ورته وړاندې کړه خو ځواب یې را نه کړ".



# دوه ویشتم څپرکی

## د څېړنې په ناستو کې څه وشول؟

د نیواک د حکومت د واکدارانو له لوري د څېړنو جوړو شویو کمېټو له ولسمشر صدام حسین او د هغه له بندیانو ملګرو سره څو څېړنیزې ناستې وکړې او د محاکمې ناستې وشوې چې د ۲۰۰۵,۱۰,۱۹ نېټه پیل شوې.

په لاندې ډول د دغو ناستو لنډیزونه را اخلو، چې د صدام حسین د شخصیت په اړه د انساني، جهادي، اتلوالو او قیادي اړخونو بډایه دلیلونه پکې دي:

**مشر او د وکیلانو عزل**

په ۲۰۰۵ ز کال کې د څېړنې په یوه ناسته کې قاضي رائد الجوحي ولسمشر ته هغه غوښتنلیک ولوست چې د ولسمشر کورنۍ د بریښنالیک له لارې محکمې ته رالیږلی و، چې له خلیل دلیمي پرته د نورو ټولو وکیلانو د ګوښه کېدو غوښتنه یې کړې وه، دغه کار یې د جزائي وکالتونو لپاره کړی و. ولسمشر په حکمت او لوړو اخلاقو سره د لامل په اړه را څخه وپوښتل، ما ورته وویل چې دا یې د کورنۍ د قانوني مشاور پر اساس رغبت دی، چې په دقت او مسئولیت سره فعالیت تنظیم شي. ولسمشر خپله خواشیني ښکاره کړه او وې ویل: والله زه په دې شرمېږم، زه نه غواړم چې د یوه عراقي عزت زیانمن کړم، نو د هغو کسانو عزت به څنګه زیانمنوم چې په سختو شرایطو کې یې له ما څخه دفاع ته را دانګلي. جوحي ته یې وویل: وروسته له دې چې په دې اړه مې وضاحت وغوښت، زه مې د کورنۍ له غوښتنلیک سره یوازې د لا تنظیمولو د هدف پر اساس موافق یم، بل لامل یې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## له قاضي سره د ولسمشر لیدنه

**رائد الجوحي:** صدامه، ایا د وکیلانو په عزل موافقت کوې او په وکیل خلیل دلیمي بسنه کوې او که یې وکالتونه پرېږدې، دا ستا د لور رغد د غوښتنلیک پر اساس، او غوښتنلیک هم زما په لاس کې دی؟

**ولسمشر:** "زموږ پروردګاره! کله چې تا موږ پر سمه لاره خوځولي یو، نو بیا مو هېڅکله زړونه مه کږوه، موږ ته د خپلې پېرزوینې له زېرمې څخه رحمت را په برخه کړه، په دې کې شک نشته چې ته له خپلو وعدو څخه مخالفت نه کوې". په پیل کې، زه د ټولو وکیلانو د هڅو مننداوی یم، خو د بیا تنظیمولو او د مرحلې د اړتیاوو له کبله، زه د نورو ټولو وکالتونو په لغوه کېدو او یوازې د استاد خلیل دلیمي د وکالت په پاتې کېدو موافقت کوم.

**رائد الجوحي:** ښه ده، که وکیل د نورو د وکیل کولو لپاره نوی وکالت را مخکې کړي، ایا موافقت پرې کوې؟

**ولسمشر:** زه پر هغه څه موافقت کوم چې استاد خلیل یې پرې کوې، ځوک چې پر کوم وکالت د لاسلیک لپاره زما موافقت شرط ګڼي، نو دا کار استاد خلیل ته سپارم او هغه ته اختیار ورکوم.

**رائد الجوحي:** د عربو او بهرنیانو وکیلانو په اړه، ایا عرب او بهرني وکیلان غواړې؟

**ولسمشر:** وکیلان که عراقیان وي، که عرب او که بهرني وي، زه توکیل او مشاورې ته اړتیا لرم. ټول کار استاد خلیل ته سپارم.

### کلکوالی، ننګونه او مېړانه

**قاضي:** صدامه، نن ورځ د وسله‌والو ځواکونو پخوانی عمومي قوماندان ګڼل کېږې، موږ غواړو، له تا څخه واورو چې د انفال په عملیاتو کې څه پېښ وشول؟



**ولسمشر:** بسم الله الرحمن الرحیم: "اې زموږ ربه موږ ته صبر راکړه، زموږ ندمونه ټینګ کړه او پر دې کافره ډله موږ برلاسي کړه" لوی الله رښتیا ویلي. په پیل کې غواړم ووایم چې صدام حسین تر هغه وخته د عراق جمهور رئیس او د وسله‌والو ځواکونو عمومي قوماندان دی، څو چې یې ولس غواړي او له نور ځواب څخه مخنیوی کوم، ځکه د امریکا له لوري شوی برید او د هغه پایلې ټولې په ټوله کې باطلې دي.

**قاضي:** موږ قاضیان یو، ستا په نظام کې هم قاضیان وو او لا تر اوسه یو.

**ولسمشر:** د مقننه او مجرئیه قوې پرته د قضایې قوې برحالي ناشونې ده او زیاتوم، که مې فرصت درلودی چې له زندانه بهر وای، نو د نیواک پر ضد به مې مقاومت ته دوام ورکړی وای.

**قاضي:** دغه ناسته د ۱۹۸۸ ز کال د انفال په عملیاتو پورې اړه لري. دا چې ته د وسله‌والو ځواکونو عمومي قوماندان ګڼل کېدې او د پوځي قطعاتو د خوځښت امرونه درسره وو، نو په مفصل ډول د وسله‌والو ځواکونو د عمومي قوماندان په حیث موږ ته ځواب راکړه؟

**ولسمشر:** زه بیا وایم چې له ځواب څخه ممانعت کوم، یوازې د دغې پوښتنې له ځواب څخه نه، بلکې د ټولو پوښتنو له ځواب څخه. لامل یې دا دی چې زه لا تر اوسه جمهور رئیس یم، د وسله‌والو ځواکونو عمومي قوماندان او د انقلاب د رهبري شورا رئیس یم، همدارنګه له دستورسره سم بشپړ قضائي خوندیتوب لرم او دوهم یا کېدای شي لومړی، دا چې امریکایي نیواک او ورسره ائتلاف باطل یرغل دی، نو یرغل او برید چې د څه اثبات کوي، هغه هم باطل دي. د نیواک تر سیوري لاندې روانه څېړنه او څېړنیزې کمېټې باطلې دي، ځکه دا ټول له دستورسره مخالفې دي.

**قاضي:** فکر کوم تاسو حقوق لوستي.

**ولسمشر:** ته فکر کوې؟! زه هم فکر کوم تا حقوق لوستي دي او وياړم چې د څېړنې په کمېټه کې زما د ورونو په څېر کسان هم شته، چې زه پرې وياړم، کله چې خبرې کوم نو هغوی يو مې هم هدف نه دي او نه مې يوه ته زيان هدف دی.

**قاضي:** ايا په بشپړ ډول له ځواب ورکولو ممانعت کوې؟

**ولسمشر:** يوازې په هغو کې يې نه کوم چې ولس يې غواړي.

**قاضي:** که د خپلو صلاحيتونو په اړه خبرې ونه کړې، دا عيب ګڼل کېږي.

**ولسمشر:** نورې څېړنيزې کمېټې هم شته چې قاضيانو د نومونو له ورکولو ممانعت کړی. بيا زه خو د بشپړو دستوري صلاحيتونو په اړه مسئول يم، پر هغو وياړم او ان شاء الله پرې وياړم به، د الله په مخ کې به هم پرې وياړم.

**قاضي:** له سلطان، علي حسن، فرحان الجبوري او حسين رشيد څخه مو ځواب وغوښت او ټولو دا حالت ثابت کړ، چې انفال پوځي عمليات دي. پوځي چارې به پرېږدو او مجلو ته به ولاړ شو (فلانی د انفال د عملياتو په اړه د مبارکۍ ليک را نقلوي) دغو عملياتو شپږ مياشتې دوام درلود، مونږ هم وليدل او نړی هم. کله چې سلطان راولې، وايي چې مونږ ته به نزار الخزرجي يا صدام حسين امرونه راکول.

**ولسمشر:** علي حسن المجيد يا نورو له دستورسره سم صلاحيتونه درلودل. له ځواب ورکولو څخه زما ممانعت ستا د کم ارزښته کولو يا ستا د شخصيت د کم ارزښته کولو لپاره نه دی.

**قاضي:** زه له ځواب ورکولو او ممانعت سره ستونزه نه لرم. زه له څه مودې را پدېخوا قاضي يم، کولای شم چې له نورو لارو ټولو دليلونو ته ورسېږم. که ته دروازه وتړې، نو ستونزه نه لرم. زه له قانون سره موافقت کوم. له ځواب ورکولو يا په دليل ثابتولو څخه د دروازو تړلو ته دليل نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې په قانوني نظر په فني ډول بسنه شوې؟...

**لسمشر:** ايا خبرې د بشپړې شوې؟... زه په نيواک کې د نه يم او دولت مې نيول

کوې، نو اشتباه پلانونه به ونيسې.

ښوی دی، که مې نور عمر پاتې و، نو د نيواکوال په شړلو کې به يې تېر کړم.

**اضي:** يوازې په قانوني اړخ کې وغږېږه.

**لسمشر:** زه مې پخپلو هېوادوالو او ارزښتونو وياړم نه په خپل مقام.

**اضي:** تا وويل، لکه هېوادوال، هېوادوال د درناوي وړ دی او د قانون پر

رړاندې دندې لري. زه نه غواړم چې په نورو مسابقو کې اخته شم، زه د دې

په رڼا کې تاکلې دنده لرم، څېړنه کوم او پرېکړې صادروم. زه مې پر خپلې

هغې قضا وياړم چې ته پرې ستړی شوې. ان که کسب‌ګر هم يو، زه پوښتنې

در څخه کوم، نور د خوښه خپله چې ځواب ورکوې که يې نه ورکوې.

**ولسمشر:** ته دا منې چې د دستور پر خلاف او د قوانينو په له منځه وړلو څېړنه

رکړې، د مقننه او اجرائيه قواوو په نه شتون کې او تر نيواک لاندې د څېړنيزو

کمېټو د جوړولو په منلو سره تا دستور تر پښو لاندې کړی دی.

**قاضي:** په شريعت او نورو وضعي قوانينو کې د دفعې عمليات د څېړنې په توګه

نه ترسره کېږي.

**ولسمشر:** کله چې بنسټ مضبوط نه شي، نو ولاړې څانګې را پرېوځي.

**قاضي:** د تورنو کسانو يعنې سلطان هاشم او حسين رشيد په خبرو کې راغلي

دي، چې د انفال عمليات پوځي عمليات وو او د پوځي پرېکړو په واسطه

وشول او دغه پرېکړې په هماغه وخت کې د وسله‌والو ځواکونو عمومي

قومندان صادرې کړې او د قومندانانو له لوري پلې شوې. دا چې په هماغه

وخت يعنې په ۱۹۸۸ز کال کې په محکمه کې له شته اسنادو او مستنداتو سره

سم تا هغه منصب ډک کړی و، نو دوی له پوځي اصولو سره سم يې په مستقيم

ډول ستا صادر شوي امرونه پلي کړي دي، ته څه وايې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولسمشر:** (ولسمشر غلی شو او قرآن یې پرانیست، بیا یې په ځیر سره ډېر وخت قاضي ته وکتل).

**قاضي:** ایا ولیکم چې غلی شو او ځواب یې ورنه کړ؟

**ولسمشر:** ..............................

**قاضي:** علي حسین المجید چې د ۱۹۸۷،۳،۲۹ د ۱۲۰ پرېکړې په توګه د شمالي سیمې مسئول تعیین شوی او په پرېکړه کې ورته اشاره شوې واګې ورکړل شوې او په پای کې یې ستا لاسلیک دی، د هغه په وینا کې راغلي چې له امنیتي ممنوعه سیمې څخه د کردي کلیو کډه کولو پرېکړه ستا په مستقیم امر وه. په دې اړه د ځواب څه دی؟

**ولسمشر:** ..............................

***قاضي کاتب ته:*** ولیکه "چوپ شو او ځواب یې ورنه کړ، هېڅ خبره یې نه ده کړې او خپل قانوني حقوق یې وکارول". ایا د ځواب نیت لرې که نه؟

**ولسمشر:** زما ځواب یو دی، نه بدلېږم.

**قاضي:** د ۱۹۹۲ ز کال په خبرو اترو کې چې ستاسو او کردي مشرانو تر منځ وشوې، د دغو کورنیو او کسانو په پېژندلو سره ستاسې غوښتنه پوره شوه او هغه مرکچې پلاوي ځواب ورکړ، چې د غړو له برخې یې علي حسن المجید او طارق عزیز وو... ځواب یې ورکړ، څه چې وشول، وشول او د انفال د عملیاتو پایله پای ته ورسوی. دا چې ته په دولت کې تر ټولو لوړ پوړی مسئول وې، دغې پوښتنې ته د ځواب څه دی؟

**ولسمشر:** هغه کس چې له پلاوي سره و، هغه اوس د دولت رئیس دی او امریکایانو ګمارلی دی. ما له یوه سره هم نه دي کتلي او پلاوی مې هم نه دی لیدلی.

**قاضي:** ان له ډلې سره هم؟

**ولسمشر:** ډله څوک ده؟



**قاضي:** طارق عزیز او علي حسن المجید.

**ولسمشر:** ډېره ښه ډله ده! الله پوهېږي.

**قاضي:** الله په هر څه پوهېږي، په وړو او غټو او ورسره ثبت دي.

**ولسمشر:** که الله غوښتي وي، هېڅ هم نه ضایع کېږي.

**قاضي:** (موسکا کوي) زمونږ ځواکونه قرداغ پاکوي!

**ولسمشر:** ایا پر دې خبره نه یې خبر، حیران راته معلومېږې، ایا دا خبره د نه وه اورېدلې او ته ژوندی وې؟

**قاضي:** هره خبره چې غواړې ثبته یې کړم، زه به یې ثبته کړم. نن د الکعدې های هې څه راسره نشته. (قاضي د مجلې لنډیزونه وایي).

**ولسمشر:** ایا زمونږ ولس پر ایران د بریا په خوښۍ کې له یوه سره تر بله سره نه څرخېده؟

**قاضي:** بهرنۍ پوښتنه ده... صدامه له ۱۹۳۷ ز څخه تر ۲۰۰۵ ز کاله پورې څو څله (پوښتل شوی یې او ځواب د نه دی ورکړی)؟

**ولسمشر:** کله چې مې ځواب ورکول غوښتي ورکړی مې دی، د صدام حسین تاریخ روښانه دی، له پنځم ټولګي تر اوسه یې بدلون نه دی کړی.

قاضي (هماغه پوښتنه څو ځله تکراروي).

**قاضي:** د دندې شرف د مېز پرېښودل غواړي.

**ولسمشر:** هغه پیلیز بنسټ دی، چې و مې ویل له ځواب ورکولو ممانعت کوم.

**قاضي:** په بې ګناه خلکو به ظلم وکړې.

**قاضي:** محرم څه نه دي را معلوم. له ما سره اسناد دي او ځواب به غواړم. کله چې فلانی شهادت غواړي او وایي چې صدام وپوښتی او ته ځواب نه ورکوې، څه ووایو؟

**ولسمشر:** د الله په اختیار کې.

**قاضي:** مونږ ټول د الله په اختیار کې یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قاضي:** د ایران جګړه/غبرګون په ۱۹۸۰،۹،۲۱ ایا دا خوځښت ستا په امر و؟

**ولسمشر:** ما ځواب درکړی دی.

**قاضي:** په دغو عملیاتو کې ولې کېمیاوي وسلې وکارېدلې، چې ستراتیژیکې وسلې هم ګڼل کېږي، کارولو یې ستا امر غوښت، نو تا یې د کارولو امر ولې ورکړ؟

**ولسمشر:** خوښوم چې تاریخ ته یو څه ووایم، کله چې د صدام حسین لاسونه پرې شي او د عراقي د وژلو امر نه ورکوي، نو که د صدام حسین غاړه هم پرې کېږي، دا شوني نه ده چې خپل ولس د په کېمیاوي وسلو ووژني.

**قاضي:** هغه غږیز ثبت به در واورول شي چې په هماغه وخت کې د وسله‌والو ځواکونو د رهبرۍ عمومي غونډه وه، یو افسر په هماغو عملیاتو کې د قرداغ په سیمه کې د کېمیاوي وسلو اغېزه ښیي، چې دغه سیمه د دوهم انفال په عملیاتو کې یوه سیمه وه.

**قاضي:** ستا غږ به هم پکې در وښیم چې په غونډه کې ناست وې.

**ولسمشر:** دوبله هر څه کولای شي او غږیزې ثبتونې هم او ته د قاضي په څېر څنګه داسې وایې هغه کله دلیل کېدای شي.

**ولسمشر:** (د غږوونکې الې د اورېدو پر مهال) دا خبرې رواني دي او له ایران سره جګړه هم روانه ده.

**قاضي:** ما هم د دې پر خلاف څه نه دي ویلي.

**قاضي:** په ثبت کې یو افسر وایي، کېمیاوې وسلې چې په قرداغ کې وکارول شوې، څه ګټه یې ونه کړه، ته څه نظر پرې ورکوې؟

**ولسمشر:** ستا د خبرو د تصحیح لپاره دا خبرې له ایران سره د جګړې په وخت کې وې او خبرې بیا له قرداغ څخه د ایراني دښمن د شړلو لپاره وې.

**ولسمشر:** له نزار الخزرجي د پوښتنه کړې... پوښتنه نه شئ ترې کولای، ځکه هغه تښتېدلی او دریغ یې پېژني.



**قاضي:** د وفیق په اړه څه وایې؟

**ولسمشر:** ته هغه نه ثبتوې چې زه یې درته وایم، پر هغه څه بسنه کوې او ثبتوې یې چې ته یې غواړې.

**قاضي:** د هغو سندونو، مستنداتو او خبرپاڼو په ترڅ کې چې نېټه یې ۱۹۸۸ ز کال ته اشاره کوي، دا ښکاري چې د انفال په عملیاتو کې چې پوځي عملیات وو او امرونه یې له مسئولینو صادر شوي وو، هغه تا صادر کړي وو. ته څه وایې؟

**ولسمشر:** ایا درته روا ده چې د یوه قاضي په توګه هغه څه لکه دلیل داسې وکاروې چې خبرپاڼې یې خپروي؟

**قاضي:** ته ځواب لرې؟

**قاضي:** د نینوا په صحرا کې پرته د حضر په سیمه کې او (نقرة السلمان) ته نږدې د سماوه په صحرا کې د ښځو، ماشومانو او سړیو په سلګونو جسدونه وموندل شول، ډېرې مستندات دې ته اشاره کوي او پخلی یې کوي چې هغه زموږ د کُردي ولس زامن دي، چې د انفال د عملیاتو په ترڅ کې نیول شوي... دا چې په هماغه موده کې د وسله‌والو ځواکونو عمومي قوماندان ګڼل کېدې، نو پوځي عملیات به ستا د امر پر اساس وي. نو هغه بندیان ولې ووژل شول؟

**ولسمشر:** که په پوځي عملیاتو کې وژل شوي وي، دا بېله خبره ده او که غواړې ما ته ۷۲ ساعته وخت راکړه، زه به سلګونه جسدونه درته را ټول کړم.

**قاضي:** د شمال د تنظیم د دفتر په اړه د ولې علي حسن المجید ته ټول واک ورکړی و، همداراز د شمال په سیمه کې پوځي مشرانو ته د امر کولو واک د هم ورکړی و، ایا داسې ځانګړې لاملونه وو؟ دغه واګې چې د نوموړي ته ورکړی و د ۱۹۸۷،۳،۲۹ نېټه د ٦۰ پرېکړې په توګه دي.

**ولسمشر:** په پیل کې مې ځواب درکړی دی.

**قاضي:** ولې د علي حسن المجيد ته اجازه ورکړې وه چې په دغه سيمه کې کېمياوي وسلې وکاروي؟

**ولسمشر:** داسې سند راکړه چې ثابته کړي، دا د ډېرو وګړو د غوسه کولو لاره ده. ټولې نړۍ ته چلينج ورکوم او ننګوم يې چې دا د ثابته کړي چې علي حسن المجيد يا بل چا دې د ولس پر ضد کېمياوي وسله کارولې وي.

**قاضي:** ته ځواب نه ورکوې او حقيقت په خپل ځای پرېږدې.

**ولسمشر:** هر شی په خپل وخت کې خوند کوي.

**قاضي:** ځانګړې ضربې يعنې څه؟ ايا هدف د په کېمياوي وسلو سره ويشتل دي؟

**ولسمشر:** ځانګړې ضربې يعنې خپله ضربې.

**قاضي:** ټولو تورنو کسانو ځواب ورکړ چې ځانګړې ضربې د کېمياوي وسلو کارول دي.

**ولسمشر:** ستا په خبره د تبصرې په توګه، ان توپيزې ضربې هم ترې معلومېږي.

**قاضي:** ايا دا وليکم که دې د پيل پر اساس وي؟

**ولسمشر:** نه... د پيل پر اساس د وي.

**قاضي:** له انفال وروسته د څو کسانو اکرام وشو؟

**ولسمشر:** د ټولو هغو اتلانو تکريم وشو چې په جګړه کې يې بلا په ښه توګه شنډه کړه.

**قاضي:** د څو افسرانو او رتبه لرونکو تکريم وشو؟

**ولسمشر:** که ته ولسمشر وی، نو د هغو کسانو شمېر به در معلوم وی چې تا يې تکريم کړی؟

**قاضي:** ايا دا ځواب وليکم که دې د پيل پر اساس وي؟

**ولسمشر:** د پيل پر اساس د وي.

**قاضي:** د انفال د عملياتو امرونه تا ورکړي وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولسمشر:** زما خط مشهور دی او لاسليک مې ثابت دی.

**قاضي:** نو د انفال عملياتو ته پيشوګان تللي وو؟

**ولسمشر:** تر لاسپوڅو او ګوډاګيانو، پيشوګان شرف لري.

**قاضي:** پر ځواب قانع نه يم.

**ولسمشر:** تر ځان لوړ را ښيې، په څه چې قانع شې کوي يې.

**قاضي:** هغه څوک دی؟

**ولسمشر:** متکلم.

**قاضي:** ولې د ملکي سيمو د ورانولو امرونه صادر شول، سره له دې چې دا امر په شمالي سيمو کې د قانون مخالف و؟

**ولسمشر:** ايا رمادي له قانون سره سمه ورانه شوه. تکريت په ايف ۱۶ الوتکو وران شو، دا قانون دی؟

**قاضي:** زما د پوښتنې (ځواب راکړه).

**قاضي:** ته له حق ويلو چوپ شوې.

**ولسمشر:** نه پر الله قسم کله به هم له حق ويلو چوپ نه شم.

**قاضي:** (ځواب) نه را کوې.

**ولسمشر:** ځواب نشته... د پيل پر اساس.

**قاضي:** ستا له مسئوليت سره سم او دا چې ته د وسله‌والو ځواکونو عمومي قومندان وې، نو ته په انفال کې د ټولو ملکي وګړو د وژلو لومړی مسئول يې.

**ولسمشر:** دا ښه خبره د له کومه کړه؟

**قاضي:** دا ماته مه وايه، دا زما حق دی چې ټولې پوښتنې وکړم.

**ولسمشر:** ته مې د تنګولو لپاره پوښتې.

**ولسمشر:** پر الله قسم اې رائده، اې د جوحي زويه، که د صدام په وخت کې قاضي شوی نه وی، نو اوس به قاضي نه وې، ځکه که صدام حسين ستاسې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره حالات برابر کړي نه وای، نو د بزګرانو او نورو زامنو ته به د درس فرصت نه و برابر.

**قاضي:** له موضوع د باندې ځوابونه مه را کوه.

**قاضي:** ته نن ورځ، ان هغه کس چې د ګمارلی هم وایي چې نه مې دی ګمارلی.

**ولسمشر:** ته څه وایې؟

**قاضي:** زه ځواب نه لرم.

**قاضي:** تورن کس علي حسن المجید یاده کړې ده چې د کردي کلیو په نسبت کړه کول د امرونو پر اساس و؟

**ولسمشر:** جنابه ته پوهېږې چې د امریکایي پوځ تر واراني لاندې د موصل خلک چا کډه کړي.

**قاضي:** زه داسې ځواب غواړم چې په پاڼه کې یې ولیکم.

**قاضي:** په ۱۹۸۷ ز کال کې د پوځي استخباراتو مدیریت د کېمیاوي وسلو د کارونې په اړه تا ته خبرنه درکړې وه، د دغې خبرنې په پای کې د دوو مادو (د زارین او اوری ګاز) او هغو خبرو په اړه چې پکې وې ستا موافقه تر لاسه شوې وه. د دغې خبرنې د شتون پخلی تورن کس صابر الدوري کړی، همداراز دغه پېښه حامد یوسف حمادي هم تایید کړې ده، چې له تا سره یې د سکرتر په توګه کار کاوه، نو ستا نظر څه دی؟

**ولسمشر:** ځواب نه لرم.

**قاضي:** اوس ته څه لولې؟

**ولسمشر:** څه چې امریکایي حکومت راته مهیا کړي، لکه شعر او قرآنکریم.

**قاضي:** په دې کې سیاست نشته.

**ولسمشر:** امریکایي ډیموکراسي سیاست نه خوښوي.

**قاضي:** داسې ښکاري چې تر پخوا د اوس روغتیا ښه ده!

**ولسمشر:** انشاءالله.



**قاضي:** ډاکټر د څه وخت ګوري؟

**ولسمشر:** شته

**قاضي:** جراحي عملیات چې د وشول، وضعیت څنګه و؟

**ولسمشر:** الحمد لله.

**قاضي:** زما د پوښتنو (ځواب) د را نه کړ. دوی وایي اوامر او تا ځواب را نه کړ.

**ولسمشر:** په ۱۹۶۴ ز کال کې زه د قیادت غړی وم او انقلاب مو پلان کړ. بیا درې میاشتې وروسته لکه د قیس نامق د خیانت په خبر په خیانت سره بندي شوم. د خبرنې په ترخ کې یو کمزوری شوی و او پلان یې ویلی و. کله چې قاضي له ما څخه وپوښتل، ما ورته وویل، پلان زما و. قاضي وپوښتل: او ابو هیثم (البکر)؟ ما ځواب ورکړ چې مونږ شکمن یو چې ابو هیثم د له عبدالسلام عارف سره اړیکه ولري... له هغه مې بار پورته کړ. سړی په همداسې ځایونو کې معلومېږي. په هغه وخت کې د نیول شویو کسانو شمېر له ۱۲۰۰۰ – ۱۳۰۰۰ پورې و، په داسې حال کې چې د پلي کوونکو شمېر ۷ تنه وو.

**قاضي:** مګر تا خو له یوه څخه هم تور لرې نه کړ.

**ولسمشر:** زما په یادښت کې چې تا ته مې وړاندې کړ، بشپړ وضاحت پروت دی.

**قاضي:** له ډلې څخه د هېڅ لرې نه کړل.

**ولسمشر:** هر څه په خپل وخت کې.

**قاضي:** هغه د هدیب او ورور کیسه ده.

**ولسمشر:** هڅه مه کوه چې چغلګري وکړې.

**قاضي:** ایا مخکې محاکمه شوی یې؟

**ولسمشر:** د پیل د کرښې په وړاندې خپل ځواب ته را ګرځم... چې سره ګډوډ نه شي. یوازې د ولس په چوپړ کې محاکمه شوی یم.

**قاضي:** پای ته یې رسوم... ایا لاسلیک پرې کوې او که دې د لاسلیک نه کولو حق خوندي کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولسمشر:** د لاسليک د نه کولو حق مې خوندي کوم.

**د ۱۹۹۱ ز د پېښو په اړه څېړنيزه ناسته**

د څېړنيزې ناستې رئيس: قاضي علي ربيعي

غړي: عدنان البدري او عبد الحسين حطاب

د څېړنې ځای: د ملت‌پالنې د رهبرۍ ودانۍ

**قاضي:** استاد خليله ايا وکالتونه د فعال کړي؟

**خليل دليمي:** هو، دا يې درې نسخې دي.

**ولسمشر:** ايا دا ټاکلې نه ده چې دلته له راتلو وړاندې له وکيلانو سره وګورم؟

**قاضي:** ايا د ښاغليو وکيلانو وکالتونه د لاسليک کړي دي؟

**ولسمشر:** کومه قضيه ده چې وکالتونه يې لاسليک کړم؟

**قاضي:** د ۱۹۹۱ ز کال قضيه.

**ولسمشر:** پر هر څه لاسليک ورته کوم.

**قاضي:** نوم او عنوان د را کړه.

**ولسمشر:** ايا ته قاضي يې؟

**قاضي:** هو، قاضي يم.

**ولسمشر:** ته هم پوهېږې او د عراق ولس هم چې زما نوم او عنوان څه دي.

**قاضي:** د ۲۰۰۵،۷،۲۸ د محضر په توګه.

**ولسمشر:** زه له خپل رسمي صفت څخه نه تېرېږم. د عراق ولس زه خپل رئيس او مشر ټاکلی يم.

**الدليمي:** د جزايي محاکماتو د اصولو د قانون د ۱۲۶ مادې د ب فقرې پر اساس، د محکمې د قانون د ۱۹ مادې د ۹ فقرې پر اساس، د اجراآتو د اصولو او د دليلونو د را ټولولو د ۲۷ قاعدې د ج فقرې پر اساس زما مؤکل ولسمشر صدام حسين د سکوت حق لري. له نوم، لقب، منصب او د زېږېدو له ځايه پرته، د نورو پوښتنو په ځواب ورکولو مجبورېدلی نه شي او سکوت به يې هم پر ضد نه تفسيرېږي. لامل يې دا دی چې يرغل باطل دی، نو د څه شي اساس



چې پر باطل شوي وي هغه ټول په ټوله باطل دي، چې په دې کې ستاسې محکمه او د دې پر مهال د څېړنو ټولې تشکيل شوې کمېټې شاملې دي. ټاکل شوې وه چې مونږ به له خپل مؤکل ښاغلي ولسمشر سره ناستې ته له حاضرېدو وړاندې ګورو، خو تا رد کړې وه.

**قاضي:** ما نه ده رد کړې.

**الدليمي:** امريکايانو خو مونږ ته ويل چې تا رد کړې وه.

**قاضي:** ټاکل شوې وه چې غوښتنليک به راځي.

**الدليمي:** دا غير معمولي سابقه ده، يوازې ته وايې. عادتاً ليدنې به له غوښتنليکونو پرته کېدې او دا مشروع حق دی او دا مه هېروه چې دا د څېړنې ناسته ده، محکمه نه ده.

**قاضي:** له مونږ سره د نوم او عنوان شته، ايا نوم او عنوان د راکوې؟

**ولسمشر:** نوم مې صدام حسين عبد الغفور مجيد دی. دنده مې د عراق جمهوري رياست او د مجاهدو عراقي وسله‌والو ځواکونو عمومي قومنداني ده. د زېږېدو نېټه /۱۹۳۷. د عراق په پلازمېنه بغداد کې په ولسمشرۍ ماڼۍ کې اوسم.

**قاضي:** ګوندي منصب د څه دی؟

**ولسمشر:** دا نه وايم ځکه ګوند اوس پټ دی، اخلاق مې اجازه نه راکوي چې دا ووايم، ځکه زمونږ په مبارز فعاليت اغېزه ښيندي او دا د فعاليت يو راز دی.

**قاضي:** د ۱۹۹۱،۳،۲ نېټه د رهبري غونډه شوې وه، چې د منحلې سيمه ييزې رهبرۍ څو تنه غړي او د منحلې انقلابي رهبرۍ شورا غړي يې را بللي وو، نو په هماغه غونډه کې څه وشول؟

**ولسمشر:** په يوه پاڼه هم خبر نه يم او نه مې له مدافع وکيلانو سره ليدلي، نو ځواب نشته.

**قاضي:** مهرباني وکړه له څېړنيزې کمېټې وپوښته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولسمشر:** که مونږ داسې وګڼو چې تورن کس له صدام حسین پرته بل څوک دی، ایا دا لازمي نه ده چې تورن د پر پانو خبر شي او مونږ خو بیا په عراق کې یو، قاضیان هم شته؟

**قاضي:** محکمه تورن ته را ګرځي، ایا وکیل ټاکي او که نه، خپله خوښه یې ده.

**ولسمشر:** وکیل وکیل دی، بدیل نه دی. دا شونې نه ده چې زما رول لغوه شي، که زر وکیلان هم وي. دا لازمي وه چې پر پانو خبر شم څو خپل رول ولوبوم.

**قاضي:** دا لازمي وه چې وکیل د په تفصیل سره خبر کړي.

**ولسمشر:** وکیل نه، تاسې. لازمي وه چې ما ته پر پانو د اطلاع فرصت راکړی.

**قاضي:** د ۱۹۹۱,۳,۲ نېټه د رهبرۍ د څو غړو غونډه شوې وه، چې د سیمه ییزې رهبرۍ څو تنه غړي او د انقلابي رهبرۍ شورا غړي رابلل شوي وو، په حاضرینو کې طه یاسین رمضان، محمد حمزه زبیدي، حسین کامل، عبد حمید محمود او نور وو. دغه غونډه د ۱۹۹۱ز په پېښنو پورې اړوند وه. د دغې غونډې پای څنګه شو، ایا په هماغه وخت کې د پوځي قطعاتو پر مشرۍ حاضرین وګمارل شول او ایا داسې پلانونه، تګلاره او اسلوب وضع شو چې د یاد لوري تکیه پرې کېده؟

**ولسمشر:** زه وایم، سره له دې چې زما دغه وینا پر حکومت او پر هغه چا د اعتراف په مانا نه ده چې دغه کمېټې یې جوړې کړې دي، نو ځکه سکوت کوم.

**قاضي:** ته ځواب نه ورته لرې؟

**ولسمشر:** ما ځواب درکړ.

**قاضي:** له سکوت پرته بل ځواب درسره نشته؟

**ولسمشر:** ایا سکوت حق نه دی؟

**قاضي:** ځواب یې ورکړ: چې سکوت غوره کوم.

**ولسمشر:** ما د سکوت نه دي ویلي.



**قاضي:** په سوېلي سیمه کې د وسله‌والو ځواکونو پرمختللی مرکز و او دوی د دغه مرکز غړي وو. دغه مرکز ولې جوړ شو او په بصره کې د دغه پرمختللي مرکز واګې څه وې؟

**ولسمشر:** که یې وګڼو چې ته د قیادت یو غړی وې او صدام د رئیس و، ایا دا هیله به د درلوده چې د قیادت غړي فلانی او فلانی دي؟ که د تکریم لپاره وای، نو ویلي به مو وای او سړو ته مو انصاف ورکړی وای او د سړو نومونه به مو ویلي وای. نو غلي توب غوره کوم.

**قاضي:** ایا دا ولیکم؟

**ولسمشر:** دا پوښتنه د وضاحت لپاره وه او دا چې تا هغه څه ونه لیکل چې ما مخکې غوښتل، نو زه سکوت غوره کوم.

**ولسمشر:** زما دا وضاحت ولیکه، عراق د امریکا له لوري محکوم دی او پر ما مه را غوسه کېږه، ځکه زه تر تا لوړ یم.

**قاضي:** ایا غواړې چې وضاحت د ولیکم که نه؟

**ولسمشر:** چوپتیا غوره کوم.

**قاضي:** د کربلا سیمې ته نږدې د پوځي قطعاتو په مشرۍ حسین کامل ګمارل شوی و، دا چې دی د کربلا له ولایت سره نږدې و، نو ښار به یې بمباراوه او د امام حسین او عباس علیهم السلام زیارتونه به یې په نښه کول، نو ایا تا داسې امر ورته کړی و او ایا په کربلا کې د حسین کامل په کړنو خبر وې او بیا د په هماغه وخت کې کوم لازمي اجراآت ونیول، په ځانګړي ډول هغه په کربلا کې امام حسین علیه السلام ته په خطاب کې یوه مشهوره مقوله درلوده: ته هم حسین یې او زه هم حسین یم، و به ګورو چې څوک بریالي کېږي.

**ولسمشر:** چوپتیا غوره کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**قاضي**: د انسان د حقوقو په شان کې د ملګرو متلونو د ځانګړي استازي په اړه د طارق عزیز په بیان خبر یې، د هغه بیان په اړه د کوم اجراآت کړي او په هماغه وخت کې د څه تصمیم ونیو؟

**ولسمشر**: سکوت غوره کوم.

**قاضي**: د ۱۹۹۱ ز کال د پېښو له پای ته رسېدو وروسته، د رهبرۍ د غړو، د پوځي مشرانو او د ګوندي ارګانونو تکریم وشو، په ځانګړي ډول په ۱۹۹۲،۵،۲۴ نېټه د ۲۳۹ ګڼې د جمهوري فرمان په وسیله، نو پر څه او د څه لپاره دغه تکریم وشو؟

**ولسمشر**: د ډېرو وګړو تکریم وشو. پر هر سند چې زما لاسلیک و او صحت یې ثابت شو، نو زه یې مسئولیت منم.

مدعي العموم(څارنوال): له سلګونو څېرکو او د وړتیا لرونکو شاهدانو له جملې څخه یو عیني شاهد نیول شوی او رضوانیې ته وړل شوی دی. هلته په یوه ګنبد کې ایسار شوی، چې د دغو ګنبدو شمېر ۱۲ ته رسېده او په هر ګنبد کې له ۲۰۰۰ زیات بندیان وو او ټول اعدام شول. پوښتنه دلته د تورن کس طارق عزیز په اړه ده، چې د عمومي امنیت له مدیر سره په ترتیب را ولاړ شوی او د ۱۹۹۱ ز کال د پېښو د زندانیانو په لنډیز یې لاس پورې کړی او له ۱۰۵۰۰۰ څخه یې ۱۵۰۰۰ جوړ کړي او بیا تاسې دغه شمېر ۱۱۰۰۰ جوړ کړی او پر دغو ټولو د اعدام د پرېکړې د پلي کولو امر شوی... نو ستا ځواب څه دی؟

**ولسمشر**: څارنوال چې د څه یادونه وکړه، د هغه باید د رضوانیې له اوسېدونکو څخه د درې ګوتو د شمېر پر مهال کې څېړنه شوې وای، رضوانیه لویه سیمه ده او له اوسېدونکو ډکه ده او د پوښتنې د نورو برخو په اړه ځواب نه لرم.



**څارنوال**: د کردستان یو څېرک، اخلاقي او ربښتیني شاهد یادونه کوي چې په ۱۹۹۱ کې پوځي ځواکونه له ښاره داسې راتاو شول لکه بنګړي چې په مړوند باندې راتاو وي، بیا یې داسې وهلې کړ لکه لاوا.

**ولسمشر**: ای شخصیتونو! تاسې د څارنوال افاده نه، خطبه واورېده، څو څېړنیزه کمېټه حقیقت له هوا او هوس څخه بیان کړي. شمالي سیمه د هوا د درجې له اړخه هم مشهوره ده، دا هم ټولو ته معلومه ده چې د ۱۹۹۱ د ۴ وروستۍ اونۍ ۲۶-۲۷ پورې هوا داسې نه وي لکه څارنوال چې وویل. اما د اوسېدونکو د ښېښتې په اړه باید څېړنه وشي، چې ایا د وسله‌والو ځواکونو تر راتګ مخکې شوې او که وروسته. بیا نو شونې ده چې څېړنیزه کمېټه څېړنه وکړي، هلته برازې یو قبر دی چې څلور سوه ۴۰۰ کسان پکې خښ شوي دي، دا هغه کسان دي چې له استاد عزت ابراهیم سره ودرېدل، تاسې کولای شی چې د دې په اړه د فرقو له مشرانو، استاد جلال طالباني او ښاغلي طه محي الدین معروف څخه څېړنه وکړی. د نورو اړخونو په اړه سکوت غوره کوم.

**څارنوال**: له منځني فرات څخه یو بل عیني شاهد چې لوړه پوځي رتبه لري وایي چې طالع الدوري، فرحان الدلیمي او محمد جواد عنیفص د ده په مخ کې وژنې کولې. دغه شاهد او د تره زامن یې د پېښو په ترخ کې ونیول شول. دغه شاهد شاهدي ورکوي چې راکټونه او توپونه یې لیدلي دي چې پر کربلا یې ور توغول، ډله ییز قبرونه یې هم لیدلي دي چې ۴۰۰ مړي ترې را ایستل شوي دي، تورن په دې اړه څه نظر لري؟

**ولسمشر**: د څارنوالانو خوله ولې په هغو کسانو نه ښوري چې په بغداد او د عراق په نورو سیمو کې د مذهبي فتنې په پایله کې اوس هره ورځ لسګونه او سلګونه کسان وژني؟ عراقي ته که اوس یا له اوس مخکې ناحقه او بې موجبه زیان رسېده، صدام حسین دغه کار بې غیرتي او جریمه ګڼي.

**څارنوال**: ایا تورن د عراق د ننه و او د ولسمشر په توګه یې خپلې واګې لوبولې؟

**ولسمشر**: د دغې پوښتنې ځواب نه ورکوم، ځکه چې د ځواب وړ نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# درویشتم څپرکی

## د ولسمشر د شخصیت په اړه انساني اړخونه

مونږ ته دا مهمه ده چې کوم عراقی له لاسه ورنه کړو، کله مې چې بندیان ملګري په محکمه کې ولیدل، ورته و مې ویل، هر عراقی چې په نظر یا کړنه کې تېروتنې وي او غواړي چې په خپل دریغ کې بیا کتنه وکړي، را و د ګرځي او توبه د وباسي، نو د توبې دروازه د الله په اجازه د بریا له اعلان څخه مخکې تر وروستي ساعته پورې پرانیستې ده. خو له ایمان او ملي مقام لرونکو کسانو سره نه برابرېږي، چې پر خپل ایمان ثابت پاتې شول، او ټول د دریځ او ورکړې پر اساس دي.

*(صدام حسین په زندان کې)*

ولسمشر د ده او د ولس د زامنو تر منځ د اړیکې په اړه راته وویل:

"د پسونو، اوښانو او نورو څارویو په ځانګړې ډول د اهلي حیواناتو شپني مې خوښېدله، کله چې مې له صلاح الدین ولایت څخه لیدنه کوله، له فرصت څخه مې ګټه پورته کړه او شخصي پسونه مې ولیدل. پسرلی و او ځمکه شین ډنډ وه. خو کله چې زه ور ورسېدم، شپون مې ولید چې پسونه یې داسې ځای څرول چې هلته واښه نه وو یا لږ وو. لکړه به مې په لاس کې وه او پر ځمکه به مې پرې ډډه وهله، پوځکی به مې هم پرې راښکلې. له شپانه څخه مې وپوښتل چې ولې په ګاونډ کې په ښه ځای کې پسونه نه څروې. ورو پسونو ډېره اغېزه را باندې وکړه. شپون مې په ولو کې په لکړه باندې داسې وواهه چې دی یې نه تنګاوه او متوجه مې کړ چې په راتلونکي کې داسې څه ونه کړي. بغداد ته را ستون شوم... خو په هماغه شپه مې خوب ونه کړ، ویل مې هسې نه چې هغه شپون را څخه په تنګ شوی وي. په بله ورځ مې سکرتر ته وویل چې هماغه شپون راته راولي. کله چې راغی، ډېر په وېره کې و، فکر یې کاوه چې جزا به ورکړم. هرکلی مې وکړ، غاړه مې ورکړه او ښښنه مې ترې وغوښته.



بیا مې اکرامیه ورکړه، په داسې حالت کې رانه لاړ چې ده رښتیا نه باله. نو هلته زما فکر او ضمیر ارام شو.

"یوه ورځ مې په بغداد کې چکر واهه، ځینې سوالګر مې ولیدل، دغه ښکارنده مې بده ګڼله، د یتیمانو او بېوزلانو د رعایت په رول مې ټینګار کاوه، بوډاګانو ته په تنخوا ورکولو مې ټینګار کاوه او پر دې سربېره به مې هغو خلکو ته په تنخوا ورکولو ټینګار کاوه چې د بېوزلانو سرپرستي یې کوله. له سکرتر څخه مې څو ځله وغوښتل چې په بغداد کې ټول سوالګر را ټول کړي، ډوډۍ مې ورسره وخوړه او عزت مې یې وکړ، هیله مې ورته څرګنده کړه چې نور دغه ناوړه کار ونه کړي.

"د ولس زامنو او ان هغو عربو ورونو ته چې زمونږ د ولس په منځ کې اوسېدل، هغوی ته به مې د دفتر دروازه پرانیستې وه. له هېوادوالو سره به مې تر ناوخته ناستې درلودې، ان کله نا کله به تر سپېدو او ان تر سهاره ناست وو، په بله ورځ به مې د عراقیانو په منځ کې کار کاوه، د دوی حالات او د ژوند چارې به مې څېړلې. زه به په هغه ورځ ډېر ارام وم چې له ډېرو وګړو سره به مې ولیدل او ستونزې به مې یې ور حل کړې. په هماغې شپه به چې پرېوتم، ضمیر به مې ارام و او احساس به مې کاوه چې هېوادوالو ته مې یو څه خدمت کړی دی".

ولسمشر له خپل پیدایښت راپدېخوا د خپلې کورنۍ د حالاتو په اړه خبرې کوي:

"په ۱۹۳۷ ز کال کې چې زه وزېږېدم، پلار مې پنځه میاشتې زما له زېږېدو وړاندې وفات شوی و. الله ج د پرې ورحمېږي، د بدن کومه برخه یې لګېدلې او ماته شوې وه، وروسته د هډوکي د ماتېدو له امله پسې مړ شوی و. دا کار مې د پلار د مېړانې له کبله شوی و، ځکه ده غل لیدلی و چې د یوې عراقۍ مېرمنې مالونه یې لوټل، هغه مېرمنه د خپلوانو له ډلې څخه وه. پلار مې هغه کار نه و زغملی، نو د ختو له لوړ دېوال څخه یې ورټوپ کړي وو، څو هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېرمنه و ژغوري. هغه يې کړې وه چې په غله پسې شي، خو بيا هغه څه ورته پېښ شول، الله ج د زما پر مور ورحمېږي، هغې راته وويل چې ډېره موده وينې ترې تللې. تې به يې ورځ په ورځ غځېده، حالت يې د کمزورۍ په لوري روان و او بدن يې ورو ورو کمزوري کېده.

"زما له پيدايښت وروسته، زما مور واده وکړ. دا د ټولو عراقيانو، په ځانګړي ډول د کليوالو وګړو عادت دی، چې له کونډې سره واده کوي خو د ژوند له سختيو سره مخ نه شي. خو زما د مور دغه واده خوښ نه و، ځکه الحاج ابراهيم الحسن به د اطرافي طبيعت، غريبي، شاته پاتې کېدو او نورو چارو له امله سختي ورسره کوله... ان کله خو به يې له صدام حسين سره هم سختي کوله، په هماغه وخت کې زما عمر کم هم و. خو زما او د ده د بلې مېرمنې زوی «ادهام» تر منځ به يې توپير نه کاوه.

"سهار وختي به را پاڅېدم او له کور او کلي لرې به تلم، خس او خشاک به مې را ټولول، که څه هم د ژمي او اوړي هواوې سختې وې، خو دا مې ورځنۍ دنده وه. څه غواوې او مېږې چې مو درلودې له مورسره به مې د هغو په پوولو کې هم مرسته کوله. دا چې الحاج ابراهيم الحسن له ما سره مينه کوله او زما او د خپلو اولادونو لکه سبعاوي، برزان او وطبان ترمنځ يې په چلند کې توپير نه کاوه، نو ما هم د ده خبره منله، خو له ادهام زوی سره يې بيا سختي کوله، ځکه هغه هوښيار نه و.

پر دې سربېره به مې په کروندو کې کرنه، اوبه لګول او پسونه او رمې به مې هم پوولې... دا چې له زده کړې سره مې شوق و، نو زه مې د ماما خيرالله طلفاح کور ته لاړم.

"په ماشومتوب او ځوانۍ کې مې سخت ژوند درلود. کله چې د واک په ګدۍ کې وم، نو د خپل ولس پر خدمت حريص وم. ما ويل چې د ولس او الله خوښي تر لاسه کړم. د ولس د زامنو ترمنځ مي توپير نه کاوه، له يوه سره مې



هم کېنه نه کوله، ان هغه کس مې هم بد نه ايسېده چې ناوړه کار به يې کاوه، بلکې د ده کار به مې بد ايسېده. کله چې به له خطا څخه نېکې لارې ته راغی، ډېر به پرې خوښېدم".

کله چې ولسمشر د ۲۰۰۳ له بغداده د وتلو پرېکړه وکړه، له ملاترو ځواکونو يې وغوښتل چې خپلو کورنيو ته لاړ شي او له ده سره د پاتې کېدو لپاره يې منه ترې وکړه او يوازې يو څو تنه هغه کسان ورسره پاتې شول، چې ده باور پرې درلود. له هغو څخه به يې د هغوی د احوال او ټولنيز وضعيت پوښتنه کوله، يو په بل پسې به يې پوښتل چې واده يې کړی، د زامنو او لوڼو شمېر يې څومره دی او ايا د کورنۍ لپاره يې سرپرست شته... او داسې ډېرې پوښتنې به يې کولې چې انساني اړخ يې درلود. همداراز ولسمشر يو ټولګی هغه ماشوم يتيمان هم پالل چې له ده سره يې اړولي وو. هغوی چې غټ شول، نو ولسمشر به يې "بابا" باله. د بغداد له نيواک وروسته چې ولسمشر له قصي او درې تنه ملاتړ کوونکو سره ناسته درلوده، نو قصي هغه يوه ته وکتل، چې ټينګه اړيکه يې ورسره درلوده او ورته وې ويل: فلانيه ته به زما له کورنۍ سره پاتې شې. هغه ځوان وويل: زه يوازې له تره او پلار ولسمشر سره پاتې شوی يم او له ده سره پاتې کېږم، بل ځای نه پاتې کېږم.

**مدافع وکيلانو سره د ولسمشر اړيکه**

ولسمشر به په ډېرې خوښۍ زمونږ هرکلی کاوه او دا به يې ډېر تکرارول: "تاسې اتلان ياست، په محکمه او بهر کې مو کمی نه دی کړی، څه چې ستاسې له وسه کېدل هغه مو وکړل. زه يوازې ستاسې خبرې نه اورم، بلکې تاسې ته درناوی لرم، ستاسې نظر ته درناوی لرم، تر هر چا مخکې ستاسې درناوی کوم".

له ده سره د سلام لپاره به مې ملګري ور مخکې کول، ځکه ولسمشر چې لا په زندان کې هم و، د مسئوليت پر اساس به يې منصب او قدم ته پاملرنه کوله. زما ملګرو ته به يې ويل چې د دوی د ملګري "ابو علاء" يعني د خليل الدليمي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له کېناستو وروسته د دوی کېني، ځکه چې زه د کمېټې رئیس وم او د رضاکارۍ له حیثه د دوی څخه مخکې وم.

د زندان اوږدو کلونو د ولسمشر په هغه سلوک او طبیعت اغېزه نه وه ښیندلې چې پرې را لوی شوی و، دا چې مونږ به په هر څه کې پر ده حساب کاوه، نو ده به هم زمونږ سلوک او ظاهري حالت ته پاملرنه کوله. ان په ناسته ولاړه، خبرو او خوځښتونو کې به یې زمونږ ظاهري حالت ته کتل. په هرڅه کې یې نظم خوښاوه. کله چې به مو په یوه دسترخوان او همداراز په ټولو ناستو کې خواړه ورسره خوړل، نو زمونږ هر یوه ته اینبي خواړه به یې تر سترګو لاندې کول.

ولسمشر به له مونږ څخه غوښتل چې خپلو کورنیو ته یې سلامونه ورسوو او همداراز هغو خپلوانو او ولسونو ته چې د وکیلانو نسبت به ورته کېده. په هره لیدنه کې به یې له ما غوښتل چې د مور سر مې ښکل کړم او زما اولادونو، خپلوانو، قبیلې، د قبیلې مشر او نورو مشرانو ته یې سلامونه یوسم. کله چې به زندان ساتونکو د وکیلانو په ورتګ خبراوه، نو ډېر به خوشالېده. همداراز په ځینو نمانځنو او مناسبتونو کې. د ده د پیدایښت د ورځې پهنلمانځنه کې به یې هغه یادونه کوله چې عراقیانو به هغه ورځ څنګه نمانځله او د درد احساس یې کاوه. ویل به یې:

"له هېچا مې نه دي غوښتي چې په صدام حسین پورې ځانګړي کوم مراسم یا نمانځنې دې ترسره کړي، که هغه زما د پیدایښت ورځ وه او که نورې. ولس مې پرېښی و، څه چې یې خوښه وه، هغه یې کول، ان هغه یادګاري مجسمه چې جوړه شوه، هغه زما نظر نه و او نه شخصاً له ما څخه چا غوښتې، له هغو کارونو پرته چې زمونږ میراث ګڼل کېږي، لکه د ورک پوځي یادګاري مجسمه یا د شهید یادګاري مجسمه یا د ځینو تاریخي سمبولونو مجسمه یا ځینې رسمي مجسمې او یا هغه چې عراق د عراق تاریخ او تمدن به یې ښکلی



کاوه، له همدې پرته مو ولس او تنظیمونو ته د بیان ازادي ورکړې وه. په دې کې مونږ هم رول درلود". په اخترونو او هېوادنیو مناسبتونو کې به را څخه غوښتل کېدل چې ولسمشر وګورم. نو ما به هم لیده او د دوستانو ډالۍ به مې هم له ځان سره ور وړلې.

مونږ وکیلان، له نړۍ سره د ده یوازینۍ اړیکه وو. د کمېټې د رئیس نائب وکیل خمیس العبیدي له شهادته وروسته چې پر ولسمشر یې ډېره اغېزه هم کړې وه، ولسمشر را څخه وغوښتل چې نور یې لیدنه ودروم او نور ملګري دې هم دغه کار وکړي، دی پر مونږ وېرېده. راته وې ویل: "ابو علاء" بچیه، له دغو احمقانو، رذیلانو څخه پر تا وېرېږم، له ما څخه د خپل ماشومان ډېره اړتیا درته لري. له ما سره رب شته دی، هغه به مې هسې نه پرېږدي". پسې زیاتوي: "ضمیر مې ستاسې د ملګري د شهادت په اړه خبر راکوي او زه نه غواړم چې په تاسې کې د کوم یو زما په لاره کې زیانمن شي".

دغه لوی سړی همداسې و. کله چې به مو د عراقیانو او عربو احساسات ور وړل، نو ډېر به پرې اغېزمنېده.

## د محکمو پخوانۍ پرېکړې

د اعدام د هغو پرېکړو په اړه مې له ولسمشر څخه وپوښتل چې د ملي دولت په دوره کې شوې وې او د ده دریځ مې وپوښته، ده وویل:

"د اعدام جزاء عراقي دستور او قوانینو ایښې وه. دا یوه رواج شوې جزاء ده، بوازې په عراق کې نه، بلکې د نړۍ په لویو دولتونو کې هم شته، لکه په متحده‌ایالاتو کې. دا جزاء مې د لویو جرمونو لپاره موندلې ده، لکه لوی خیانت، یا چې مجرم داسې مرحلې ته رسېدلی وي، چې اصلاح یې ناشونې وي یا یې وژنې کړې وي او یا یې د چا عزت تر پښو لاندې کړی وي.

"څوک چې له هېواد سره خیانت کوي، نو مونږ باید د ښېګڼې هیله ترې ونه لرو. که یې پرېږدو، ځکه بیا نور خیانت هم کوي. عراقیان شاهد دي، مونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرو داسې کسانو ته عفوه وکړه چې د دغې جزاء مستحق وو، ځینې اصلاح شول او په دولت کې یې لوی منصبونه پر غاړه واخیستل، خو ځینو له فرصت څخه گټه پورته نه کړه، ځکه د دوی ضمیرونه مړه شوي وو. سره له دې، کېدای شي داسې تېروتنې شوې وي چې ځینې کسان د دغې جزاء مستحق نه وو خو ورکړل شوې وي، خو تېروتنه زمونږ نه وه، تېروتنه د څېړنې وه. پر دې سربېره، کله چې به داسې حالت رامنځته کېده، مونږ به ډېر درېدو او د ځینو اهدافو لپاره به مو شهید گاڼه څو د ده د زامنو، خپلوانو او قبیلې په معنویاتو اغېزه ونه کړي. ان په ځینو داسې حالاتو کې چې کس به د دې جزاء مستحق و او محکمه به هم رښتینې وه، نو چې جزاء به ورکړل شوه، مونږ به د دې لپاره شهید گاڼه چې پر اولادونو یې له معنوي یا مادي اړخه اغېزه ونه کړي، مونږ نه غوښتل چې اولادونو ته یې زیان ورسېږي. سره له دې چې کومو کسانو ته چې مونږ شهیدان ویل، ټول هم پاک نه وو.

"کله به مې پر دغې جزاء موافقه کوله، له سکرتر څخه به مې غوښتل چې یوازې په هغو حالاتو کې د ماته راوړي چې نفسي او بدني حالات مې ښه وي. په هر حالت کې به مې په ډېر دقت لیده، دا چې ولس دستوري امانت مونږ ته را په غاړه کړی و او د ملت د گټو له امله مې لوړه کړې وه، نو په دې اړه پر ما لازمه وه چې لاسلیک پرې وکړم، ډېری وخت به په شک کې وم، سره له دې چې شکاکي مې نه خوښېږي. کله چې به مې پر پرېکړه لاسلیک وکړ، نو څه موده به نا ارامه وم، ځکه یو عراقی مو له لاسه ورکاوه. له ولس سره مو همداسې چلند کاوه. د عامې او ځانگړې عفوې په تړاو مو لسگونه پرېکړې صادرې کړې، څو ځله مو زندان سپیناوه، ډېر فرصتونه مو ورکړل. د عراق ولس د دې مستحق دی چې انسان د عمر ترې قربان کړي، ان د بغداد له نیول کېدو وروسته مې ډېر واورېدل چې د عفوې په خاطر ملامتېدم. له دې وړاندې، زمونږ د رهبرۍ ځینې ورونه د ځینو مجرمینو له عفوې سره ناخوښي وو".

ولسمشر دغه کیسه کوي، چې د انقلاب له بریا وروسته ورته پېښه شوې ده، دی وایي:

"په ۱۹۵۹ز کال کې، د سوسیالست گوند او د عبدالکریم قاسم ترمنځ ائتلاف وشو. په هماغه وخت کې په عراق کې وژنځایونه زیات شول، زمونږ گوند په ټوله اتلولۍ مخنیوی ترې وکړ، زه یې پوځي محکمې ته بوتلم، جزاء اعدام وه. نوي تنه شاهدان یې را باندې حاضر کړل، ټولو شاهدانو داسې په دروغو شاهدي ویله لکه په دغې محکمې کې چې یې وایي. بیا زمونږ انقلاب بریالی شو. هر څه مې په وس او واک کې وو چې ورسره کړي مې وای، خو پر الله قسم که مې ورسره کړي وي. یو افسر چې نوم یې عبدالهادي او د موصل دی، د نیولو په وخت کې یې لاس را اوږد کړ او ویې وهلم... خو د انقلاب له بریا وروسته ونیول شو، په یاد مې نه دي چې څلور میاشتې و او که څلوېښت ورځې. د دې لپاره چې څوک یې په تنگ نه کړي ساتنه یې کېده. په هماغه موده کې یې کورنۍ زما لیدو ته راغله، نو داسې مې وپالله لکه خپله کورنۍ. بیا مې عبدالهادي له زندانه را بهر کړ او د کار او ټولنیزو چارو په وزارت کې مې د عمومي مدیر مرستیال مقرر کړ. نو الحمد لله، مونږ له چا سره کینه نه ده کړې او نه مو له چا غچ اخیستی...".

## د ولسمشر خواړه

ولسمشر به هره ورځ د دوه یا څلورو خرماوو په خوړلو، خواړه پیلول. ځکه خرما د معدې د ځینو گډوډویو د تداوۍ له امله گټوره ده. د زنداني کېدو په لومړیو کې امریکایانو کافي خواړه نه ورکول او کوم خواړه چې به یې ورکول هغه به هم خراب وو. د ولسمشر د خوړو په اړه مې له امریکایانو سره خبرې وکړې. له هغه وروسته یې داسې خواړه ور وړل چې امریکایي ساتونکو به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویل چې دا د امریکایي افسرانو خواږه دي، که څه هم ده څو ځله وویل "زه په دې کې ستونزه نه لرم چې خواږه راوړي او که نه یې راوړي، څه ډول وي یا څومره وي، زه په خوراک کې وږی نه یم. دغه چارې دوهمي ګڼم".

**امنیتي پاملرنه او پاکوالی**

ولسمشر به د خپل بدن او جامو پاکوالي ته ډېره پاملرنه کوله. او ویل به یې چې د مؤمن او مسلمان دنده دا ده چې پاکوالي ته لومړیتوب ورکړي. ان کله چې برېتانوي ضن مجلې د ده انځور هم خپور کړ، چې ده جامې پاکولې، ده وویل: "ایا دوی مونږ په دې کموي او عیب یې را پورې ګڼي چې د ځان او اړتیاوو لکه جامو او نورو په پاکولو کې د خپل حنیف دین او عربي رواجونو پیروي وکړو. په دې کې نو څه عیب دی؟". او زیاتوي: "پاکوالی زمونږ د ایمان له ختې څخه دی، زمونږ حنیف دین هم په پاکوالي امر راته کړی او بله دا چې روغتیا او پاکوالي ته د انسان پاملرنه له هغه بابه ده چې ویل کېږي، تر تداوۍ وقایه بهتره ده". که څه هم امریکایانو څوک ورته ځانګړی کړی و، خو ده بیا هم ځان پخپله پاکاوه، جامې به یې پخپله مینځلې او په داسې ځای کې به یې اوارولې چې وچې شي. ولسمشر وایي: لکه څرنګه چې معلومه ده، زه ډاډه نه وم چې له ماسره ګمارل شوي امریکایي ساتونکي د له هغو ساري او وبايي ناروغیو پاک وي، چې د جامو په واسطه سرایت کوي، نو ځان مې له همدې ساته، ځکه ساتونکي ځوانان وو او زمونږ د ټولنو نه وو، د دوی رواجونو او تقلیدونو هم له مونږ سره توپیر درلود، نو دوی د خطرناکو ناروغیو سرایت او پرې اخته کېدو ته نږدې وو. دوی به مې منع کول چې زما له جامو سره د جامې نه څوړندوي".

خو د ډرامیزې محاکمې له ناستو وړاندې ولسمشر مجبور شو، خپله هغه چپنه یې د امریکایي پوځ دوبي ته ور ولېږله، چې په محکمه کې د په تن کولو لپاره یې ټاکلې وه.



دولسمشر کورنۍ، د ولسمشر یوې سکه خور او ځینو خپلوانو به ورته جامې ورلیږلې. خو زمونږ له محدودو لارښوونو او د ولسمشر د امنیت لپاره د احتیاطونو پر اساس به مې د ملګرو او خپلوانو ډالۍ ور وړلې، خو ده به نه په تن کولې او بېرته به یې مونږ ته راکولې. د دغو ډالیو خاوندان به مې ور ښودل، نو ده به منته کوله او تل به یې را څخه غوښتل چې پاملرنه وکړم او د ولسمشر له کورنۍ څخه راتلونکو جامو او نورو جامو ته مې پام وي. ویل به یې: الحمد لله، ځکه ښاغلی خلیل! ته هم په ما هومره پام کوې، لکه زه چې یې پر ځان کوم.

کله نا کله به یې هغه جامې ورسره ساتلې او په تن کولې چې له کورنۍ څخه ورته رالیږل شوې وې او دوهم ځل به یې وېشلې. د امریکایانو په لاس به یې ځینې هغه ډالۍ او جامې نورو بندیانو ملګرو ته لیږلې چې ده ته به رالیږل شوې وې، همداراز وکیلانو ملګرو ته به یې ځینې دغه ډالۍ ورکولې لکه سګرېټ او نور. ما ته یې هم ځینې جامې، لاسي ساعت، د شخصي جامو بکس، تسبې او نور راکړل.

ځینې خواږه او شیرینۍ چې د ده د خپلوانو یا د وکیلانو له لوري به ورته رالیږل کېدلې، دی به مې پرې خبراوه، خو ورکولې به مې نه.

په مقابل کې امریکایانو هم په زندان کې دې ته پام کاوه او له ما څخه به یې پوښتنه وکړه چې دا شیان له کومه ورته راوړم، ولسمشر ته د ما پر پاملرنې او اخلاص هغوی هم باوري وو.

یوه ورځ د ولسمشر لور اغلې رغد د ولسمشر د کلیزې په موخه د طبیعي ګلانو یوه ګېډۍ ور ولېږله (۲۰۰۶،۴،۲۸) کله چې مې ور وړله داسې یې ونیوله چې امریکایان ورته حیران شول، ولسمشر به بیا بیا بویول او له ما څخه به یې منته کوله. امریکایانو د ګلانو له ننه ایستلو مخنیوی کاوه، خو ما ورته وویل چې دا یې د لور دي. د ګېډۍ له ځای څخه یې پوښتنه وکړه، دوی شکمن وو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لا ناپاک ځای څخه نه وي. په ډېرې سختۍ مې قانع کړل، هغه ګېډۍ مې په خپله بوی کړه او ورته ومې ويل چې که غواړې زه يې د هرې برخې خوړلو ته چمتو يم. له هماغه وروسته يې اجازه راکړه چې ولسمشر ته يې ور وړم، خو د ولسمشر د دوهمې لور رنا ډالۍ چې د هبلو داني وې هغه يې راسره پرې نښودې. وې ويل: مونږ پر ده وېرېږو، مونږ نه غواړو چې له ده سره داسې وشي لکه د يوګسلاويا له ولسمشر ميلوسوويچ سره چې وشول.

امريکايانو له ما پرته بل چا ته د داسې کار د کولو اجازه نه ورکوله، ما چې به هم کاوه، دوی به مې ډاډه کول چې دا له اصلي ځايه يعنې د ولسمشر له کورنۍ څخه دي. په هغو اونيو کې چې ووژل شو، امريکايانو ته مې برېښناليک ور ولېږه، اتفاق مو سره وکړ چې زما استازيتوب به يو بل وکيل ملګرى کوي، نو هغه استازى شو. ان د ليدنو د موضوع په اړه، تصادفاً يوه ملګري په کروپر پوځي اډه کې له خپل بندي پلار سره ليدنه کوله، مونږ به کله نا کله د ولسمشر ليدنه هم پرې کوله، چې دغه يوازې د ملګري خميس العبيدي له شهادته وروسته پېښ شول، نو امريکايي اړخ ته چې به ما خپله شخصي موافقه د خپل برېښناليک له لارې ونه لېږله اجازه به يې نه ورکوله چې له ولسمشر سره وګوري، د ملګري د ليدنې وخت به مې ورته ټاکه څو دوی ملګرى د ليدنې ځانګړي ځای ته ورسوي.

## ولسمشر د محکمې په تالار کې

سره له دې چې د محکمې د ننه له ولسمشر صدام حسين سره ډېر ناوړه چلند وشو، خو ده به له ټولو سره طبيعي چلند کاوه. په معروفه ډاډه موسکا به يې چلند ورسره کاوه. په لويه بڼه يو متوازن شخصيت و. کله چې به يې په لعنتي قفس کې له دروازې د ناستې تر ځايه څو متره فاصله وهله، امريکايانو به پرېښود او دوی به د دراوزې شاته درېدل. حضور يې له هيبته ډک او قوي و. د نيواک د حکومت غړو به له پورته تالار څخه تقريباً له څلورو مترو لرې



ورته کتل، نو دوی به ډېر په کينه، کراهيت او بغض ورته کتل، زړونه به يې له غوسې ډکېدل چې ولسمشر به يوازې په جګ سر تګ کاوه، يوازې خپل خالق ته به يې سر ټيټاوه. احمد الجلبي به پر خپل مخ لاسونه ايښي وو او د ولسمشر په مخ کې به يې سترګې خښې کړې وې، په ژړه موسکا به يې ورته کتل. موفق الربيعي چې به امريکايانو او جورجيانو په لاسونو او آلو تلاشي کاوه، نو موسکى به و، همداراز د نيواک د حکومت ټول قطبونه به تلاشي کېدل، يوازې زندانيان به نه تلاشي کېدل.

ولسمشر صدام حسين به قاضيانو ته کتل او په بشپړ انسانيت به يې چلند ورسره کاوه او له څارنوالانو سره هم همداسې. د شخصي حق ځينو څارنوالانو به د ارام کولو په موده کې سلامونه ورکول. ولسمشر چې به قاضيان ليدل چې دی بې ځوراوه او د خبرو فرصت يې نه ورکاوه، نو ډېر به دردېده.

### د اسلامي شعائرو تمرينول

ولسمشر د زنداني کېدو په لومړيو ورځو کې قرآنکريم نه درلود. بيا يې هغه د معلومې کيسې لرونکی قرآنکريم موندلی و. همداراز ما هم يو قرآنکريم ور وړ. ديني کتابونه او ډېرې دعاګانې يې درلودې او ډېر وخت به يې لوستل. ان يوه ورځ يې راته وويل: د الله ستاينه کوم چې دومره وخت يې راکړ چې دين ته مې وزګار شوم... په مياشت کې به يې څو ځله قرآنکريم ختم کاوه او شعرونه به يې هم ليکل. د ولسمشر د غوښتنې پر اساس به مو کتابونه ور وړل، ډېرى به يې د مينه والو له لوري ورته ډالۍ کېدل، ده به مطالعه کول. هغه کتابونه به يې زيات خوښول چې په ولسي ميراث او تراث، شعر، فقهي او نحوي پورې به يې تړاو درلود، کله چې په پای کې مونږ ته د مجلو، مقالو او بيانونو د ور وړلو اجازه راکړل شوه، نو هغه به يې هم خوښولې.

د الله ذکر به يې ډېر کاوه او ډېر استغفار به يې وايه، الله ته د نږدېوالي لپاره به يې د اونۍ ځينې ورځې روژه نيوله، د الله ستاينه به يې ډېره کوله، کله چې به مو ورسره ليدل، نو دغه عبارت به يې ډېر تکراراوه "الحمدلله، مونږ ته الله همدا

اراده کړې وه څو ښېنه راته وکړي، د گناهونو کفاره مو شي او زمونږ نېکیانې را ډېرې کړي"، تل به یې د ښه کار او د عفوې وصیت راته کاوه او ویل به یې چې کینه مه کوئ او د نورو د بدیو په وړاندې بد غبرگونونه مه ښکاره کوئ.
په روژه کې به یې د اسلامي شعائرو په سرته رسولو کې تعمق کاوه، له روژې مخکې او وروسته او په سنت ورځو کې به ډېرې روژه و او نېک اعمال به یې ترسره کول. د برکې په خرماوو به یې روژه ماتوله او تل به یې راته ویل چې هغه ور وړو. دا چې تر نورو یې دغه خرماوې ډېرې خوښولې، نو کورنۍ به یې په ډبلي کې ډېرې ورلېږلې.
یوه ورځ چې ولسمشر د دیني چارو په اړه خبرې کولې، راته یې وویل: "مونږ یوه ورځ همداسې کار نه دی کړی او نه مو داسې دریځ غوره کړی چې د الحاد او دین ترمنځ وي، ان زمونږ د گوند په ایډیالوژیو کې. مونږ د الحاد پر ضد یو او له دین سره یو، خو د نورو حقوقو ته هم درناوی لرو". ولسمشر زیاته کړه: "مونږ چې هره ودانۍ ودانه کړې یا مسجد مو جوړ کړی او یا زیارت مو نوی کړی، دا ټول پر مونږ واجب دي، یوازې د الله لپاره".

**مشر او مقامات**

په ۲۰۰۴ ز کال کې له ولسمشر صدام حسین سره له لومړۍ لیدنې وروسته په انبار کې زما کور ته یو مهم کس راغی چې د یوې مشهورې قبیلې یو مشر هم ورسره و. ځان یې راوپېژانده او دی له مقتدی الصدر سره په اړیکه کې و، ده غوښتل زما له لارې له ولسمشر څخه د مقتدی الصدر د پلار د وژنې په اړه پوښتنه وکړي او ویل یې چې دا به په امانت سره مقتدي ته رسوي، ډېر ټینگار یې کاوه څو د برابرې شوې فتنې مخه ډپ شي.
کله چې مې له ولسمشر سره د مهدي د لښکر (جیش المهدي) په اړه خبرې کولې، نو دا مې هم ور و رسوله. ده ځواب راکړ: "د مقتدي د پلار په اړه چې زه څومره معلومات لرم، هغه کوښښ کاوه چې عراقیان را ټول کړي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



جمعې په لمانځه (یعنې په میلیوني لمانځه) کې یې امامت وکړي، امنیتي ارگانونو هم همداسې معلومات درلودل. د پېښې له واقع کېدو وروسته مونږ ته معلومه شوه چې دغه دسیسه ایران برابره کړې وه، لکه عادت یې چې دی، چې پر عراقي دولت یې ور واړوي، چې صف یې گډوډ شي او فتنه را پورته شي. مونږ پېژندلي دي، د یوه ملت او مسلمانانو ترمنځ د فتنې په اچولو کې د فارسیانو همدا تگلاره ده". ولسمشر زیاتوي: "زه په پېښې خبر نه وم، کله چې مې له چارواکو او امنیتي ارگانونو څخه وضاحت وغوښت، هغوی هم راته وویل چې له لرې او نږدې پر دې موضوع خبر نه دي... نو هلته مونږ یقیني شوو چې دغه پېښه ایران زمونږ د هېواد پر خاوره تدبیر کړې وه، څو مونږ پرې نورن شو او ناوړه فتنه را ولاړه شي. بیا مو له مقتدي سره غمشریکي وکړه او فاتحه مو ورته وکړه او ده هم مننلیک را واستاوه".
له ولسمشر څخه مې د محمد باقر الحکیم په اړه وپوښتل (د عراق له نیواک وروسته د کربلا په چاودنه کې ووژل شو)، ده وویل: "کله چې پېښه وشوه، زه له مسئولیت څخه وتلی او د ولس په منځ کې وم، خپل ولس ته مې دغه کار دلیکل شوي پیغام له لارې واضح کړ، چې هغه پیغام رسنیو هم خپور کړ. هر څه ښکاره وو، حقیقت ته د رسېدلو لپاره لویې هڅې ته اړتیا نه وه. دا ایران او زمونږ په هېواد کې دننه د ایران ځینې لاسپوڅي دي، پېښه یې د هغه څه لپاره تدبیر کړې وه چې له حوزې او مرجعیت سره یې اړیکه درلوده".
ولسمشر زیاتوي: "مونږ د خپل ولس د بېلو ډلو دیني شخصیتونو ته درناوی کاوه، هغه شخصیتونه که مسلمانان، مسیحیان، صابئیان او یا د هرې بلې ډلې او مذهب څښتنان وو، مونږ د دغه او هغه ترمنځ یوازې د هېواد پالنې او عراق ته د اخلاص پر اساس توپیر کاوه".

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سخت حالات

د څېړنو په ناستو کې په ولسمشر صدام حسین سخت او ستونزمن حالتونه تېر شول، چې په دې کې د ده او د قاضي رائد الجوحي ترمنځ د ۲۰۰۵ ز کال د څېړنو په ناستو کې لفظي شخړې دي، چې د دجیل قضیه او د انفال قضیه بلل کېږي. قاضي به ولسمشر ته هومره په څېر سره کتل چې بانه به یې هم نه رپېدل، خو ولسمشر به بیا تر دې په سخت نظر ورته کتل. ما به هره شبېه پر همدغه قاضي نیوکه کوله.

په ۲۰۰۵ ز کال کې د دجیل د قضیې په اړه په یوه ناسته کې له ولسمشر سره مخامخ شوم، ستړی و، داسې ښکارېده چې کافي خوب یې نه دی کړی. یوه شېبه خو یې ښه بدله راته ښکاره شوه، شکمن شوم چې دی ولسمشر صدام حسین نه دی. کله چې د څېړنې تالار ته ننوت، قاضي جوحي یو څه په څېړونکي او عجیب نظر ورته وکتل. وروسته بیا د ده او د قاضي ترمنځ لفظي شخړې وشوې...

د سوداګرو د قضیې په اړه د څېړنې په ناسته کې هم سخت حالت و. هغه وخت علي ربیعي د څېړنې د کمېټې قاضي و، قاضي عبدالحسین حطاب یې مرسته کوله. د څېړنې له پیلېدو وړاندې یې قاضي حطاب سپک کړ او د ولسمشر او د ناوړه خبرو کوونکي قاضي تر منځ لفظي شخړه وشوه، ما او ولسمشر هم د یوې پیمانې پر ځای دوه ورکړې، خو قاضي ربیعي د خپل ملګري له کړنو ناخوښه و.

په دې وخت کې، د امریکایي استخباراتو له ځانګړې ځای څخه یو کس را ولاړ شو، تحسین یې باله، یو عدلي څېړونکی و، د ارام کولو لپاره مې د څېړنې درول غوښتي وو او دغه کس په بېړه د ولسمشر لوري ته ورغی چې هغه ارام کړي و. دغه کس په ولسمشر ګوزار کولو ته ځان برابراوه. سملاسي ور وخوځېدم او د ولسمشر د ملاتړ لپاره مې هغه شا ته کړ او دغه کس مې را



ونیو، مخکې له دې چې سم یې ووهم، امریکایي افسر کپتان مایک ماکوي راغی. د څېړنې تالار ته د ولسمشر د را ګرځولو لپاره مې د شرط په بڼه له قاضیانو او امریکایانو څخه وغوښتل چې دغه څېړونکی وباسي، خو دوی را څخه وغوښتل چې پر دې موافقه ورسره وکړم چې دغه کس به د ناستو کسانو شاته ځوکیو ته لرې کوي. له ولسمشر څخه مې وغوښتل چې څېړنه د نه منې، نه د خبرې کوي او نه د کومه پوښتنه ور ځوابوي، دې کار قاضي اړ کړ چې د ناستې د ځنډولو د غوښتنلیک د ورکولو غوښتنه را څخه وکړي.

همداراز یو بل سخت حالت، د محاکمې په یوه ناسته کې په خبرو کې د ولسمشر رول و. ولسمشر داسې مطالعه کوله چې قاضي رؤوف یې د مخونو په شمېر او په هغو کې د خبرو اترو او د شعر ډول په غوسه کړ. قاضي څو ځله په پازابوونکي ډول خبرې ور پرې کړې، خو ولسمشر له پرېکولو پرته د خبرو په اړه پر خپل حق ټینګار کاوه، قاضي اجازه نه ورکوله او د ولسمشر خبرې یې داسې ور پرې کولې چې ښه یې په تنګ کړ. له امله یې ولسمشر زښت غوسه شو، قاضي ته یې وکتل، د ولسمشر په ښي لاس کې د پانیزو محارمو یوه ټولګه وه، هغه یې ټینګې کړې، سترګو یې اوښکې وکړې او غوسې ترې لمبې وهلې، لکه په هغه حالت چې قاضي ته وایي: افسوس، چې زه خو ازاد وای... خو د دغې مودې انځور ډک نه شو. له دې وروسته چې قاضي ته د جنرالانو له کوټې، CIA او د نیواک له حکومت څخه پانه راغله، د ناستې سري توب یې اعلان کړ.

کله چې به د ولسمشر کوم بندي ملګری د قاضي مخې ته درېده (د دجیل د قضیې په اړه) او ویل به یې چې ده ته امر کېده او باید یې پلی کړی وای، نو ولسمشر به دردېده. ولسمشر به ډېر د ملامتۍ په سترګه ورته کتل. د (انفال په قضیه کې) همداسې حالات تکرار شول. چې لیدل به مې، د محاکمې په ناستو کې چې څه شوي وو هغه به یې تکرارول او ویل به یې: "ته پوهېږم خنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې کس پيدا کېدای شي چې په عراقي دولت کې مسئوليت هم ورته سپارل شوی وي او بيا داسې خبرې وکړي". بيا به يې زياته کړه: "پر ځينو واکمنې غالبه شوې، سړی پر همدغه اساس سړی پاتې کېږي او په مېړانې سره کار کوي". او ويل به يې: "زما د ځينو ملګرو دريغ کمزوری و، کله چې يې د دغه احمق (قاضي) چلند له ما سره ليدلی وای، بايد وتلي وای. د دجيل د قضيې په اړه په دې قضيه کې تر شته کسانو د نيول شويو دريغ ډېر قوي دی".

بيا يې د امر ترلاسه کولو په اړه خبرې تکرار کړې، په يوه ناسته کې ولسمشر په غوسه شو او درنده ورته پرېوته او قاضي ته يې وويل: "زه صدام حسين يم، هر عراقی چې خپل مسئوليت نه شي وړلی، نو پړه او مسئوليت يې زه په غاړه اخلم". دا يې زښت په درد سره وويل.

په يوه ناسته کې يې هغه چوکۍ په سرچپه ډول او له قانون او رواج سره مخالفه کېښوده، چې ولسمشر به پرې کېناسته. ولسمشر نيوکه وکړه او دوی ته يې وويل: "تاسې غواړی لکه د مجوسو په څېر کېنم". او د عادت په څېر يې چوکۍ کېښوده.

ولسمشر به د نيول کېدو کيسې او د شوي خيانت يادولو په تنګاوه. هغه کس ته به يې وعيد ورکاوه او افسوس به يې پرې کاوه چې له ده سره يې خيانت کړی و، ان راته وې ويل: زه هغه کس نه پېژنم چې له زامنو سره مې يې خيانت وکړ، که مې پېژندلی نو پر دغه کار سربېره به مې د الله او د عراق د ولس په مخ کې ښنلی وای او دا کار به مې "ساده" ګڼلی وای، خو هغه کس چې له کوم کمي او لامل پرته له ما سره يې خيانت وکړ، له هغه سره به اساني ونه کړم، هر څه چې وشي. بيا يې هغه کيسه راته وکړه چې د ۲۰۰۳ ز کال د جون د مياشتې له ختمېدو وړاندې ورته پېښه شوې وه، وې ويل:

"د ولس د زامنو په منځ کې مې چکر واهه، پرېکړه مې وکړه چې د موصل يوه کلي ته ولاړ شم. د موصل له يو مخلص مشر سره مې واړول (د امنيتي لاملونو



نوم نه اخلو). مازديګر و او مشر هم کور ته نږدې په څه کار لګيا ۀ کله يې له کسانو څخه مې وغوښتل چې هغه ټکسي موټر چې مونږ ږ د خپل ملاتړ راغلي يو، هغه د کور خوا ته ډېر رانږدې کړي. په هماغې ورځ مې بدلې پکې په تن وې او ږيره مې هم ډېره نه وه اوږده شوې، دا نو د بغداد له نيول جامې دوه مياشتې وروسته و. د کور څښتن ډېر حيران و او ويل يې چې له څه کېدو ره يې د دغې ليدنې هيله کوله، خو اوس پر ما وېرېده. ما ترې وغوښتل وخته چې ارام شي او ورته و مې ويل، زه محدود خواړه غواړم، يوازې د خُرما شات دکونجت له غوړيو او وچې ډوډۍ سره. په دې وختونو کې مې په لږ خوراک خان روږدی کړی و. خو مشر مې خبره نه منله، له مشر زوی څخه يې وغوښتل چې د ماښام لپاره پسه حلال کړي. سره له دې چې ځان مې ډېر پټاوه، خو کور ته د راننوتلو په وخت کې يوه کس ليدلی او پېژندلی وم، يو بل کس يې خبر کړی و چې د امريکايانو جاسوس ښکارېده. څه موده وروسته مو په سيمه کې د الوتکو غږونه او غير عادي خوځښت واورېد. مشر ووت چې څان پوه کړي، امريکايي الوتکې يې ليدلې وې چې ټانګونه او نور موټر يې کښته کول او لنګر وې. وروسته له دې چې له ملاتړو څخه مې وغوښتل چې موټر سايکلونه بوځي او زه مشر په خپل موټر کې يووړم. مشر ډېر وارخطا و، ما ورته وويل چې ما ته دا کيسې عادي دي، له ما سره دوه تومانچې او کلاشينکوف هم وو. بيا مشر وويل چې امريکايانو خپل ځواکونه له لويې لارې څخه په بېلېدونکو لارو کې کښته کړي، نو مونږ بايد له دوی څخه لرې لاره غوره کړو. بيا مو د موټر د څراغونو له لګولو پرته په دښته، چوړاخونو او وښو کې ميلونه لاره ووهله، کوم ځای چې ما غوښت، هلته ورسېدو او له هماغه ځايه د پيک آپ ټيوټا ډوله کوچني بار وړونکي موټر ته ور وختم او له مشر څخه مې وغوښتل چې بېرته ولاړ شي. مننه مې ترې وکړه، کله چې زمونږ موټر روان شو، دی هم ولاړ. له هغه کس څخه ډېر خواشينی وم چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیانت یې راسره کړی و. له یوې میاشتې وروسته مې هماغه قدرمن مشر ته یو کتبي پیغام ولېږه، ور څخه و مې غوښتل چې زمونږ یوه خپلوان ته ورشي، هغه خپلوان ته مې د مقاومت د زړورو اتلانو د تمویل لپاره څه مال امانت ایښی و، کله چې زما استازی زما د هغه خپلوان کور ته ورغلی و او مال یې ترې غوښتی و، هغه په غوسه شوی و، پیغام یې څیرلی و، له امانت څخه یې انکار کړی و او ویلي یې وو چې له لسو کلونو را پدېخوا یې نه یم لیدلی. پر همدې یې بسنه نه وه کړې، بلکې زوی یې امریکایانو ته ور استولی و، چې د مېلمه په اړه یې خبر کړي، دا کار زمونږ په ټولنه کې نشته، چې عراقی د له خپل مېلمه سره خیانت وکړي. خو دغه مېلمه بیدار و، ځان یې پټ کړی و او د قبیلې یو کس ته یې پناه ور وړې وه، هغه هم دغه کس ته په ورتګ ملامت کړی و"...

یو بل سخت حالت د ډرامه ییزې محاکمې په یوه ناسته کې و، کله چې قاضي رؤف له تالار څخه د شهید برزان د ایستلو امر وکړ، نو د ولسمشر د داخلي ساتونکو په مخ کې یې پر هغه تېری وکړ او و یې واهه، ولسمشر زښت په غوسه شو.

کوم ډېر سخت حالت چې و هغه د ۲۰۰۶ له ولسمشر سره زمونږ په لیدنه کې و، یعني د پرېکړې له ویلو یوه ورځ وړاندې. مونږ له یو بل سره نظرونه بدلول، لکه د وداع په ساعت کې چې یو. د محکمې په تالار کې په هماغه ماښام فضا ډکه وه، مونږ له ولسمشر سره په لیدنه کې وو. د بلې ورځې په سهار کې مونږ د تقدیر د پټو ځارنه کوله، چې څه به وي. ولسمشر به یې پر چوکۍ داسې کېناوه چې پر دوه پښو به یې درولې وه او دوې پښې به یې مخې ته وتلې وې. په دې وخت کې مونږ خبرې سره کولې، ولسمشر به یو ځل شاته تکیه وکړه او بیا به مخې ته رامخکې شو، ناڅاپه چوکۍ ماته شوه او د ولسمشر شا ولګېده. ور منډه مې کړه، تر تخرګونو لاندې مې ونیو، امریکایي افسر هم



مرسته راسره وکړه او را پورته مو کړ، چوکۍ یې هم ور بدله کړه. دغه حالت زه ډېر په تنګ کړم. بیا افسر خبر کړم چې د لیدنې وخت پای ته رسېدلی دی. ملګري مې له تالاره ووتل. له ولسمشر څخه مې وپوښتل چې که غواړي لکه د نېر په خبر به یې یوازې ګورم. داسې یې راته وکتل چې د درېیو کلونو په اوږدو کې یې نه و ر اته کتلي. د وداع لیدنه وه، په خپلو ټولو احساساتو مې د خوړې اړیکې لپاره لیدنه درک کړه، بیا زما او د ده تر منځ سختې ورځې راغلې... په دغې شېبه کې مې هیله وکړه چې ناسته او یوازې لیدنه را څخه ونه غواړي، څه چې مې په فکر کې ګرځېدل لکه ده چې په خپل اغېزناک نظر او اټکل سره لوستلي وي. یو بل ته په کتلو مو خدای پاماني وکړه، داسې لکه بیا چې نه سره ګورو. ځان مې را ونیو او ټپ مې پټې کړ، خو د دروازې تر شا مې له ژړا زړه وچاوده او داسې په زوره مې وژړل چې کله مې نه وو ژړلي، غږ مې اورېدل کېده. کپېټن او امریکایان راغلل او په اوږو یې ټکولم. ملګرو نه مې ور غږ کړ، ما نه غوښتل چې امریکایان د په غم کې راسره شریک شي، ځکه په عراق کې د ټولو پېښو عاملین دوی وو.

دا له هغو ډېرو کارونو څخه وو چې درې کلونه ورسره مخامخ شوم، په دغو درېیو کلونو کې مې له یو نیم کال څخه زیات یوازې له ولسمشر شهید صدام حسین سره تېر کړل. که څه هم د دغو ورځو په اړه به مې لیکلي وي، خو قلم د هغو پېښو، احساساتو او دردونه له کښلو کمزوری دی چې زه او اتلان ملګري مې ورسره مخامخ شوو... دا نو ساعتونه، ورځې، شپې او د عمر کلونه وو چې نه هېرېږي...

## ایا په زندان کې یې ولسمشر ته زهر ورکړي وو؟

ولسمشر ښه صحت درلود، کله چې د ۲۰۰۳ ز کال د ډسمبر د میاشتې له پنځلسمې څخه مخکې ونیول شو، عمر یې له شپږ شپېته کلونو څخه اوښتی و. ځواکمن جوړښت، ډک بدن او اوږد قامت یې درلود. کله چې مې د ۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



ز کال په پای کې په لومړۍ لیدنه کې ولید، نو ډېر وزن یې له لاسه ورکړی و،
ان یوه شېبه مې فکر وکړ چې ورته کس به وي. خو روغتیا یې بیا هم ښه وه.
د ډنګرتوب لامل یې دا هم و چې ده به د مقاومت د اتلانو په منځ کې شپې
او ورځې رڼولې او په بېلو سیمو کې به ګرځېد، اتلان به یې دې ته هڅول چې
دښمن ته غاښ ماتوونکې ضربې ورکړي، د لیکو یو ځای کولو او د دښمن
ماتولو ته به یې بلنې کولې.

د ۲۰۰۵ ز کال له نیمایي وروسته چې زه به ورسره کېناستم، نو کتل به مې چې
یو لاس یې لړزېږي او پر مخ یې ډېرې تاپې راښکاره شوې. موضوع مې له
ځینو ډاکټرانو سره شریکه کړه، دوی ویل چې کېدای شي څه اندازه سست
زهر ورکړل شوي وي چې د لاس لړزه یې یو حالت دی. ملګري مې نه
خبرول، ځکه ما فکر کاوه چې د دوی به ورته پام شي. کله چې مې د ملګرو
جزائي وکالتونه بشپړ کړل او په ۲۰۰۶ ز کال کې یې لیدنه شونې شوه، نو
هغوی هم اشاره ورته وکړه.

زما شکونه هم زیاتېدل. اخلاقي مسئولیت مې هم پر ما حتمي کوله چې باید
د دې موضوع په اړه ډېره څېړنه وکړم. یوه متخصص او یوه عراقي ته مې خبره
وکړه. نو یوه لابراتوار ته ولاړ، هغوی ته یې دغه حالت بیان کړ، خو د ولسمشر
نوم یې ور نه کړ. نو هغوی هم د دې خبرې پخلی وکړ چې څه اندازه سست
زهر ورکړل شوي دي، له هغه څخه یې غوښتي وو چې که یې د بولو یا وینې
کروره (نمونه) نه شي ور وړی، نو یوازینی حالت یې دا دی، کله چې یې لاس
خوله وکړي، یوه داسې سپینه پاڼه د ونیسي چې بل چا نه وي لمس کړې، دغه
پاڼه د په پاکه نیلوني کڅوړه کې واچول شي. دا چې د ولسمشر وضعیت هغه
پورته معایناتو ته اجازه نه ورکوله، نو له یوه لابراتوار څخه مې درې له
میکروبونو پاکې پاڼې را واخیستې او په کڅوړه کې مې واچولې، بیا مې له
ولسمشر څخه وغوښتل چې په لاس کې یې ونیسي. ما ګڼلې وه چې امریکایي



اړخ به زمونږ د منع کولو لپاره مداخله کوي، نو له ولسمشر څخه به غواړم چې
پرته یې کڅوړې ته کړي او امریکایانو ته به داسې ښیم چې دغه پاڼې مې د
دې لپاره ورکړې وې چې د هغو وکیلانو نومونه ولیکي چې له ده څخه د دفاع
لپاره یې دی غوره کوي او خبروو به یې چې پاڼې مو بېرته داسې راوړې چې
ولسمشر هېڅ هم نه و پرې لیکلي. داسې ښکارېدله چې امریکایان دې ته
متوجه دي، نو ولسمشر ته یې له ورکولو منع کړم او دوی واخیستې. له ځانه
مې وپوښتل: ایا د ولسمشر په اعدامولو کې د بېړې یو لامل دغه زهر نه وو، له
دې وېرې اعدام شو چې دغه رسوایي به ښکاره شي؟

همداراز ولسمشر به هم تل په معده کې د درد شکایت راته کاوه، ان قاضي
جوحي د دغو دردونو په اړه په مفصله توګه خبر و، یوه ورځ یې د معدې د
وضعیت د څرنګوالي په اړه ترې وپوښتل. ولسمشر هم راته ویلي وو، چې یو
ځل ناڅاپه بېهوشه شوی و او د ابن سینا روغتون ته (د خضراء په سیمه کې د
ننه) د بلک هاک الوتکې په واسطه وړل شوی و. همداراز د جراحي عملیات
یې هم له بېهوشه کولو پرته ورته کړي وو.

همداراز د امریکایانو له لوري د ولسمشر له روغتیا سره چلند هم شک ته بېولو.
دی یې په یوه کور کې بندي و او ځینې ډاکټران به هم ورسره وو، د ورځې به
یې درې ځله د کوټې هوا ورته بدلوله او د ولسمشر پوره معاینه به یې کوله،
همدې خبرې شک کولو ته مجبورولو چې امریکایان څه شی پټوي، که نه د
ولسمشر هومره پروا نه لري. همداراز د وکیلانو لیدنو هم شک را ولاړاوه، کله
چې به مو له ولسمشر سره خواړه خوړل، نو یوه بهرني مدافع وکیل به ډډه ترې
کوله او هېڅ ګډون به یې نه را سره کاوه، یوازې یوه ټوټه هغه بیسکوېټ او
چاکلیټ به یې خوړل چې له عمان څخه یې ورسره راوړي وو.

خو دا چې مونږ ډاکټران نه یو، نو مونږ د دې موضوع په اړه قطعي خبره نه شو
کولای...

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورویشتم څپرکی

## له وکیلانو سره وروستۍ لیدنه

زه خپل ټول اهل ته وصیت کوم چې یو موټی شي. څکه فتنه د هغو دښمنانو پلان دی چې یوازې په هغه حالت کې نیواک او پراخي ترسره کولای شي، چې له ټولو وګړو څخه دغه مردودې نارې را وپاروي. تاسې ته وایم، الله د په تاسو کې برکت واچوي، تاسې مخلص مؤمن وګړي یاست. خپل ژوند مو په خطر کې اچولی... له تاسې څخه مې یوازې بې حده صبر، ستونزې ګالل او قرباني لیدلې ده...

*(صدام حسین په زندان کې)*

دا چې د نامعلوم لامل له کبله د نیواک واکمني زه د بغداد لوري ته له ورتګ څخه منع کړم، نو د ولسمشر صدام حسین د لیدلو لپاره مو د درېیو تنو وکیلانو کمېټه جوړه کړه. کله چې په ۲۰۰۶ کې وکیلانو له ولسمشر سره وکتل، امریکایي اړخ اړیکه راسره ونیوله چې محکمې خپله پرېکړه تصدیق کړې ده او زه باید پلاوی ور ولېږم چې د ولسمشر شخصي شیان او اړتیاوې ورته وسپاري. له دوی څخه مې وغوښتل چې بله ورځ د وکیلانو ته بله لیدنه هم برابره کړي څو ولسمشر د پرېکړې له تصدیقولو خبر کړي. کله چې لیدنه ختمه شوه او وکیلان خپل ځانګړي استوګنځي ته ورسېدل، نو ګرځنده ټلیفونونه یې هم فعال کړل. ما اړیکه ورسره ونیوله او خبر مې کړل چې هرومرو باید د ولسمشر لیدنې ته ور وګرځي چې ما ورته برابره کړې ده. د لیدنې ورځ د ۲۰۰۶،۱۲،۲۸ نېټه وټاکل شوه. خو یوه ملګري د ځانګړي حالت له امله بښنه وغوښته او بغداد یې د ۲۰۰۶،۱۲،۲۷ نېټه پرېښود او عمان ته لاړ. د ۲۰۰۶ ز کال د ډسمبر په اته ویشتمه د ولسمشر او ښاغلو برزان تکریتي او عواد البندر پر ضد د اعدام د پرېکړې له تصدیق وروسته د ولسمشر صدام



حسین او وکیلانو ترمنځ وروستۍ لیدنه وشوه او دا لیدنه هوایي ډګر ته نږدې په امریکایي اډه کې وه.

ولسمشر وکیلانو ته هرکلی ووایه، کله چې یې له دوی څخه د پرېکړې د تصدیق خبر واورېد، زړور ښکاره شو او په ډېره ژوره توګه یې پر ځان باور درلود. په پرېکړه پورې ملنډې وهونکی ښکارېده، وې ویل:

له دې څخه نه ځورېږم، بلکې په هر څه د الله شکر ادا کوم او ستاینه یې کوم، که څه هم ګرانه پرېوځي، خو پر عراق دا هر څه کم دي. زمونږ دښمنان رسوا شول، حقیقي مخونه یې را ښکاره شول، زمونږ له سرېو پرته ځینې چې فکر کوي چې تر هغې اندازې ډېر کمزوري ښکاري. زمونږ سرېو دوی ته داسې ضربې ورکړې چې ماتې یې ور پورې ونښلولې، پر همدې د الله شکر ادا کوو او ستاینه یې کوو او مونږ ټولو ته ښه پایله او عاقبت ترې غواړو".

بیا ولسمشر حاضرینو ته وکتل او وې ویل:

"زه متیقین وم چې دوی به دغه ظالمانه پرېکړه کوي، په کومې راډیو چې به مې خبرې اورېدې، هغه یې را څخه لرې کړه، هلته پوه شوم چې دوی غواړي، د اعدام پر پرېکړې د نهائي تصدیق خبر له ما څخه پټ کړي... خو بله لویه راډیو یې راته راوړه، څنګه چې د ژباړن خوښه او طبعه وي هماغسې یې چالانوي. څکه د امریکایانو له لوري له دغو اجراآتو او د امنیت او ساتنې د شدت له عملیاتو وروسته زه پوه شوم چې څه کیسه خو شته او دوی پرېکړه کړې ده".

دلته یوه وکیل پوښتلي وو چې که غواړي د اعدام د پرېکړې د درولو لپاره ناره اوچته کړي یا څه پیغام ورکړي، ولسمشر وویل:

"زه موافق نه یم، بله دا چې چاته به ناره کوم، ایا دښمنانو ته به یې کوم؟ دغه بې انصافه محکمه خو همدوی برابره کړې وه، ډرامه له پیله تر وروستي پړاوه همدوی چمتو کړې وه. خو بیا هم درته وایم چې زه ارام یم، څکه ارام یم

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې له رب سره به مې په پاک او کلک زړه، سپین لاس، ارام ضمیر او تل حق او عدالت ته په میلان سره مخامخ کېږم. له باطل سره مخامخ شوم او مخنیوی مې یې وکړ. دا مې هم کولای شوای چې له دوی سره تړون وکړم او ځان ته دلیل وموموم، خو ما له الله سره ژمنه کړې وه چې یوازې هغه کارونه به کوم چې ضمیر، دین، له عراق او امت سره مینه او هغوی ته نسبت مې ترې راضي شي. له دې ټولو وروسته، له دې ټولو ننګونو او له ټولو هڅو وروسته چې ما ته وشوې، ایا صدام حسین کولای شي چې په خپله غاړه چانې ووهي او د یوه یا بل لامل له کبله ځان ازاد کړي؟ تاسې چې کوم صدام پېژنئ، هغه داسې کار نه شي کولای... که دا کار وکړم، نو رب او مبارزینو ته به څه وایم؟... چا چې دغه پلان جوړ کړی، ورته ووایئ، چې صدام حسین یوازې خپل رب ته نارې وهي او که هر څنګه وي، بل چا ته نارې نه ور وهي. الله د دښمنان وشرموي او له مؤمنانو سره دې مرسته وکړي.

"د اعدام پر پرېکړې له تصدیق وروسته، ډاکټر راته راغی او پوښتنه یې را څخه وکړه: ایا ارامي بښونکې دوا ته اړتیا لرې؟ ما ورته وویل: غر ارامي بښونکو ته اړتیا نه لري. الله سبحانه و تعالی هومره ایمان راکړی چې له دغو شیانو څخه مو غني کړي او ورته اړ مو نه کړي. ارامي بښونکې دوا هغو کمزورو ته ورکول کېږي چې که په هره بیه وي خپل ژوند ساتي، خو زه بیا وایم چې له مرګ سره به په ثبات او ایمان مخامخ کېږم او پر همدې د الله شکر ادا کوم او ستاینه یې کوم...

"زه بلنه درکوم، کله چې نفس مو په کمزورئ یا ناروغئ اخته کېږي، تل ایمان در یاد کړئ. د حق او با عزته لومړیتوبونو لپاره صبر، قرباني، جهاد او سخاوت د ایمان لوړې ماناګانې دي. دا په یاد وساتئ چې عدل انصاف دی، قانون نه دی، یعنې قانون باید انصاف وکړي، که نه نو عدالت نه شي ترلاسه کولای...



"کله چې د پرېکړې پر تصدیقولو خبر شوم، نو د سپورټ د ځانګړي بایسکل استعمال مې پیل کړ، دا هڅه د دې لپاره کوم څو دوی ته د مؤمن عربي شخصیت طبیعت ثابت کړم. له پرونه را پدېخوا او نن مې هم تمرین ته له ۱۲ څخه تر ۳۵ دقیقو وخت ور زیات کړی دی. دوی باید پوه شي چې مونږ داسې وګړي یو چې له ژوند سره مینه کوو، خو کله چې د قربانۍ وخت راشي، نو مونږ بیا له وېرې او ډار پرته مرګ منو".

دلته ولسمشر دوی ته د ۲۰۰۳ ز کال په ډسمبر کې تر نیول کېدو مخکې د دجلې له سینده د تېرېدو کیسه کړې وه او زیاته یې کړه:

"هیله کوم چې ناهیلي توب لاره درنه ورکه نه کړي، دا د الله تقدیر دی. خو عراق او امت او د مستعمرانو ماتول او په ګونډو کول مهم دي. زه فکر کوم چې راتلونکې پسرلی به قاطع وي، ځکه دوی کمزوري شوي او د وړاندیز واکې اوس زمونږ له خلکو سره دی. ډېر ژر به الله له دښمنانو څخه د ملت او امت ملاتړ وکړي او پر دوی به مو غالب او بریالي کړي، زمونږ امت چې اوس دغه نصر او بریالیتوب د خپلو وفادارو زامنو په وینو جوړوي، نو د همدې بریالیتوب مستحق دی. پایله حتمي ده، خو که په سوله ییزو وسایلو بریا ته ورسېږي، نو دا به ډېره غوره وي، خو که مجبوره وای، نو په مقاومت او د طاغوتیانو د را پرځولو او ماتولو له لارې. په دې کې شک نشته چې کوم ظلم چې له عراق او ورپسې له امت سره وشو، هېڅ بښونکی دلیل ورته نشته. دوی د یرغل او برید د لاملونو په اړه غرېدل، خو ټول دروغ یې معلوم شول او د عامه افکارو پر وړاندې یې وضعیت بېخي خراب شو. خو د حیرانتیا خبره دا ده چې دوی لا تر اوسه په خپل فساد، نیواک او د بې ګناه خلکو په وژلو لګیا دي او تر اوسه لا د سیادت څښتن او د خپلواک عربي هېواد پانګه چوروي. یو ځل وایي چې بریالي کېږو، کله بیا وایي، چې دا وضعیت ګټونکی او بایلونکی نه لري. بیا بېرته وایي چې ډېر ژر به مونږ په عراق کې خپل ځواکونه

زیات کړو. وروسته له دې چې د مقاومت اتلانو ټکان ورکوونکي زیانونه ور ورسول اوس ګډوډ شوي. هلې ځلې یې وکړې چې د یو موټي عراق د زامنو ترمنځ د فتنې ریښې خپرې کړي، خو دا یې هېره کړې وه چې زمونږ ولس د تمدن او تاریخ څښتن دی، د اوږدو پېړیو په موده کې یې د یوه لاس د ګوتو په څېر ژوند کړی، بېلتون نه پېژني، مذبذبي، مذهبیت یا توکمپالنه نه پېژني.

"هغه مهم خبرونه چې زه پرې خوښېږم او زړه مې پرې خوشالېږي، هغه دا دي چې په سوېل کې زمونږ ولس د نیواک د ځواکونو پر ضد عملیات کوي. همداراز په خپلواکه سیمه او حلبجه کې زمونږ د اهل ښه خبرونه دي، هلته زمونږ د کردي ولس ځینې کسان ونیول شول، ځکه هغوی نیواک نه مانه او پر یوازې یوه عراق یې منګولې لګولې وې.

"زه خپل ټول اهل ته وصیت کوم چې یو موټی شي او یو د بل خبره وزغمي. ځکه فتنه د هغو دښمنانو پلان دی چې یوازې په هغه حالت کې نیواک او پراختیا ترسره کولای شي، چې له ټولو وګړو څخه دغه مردودې نارې را وپاروي. زه باور لرم چې زمونږ ملت او امت به ښه وي، نیواکوالو او د هغو غلامانو ته به کله هم اجازه ور نه کړي چې د عراق او امت د پاشلو لپاره په پلانونو کې بریالي شي... له تاسې څخه غواړم چې زمونږ د ولس ټولو زامنو ته زما پیغام ور ورسوئ چې یووالی وساتي او د هغه ګډ دښمن پر خلاف مقابله وکړي چې د عراق یوه بچي ته هم ښېګڼه نه غواړي.

"زه د خپل ولس زامنو ته وایم: صبر وکړئ، د بریا شېبې را نږدې دي، نړیوال وضعیت مجبور دی چې نور وخوځېږي، امریکایي سیاست ټول فرصتونه له منځه یوړل، اوس زمونږ یوازینی انتخاب مقاومت دی... د پخلاینې په اړه ډېر وغږېدل، دغه چاره یې څو ځله را وړاندې کړه، خو ما ورته وویل: چې دا ناشونې ده. که صدام حسین د بعث له ګوند څخه پرته یوازې پخلاینه ورسره وکړي، نو دا بې ګټې ده. خبرې اترې که له ګوند سره د یوې رسمي او ټاکلې



(c) ketabton.com: The Digital Library

موسسې په ډول نه وي، نو بې ارزښته او بې عمله به وي او هغوی چې له ګوند څخه لرې ځان وړاندې کوي، هغوی د ګوند استازیتوب نه کوي.

"امریکایي عقل لا تر اوسه د تېروتنې په معالجه کولو کې کم دی، دوی لا تر اوسه د سمې دروازې په ټکولو نه دي توانېدلي او نه پر دې توانېدلي چې د عراقي ولس د زامنو پر غوښتنو اقرار وکړي. خو زه په ټول باور سره درته وایم چې له اوسه دوه میاشتې وروسته به انقلاب بېل وي او ډېره ژر ده چې د نیواکوالو حال به بدل شي او دا چې کله ډیموکراتانو ته رسمي دندې وسپارل شي او په بشپړو اسنادو او پانو خبر شي... ډېر ژر به دلته کار وکړي او د عراق د قضیې لپاره به حللارې ته را ودانګي. زما په ګومان دا به د درېیو میاشتو په نرخ کې وشي.

"باور وکړئ، زه د خپل مسیر او د عراق د مسیر لپاره بې خوبه نه یم، ځکه عراق داسې بشري ځواک لري چې هرومرو به یې له نیواکوالو ازاد کړي، بلکې پر دې پرېشانه یم چې که ما اعدام کړي، نو د ډېرو عراقیانو په زړونو کې به کینه ځای ونیسي، ممکن هغه زیات وي، ځکه د چا زړه چې کینه ونیسي، نو لید به یې ړوند شي...

"زه مې د ولس زامنو ته وایم: ګورئ پام کوئ چې کینه ونه کړی. له عراق او د امت له امن څخه د دفاع لپاره مې اته کاله له خمیني سره جګړه وکړه، د هغه د انقلاب مخه مې ونیوله او پراختیا غوښتونکي پلانونه مو ور شنډ کړل، خو زه مې د زامنو په وینو قسم کوم چې یو ځل مې هم له خمیني سره کینه نه ده کړې. دا مې رقابت و، په عزت ورسره وجنګېدم... همداراز له امریکایي ولسمشر جورج بوش سره. بوش زما هېواد را وران کړ، ولس یې را وشاړه او په بشپړه اراده مې مقاومت ورسره کاوه. خو کینه ورسره نه کوم. د رقابت او د کینې تر منځ واضح کرښه شته ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"تاسې ته وایم، دا مه هېروئ چې "صدام" مبارز پیل شوی، د بعث لیکو ته مبارز د ننه شوی، د ګډوډۍ او خرابۍ واک یې د مبارز په ذهنیت سره له بېخه کښېلی. عراق مو پوړ پوړ ودان کړی، خو کله چې پرېکوونکې شببه راغله، د عراق او امت له دښمنانو سره مې د مبارز او مقاومت کوونکي په روح مقابله کړې.

"پر دې خبر وم چې زه او زامن به مې شهیدان کېږو، دغو ټولو د مقاومت دوام ته هڅولم، نه تېښتې ته او د ولس په منځ کې پاتې کېدو ته یې مجبورولم، که څه هم ګرانه وه.

"اته میاشتې پټ شوم، د عراق په کورونو کې ګرځېدم، د مقاومت سړي مې څارل او اړیکه مې ورسره نیوله. له داسې خلکو سره اوسېدم چې نه مې پېژندل... د بغداد له نیواک څخه یوازې درې اونۍ وروسته مې ټول ځانګړي ساتونکي رخصت کړل او یوازې یو راسره پاتې شو.

"د ۳۵ کلونو په اوږدو کې مې دغه لوی ملت ته خدمت وکړ او اوس مې ځان ورته سپارم. دا ښکاره وه چې ولس به غېږه راته پرانیزي، که داسې ونه کړي، نو هرومرو یوه تېروتنه شته...

"د چکر په وخت کې مې ښلې جامې په تن کولې، په کښتونو، فصلونو او غرونو کې ګرځېدم. په دې موده کې زه د مبارز په ذهنیت ګرځېدم، همداراز د زندان په موده کې هم چې دوی غوښتل په دروغجنو واقعو او جعلي انځورونو ما ته زیان را ورسوي. همداراز د محاکمې په موده کې هم.

"زه یوازې له الله څخه وېرېږم، له ځانه هم بېخي راضي یم. د مبارز او عادي انسان تر منځ توپیر وي. عادي انسان په خپله دنده پسې وي او خپلو اولادونو ته له پلان سره سم وصیت کوي. کله چې تقاعد شي، فکر کوي چې هر څه پای ته ورسېدل او ژوند ودرېد. خو مبارز بیا د ژوند تر وروستیو سلګیو پورې خپلې دندې ته دوام ورکوي. نو ځکه هغه پای ته نه رسېږي... مونږ همداسې



حالت ته اړ یو. څو پاک شو، ځکه د قانون او دولت په سیوري کې مبارزه د دولت او قانون له چوکاټ څخه له بهر مبارزې سره توپیر کوي.

"کله چې په ۱۹۶۸ ز کال کې انقلاب وشو، د بعث ګوند د غړو شمېر تقریباً ۷۷۰ تنه و. مونږ د مبارزې نارووړدي حالت ته اړتیا درلوده. لاره اسانه نه وه. هغه تر اوسه پورې د ګوند تر ټولو سخت حالت و. د ننه هم دښمنان وو او د نیواکوال د نړۍ تر ټولو لوی دولت و. عملي ازموینه وه چې څنګه ګوند له سرټېټونو او له عقیدې او لومړیتوبونو پرته له دغو ستونزو څخه ووځي.

"داسې ښکاري چې سرونه مې در وخوړول. تاسې ته وایم، الله د په تاسو کې برکت واچوي، تاسې مخلص مؤمن وګړي یاست، خپل ژوند مو په خطر کې اچولی... له تاسې څخه مې یوازې بېحده صبر، ستونزې ګاللې او قرباني لیدلې ده... الله د په تاسو او ستاسې په هغو کورنیو کې برکت واچوي، کله چې تاسې له ما او زما له ملګرو څخه د دفاع پرېکړه وکړه نو تاسې یې بې زړه کړي نه یاست. له الله سبحانه و تعالی څخه غواړم چې په دنیا او اخرت کې یې بدلې درکړي او پر شهید خمیس عبیدي ورحمېږي، له الله څخه سوال کوم چې زمونږ لښکر او زمونږ ولس بریالی او غالب کړي.

"د علي پر مور، د هغې پر مور او خویندو او پر زامنو یې، پر ټولو لمسیانو او کورنۍ مې زما سلام ووایې. دوی د الله په امر باور لري. د هر انسان خپل اجل او کتاب وي. دوی باید په باوري او مؤمنو زړونو پر هغه څه راضي شي چې الله راته لیکلي دي او دا یې باید په یاد وي چې پلار یې په عزت سره مبارزه او جهاد وکړ، د منصب په لټه کې نه و، بلکې د ولس او امت لپاره یې دا هر څه وکړل. ما چې کوم انځور واخیست هغه مې پر خپل ولس او لښکر باور دی، ان که ځینې ولړزېږي هم، خو ځینې داسې وګړي شته چې په لومړۍ کرښه کې بلل کېږي او نور وګړي په نورو نومونو بلل کېږي. زمونږ تجربې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذخیره شوی سمندر دی، ولس مو اصیل ولس دی او گوند مو هم د خپلو لومړیتوبونو او پر حق او انصاف د ټینگار په اړه اصیل گوند دی".

په دغې لیدنه کې ولسمشر په غیاب کې یاد کړی وم. دا چې په وروستیو ورځو کې اړ و چې زه ورسره پاتې شوی وم، نو زما د لیدلو له منع کولو څخه دردېده، له ولسمشر سره چې مې کوم رول لوبولی، حد یې یوازې الله ته معلوم دی.

داسې ښکاري چې ده د کرښو په منځ کې ویل چې ټاکلو اړخونو د مشخصو اهدافو لپاره زما د لرې کېدو هڅه کړې...



# پنځه ویشتم څپرکی

## وروستۍ شپې

زه بلنه درکوم، کله چې مو نفس په کمزورۍ یا ناروغۍ اخته کېږي،
تل ایمان در یاد کړی.
د حق او عزتمنو لومړیتوبونو لپاره
صبر، قرباني، جهاد او سخاوت د ایمان لوړې ماناگانې دي.
قانون باید انصاف وکړي، که نه نو عدالت نه شي ترلاسه کولای...

*(صدام حسین په زندان کې)*

په دغه موده کې د امریکایي سفارت او د امریکایي پوځي مشرانو په منځ کې ډېر پیغامونه کښته او پورته شول. داسې ښکاري چې په پای کې دوی پوه شوي دي چې د عراق په موضوع کې تېروتي دي، چې پایله یې دواړو لورو (عراق او امریکا) ته سخته په زیان تمامه شوې او بله دا چې په کوم ډول چې صدام حسین پر عراق واکمني کوله او له بېلو ډلو جوړ ولس یې اداره کاوه، تر هغې طریقې په ښه توگه اداره کول ناشوني دي. د محکمې ځینو امریکایي مشاورینو ویل چې د دجیل د تور کچه هومره لوړه نه ده چې ولسمشر د له دوه کلونو زیات پرې بندي شي.

د امریکایي ایراني محکمې د نه د دجیل قضیه د ولسمشر پر ضد د راغونډېدو یو فصل و. د ولسمشر د وژلو هڅه شوې وه، دغه هڅه د دعوت گوند چې ایران یې مالي ملاتړی دی، کړې وه. دا هغه وخت و چې عراق له ایران سره په جگړه کې و. ولسمشر عادت درلود چې د عراق له بېلابېلو سیمو څخه به یې په هماغه وخت کې په پوځي جامو کې لیدنه کوله. لکه د هر مشر د وژلو هڅه چې وشي، نو ځانگړې چارواکي یې څېړنه کوي څو ټول معلومات را ټول کړي، بیا خپلواکې قضائیه قوې له خپلو صلاحیتونو سره سم خپل رول لوبوي. لکه د هر دولت د رئیس په څېر، صدام حسین هم په روانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښېړنو کې مداخله ونه کړه او نه یې د نیولو په قضیو کې یا پر تورنو کسانو په پرېکړه کولو کې مداخله وکړه. خو لکه د دولت د رئیس په توګه یې خپلې هغه واکې او صلاحیتونه ترسره کول چې نافذ اساسي قانون ورکړي وو، یعنې د قضائي حکمونو تصدیقول یا د حکمونو سپکول یا د قناعت پر اساس عفوه کول. نو کله چې قانون پر دغه وروستي فرصت یوازې جمهور رئیس مکلف کړی، نو دا د تورن لپاره وروستی فرصت وي څو ګټه واخلي. په همدې قضیه کې هم ولسمشر ځینې حکمونه تصدیق کړل او ځینې یې وبښل. لکه څرنګه چې مونږ پوهېږو چې د دعوت ګوند په عراق کې نا مشروع ګوند دی او له قانون سره سم که دغه ګوند ته د چا نسبت وشي، جزاء یې اعدام ده، ځکه چې له هغه دښمن (ایران) سره اړیکه لري چې پر عراق یې تېری کړی او له برید وروسته سختې جګړې ورسره شوې دي. همداراز د دغه ګوند غړو (چې ډېری یې د جګړې په وخت کې له عسکري خدمت څخه تښتېدلي دي) د ولس د زامنو پر ضد جرمونه کړي، په ډېری عامو او حکومتي ځایونو کې یې ترهګریزې چاودنې کړې دي لکه په مستنصریه او وزیریه پوهنتون کې، د راډیو پر ودانۍ او د مطبوعاتو پر وزارت او نورو ځایونو کې. ولسمشر د ۲۰۰۵.۱۲.۵ نېټه د محاکمې په ناسته کې مداخله وکړه او وې ویل: "کله چې پر جمهور رئیس، ان پر هغه رئیس چې امریکایانو ګمارلی وي ډزې وشي، ایا ښېړنې نه کېږي، ایا امنیتي ارګانونه حق نه لري چې داسې پېښنه وڅاري او وې ښېړي، لومړی مسئول صدام حسین دی، کولای یې شوای چې د اعدام د پرېکړې پر نه څېړلو او نه تصدیق یې امر کړی وای، نو تاسې ته روا نه ده چې دغې لوبې ته دوام ورکړئ، که مو د صدام حسین غاړه په کار وي، نو هغه یې ستاسو، یا که امریکایان غواړي چې حساب وکړي، نو زه مسئول یم او د عراق د رئیس په څېر مې خپل قانوني صلاحیتونه اجرا کړي دي...".



خو، د نیواک پر حکومت او پر ارګانونو یې چې دغه ډرامه بیزه محکمه هم پکې ده د دعوت د ګوند له واک وروسته دا طبیعي وه چې ولسمشر د د اعدام په لوري کش کړل شي. خو له ولسمشر څخه د دفاع د کمېټې غړو چې فردي یا ډله ییز امکانات یې لرل، په هغو ټولو سره یې د محکمې دروغ ثابتول او باطلول. د دفاع شاهدانو هم د محکمې د چارواکو په تنګولو کې لوی رول ولوباوه، ان ښځې یې لاره پرې ورکه کړه او له هغه وروسته مجبور شول چې شاهدان بندیان کړي. په یوه هېواد او په یوه وخت کې هم د قضا ډګر دغسې سلوک نه دی لیدلی.

**لوبې او دسیسې**

په ۲۰۰۶ کې زه په عمان کې وم، یو کس راسره اړیکه ونیوله، لومړی مې فکر وکړ چې دی به د نیویارک ټایمز یا د واشنګټن پوسټ یا د کوم امریکایي ټلویزیوني چینل کوم ژورنالیست وي، ځکه د ټلیفون نمبرو هم امریکایي شمېرې ته اشاره کوله. خو خبرې کوونکی په محکمه کې د یوه مهم امریکایي شخص ژباړن و، په اصل کې عرب و خو امریکایي تابعیت یې اخیستی و، د خضراء په سیمه کې یې له امریکایي سفارت څخه خبرې کولې. له ما څخه یې وخت وغوښت څو له هغه شخص سره وګورم چې عمان ته راځي او بیا همداسې قطر ته د استاد نجیب النعیمي لیدو ته ځي او ویل یې چې دغه کس به د ۲۰۰۶.۵.۶ عمان ته راځي. په همدې ورځ یو بل کس راسره په اړیکه کې شو چې په ټولو تفصیلاتو سره یې محکمه اداره کوله او دواړه پر دې موافق شو چې بله یکشنبې یعنې د ۲۰۰۶.۵.۷ په نېټه به سره وګورو.

په هماغه وخت کې پر محکمې د قاضیانو د فسخې او استعفاء کولو سخت حالات تېرېدل، همداراز وروسته له دې چې د دفاع شاهدانو د مشکوکو دلایلو له جعلیت سره سره د بطلان په اړه ښه رول لوبولی و، محکمه هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خطرناکو مخالفتونو مرتکبه شوې وه. له دغه کس سره مې د عمان په یوه هوټل کې ولیدل، یو بل ملګری هم راسره و او د اغلې رغد سکرتره ژباړنه مو هم راسره کړې وه چې خبرې وژباړي. مونږ ته یې وویل: د قانوني مشاور په صفت امریکایان ډېره غټه میاشتنۍ تنخوا راکوي، خو زه امریکایی نه یم!! (د امریکایي استخباراتو کس)، دنده مې د دفاع مرسته ده، هیله لرم چې دغه لیدنه به له رسنیو لرې او پټه وي، همداراز د محکمې له لوري ګمارل شوي څارنوالان او ان محکمه به هم نه خبرېږي. ما او ملګري مې د ده خبرو ته پاملرنه کوله. زمونږ پرېکړه داسې وه چې په ټولو معلوماتو د ملګرو له خبرولو او له هغوی سره له مشورې کولو مخکې به بې له غبرګونه غوږ ورته نیسو. بیا (مشاور) خبرې واړولې او وې ویل: تاسې چې په محکمه کې له کومو ستونزو سره مخامخ یاست، زه پام پرې کوم، هڅه کوم چې دواړه لوري په یوه ټکي کې سره را غونډ کړم. له تاسې څخه غواړم چې پر قانوني اړخونو او د څارنوالانو پر ثبوتونو تمرکز وکړئ، ځکه ټول دلایل یې کمزوري او نازک دي او په سادګۍ سره ختمېدای شي. داسې دلایل ورسره نشته چې ادعا پرې پر مخ بوځي. بیا یې وویل: په دې قضیه کې که صدام حسین ته تر ټولو ژوره جزا ورکړل شي، نو هغه به دوه کاله بند وي. خو ستاسې پام دوهمې قضیې (انفال) ته را اړوم. ځکه د دجیل په قضیه کې زه ډاډ درکوم چې ولسمشر هدف نه دی، بلکې برزان هدف دی. تاسې باید (انفال) ته ډېره پاملرنه وکړئ، ځکه هلته غیر متعارفې وسلې کارول شوې دي، هیله لرم چې د محکمې دننه ارامي لازمه کړئ.

مونږ ورته وویل چې مونږ له امریکایي اړخ سره ډېرې ستونزې لرو، زمونږ او د ولسمشر او د هغه د ملګرو ترمنځ د قانوني اسنادو، پاڼو او یادښتونو ممانعت کوي، همداراز د وکیلانو ملاتړ هم نه کوي، ده وویل: د وکیلانو د ملاتړ په اړه تاسې کولای شی چې کپټن Lee (چینایي الاصله د سمندري ځواکونو افسر



دی، لوړه رتبه یې لرله) ته لیک ور واستوی، هغه ستاسې د ملاتړ مسئول دی. خو له صدام سره د پاڼو او اسنادو د تبادلې په اړه، که هغه سپینې هم وي، امریکایان وېرېږي، هسې نه چې ځوک پاڼې په زهرو ککړې کړي او تاسې ته یې درکړي چې ده ته یې ور ورسوی. مونږ ورته وویل: ډېر ښه، نو بیا د پاڼې کاپي کړي او د ځینو ځایونو له ورانولو پرته د کاپي پاڼې ولسمشر ته ورکړي او بیا اصلي پاڼې درسره معاینه کړي. همداراز هغه پاڼې چې تاسې ولسمشر ته ورکړې او ککړې نه دي، ولې اجازه نه راکوی چې له ولسمشر څخه یې واخلو؟ د دفاع د کمېټې د مانعینو په اړوند مو ډېرې پوښتنې ترې وکړې، چې اسناد جعلي کېږي او په محکمه کې د ننه د دفاع په کمېټې او په څارنوالانو پورې په اړوندو چلندونو کې دوه ژبي کېږي. د لیدنې په پای کې یې وویل: تاسې باید له خپلو موکلینو سره اړیکې وشلوی، یعنې وکیل د له بل تورن څخه دفاع نه کوي (د وکیلانو له یو بل سره مرسته او د ګډ پلان له امله محکمه او مشاورین حیران شوي دي) او زیاته یې کړه: د بېلګې په ډول هغه وکیل چې له صدام څخه دفاع کوي، هغه د له برزان یا رمضان او یا بل تورن څخه دفاع نه کوي، زما په فکر په دې قضیه کې اصلي تورن برزان دی.

مخکې له دې چې څو ساعته لیدنه پای ته ورسېږي، ما ورته وویل: ته باید امریکایان خبر کړې چې د عراق یووالي او راتلونکی او هم صدام حسین «سره کرښه» دي.

دلته یوه پوښتنه را ولاړېږي، که امریکایان پر دې پوهېدل چې د دجیل قضیه له ولسمشر څخه تور لرې کوي، نو بیا یې ولې د اعدام لپاره په بېړه دښمنانو ته وسپاره او خپلې غاړې یې د ده له وژلو خلاصې کړې...

پر دې ټول وګړي پوهېږي چې د ولسمشر صدام حسین د اعدام پرېکړه له وړاندې برابره شوې وه، چا چې په دغه ډول محکمه جوړه کړې وه، هغوی د ولسمشر دښمنان وو او د ولسمشر محاکمه کول یوه غولوونه وه، څو وویل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي چې عادلانه محاکمه وشوه. خو د بېړني اعدام پرېکړه ناځایې وه. امریکایان هم قانع وو چې د دجیل قضیه اعدام نه شي لازمولی، دا د قضیو په لړۍ کې لومړۍ قضیه وه چې ورپسې به پر ولسمشر پرېکړه کېده.

دا هغه ډرامه ده چې دوی برابره کړې وه چې پر قضیو د جزاګانو وېشل دي او لکه څرنګه چې ولسمشر صدام حسین وویل، حکمونه به پر نومونو او پر ګوماني قضیو په وېشلو سره وي. پوښتنه دا ده چې د پرېکړې صادرول ولې د جون له میاشتې نومبر میاشتې ته وځنډېدل؟

له ځینو معلوماتو داسې ښکارېده چې د دواړو کردي ګوندونو په مشرۍ کې ځینو لورو او ځینو سیمه ییزو لورو امریکایي اداري ته ویلي وو چې ولسمشر په هغه قضیه اعدام کړي، چې تر کردانو په عراقیانو کې ډېره معلومېده. د ګوندونو ډېر ځښتنان دې ته چمتو وو چې د دغې مسؤولیت په غاړه واخلي، څکه دوی باوري وو چې ۹۰ سلنه د کردي ولس زامن به دا و نه مني.

## امریکا، ایران، حلبجه او وکیلان

پوښتنه کوو: ایا د امریکایانو او ایرانیانو ترمنځ داسې تړون شوی و چې عراق په خپل منځ کې سره ووېشي، چې دا به په عراق کې د سرېښو له لوی ډنډ څخه د امریکایانو له وتلو سره مرسته وکړي؟

امریکایانو ته د ولسمشر د دریغ ټینګوالی ثابت شو، هغه به له زندانه د نه د مقاومت له اتلو زامنو سره په اړیکه کې و او په عراقي پروژې یې اغېزه درلوده، د قضیې پر عدالت د ده ټینګوالي او ایمان او د محکمې د نه زړور دریغ یې پر بندي ملګرو لویه اغېزه وښیندله او پر عربي پروژې او د نړۍ په ازادو کسانو لکه د بېلو دولتونو پر ژورنالیستانو، لیکوالانو، د پارلمان پر وکیلانو، سیاسیونو او مشرانو یې حیرانوونکې اغېزه وکړه. ان ډېری هغه امریکایي افسران چې په زندان کې د ننه به له ده سره مخامخ کېدل، ډېر ورسره خواخوږي شوي وو او شخصیت ته یې حیران وو. د دجیل د قضیې په اړه د صدام حسین په



اعدامولو کې بېړې ډېر وضاحتونه درلودل. که ولسمشر د انفال قضیې ته حاضر شوی وای، نو کېدای شي داسې چارې یې را سپړلې وای چې ډېر دولتونه به ترې په تنګ شوي وای، په هماغو دولتونو کې متحده‌ایالات هم دي، چې عراق ته به یې په غیر مستقیم ډول د ځینو عربي هېوادونو له لارې د ایراني پوځ د ځایونو او خوځښتونو په اړه وهمي معلومات ورکول. په همدې یوه وخت کې امریکا او اسرائیلو له ایران سره وسله ییزه مرسته کوله (ایران ګیټ)، یعنې امریکا دوه مخی سیاست لوباوه، کوښښ یې کاوه چې د عراق او ایران دواړو هېوادونو انرژي او شته امکانات په یوه وخت کې هلاک شي. دا کار یې څکه کاوه چې په بشپړ ډول د عربي خلیج د هېوادونو برخې یوازې دې ته پاتې شي، منځنۍ آسیا ته نږدې شي او د روسیې او چین پر مسیر ولکه وکړي، عراق او ایران کمزوری کړي څو صهیوني جریان په سیمه کې یوازینی ځواک پاتې شي.

پر دې سربېره، دا شونې وه چې ولسمشر صدام حسین به په بغداد کې د دواړو کردي ګوندونو د قیادتونو او د ملي حکومت ترمنځ د شویو خبرو اترو په اړه ځینې هغه معلومات را وسپړي چې د دواړو کردي ګوندونو مشران پرې خبر دي. یوه ورځ ولسمشر وغوښتل چې د انفال د قضیې په څېړلو کې د جلال طالباني شاهد وي. همداراز ولسمشر به د حلبجې د موضوع په اړه د عراق د بهرنیو چارو له وزارت سره شته معلومات را وسپړي، چې امریکا، آلمان او له دې قضیې سره نور تړلي دولتونه به ونګوي، هلته یو خطرناک راز او یو ډېر مهم سند و چې یوازې جلال طالباني ته معلوم و. نو که د حلبجې قضیه پرانیستل شوې وای، ولسمشر به هغه راز ویلی وای او جلال طالباني به خپل کرلي رېبلي وای. څکه امریکا او نورو لاسپوڅو یې د انفال موضوع د حلبجې له موضوع بېله کړه څو ولسمشر اخرنی موضوع را ونه سپړي او د همدې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ولسمشر د اعدام توصیه وشوه. په دغه توصیه کې مشهورو عربي قیادتونو هم ونډه درلوده!.

دلته یوه اشاره کوم، هغه دا چې ایران ډېر کوښښ کاوه چې په محکمه کې د حلبجې موضوع یاده نه شي. ما ته د راکړل شویو معلوماتو له مخې، ایراني چارواکي مخکې له دې چې له ولسمشر څخه د دفاع عربي او نړیوالې کمېټې سره یوځای شي، له ځینو عربو مدافع وکیلانو سره یې په پاریس کې کتلي وو، د حلبجې د قضیې په اړه د خبرو د نه کولو لپاره یې میلیاردونه ډالره ورته منلي وو او که موضوع یاده شي نو د خلق په مجاهدینو یې پړه ور واچوي.
امریکایي استخباراتو هم یوه ډله لېږلې وه او د خاورې، کښت او په حلبجه کې د لګېدلو وسلو نمونې یې ورسره اخیستې او څېړلې یې وې. ثابته شوې وه چې عراق داسې ګاز نه لري لکه هلته چې کارېدلی و، بلکې هغه ګاز د ایران له لوري په وسله‌والو ځواکونو کارول کېږي، چې سیانایډ ګاز بلل کېږي، همدغه څرګندونه امریکایي جنرال سټېفن بلېټر هم کړې وه. دلته د هغه څه یادونه کوو چې ولسمشر صدام حسین له سناتور باب ډول سره د ۱۹۹۰ ز کال په لیدنه کې ویلي وو، کله چې یې په پای کې په حلبجه کې د عراق د ګازو د استعمال په اړه ترې پوښتلي وو، ولسمشر ځواب ورکړی و چې عراق چمتو دی چې کمېټې ته هلیکوپټر الوتکې برابرې کړي او حلبجې او کردي ښارونو ته یې ولېږدوي څو هلته له خلکو سره وګوري، د خاورې معاینه وکړي څو ورته معلومه شي چې عراق هغه ګاز نه دی کارولی.
د ولسمشر د ټولو کلکو دریځونو په مقابل کې امریکایانو قناعت حاصل کړ چې چانې وهل ورسره ناشوني دي، په ځانګړي ډول له شماله تر سوېله د مقاومت د غځېدلو او لویېدلو په اړه د عراقي ولس د بېلو جوړښتونو ترمنځ د کورنۍ جګړې اور بلول ناشوني دي. پر دې پوه شول چې د عراقي قیادت او په امریکایي زندانونو کې د ټولو زندانیانو داسې پرېکول ناشوني دي څو د



ولسمشر پر ضد په دروغو شاهدي ورکړي، له ډېرو غولونو، ژمنو، ګواښونو او د مالونو په وړاندیز کولو او سره له دې چې ځینې په لومړیو کې د ډېر فشار له امله کمزوري شول، دوی د ولسمشر په دریځ پوه شول چې په هېڅ قیمت د عراق پر خاوره او ازادۍ چانې نه وهي. ولسمشر به ټولو عراقیانو، بعثیانو، نظامیانو او د مقاومت کسانو او نورو ته له امریکایانو سره په خبرو نه کولو امرونه کول او ورته ویل به یې چې د خبرو اترو موضوع د یوازې او په زندان کې ملګرو ته پرېږدي څو د مقاومت د رهبرانو د معلومولو او سپکو چانې وهلو ته د راوستلو له لارې غالب نه شي. امریکایان قانع شوي وو چې له ولسمشر سره چانه وهل ناشونې کار دی او خبرې اترې به په عراق کې د دوی اهداف او غرضونه ترسره نه کړي.
د ولسمشر د اعدام په اړه ډېر اجنټان سره راغونډ شول، دغه اجنټان د امریکایي ادارې، اسرائیلو، ایراني صفوي نظام، د دواړو ګوندونو کردي لوري، په عراق کې د امریکایي نیواک په چوپړ کې لاسپوڅې ایرانۍ ملېشې او د امریکا او برېتانیې لاسپوڅي وو.
د جنیف له تړون سره سم، د قانوني مسئولیتونو پر خلاف امریکا د جګړې بندي ولسمشر صدام حسین د هغه او د عراق د ولس دښمنانو او کینه کښو رقیبانو ته وسپاره څو یې د نړۍ د مسلمانانو په وړاندې په تر ټولو مقدسه ورځ ووژني او ټولو عربو او مسلمانانو ته اهانت او سپکاوی وکړي، د نړۍ مشرانو، په ځانګړي ډول د عربو مشرانو ته پیغام ورکړي، څوک چې د امریکا له امر څخه سرغړونه کوي، پایله به یې داسې وي او د ولس له لوري یې زامنو، ورونو او د عراقي مقاومت ټولو لښکرو ته د عزم او ایمان د لړزولو او د را پرځولو د هڅو پیغام ورکړي. خو څه چې وشول، په بشپړ ډول برعکس وو او هو دا دی عراقي ولس ورځ په ورځ ځواکمنېږي او دا دی مقاومت له ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لښکریانو سره ورځ په ورځ یو موټی کېږي او ایمان، ثبات، کلکوالی او ځواک يې زیاتېږي.

## د ولسمشر د وژلو معامله

دلته د امریکايي مصدرونو کیسې ته را گرځو چې په وروستیو شپو کې څه پېښ شول:

امریکايي مصادر د ایران د لاسپوځي د نیواک حکومت ته د شرعي دولت د رئیس د وژلو د جریمې د ترسره کولو لپاره د هلو ځلو په اړه دې ته اشاره کوي، چې ځینو لوړپوړو امریکايي افسرانو پر سفارت فشار راوړ چې له واشنگټن سره اړیکه ونیسي څو د ولسمشر د وژلو د عملیې پلي کول وځنډوي. دغه مصادر لا دا هم وايي چې ځینو دغو افسرانو ویلي وو چې ولسمشر به دې مالکي حکومت ته ونه سپاري او په هماغه وخت کې د عراق حاکم زلمی خلیلزاد، چې په خضراء سیمه کې د امریکا سفیر و، هغه د وژلو د عملیې د ځنډولو په اړه مالکي ته په قناعت ورکولو کې ناکام شو، همدغه مصادر وايي او دا حقیقت ته ډېر نږدې هم ښکاري چې د نیواک پر حکومت د واکدارانو ایراني ملېشو او ډلو مشرانو له امریکايي ولسمشر سره هغه وخت معامله وکړه چې د یوه عربي هېواد له پلازمېنې څخه يې لیدنه کوله. په دې معامله کې مالکي، عبدالعزیز حکیم او مقتدی الصدر په غیر مستقیمه توگه (د مالکي له لارې) ونډه درلوده.

په عراق کې د امریکايي نیواک، د هغه د اهدافو او گټو په چوپړ کې د ژمنو په مخ کې د بوش ځواب راغی: "دوی ته د صدام سر ورکړئ" او دا تېر شول چې بوش یو کال مخکې اعلان وکړ چې دنده به د ۲۰۰۶ ز کال تر پایه پای ته رسېږي. نو د ولسمشر صدام حسین له وژلو پرته به د بلې کومې دندې په اړه غږېږده. که هر څومره د معاملو او د ولسمشر د وژلو د جریمې په اړه خبرې



وشي، خو د ولسمشر په وژلو، د عراق په ورانولو، د عراقي ولس د پاشلو او د ړانگو په غلا کولو او چورولو کې لومړنی مسئوله او لومړنی مجرمه امریکا ده.

استاد مازن شندب په خپل کتاب "توپانونه" کې چې په ۲۰۰۷ ز کال کې خپور شو، وايي، "... د دغه ایراني کار ډرامه له هغه دریځ څخه پیلېږي چې د نومبر په پای کې د اردن په پلازمېنه عمان کې چې د امریکايي ولسمشر جورج بوش او د عراق لومړي وزیر نوري المالکي ترمنځ لیدنه ټاکل شوې وه له هغې څخه مقتدی الصدر دغه دریځ نیولی و، مقتدی الصدر گواښ کړی و چې که لیدنه وشوه، نو په حکومت کې به دې د خپلو وزیرانو غړیتوب وځنډوي. د دواړو کسانو ترمنځ له لیدنې وروسته مقتدي خپل گواښ پلی کړ، خو د صدریانو یوه غړي نصار الربیعي وروسته اعلان وکړ، که په دقت سره ووایو دغه اعلان يې د جنوري په ۱۴، یعنې د صدام حسین له اعدامولو څخه دوه اونۍ وروسته او د "برزان" او "عواد البندر" له اعدامولو یوه ورځ مخکې کړی و. اعلان يې کړی و چې صدریان به ډېر ژر حکومت او پارلمان ته را وگرځي. د همدې میاشتې په ۲۱مه را وگرځېدل، له دغو را گرځېدلو څخه پوښتنه را ولاړه شوه چې هېڅوک هم ورته ونه درېدل: ولې مقتدی الصدر او استازي يې حکومت او پارلمان ته وروسته له هغه را وگرځېدل چې د مالکي او بوش پر لیدنې د نیوکې له امله وتلي وو؟... څوک چې د دغو ټولو پټو قطبونو لپاره سم ځواب غواړي، باید قانع شي مخکې له دې چې نوري المالکي د بوش وروستۍ لیدنې ته ورشي، له حکومت او پارلمان څخه د مقتدی الصدر د په شا کېدلو گواښ د مقتدي له لوري نوري المالکي ته یو پیغام او شفر و او دغه پیغام ویل: "که امریکایان د لوی اختر په لومړۍ ورځ د صدام د اعدامولو په حق کې اجازه ور نه کړي، نو د عراق شیعه گان به په عراق کې د ۱۵۰ زره څخه د ډېرو امریکايي پوځیانو پر ضد جگړه اعلان کړي" او د بوش مخې ته هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقتدي د ګواښونو له ببرنيو منلو پرته بل انتخاب نه و، له دې منلو سره مقتدی الصدر هم خپل وزيران حکومت ته را وګرځول" (۲۵۰-۲۵۲ مخ).

ولسمشر صدام حسين د ده په النور سمندرګي کور کې په ځمکتل کې بندي و، دغه کور پر دې سمندرګي د عمومي پله کيڼ اړخ ته پروت دی. دغه کور (زندان) له بهر څخه پټ شوی څو د نورو دولتونو مصنوعي سپوږمکۍ يې کشف نه کړي او عراقي مقاومت يا ايران ته د ځای انځورونه ور ونه لېږي. همداراز له د ننه خوا نه هم پټ شوی و، دېوالونه يې پوښل شوي وو او نقشې پرې اچول شوې وې څو ولسمشر يې ونه پېژني، ځکه دغه کور هغه ودان کړی و، نو دوی وېرېدل چې هسې نه څارنوالانو ته يې معلومات ورکړي څو د مقاومت لپاره د هدف ټاکل اسانه شي.

## د ولسمشر وروستۍ غوښتنه

له اعدامولو مخکې د جمعې د شپې په لومړنيو ساعتونو کې ځينې امريکايي افسرانو چې د زندان مشر هم پکې و، له ولسمشر سره خدای پاماني وکړه، ولسمشر يې له ورونو برزان او سبعاوي سره هم د الله پاماني غوښتنه کړې وه... ساعتونه تېرېدل. ولسمشر لکه د تل په څېر هماغه شپه هم پر خپل کټ تېره کړه، د ماښتن له لمانځه وروسته يې قرآن تلاوت کړ... د زندان مشر امريکايي افسر ورته وويل چې د اعدام وخت سبا سهار وختي دی. امريکايي ساتونکو د دې لپاره په بشپړه پاملرنه تر څار لاندې نيولی و، چې دی ځان زندۍ نه کړي...سهار له سپېدو سره سم په څلورو بجو د زندان مشر د ولسمشر کوټې ته ورغی او ورته وې ويل چې دوی به يې عراقيانو ته وسپاري او پوښتنه يې ترې وکړه چې که څه غواړي. ولسمشر اودس وکړ او په لنډه موده کې چې يې څومره قرآن تلاوت کولای شوای، هماغومره يې تلاوت کړ. بيا يې وغوښتل چې شخصي توکي يې مدافع وکيلانو ته وسپاري او هغوی يې د اغلې رغد (د ده لور) ته ورکړي او له دوی څخه يې وغوښتل چې لور يې



خبره کړي چې دی په ارام وجدان او پاک لاس د جنت په لوري د خپل رب لېدو ته روان دی، د يوه داسې پوځي په صفت درومي چې ځان او کورنۍ يې د عراق او ملت لپاره قرباني کړې دي.

خړه کورتۍ، سپين کميس او تور بالاپوش يې په تن کړل، بغدادي خولۍ يې په سر کړه، بيا به محکمې ته، ته او يا به يې له وکيلانو سره د بغداد د نړيوال هوايي ډګر په سوېل کې په کروپر پوځي اډه کې ليدو ته، ته.

دی او د ده امريکايي ساتونکي پوځيان د ولسمشر د لېږد ځانګړي موټر ته پورته شول، د نړيوال سره صليب نښان هم پرې وهل شوی و، د امريکايي مصدر پر اساس بيا يوې امريکايي بلک هاک الوتکې ته ولېږدول شو، له دوی څخه يې وغوښتل چې سترګې د نه ور تړي... په بغداد کې يې فکر کاوه...کېدای شي بغداد به هم خپل روان بچي ته د مينې وروستی نظر کاوه... د بغداد اسمان سوری شو. لکه د آخرنۍ وداع په نظر چې ورته ګوري، لکه دغه د ده له لوري ودان شوی، عزتمن شوی او خپل عمر يې ور بښلی ښار... چې ورو ورو روان وي... لرې پټېده. له څو دقيقو وروسته په کاظميه سيمه کې د دجلې د سيند په لوېديځ اړخ کې پرته د امريکايي ځواکونو په پوځي اډه کې کښته شول، دغه ولسوالي د نيواک په وخت کې په دريو برخو ووېشل شوه، يوه برخه يې امريکايي پوځي اډه شوه، دوهمه برخه يې د نظام ساتونکي نومو ځواکونو پيرو شوه او اخرنۍ برخه يې د نيواک په حکومت کې د عدليې د وزارت د ملاتړ اداري پيرو شوه.

ولسمشر په امريکايي پوځي اډه کې له الوتکې راکښته شو، سترګې يې په سوربخونو تورو عينکو ور وپوښلې، دغه عينکې به امريکايي پوځ له يوه ځای څخه بل ځای ته د زندانيانو د لېږد لپاره کارولې. پر ولسمشر شا او خوا يو شمېر امريکايان را تاو وو (د پوځي پوليسو کسان) (مارشال) او د قصوی ملاتړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



اداري ته يې د ننه کړ، له لومړۍ دروازې سره د امريکايي ساتونکو رول پای ته ورسېد او خپلو موټرو ته را وګرځېدل.

## د نيواک حکومت ته د ولسمشر سپارل

د عينکو له لرې کولو وروسته په اداره کې لومړۍ برخې ته د ننه کړل شو چې هغه له ترهګرۍ سره د مبارزې برخه وه، د عراق د اتلانو او مشرانو په حق کې چې به د لا قانونيت په زمانه کې له بې قانونه ډرامه ييزو محکمو څخه د اعدام پرېکړې را وتلې، نو پلې کول يې په دغې برخې پورې تړاو درلود. وخت د سهار پنځه نيمې بجې وې. کله چې ولسمشر ور د ننه شو نو اوسپنيز قفسونه يې وليدل، هغه عراقيان او عرب مقاومت کوونکي پکې وو چې د وژلو پرېکړه يې شوې وه.

ولسمشر ورته موسکی شو او په عزت سره يې ورته وکتل، هلته يې د درېدو له لارې د دوی اتلوال دريځونه وپېژندل. همداسې يوې کوټې ته يوووړل شو... هغه ملېشې پرې را تاو وې چې د تېرې پېړۍ په اتيايمو کلونو کې به يې د عراقي -ايراني جګړې له امله ښکنځلې ورته کولې. ولسمشر د قصوی ملاتړ يوې کوټې ته ننوت، مخې ته يې منير حداد وموند چې د نيواک په وخت کې قاضي شوی و، له ولسمشر سره د (کردانو د کډه کولو) په قضيه کې يې په ۲۰۰۵ ز کال د څېړنې په يوه ناسته کې اعلان وکړ چې دی په خليجي هېواد کې اوسي او دی ميليونر دی، هېڅوک يې پر پرېکړه اغېزه نه شي کولای. بيا يې زياته کړه او ولسمشر ته يې وويل: صدامه نور د سياست په اړه ستا خبرې بس دي. پنځه دېرش کاله وغږېدې، موږ له دغو خبرو ماړه شوي يو او اوس ته په جنګي جرمونو تورن يې.

په دغه وخت کې د جيش المهدي د ملېشو ډلې د پوځي استخباراتو په مديريت را چاپېرېدل، دوی اراده کړې وه چې پر مديريت بريد وکړي، ولسمشر وتښتوي او د خيالي مبالغو په بدل کې يې ايران ته وسپاري. مالکي



له مقتدی الصدر سره مداخله وکړه، دا چې دوی به په عراق کې نور هم رسوا شي او امريکايان به په غوسه شي، نو له دغې رسوايۍ څخه يې مخنيوی وکړ. د وژلو جريمه د مقتدي د راتلو تر وخته يو څه وځنډېده چې ځينې مصادر يې شتون د معلومو لاملونو پر اساس ردوي څو د نيواک پر حکومت او پر نيواک سخته تمامه نه شي. مقتدي راغی او ساتونکي هم ورسره وو، کله چې يې ولسمشر وليد چې قرآنکريم تلاوت کوي، ورته يې وويل: اوه! دا نو څنګه طاغوت دی؟ ولسمشر ډېر په ځير ورته وکتل، پر يوه ساتونکي يې ښه ونه لګېده او ولسمشر يې په کنداغ باندې پر سر وواهه.

قاضي منير حداد له ولسمشر څخه وغوښتل چې د ده په ځانګړې چوکۍ د کېني. بيا يې د باطلې وژنې د پرېکړې حکم ورته ولوست او د نوري المالکي لاسليک يې ور وښود او لکه څرنګه چې د ډرامه ييزې محکمې قانون ټاکلې وه رياست نومې شورا يې بايد تصديق کړي، خو د هغې تصديق پرې نه و.

**ولسمشر د خونکارانو په ليدو سره څنګه رويه وکړه؟**

ولسمشر نارې پيل کړې: ولس د ژوندی وي، امت دې ژوندی وي، عراق د ژوندی وي، عربي ازاد فلسطين د ژوندی وي، مرګ په لاسپوڅو... بيا: موږ په جنت کې يو، دښمنان مو په اور (جهنم) کې دي. قاضي او څارنوال ته يې ور ناره کړه: فارسيان، امريکايان او لاسپوڅي مرده باد... ولسمشر يې بيا خسته‌ګنې کوټې ته يووړ څو د مرګ د ډلې له ټولو مشرانو سره وګوري، په هغوی کې: عبد العزيز حکيم، موفق الربيعي، علي دباغ، سامي عسکري، بهاء الأعرجي او مريم الريول او منقذ الفرعون هم وو. لکه دوی چې دعوه کوله يو سني امام هم نه و. پر دې سربېره د ايراني استخباراتو کسان هم وو چې ښه عربي يې ويله او عراقي نومونه يې ورته غوره کړي وو، د ولسمشر د شخصيت د تاکيد لپاره راغلي وو څو لکه اوازه چې وه چې کوم بل صدام ته ورته کس نه وي. دغه ايراني افسران د قيادت د غړو د اعدامولو په ټولو حالاتو کې حاضرېدل، بلکې مخکې له دې چې برزان په چړو حلال کړي له هغه څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یې څېړنه وکړه، چې د حلالېدو د دغې شېبې په اړه علي دباغ وویل چې دا له بدن څخه د سر د لرې کولو حالت دی، نادره پېښه ده. د ایراني استخباراتو یوه افسر د اعدام رسۍ ته ور پورته شو او مخ یې پوښلی و. په دغو افسرانو کې لوی کسان هم وو لکه په عراق کې د ایراني استخباراتو مسئول احمد فروزنده. له اروپا څخه له راتلو سره سم د جریمې له پلې کولو وړاندې، له احمد جلبي، موفق الربیعي او جلال الدین الصغیر سره یو ځای شو، پر هغوی یې فشار راوړ چې د وژنې په پلې کولو کې بیړه وکړي. همداراز د جیش المهدي ځینې مشران، علي ادیب، خضیر الخزاعي، صادق الرکابي او له ایراني سفارت څخه نور کسان راغلل. د څارنوالانو یا سني ډلې د کوم کس له شتون څخه د منع کېدو لامل د ایراني استخباراتو د مشرانو، د انقلابي ساتونکو او د ایراني القدس کنډک د مشرانو شتون و، چې په دوی کې جنرال سلیماني هم و. مخکې له دې چې ولسمشر د شهادت زینو ته پورته شي، دوی ورسره په فارسي ژبه وغږېدل څو ولسمشر ته څرگند پیغام ورکړي چې د ده برخلیک او د عراق مسیر د ایران لاسونو ته ولوېد. نیواک او حکومت یې دغه رسوایي پټه کړه.

## مشر د شهادت او ویاړ زینو ته پورته کېږي

ولسمشر صدام حسین په پوره غرور او لوړ سر روان شو، دغو ټولگیو په تنگوونکو او ښکنځل مارو خبرو او دښمنیزو شعارونو د ده هرکلی کاوه، بلکې د مرگ د ډلې ځینو چارواکو او مشرانو پر ولسمشر د تېري او وهلو هڅه وکړه، د ده په لاسونو کې زولنې وې، خو بیا هم په جرئت سره ثابت او جگ ولاړ و. دوی ته یې ور غبرگه کړه: تاسې خاینان یاست... لاسپوخي... د ملت دښمنان یاست... امریکا او لاسپوخي د مردار شي. په سر باندې یې دوی ته اشاره کوله. موفق الربیعي زښته بدې ښکنځلې ورته کولې او زړه یې پرې تشاوه، ولسمشر ورته وویل... تاسې ترهگر یاست... ترهگر... بیا... مقاومت د



ژوندی وي... ملت د ژوندی وي... عراق د ژوندی وي... فلسطین د ژوندی وي... عربي امت د ژوندی وي. بیا یې زیاته کړه چې ده عراق ته خدمت کړی او ودان کړی یې دی.

په دغه وخت کې د مالکي انځورگر (علي المسعدي) ځینې ټوټې ثبت کړې. بیا د ملېشو وینه بهوونکو د ولسمشر له مخې زولنې خلاصې کړې او شا ته یې لاسونه پرې ور وتړل، هغه ځنځیر چې د ولسمشر په پښو کې و هغه یې د اعدام په حالاتو پورې په ځانگړې ترونکي بدل کړ. ولسمشر له منقذ الفرعون څخه وغوښتل چې له ولسمشر سره شته قرآنکریم د یو کس ته ورکړي، (بدر البندر ته) څو یې هغه د ده کورنۍ ته وسپاري.

ولسمشر د دار د رسۍ په مخ کې په ټول صبر، ایمان او جگ سر ودرېد، لکه څرنگه چې ټولې نړۍ ولید. د ولسمشر دغه لویه ننداره د ربیعي د وینا پر خلاف وه چې هغه ویل چې گواکې ولسمشر صدام حسین په وېرېدو پیل وکړ. د دار رسۍ ته پورته شو او ویل یې: یا الله یا الله. لکه لوړ څوکې غر، لکه د خُرماوو دنگه عراقي ونه... د رسۍ مخې ته په بشپړې زړورتیا او په ځواکمن او نه ماتېدونکي عزم ودرېد. دغه له غروره ډکه دریځا د دسیسه جوړوونکو... حاضرینو د توقع پر خلاف وه.

د مرگ د ډلې (جیش المهدي) د قیادت له مشرانو څخه د جنایتکارانو د ډلې څلور غړي د ولسمشر مخې او شا ته ولاړ وو. د مقتدی الصدر اوښې ریاض النوري ولسمشر ته د دار رسۍ ور په غاړه کړه، خو دا چې دوی رسوا نه شي نو ټولو د جریمې خولپوټې (پوزبندونه) واغوستل. که هر څومره پټ شي او دا رد کړي، خو مونږ پوره باوري یو چې څه پېښ شول او د اعدام د پلې کولو لپاره د مقتدی الصدر له شتون څخه هم باوري یو. هغه کس چې ولسمشر ته د رسۍ له ور په غاړه کولو وروسته یې رسۍ سمه کړه، هغه مقتدی الصدر و

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د ولسمشر ښي اړخ ته ولاړ و، د هويت د پټولو لپاره يې مخ پټ کړی و، په مالکي يې شرط ايښی و چې په خپله د ولسمشر د وژلو عمليه پلې کړي.

**ولې ۳۹ غوټې؟!**

ولسمشر د تورې کځوړې ور په سر کول رد کړل او دوی ته يې اجازه ورکړه چې تر رسۍ لاندې يې په غاړه ورته کېږدي. دغه رسۍ امريکايانو له صهيوني پوځي څخه اخيستې وه، د اوږدوالي او د رسۍ د نوعيت له اړخه له قانون سره په مخالفه طريقه جوړه شوې وه... او د ولسمشر په غاړه له غوښتنې سره سم کېښودل شوه... له دې وړاندې، تالار ته يو امريکايي پوځي د ننه شو چې په اصل کې يهودی و، رسۍ ان تر ۳۹ غوټو ورسوله (دا د هغو توغنديو شمېر دی چې په ۱۹۹۱ ز کال کې عراق پر تل ابيب ور توغولي وو، چې دا له ولسمشر سره د صهيونيانو د کينې او د ده د اعدامولو يو لامل و)، له حاضرينو څخه يې غوښتي وو چې د پرېکولو يوه آله ورکړي، د جنايتکارانو د ډلې يوه سړي د قصاب چاړه ورکړې وه، دغه چاړه يې برابره کړې وه څو د ولسمشر غاړه پرې ور پرې کړي او سر يې له تنې نه بېل کړي څو وروسته د سر په اخيستلو مېله جوړه کړي او د زړه تشونې له امله يې د انقلاب په ښار کې د لويې ډلې په لارو کې وګرځوي...

مقتدی الصدر را مخکې شو، کله چې ډاډه شو د ده په لاس اعدامېدونکی کس صدام حسين دی او بل ورته کس نه دی، نو د ولسمشر په غاړه يې رسی ور ټينګه کړه. ولسمشر په بشپړ ثبات ور مخکې شو او پر افقي دروازې، چې ۸۰ پر ۸۰ سانتي متره کې وه، برسېره ودرېد. دلته يوه حکومتي کس (لکه څرنګه چې ګومان کوي ساتونکی نه و) په مذهبي توګه د ايران په رواج د "الصلاة علی محمد و آل محمد" نارې کړې، بل يوه د محمد باقر الصدر په نوم نارې کړې او حاضرينو هم د مقتدي په نوم نارې کړې... له دې وروسته به د دغو کينه کښو او ولسمشر صدام ترمنځ په نوبت نارې کېدلې، ولسمشر به



دوی ته ور غبرګوله "مقتدي... هی های؟"... ولسمشر دغو جلادانو ته تسليم نه شو ان تر دې چې د رب له پرېکړې سره مخامخ شو. په وروستيو شېبو کې... يوه کس چې د مالکي د مذهبي حکومت يو لوړ پوړی و چيغه يې کړه "جهنم ته"، ولسمشر ځواب ورکړ: "ان شاء الله جنت ته، له عراق څخه قربان". بيا دوه لوی حاضران را ولاړ شول او له ننداري څخه يې په ګرځنده ټليفون سره فيلم ډک کړ او بيا يې پر يوه نړيوال چېنل په ۱۸۰۰۰ امريکايي ډالرو وپلوره!.

په غير قانوني او دسيسه بازه محکمه کې د نائب منقذ الفرعون هغه وکړه چې لږ تر لږه د کمرې په مخ کې، نه د ښه نيت له امله، د ولسمشر صدام حسين پر ضد تېرې او شعارونه ودروي، وې ويل: وروڼو... هيله کوم، سړی د اعدام په حالت کې دی، خو د ده نارې د غوغا او ګډوډۍ په منځ کې يو ټيټ اذان هم نه و.

او دا د هغو کسانو په هکله څه نادره نه ده چې تر اوسه يې لا رسوايي روانه ده، له کوم وخت نه چې يې عراق او د عراق ملي نظام ته دسيسه جوړه کړې، بيا يې ډرامه ييزه محکمه وکړه، ان کله چې د دفاع د کمېټې د غړو مخه ونيوله او محکمې ته د رسېدو په لاره کې يې ټولې موانع ورته کېښودلې، نو له شهيد صدام حسين څخه د دفاع لپاره د امريکايانو له لوري د برابرې شوې لايحې د لوستلو لپاره يې عبد الصمد حسيني وګماره، چې د حقوقو جعلي شهادتنامه لري.

## ايا په دار وځړول شو او که ووژل شو؟

ولسمشر يو ځل ټوله کلمه وويله او دوهم ځل پوره کولو ته يې پرې نه ښود... پاکه تنه را ولوېده، رسۍ قصداً اوږده کړ شوې وه څو ولسمشر پر ځمکه ژوندی ولوېږي او دوی يې په لغتو ووژني. ولسمشر پر ځمکه ولوېد، سر يې را پورته کړ او موسکی شو، خو دوی په لغتو وواهه او ډېر سخت يې وواهه، په ځانګړي ډول موفق الربيعي او مريم ، له کمرې او انځور اخيستنې څخه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټه کې تر لغتو لاندې وواژه. بیا یې بې خوځښته تنه په رسۍ را ځوړنده کړه څو دا وښیي چې ولسمشر په قانوني توگه اعدام شو.

له دې وروسته فرعون له نورو مشرانو سره را ولاړ شو او امریکایي افسرانو او د ایران د لاسپوڅي د مرگ د ډلې کسانو هم ونډه پکې درلوده، په اوږو یې واخیست او ایراني مذهبي عبارتونه یې تکرارول چې د نیواک له لوري د نصب شوې محکمې، چې له ملېشو او د عراق له دښمنانو (ایران او اسرائیلو) سره له اړوندو لورو څخه یې تشکیل کړې وه، د داسې محکمې عدالت، پاکوالی او خپلواکي یې څرگندوله.

بیا د ولسمشر تنه د ملېشو د یوه رهبر کور ته یووړل شوه څو ناوړه مجوسي کار بشپړ کړي... دلته ایراني صفوي جنایتکارانو په ښکنځلو، لغتو او د پاکې تنې په بېلو برخو کې د تېرو چړو په ننه ایستلو سره د عراق او د امت د شهید د پاکې تنې استقبال وکړ. په دې کې د ایراني گوندونو ټولو سمبولونو او مشرانو، د صفوي ملېشو مشرانو، نورو وینه بهوونکو او جلادانو او له اسلام او انسانیت سره نورو دښمني کوونکو ایرانیانو ونډه واخیسته او په هیستیري ډول یې چغې وهلې. بیا د ایراني استخباراتو ځینو افسرانو او متخصصینو د ولسمشر له تنې او هویت څخه ځانونه ډاډه کړل او بیا یې له دې وېرې مری په چاړو ور پرې کړه، چې هسې نه بېرته ژوندی شي.!! .

پلان داسې و چې د نیواک په حکومت کې د کورنیو چارو د وزارت ارگانونه به د ولسمشر د اعدام عملیات پلي کوي، خو د ولسمشر پر اعدامولو د ځینو ملېشو د مشرانو د ټینگار له امله د نیواک د حکومت پلان گډوډ شو.

د استخباراتو په ودانۍ کې د ولسمشر او د هغه د ملگرو د وژلو د عملیاتو پلي کولو ښه روحیه درلوده، همداراز ایرانیانو هم همدغه ځای غوښت. د وژلو عملیات د پوځي استخباراتو په مخکني مدیریت کې په پنځمه څانگه کې وشول، په دغه پلان کې داسې نښې دي چې له عراق او د عراق له ولسمشر



سره صفوي کینه ښیي. دا هغه څانگه وه چې د عراق-ایران جگړې په جریان کې یې عراقي وسله‌والو ځواکونو ته د ایراني دښمن په اړه د معلوماتو ورکولو مسئولیت په غاړه و. دغه ودانۍ څکه غوره شوې وه چې له عراق څخه د ایران پر غچ دلالت وکړي چې د ولسمشر شهید صدام حسین په مشرۍ یې د خمینیت د برید مخنیوی کړی و، هغه برید چې د عراق پر خاوره یرغل یې مباح گاڼه او له هغه وروسته به یې په خلیج او جزیره کې پر نورو عربي دولتونو یرغلونه کول.

په بله ورځ مالکي د مسلمانانو او اسلام لوی اختر ته له سپکاوي وروسته له خپلو جنایتکارانو سره را ولاړ شو او خپل زوی احمد ته یې واده وکړ. په دغه جشن کې ټول هغه ایرانیان حاضر وو چې د وژلو په عملیاتو کې یې گډون کړی و، له ټولو اسلامي ملتونو او له هغو شرعي حکمونو پر خلاف لوی اختر یې بلې ورځې ته وځنډاوه، چې د لوی اختر د ورځې په ټاکلو کې قطعاً باید اختلاف نه وي، څکه هغه د حج له مناسکو سره تړاو لري، په دې سره له هغو ایراني عقایدو سره گډ شول چې له حقیقي اسلامي شعائرو او مناسکو او د هغو له وختونو سره مخالفت کوي.

د ولسمشر صدام حسین پر اعدامولو د مالکي او جعفري ټینگار د دوی د ولایت په وخت کې د دې لپاره و، چې د دجیل گماني قضیه په اصل کې د دعوت گوند قضیه وه چې دغه گوند ته د مالکي او جعفري نسبت کېده او دا د امریکایي - المالکي تړون یو بند و. څکه د ولسمشر له وژلو وروسته مالکي وویل چې که اوس د لومړي وزیر له چوکۍ گوښه هم شي، نو دی یې په کیسه کې نه دی، څکه ده چې څه غوښتل هغه یې وکړل.

د ولسمشر کورنۍ او وکیلانو له دوو عربي هېوادونو سره اړیکه ونیوله او د نظریاتو تبادله یې وکړه چې امریکایي ادارې د مداخله وکړي څو د ولسمشر جسد یمن ته ولېږدوي او هلته یې خاورو ته وسپاري. په دغه وخت کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغو دوو دولتونو د یوه د رئیس سکرتر را سره په اړیکه کې شو او د پېښې له امله یې خپله خواشیني او سخت خپګان وښود.

د ولسمشر شهید صدام حسین تنه د صلاح الدین د والي نائب او د البو ناصر د قبیلې مشر ته وسپارل شوه. د مرګ ډلې (مذهبي ملېشې او جیش المهدي) پلان نیولی و چې د بغداد- صلاح الدین په لاره به ولکه کوي، جسد اخیستونکي به وژني او تنه به ایران ته تښتوي، بیه لا تر اوسه سمبال وه، په میلیونونو ډالره، خو دا چې امریکایي الوتکو په تکریت کې پوځي اډې ته جسد ولېږداوه، نو د دغو مجرمینو بغاوتونه او ناوړه غوښتنې پوره نه شوې...
هلته په امریکایي اډه کې د شهید جسد ته زرګونه عراقیان او ورسره مشران او د ولایت پوځي زامن په تمه وو، جسد په داسې حالت کې ورته وسپارل شو چې د امریکایانو د هیبتونو په منځ کې یې په زوره زوره ژړل او هغوی یې ننداره کوله.

ده کورنۍ ته وصیت کړی و چې یا د یې د پیدایښت په ځای کې خاورو ته وسپاري او یا د د رمادي په ښار کې، د رمادي ښار د عزت له امله، ځکه د همدې ښار له ځمکې څخه د ده دفاع کمېټه را خوځېدلې وه او ځکه چې مقاومت امریکایان په ګونډو کړي وو او د قهرمانې فلوجې او د انبار ولایت د ښارونو په جګړو کې یې مات کړي وو.

د ولسمشر له شهادت څخه وروسته د یرغلګرو او د نیواک د حکومت وېرې په زیاتېدو وې، ولس د عراق په ډېرو ولایتونو او ښارونو کې را خوځېدلی و او د نیواک او د هغه د مرستندویانو د جریمې معیوبوالی یې څرګنداوه، خو رسنیزه چوپتیا غوره شوه او تګ راتګ بند شو.

دلته امریکایي لاربښوونې وشوې چې د شهید جسد به له عراق څخه بهر نه ایستل کېږي او د عراق رهبر چې په کوم ځای کې زېږېدلی، یعنې په عوجه



کې، په هماغه ځای کې به د شپې ناوخته یعنې د سهار په دوه نیمو بجو خاورته سپارل کېږي.

## ولسمشر او د ده د قانوني مسئولیتونو سپارل

د هغو اوزاو او خبرو پر خلاف چې داسې ادعا کېدله چې ولسمشر شهید د ظالمې وژنې د پرېکړې له صادرېدو وروسته یا د وژلو پر پرېکړه له تصدیق وروسته په ګوند او دولت کې ښاغلي عزت ابراهیم ته د خپلو دستوري مسئولیتونو د سپارلو امر وکړ، دا خبره ناسمه ده، ځکه ولسمشر ته معلومه وه چې دا له واقعیت سره په ټکر کې ده او د عراق له دستور او د ګوند د داخلي نظام پر خلاف ده. عراقي دستور له اضافي پرېکړې کولو پرته په هغه حالت کې چې د ولسمشر د واک چلولو پر وړاندې خنډ (بند، مرګ، شهادت یا بل خنډ) وي، نو د شورا د ریاست، د وسلهوالو ځواکونو عمومي مشري او د دولت د ریاست واګې یې د انقلاب د مشرۍ د شورا د رئیس نائب، د وسلهوالو ځواکونو د عمومي مشر او د دولت د ریاست نائب ته ورکولې او د نائب په واسطه د ولسمشر د واکونو له لوبولو وروسته به په ارامه فضا کې نوې ټاکنې کېدلې څو همدغه نائب رئیس کړي او که یې بدل کړي.

په داسې پېښو کې د ګوند داخلي نظام هم همداسې و.

له دستوري قواعدو او د ګوند د داخلي نظام له متنونو سره سم د انقلاب د قیادت د شورا د رئیس نائب او د وسلهوالو ځواکونو د عمومي مشر نائب ښاغلي عزت ابراهیم په ولسمشر پورې ځانګړې واګې په غاړه واخیستې، ځکه ولسمشر (صدام حسین) په داسې حالت کې و چې دی یې له دستوري واګو څخه په بشپړ ډول منع کړی و او د ۲۰۰۳,۱۲,۱۳ له نېټې یعنې له نیول کېدو وروسته د دې لپاره چې د ګوند یا دولت په قیادت کې تشه نه وي، واګې د ښاغلي عزت ابراهیم په غاړه شوې. ولسمشر هم په لومړۍ لیدنه کې د ۲۰۰۴ ز کال په پای کې د همدې خبرې پخلی وکړ او وې ویل چې واکونه یې په اتومات ډول ښاغلي نائب ته لېږدول شوي. بیا یې د ۲۰۰۵ ز کال په پیل کې په دوهمه لیدنه کې، په دې وینا پخلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ: "ابو احمد" ته ووایه، چې خپل طبیعي ځای اشغال کړي او پرېښږدي چې څه تشه را منځته شي".

پر هغه د زر رحمتونه وي... پر کومو لومړیتوبونو چې یې باور درلود، ژوند یې پرې کاوه... او پر هماغو لومړیتوبونو... شهید شو.

استاد صلاح المختار وایي: "که موضوعي انسان هغه یوازینی ننداره (اعدام) ولیده، نو داسې پوښتنه به ورته را ولاړه شي چې تېښته ترې نه شي کولای، هغه دا ده: ایا دغه د اتلولۍ له هغو افسانو څخه په لوړه او حیرانوونکې کچه زړور انسان، چې مونږ په تاریخ کې لوستې دي، په بشپړې بیدارۍ سره چانې وهل یې رد کړي، خپله هماغه کس دی چې غربي صهیوني او ایراني توکمپاله کینه کښو رسنیو هغو کسانو ته د ده انځور په منفي او نفرت را ولاړوونکې بڼه وکیښ چې دی یې نه پېژانده؟ په دې پوښتنې پسې به بله هم وي: ایا له پاک سپېڅلي او د اخلاقو او منطق په ټولو مقیاسونو سره له لوی انسان څخه پرته بل څوک کولای شي چې په خپلو وژلو خبر وي او د وژلو په وخت کې بیا هم موسکی شي؟ په دې پسې بیا لکه د ریاضي په ډول متوالي او نه ختمېدونکې پوښتنې را ولاړېږي: دغه ژوندۍ او معاصره افسانه د کومو لومړیتوبونو په طبیعت روزل شوې ده، چې داسې څوک یې ترې جوړ کړی چې د ابدي سعادت نړۍ ته په موسکا له مرګ سره مخامخ کېږي؟د صدام نفس له څه جوړ شوی و چې په اتلولۍ، کبریاء او ملي والي کې یې ځان لوړې کچې ته ورساوه؟ دغه یکې یوه سرې په خپل وخت کې داسې څه کړي وو چې د شر د مثلث (امریکا، اسرائیل او ایران) په لاس په ناوړه ډول د اعدام مستحق شو او د اعدامېدو په خوشالۍ کې یې نڅا وکړه".

د فرانسوي عراقي ملګرتیا د جمعیت عمومي سکرتر جیل مونیې وایي: "صدام به د داسې رئیس اغېزه پرېږدي چې د مخکنیو دوو سیندونو ترمنځ د هېواد ویاړ را ګرځولو هڅه یې کوله او له بغداد څخه به د عربي نړۍ مناره جوړه کړي. په جګړه کې ومړ، خو په دې کې شک نشته چې نشتوالی به یې پیغام نشت نه کړي".



# شپږ ویشتم څپرکی

## وصیت – تاریخي سند

تاسې ته بلنه درکوم، د هغو معنویاتو ساتنه وکړئ چې داسې وګړي درنه جوړ کړي چې کلک ایمان ولري، په تمدن کې ځلېدونکې قندیلونه شئ او چې ځمکه مو د پیغمبرانو د پلار ابراهیم او نورو انبیاوو زانګو پاتې شي، هغه معنویات وساتئ چې له تاسې څخه یې داسې وګړي جوړ کړي چې د هېواد او ملت لپاره په باوري او رسمي توګه د قربانۍ د لویو صفتونو روحیې لري.

*(صدام حسین په زندان کې)*

ولسمشر شهید صدام حسین په خپل قلم خپل عراقي ولس، عربي امت او د مجاهدو وسلهوالو عراقي ځواکونو زامنو ته وصیت لیکلی.

د وصیت په تاریخي سند کې د جهادي ایماني ملي جګړې ټول هغه معنویات شامل دي چې عراقیان پکې بوخت وو او لا تر اوسه یې جنډه د استعماري، صهیوني او د عراق پانګو ته د طمع ګرو ولسیزو ځواکونو په مخ کې اوچتوي، هغه معنویات چې ولسمشر شهید یې د لوی او اساسي اړخ د قیادت شرف درلود.

او لاندې د دغه تاریخي سند متن دی:

بسم الله الرحمن الرحیم

قل لی یصیبنا الا ما کتب الله لنا هو مولنا و علی الله فلیتوکل المؤمنون" [التوبة: ۵۱].

ژباړه: دوی ته ووایه: "مونږ ته هېڅکله څه (ضرر یا ښېګڼه) نه رسېږي. مګر هغه چې الله راته لیکلي دي، هماغه الله زمونږ مولا دی او مؤمنان باید پر هماغه توکل وکړي".

اې لویه عراقي ولسه...

اې زمونږ په مجاهدو وسلهوالو ځواکونو کې اتلانو...

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې باعزته عراقي مېرمنو...

اې زمونږ د وياړلي امت زامنو...

اې په اتلوال مقاومت کې مؤمنو زړورو!

لکه څرنګه چې مې پېژنی په مخکنيو ورځو کې همداسې وم، الله سبحانه و تعالی وغوښتل چې يو ځل بيا د جهاد او مبارزې په ډګر کې د مخکيني انقلاب له رنګ او روح څخه په ډېر ټينګ او کلک محنت کې واوسم. اې دوستانو، دغه سخت حالت چې مونږ ټول پکې يو او لوی عراق پرې اخته شوی، يو نوی درس او نوې بلا ده څو خلک په خپلو هڅو سره وپېژندل شي، هغه به يې د الله او وګړو په مخ کې ادرس وي... په کوم حالت کې چې مونږ يو الله به د هېڅ چا هڅې او فعاليتونه ضايع نه کړي، د خپل ولس په زامنو چې بې ارزښتو وګړو له بهرنيانو څخه ځواک غوښتی، دا يو حقارت دی. زمونږ په هېواد کې چې څه روان دي د هغو په پايله کې يوازې صحيح پاتې کېدای شي، "کوم چې هغه به ګټې له منځه ځي او کوم شی چې د انسانانو لپاره ګټور دی هغه په ځمکه کې تم کېږي" الله ج فرمايلي دي.

اې لويه ملته... اې زمونږ په امت او په انسانيت کې وګړو... ستاسې ډېری د دغې وينا څښتن په صداقت، پاکوالي، پاک لاس او پر ولس په پاملرنې، حکمت، عدالت او د چارو په تداوی کې په قاطعيت پېژني، پر دې يې پېژني چې د وګړو او دولت په مالونو پام کوي او هر څه يې په عقل او وجدان کې دي، او پېژنی يې چې زړه يې درد کوي او تر هغه نا ارامه وي چې له غريب څخه يې بار نه وي پورته کړی او د اړو کسانو اړتيا ته يې لبيک نه وي ويلی، زړه يې ټول ملت او امت ته پراخ دی او چې مؤمن او امانت ساتونکی اوسي... د خپل ولس د زامنو ترمنځ يوازې د رښتينو هڅو او ملي وړتيا پر اساس توپير کوي. دا دی نن زه ستاسې په استازيتوب او ستاسې د سترګو، د امت د سترګو او د حق د څښتنانو انصاف لرونکو د سترګو په خاطر وايم: اې عراقيانو... اې



زمونږ ولس او اهله او زمونږ په امت کې د هر باعزته او با عزتې اهله... خپل ورور او مشر مو داسې پېژندلی لکه کورنۍ چې يې پېژندلی، د ظالمانو تکبر او غرور ته يې کله هم سر نه دی ټيټ کړی او د هغو کسانو توره او بيرغ پاتې شوی چې له اخلاص سره مينه کوي او له ظالمانو سره دښمني کوي. ايا تاسې نه غوښتل چې د ورور، زوی او مشر دريغ مو همداسې وي...؟! بلکل تاسې غوښتل... د صدام دريځونه بايد همداسې وي، الله د نه کړي که دريځونه يې همداسې نه وای، نو ځان به يې نه وای منلی. هر چا چې ستاسې مشري په غاړه واخيسته او څوک چې په امت کې نښه وي دريځونه يې بايد همداسې وي...

دا دی زه مې خپل ځان فدا کوم، که الله غوښتي وي، نو چېرته چې يې امر وي له صديقينو او شهداوو سره د زما روح پورته کړي او که يې له خپل نظر سره سم پرېکړه وځنډوله، نو الله مهربان او بښونکی دی، هغه مونږ پيدا کړي يو او مونږ هغه ته ور ګرځېدونکي يو. نو ښه صبر ترې غواړو او پر ظالم قوم برلاسي او مرسته ترې غواړو.

اې ورورنو... اې لوی ملته... تاسې ته بلنه درکوم، د هغو معنوياتو ساتنه وکړی چې داسې وګړي يې در څخه جوړ کړي چې کلک ايمان ولري، په تمدن کې ځلېدونکي قنديلونه شئ او چې ځمکه مو د پيغمبرانو د پلار ابراهيم او نورو انبيياوو زانګو پاتې شي، هغه معنويات وساتئ چې له تاسې څخه يې داسې وګړي جوړ کړي چې د هېواد او ملت لپاره په باوري او رسمي توګه د قربانۍ د لويو صفتونو روحيې ولرئ، بلکې له پيليزې کرښې راپېدخوا يې خپل ټول ژوند او د کورنۍ او د وړو او لويانو ژوند، امت او لوی وفادار ملت ته وربښلی دی، په همدې لاره روان دی او کله هم کمزوري شوی نه دی... له ټولو هغو سختيو سره چې له انقلابه وړاندې او وروسته پر مونږ او عراق تېرې شوې، د الله نه وه خوښه چې صدام ومري، که دا ځل يې غوښتي وي، نو دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفس ده پیدا کړی دی... هغه پیدا کړی او تر اوسه یې ساتلی دی... کله چې په دې لاره کې له صدام حسین څخه د واړه عمر لرونکي په ډاډه او خوښ نفس ولاړل، نو په همدې لاره کې مؤمن نفس په شهادت ویاړي. که یې د شهادت اراده کړې وه، نو مونږ یې مخکې او وروسته ستاینه کوو او شکر یې ادا کوو... او د ده باري (الله) سبحانه و تعالی د عظمت په سیوري او پالنه کې له ده څخه ښه صبر غواړو او پر ظالم قوم برلاسی او مرسته ترې غواړو.... دا باید په یاد ولرئ چې الله تاسې ته ځانګړي حالات اسانه کړي څو تاسې پکې داسې نمونې و اوسئ چې لاره مو له مینې، عفوې، د یو د بل په زغملو او په خپل منځ کې له ورورولۍ ډکه وي... دغه حالات یې پر تاسې د دروندوالي لپاره نه دي را وستي، بلکې غوښتي یې دي چې نفسونه پرې راټه کړي او ځینې ستاسې د لیکو له منځه او څوک چې کینه کښ فارسیان وو هغوی د کسری د میراث خورو بادارانو په فعل سره د شیطان ځای ناستي شول. د خپل ولس ځینو بچیانو چې پیروي وکړه د هغو په زړونو یا په ګاونډیانو کې یې وسوسې واچولې یا یې کینه کښو صهیوني تمه خورو ته اسانه کړه چې استازی یې د امریکا په سپینه ماڼۍ کې داسې وخوځېږي څو د سپینې ماڼۍ څښتنان برید وکړي او داسې حسد او کینې را وپاروي چې هېڅ انسانیت او ایمان پکې نه وي...

د ایمان، مینې او سولې پر اساس مو ودانۍ جوړه کړه او په نږدې ماضي کې په همدې اساس تاسې د هېواد تر بیرغ لاندې په عزت او امن کې اوسېدی، په ځانګړي ډول د ۱۹٦۸ ز کال له انقلاب وروسته... ګران ورونړه که د جګړې په خندق کې وو او که په ماڼۍ کې... ستاسې د هېواد یرغلګرو او فارسیانو دښمنانو وپتېیله چې ستاسې د یووالي صفتونه د دوی او له تاسې څخه د غلامۍ غوښتو ترمنځ پرده جوړه شوې ده، نو ستاسې ترمنځ یې ناوړه پخواني مړوي تک وهل، ځینو هغو کسانو ورسره ومنله چې تذکره یې عراقۍ وه او



زړونه یې هوایي وو او کینه کښو په ایران کې په کینه ور ډک کړي وو. دوی ګمان کوي چې له تاسې ګټه پورته کړي او د ولس له نورو اصیلو سره مو ښېل کړي، چې په دې کار سره همت کمزوری کېږي او د دې پر ځای چې د هېواد بچیان اصلي دښمنانو ته په غوسه شي یو پر بل مو په غوسه کوي، یوازې اصلي دښمنانو ته غوسه کېدل همتونه یوه لوري ته بیایي، که څه هم چې بیرغونه رنګارنګ او د الله اکبر تر بیرغ لاندې وي.

اې ورونو، اې مجاهدینو او مبارزینو، اوس مو همدې ته را بولم، کینه مه کوئ، ځکه کینه خپل څښتن ته د انصاف او عدالت فرصت نه ورکوي، بصیرت او لید ړندوي، د فکر کړکۍ بندوي، چې په همدې سره خپل څښتن له فکر کولو او غوره او سمې ټاکنې څخه لرې کوي...

همداراز اې ورونو او خویندو اې زما او د عراق بچیانو تاسې را بولم... او اې مجاهدو ملګرو دې ته مو رابولم چې د هغو دولتونو ولسونه بد مه ګڼئ چې پر مونږ یې تېری کړی، د ولسونو او پرېکړو کوونکو تر منځ توپیر وکړئ، یوازې د هغوی کار بد وبولی، بلکې د کوم انسان عمل چې د جګړې وړ وي، هغه لکه یو انسان بد مه بولی... د شریرو کسانو شر بد وګڼئ... او څوک چې روغه او جوړه کوي، که هغه د عراق د ننه وي او که بهر، ښښنه ورته وکړی او د چلند نوی مخ ورته پرانیزئ، ځکه الله عفوه کوونکی دی او عفوه کوونکي خوښوي، د حالت له غوښتنې سره سم قاطعیت لازم دی، خو د دې لپاره چې له ملت او امت څخه ومنل شي، باید د قانون پر اساس وي، عادل او منصف وي او د کینو او د نا مشروع غوښتنو پر اساس نه وي... اې ورونو پوه شی چې د تېري کوونکو دولتونو په ولسونو کې داسې وګړي شته چې د یرغلګرو په وړاندې ستاسې له مبارزې سره مرسته کوي، ځینې یې له زندانیانو او صدام حسین څخه د دفاع لپاره رضاکاره مدافع وکالت کوي، ځینو نورو د یرغلګرو رسوایي وکړه، او ان ځینې چې له مونږ څخه بېلېدل او دنده به یې پای ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسېده نو ژړل به يې... همدې ته مو را بولم، يو امين ملت، له ځان، امت او انسانيت سره مينه کوونکی... له ځان او نورو سره رښتينی.

اې عزتمن وفاداره ملته: تاسې او ځان په هغه مهربانه رب سپارم چې امانت نه ضايع کوي او د رښتيني او امانت ساتونکي مؤمن گمان نه ناکاموي...

الله اکبر... الله اکبر... زمونږ امت د ژوندی وي... په امن او سلامتيا کې د انسانيت ژوندی وي... الله اکبر... زمونږ لوی مجاهد ولس د ژوندی وي... عراق د ژوندی وي... عراق د ژوندی وي... فلسطين، جهاد او مجاهدين د ژوندي وي... الله اکبر... شرمېدونکي د وشرمېږي.

صدام حسين اولسمشر

او د مجاهدو وسله‌والو ځواکونو عمومي قومندان

۲۰۰۶،۱۱،۴ ز



# اووه ويشتم څپرکی

## د دفاع کمېټه... حق خبره

صدام حسين به د سلگونو کلونو لپاره په يوه سمبول واوړي.
ځکه ده د خپل ولس له قضيې او د ده په وجدان کې د اوسېدونکي امت له قضيې څخه دفاع کړې ده، چې دا عادلې قضيې دي...
نو په هغې توگه په اول او اخر کې د الله ستاينه کوو،
چې په سمندر کې يې د يوه ځاځکي ځای هم نه دی لړزولی.

*(صدام حسين، د وژلو پر پرېکړې له تصديق وروسته)*

له ولسمشر صدام حسين او د هغه له ملگرو څخه د دفاع د کمېټې له بنسټ اېښودلو څخه مونږ د نړۍ د بېلو ناحيو له هغو وگړو سره په اړيکه کې وو چې د عراق او د قانوني قيادت سلامتيا ته يې پاملرنه کوله. په دوی کې قانون پوهان، قاضيان، سياسي شنونکي، شاعران او عادي وگړي وو. د دوی نظرونه مونږ ته را رسېدل او گټور به مو پکې غوره کول. په ځينو دفاع گانو کې لويو قانون پوهانو هم گډون وکړ. مونږ به خبرې اترې، وصيتونه او لارښوونې اخيستې، که هغه منفي وې او که مثبتې. دغو خبرو اترو په ځانگړي ډول هغه چې له ما سره به کېدلې، څښتنانو به يې غوښتل چې ولسمشر صدام حسين عربي او اروپايي مشرانو او واتيکان ته تشريحي پيغامونه واستوي او حقيقتونه پکې خرگند کړي، لکه پر عراق تېری، د عراق ورانی او د عراق له نا معلومه راتلونکي څخه وېره. مونږ به ولسمشر ته ځينې دغه کتنې لېږلې، هغه هم غوښتل چې په ټولو معلوماتو خبر شي.

يوه ملگري ته مې دنده ورکړه چې دغه کتنې په ۲۰۰۶،۱۲،۲۶ نېټه ولسمشر ته ولېږدوي، له ولسمشر څخه وپوښتي چې که غواړي کتبي پيغام واتيکان ته واستوي او روان حالات پکې روښانه کړي، ملگري ته مې دنده ورکړه چې ولسمشر خبر کړي چې واتيکان ته د خبرو رسولو لپاره مونږ چمتو يو. کېدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي دغه او نور پيغامونه په عراق کې په امريکايي سياست کې د بدلون په پار د اروپايانو د مداخلې په بيره کې ونډه واخلي. دا به په هغو پيغامونو پسې وي چې ولسمشر مخکې امريکايي ولس او عراقي ولس ته ورکړي وو. خو داسې برېښي چې د ولسمشر نظر بل څه وو، ويلي يې وو: "ملګرو ته به څه ووايم... زه مې له خپل رب پرته بل چا ته نارې نه ور وهم (بل څوک نه رابولم)".

## ايا ولسمشر به د کمېټې په فعاليت کې مداخله کوله؟

کله چې به مو غوښتل چې د کمېټې په فعاليت پورې اړوند څه تصميم ونيسو، مونږ به د کمېټې په ځای کې سره راغونډېدو او د تصميم او د هغه د پلان تدريس به مو کاوه، د پلې کولو لاره به مو يې زده کوله او بيا به مو مثبت او منفي ټکي په ګوته کول. موضوع به مو له ولسمشر سره شريکوله، نو کله چې به نظرونه مخالف وو، يوه موافقه حللاره به يې را وړاندې کوله. مونږ چې به هر ګام پورته کاوه، دی به مو خبراوه او د ده کتنو او لارښوونو ته به مو غوږ نيوه، يوه ورځ مو هم نه دي ترې ليدلي چې پر مونږ يې خپله رايه تپلې وي، زمونږ نظرونو ته به يې درناوی درلود او زمونږ د هڅو قدر به يې کاوه. ټولو لورو ته به يې وصيت کاوه چې د کمېټې او د کمېټې د رئيس په چارو کې دې مداخله نه کوي.

ولسمشر به ويل: "کله چې په کوم حالت کې ما ته را ګرځي، نو خپله رايه ورته وايم، پرېکړه او تصميم دوی ته پرېږدم، له يو ځل پرته چې په لازمي صيغه مې خپل نظر ورته ووايه".

يوه ورځ پر ما د ډېرو فشارونو له کبله زه دردېدم او په هغه تالار کې چې له ولسمشر سره به مې ليدل، له ولسمشر سره بندي وم، ولسمشر په پرله‌پسې توګه دوه ځله راته وکتل او وې ويل:

"ابا علاء څه درباندې شوي دي، که څه هم ته هڅه کوې چې له ما يې پټه کړې، خو خپه راته ښکارې. زه وايم الله د په دې دنده کې مرسته درسره



وکړي، کېدای شي له سختو شرايطو سره مخ شې. ابا علاء ته بايد تل زغم او صبر ولرې او لکه څرنګه چې لومړی وې هماغسې پر الله توکل کړې پاتې شې".

په ځانګړې توګه د ۲۰۰۶ ز کال له مې مياشتې وروسته فشار را باندې داسې حد ته ورسېده چې زغملې مې نه شوای، د ليکو يو په بل کې سره ننوتل په ما باندې تر ټولو سخت حالت و چې ورسره مخامخ وم. په دې کې شکمن وم چې له ولسمشر څخه د يادو لاملونو پر اساس له دغې مبارکې دندې څخه استعفاء وغواړم او که دغې لارې ته دوام ورکړم او څه چې مې له وسه پوره نه وي، هغه وزغمم. خو هغه باور چې دغه لوی رهبر پرې ځانګړې کړی وم. ما ته يې ځواک را وباښه، دا راته کافي وه چې الله او رهبر مې راضي کړي وو.

په وروستيو اونيو کې له لامل پرته د ولسمشر له ليدو څخه منع شوم، يعنې په وروستي مياشت کې له دريو پرله پسې ليدنو څخه. پوښتنه به مې کوله چې امريکايان چا دې ته هڅولي چې د دفاع د کمېټې د رئيس په توګه مې له ليدو څخه منع کوي، لاملونه يې څه دي؟ همداراز د دفاع د کمېټې د رئيس له نائب څارنوال استاد مجيد السعدون او د هغه له موکل ښاغلي طه ياسين رمضان سره هم همداسې وشول. خو تاريخ به دا هرومرو څرګنده کړي چې په پټه څه شوي وو او بشپړ حقيقت به ښکاره کړي.

## د حق او عدالت لښکر

دلته بايد له ولسمشر شهيد صدام حسين او له ټولو بندي عراقيانو څخه د دفاع د کمېټې د وروڼو يا هغو کسانو په اړه حق خبره وکړم چې د دفاع په ډله کې يې د دفاع له کمېټې سره کار وکړ. مخلص پوځيان وو او په ټوله مانا اتلان وو. لکه د شاتو د مچيو د ډلې په توګه کار يې وکړ، پوره هڅې يې وکړې، ژوند يې د دغې قضيې په چوپړ کې ايښی و او په زړورتيا سره يې کار وکړ، که هغه د کمېټې لومړني عراقي، عرب او بهرني بنسټګران وو يا له هغه وروسته ورسره

يو ځای شول، چې زمينه ورته برابره شوه. په ځانګړي ډول ټول عراقي اتلان ملګري له هغو کسانو پرته چې د دفاع په کمېټه کې غړي وو يا يې له کمېټې سره په ډله کې کار وکړ، له ټولو دردونو سره يې کورنۍ پرېښودې، په ځانګړي ډول ماشومان يې له مدرسو څخه دوه يا درې کاله محروم شول، څکه چې د عراق د ننه امنيتي ګواښونه او خطرونه ورته متوجه وو او ځينې وتښتول شول، يا له عراقه بهر د زده کړې د سختۍ له امله، يا له يوه دولت څخه بل ته د لېږد له امله او يا هم د مادي حالت له امله چې په ځينو دولتونو کې يې د زده کړې نفقه نه شواى برابرولى.

دلته بايد يوه اشاره دې ته هم وشي چې له ولسمشر او ټولو زندانيانو او بنديانو څخه د دفاع د کمېټې د غړو يوې برخې له ولسمشر صدام حسين څخه دفاع وکړه او بلې برخې يې له نورو بنديانو څخه. خو د دفاع ډلې د محکمې د ننه له ولسمشر سره وليدل او دفاع يې ترې وکړه، د دغې ډلې ټول غړي د دفاع د کمېټې غړي نه وو. درېيمه کمېټه "د بهرنيو پېښو کمېټه" وه، چې دغه استادان ور پورې تړلي وو: رمزي کلارک، احمد بن بيلا، دکتور مهاتير محمد او رولان دوما. د دغې کمېټې دنده په محکمه کې د عدالت د پلي کولو څارنه وه او ځينو ملګرو وکيلانو يې په بنسټ ايښودو کې ستر رول درلود، چې په هغوی کې استاد زياد خصاونه، پروفيسور کيرټيس ډوبلير او دکتور نجيب النعيمي او ورسره پاتې غړي دي. دغې کمېټې وکولای شول چې د محکمې ټولې سرغړونې او تر پښو لاندې کول رسوا کړي، پر نړيوالو شخصيتونو، سازمانونو او کمېټو سربېره يې د نړۍ رهبران هم مخاطب کړل او د اسناد يا دفاع له کمېټې سره يې په فعاليت کې مرسته وکړه...

دلته بايد د هغو اتلو شهيدانو يادونه وکړم چې خپلې پاکې وينې او ځانونه يې تر عراق ځار کړل، په مخ کې يې د دفاع د کمېټې د رئيس نائب شهيد خميس العبيدي (په ۲۰۰٦ ز کال کې شهيد شو)، شهيد سعدون الجنابي او شهيد عادل الزبيدي (په ۲۰۰۵ ز کال کې شهيد شو) دي او داسې نور چې په يادولو يې لبست اوږدېږي. دغو اتلو شهيدانو خپلې کورنۍ بې سر پناه او بې پالنې پرېښودې. همداراز د دفاع د کمېټې د عراقي غړو هڅې هم بايد وستايو، د محکمې د ننه يې په بشپړ کلکوالي دفاع وکړه، د امريکا، د هغې د پيروانو او لاسپوڅو د ظالم پاچا په مخ کې يې حق خبره وکړه، استادان د کمېټې نائب او وياند دکتور مجيد السعدون، بدر عواد البندر چې کله به يې له شهيد پلار او کله به يې له شهيد ولسمشر څخه دفاع کوله او ثامر الخزاعي يې مخکښان وو. همداراز د عراق د ټولو څارنوالانو قدر او درناوی کوم چې د امنيتي ګواښونو له امله يې نومونه نه شو اخيستی، که هغه د کمېټې غړي وو يا د اسناد غړي. همداراز د سلګونو عراقي وکيلانو سړيو او مېرمنو، په ځانګړي ډول د انبار اتلان د يادولو وړ دي چې د کمېټې اصلي بنسټګران دي، نومونه يې د امنيتي ګواښونو له کبله پټ دي. د دفاع د ډلې له غړي استاد ودود فوزي شمس الدين څخه مننه کوم چې له کمېټې سره يې د جنګيالي په روحيه کار وکړ، همداراز دکتور علي بياتي. همداراز دکتور محمد العبيدي ته مې د سلام وي، چې زمونږ په تاريخي دنده کې يې د مقالو او خبرونو مرسته را سره وکړه، چا چې زمونږ پر دغې جګړې يوه کلمه هم ليکلې وي مننه ترې کوو. د ازاد غچ اخيستونکي عراق له منبره د هغه له جړ غږه، د عراق د سنګر له منبره (بصرې) او له ټولو وياړمنو ليکوالانو او مبارزينو څخه مننه کوو. همداراز د بنديانو د کورنيو لپاره زمونږ تر څنګ له ګمارل شويو وکيلانو څخه مننه کوو. نو دغو ملګرو ته زما، د عراق د ولس، امت او د بنديانو او شهيدانو د کورنيو له لوري بشپړه مينه او قدرداني ده.

زما عراقيو، عربو او بهرنيو ملګرو به د کمېټې په دفتر کې د شپې تر ناوخته کار کاوه څو د دفاع سمې لوحې برابرې کړي. ځينو نورو ملګرو به په دې لاره کې ځوارلس، ان کله نا کله له شلو ساعتونو زيات سفر کاوه. د دندې په ادا کولو



(c) ketabton.com: The Digital Library

کې به د ځینو ټینګار نور هم زیاتېده، په کلونو کلونو به یې د حق مرسته کوله لکه څارنوال رمزي کلارک.

د کمېټې ځینې غړي داسې وو چې له مونږ سره د یوځای کېدلو لپاره به یې خپل کار او مراقعې پرېښودلې، زمونږ تجربې او زړورتیا به یې را زیاتوله. لکه مشهور نړیوال وکیل دکتور نجیب النعیمي، همداراز د څارنوالۍ استادې بشرى خليل دريځونه، هغه څارنواله چې هسې ماذې په محکمه کې به وه، نو قاضي رؤوف به اعصاب له لاسه ورکول. همدارنګه د څارنوال استاد سعد الاعظمي او د دکتور قیس العلواني رول هم ډېر ځانګړی و. د نړیوال قانون استادانو دکتور غسان الجندي له اردن څخه او دکتور حسن عمر له مصر څخه همداسې رول درلود. دغه دریځونه وو چې سره له دې چې مونږ تر پښو لاندې کېدو، خو دوی را پورته کولو.

په دغې سپېڅلې دنده کې د اردن اصیل ولس هم لوی رول درلود. استاد محمد نجیب الرشدان یې مخکښ و چې یو لوی قانون پوه و او د کمېټې یو بنسټګر و. د کمېټې د همغږې کوونکي په توګه وټاکل شو، یو عربي ملتپاله اصیل او زړور و، خو د ټاکلو لاملونو له کبله د ولسمشر د کورنۍ له لوري ګوښه شو. له ده وروسته دغه سخته دنده د اردن د یوه اصلي ټبر بچي استاد زیاد خصاونه په غاړه واخیسته، د استاد رشدان کار یې په بشپړې امانتولۍ، اخلاص او بیدارۍ سره ادا کړ او د ده په وخت کې دواړه کمېټې سره یوځای شوې. د استاد پر کمېټې او پر استاد خصاونه فشارونه هومره زیات شول چې استاد یې مجبور کړ چې ولسمشر او د هغه کورنۍ ته لیکلی پیغام واستوي او د خپل غړیتوب درول ترې وغواړي، خو پراخ رسنیز فعالیت یې وکړ او د دغې درنې دندې په لاره کې یې ډېرې وزغملې. همداراز د کمېټې د بنسټګرو استادانو یادونه کوو: لوی صالح العرموطي او اتل وکیلان زیاد الجنداوي، حاتم شاهین، عصام الغزاوي، عمر ابو الراغب او صالح المغربي او له دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره غړي لکه دکتور محمد ابوجباره، حاتم الغویري، سمیح خریس او ډېر شمېر اردني وکیلان. د استاد امین الدیب پوښتنو او مداخلو د نیواک له لوري ګمارل شوی وکیل ودراوه، دی د مصر لومړنی رضاکار وکیل و. ولسمشر یې هم حیران کړ او د ده له لارې یې د مصر د ولس نوره قدرداني هم وکړه. همداراز استاد محمد جنیدي، دواړو د وکیلانو په ټولنه کې ښه رول درلود. د عربي تونس د زامنو رول هم نه هېروو، احمد صدیق او دکتور فوزي بن مراد. د لیبیا په اړه، دکتور عایشې قذافي د کمېټې او د اسناد په تأسیس کې لوی رول درلود، ولسمشر یې هم په کارونو خوښ شو، پر دې سربېره د دې ملګري لیبیایي بنسټګر غړي وکیلان، استاد محمد العلاقي، استاد صالح البرغشي، ور پسې د کمېټې غړی دکتور عبد الله حبیب. همداراز د سوډان قانون پوهانو هم ښه رول درلود چې په مخ کې یې د کمېټې یو بنسټګر استاد تیسیر مدثر او د سوډاني وکیلانو مشر استاد فتحي خلیل وو. له مغرب څخه هم استاد خالد السفیاني و. له بحرین څخه د کمېټې یو بنسټګر استاد عیسی بورشید و. اصیل یمنیان: چې محمد حزام، عبد الله نعمان او نورو ملګرو یې مخکښي کوله. له متحده عربي اماراتو څخه دکتور ابراهیم الملا و، له سعودي څخه استاده ریم او د دې ټول اتل ملګري وو، که د ډېرو نورو د نومونو یادونه وکړو نو بیا به سخته تمامه شي. له لبنان څخه د کمېټې د یوه بنسټګر دکتور عدنان الضناوي یادونه کوو. له فرانسې څخه د استاد ایمانویل لوډو او د هغه ملګری استاد ماثیو، استاد أندري چامیه او د فرانسې د بهرنیو چارو پخواني وزیر رولان ډوما وو، نوموړی هغه کس و چې په ټوله زړورتیا یې د ولسمشر ځای ته په هرې هغې الوتکې، موټر یا په بله وسیله کې تګ رد کړ چې امریکایي بیرغ به پرې لګېدلی و... ولسمشر به یې د دغه دریځ قدرداني کوله او ویل به یې: "د دغه ستر رول درناوی کوم، داسې یې ګڼم لکه دلته چې راغلی وي او له ما څخه یې دفاع کړې وي، ده او فرانسې ته د زمونږ او د ټولو

عربي ولسونو ټوله قدرداني او مينه وي". له هسپانيې څخه استاد خافيير سافېرا و. له جاپان څخه هم څو تنه وکيلان وو. د هغو وياړمنو وکيلانو مېړمنو رول هم نه هېروو چې د دفاع په کمېټه کې يې خپل ورونه هڅول او څينو ټينګار کاوه چې په مستقيم ډول ګډون وکړي، خو شروط مونږ ته معلوم وو. د امنيتي لاملونو له کبله يې د نومونو يادونه نه کوو، څکه په عراق کې د ننه اوسي. د استاد عبد الحق العاني، له لندن څخه د عربي حق غږ استاد صباح المختار او دکتور محمد الشيخلي رول يادوو، سره له دې چې ډېر د اور په منځ کې و، خو عراقيان يې د حق په اواز حيران کړي وو.

د عربي وکيلانو لوی رول هم نه هېروو چې له ولسمشر صدام حسين او له عراق څخه په دفاع کې يې کمی ونه کړ. لوموړنی سازمان و چې په څرګند ډول يې پر محکمې او په عراق کې د پېښو د نه اعتراف اعلان وکړ، په مخ کې يې استاد سامح عاشور، عبد العظيم المغربي او د دوی نور ملګري وو، ښه باعزته او کلک دريځونه يې درلودل. همداراز د عربي وکيلانو له اتحاديو څخه مننه کوو چې په مخ کې يې د زړورو اردنيانو وکيلانو اتحاديه وه. دا هم نه هېروو چې له ولسمشر څخه د دفاع لپاره د ډېرو هغو وکيلانو وکالتونه د محکمې له لوري د دوی په مخ کې د اېښودل شويو خنډونو له امله ونه منل شول.

بايد را څخه هېره نه شي چې له ماليزيايي وکيلانو څخه مننه کوو، چې په سر کې يې دکتور مهاتير محمد، د ماليزيا د وکيلانو مشر دکتور زکريا خليل او دکتور مثايوس وو. همداراز له ښاغلي احمد بن بيلا، ښاغلي نيلسن منډېلا، ښاغلي جورج ګالوي او له ټولو هغو شخصيتونو څخه مننه کوو چې له مونږ سره ودرېدل.

دغه ټول وکيلان د زړورتيا سمبولونه او د حق او عدل د ملاتړ نمونې وې. له هغو څخه ښښنه غواړو چې پر دوی د وېرې يا د ډېر شمېر له امله مې نومونه نه دي ياد کړي. مونږ ټول پر دې باوري يو چې د عراق ولس، د عراق با عزته



وګړي او له ټولو قطارونو سره عربي امت به د دفاع د کمېټې رول هېر نه کړي، نوموړې کمېټې د مظلومانو له حق څخه د دفاع په ودانۍ کې لومړنۍ خښته کېښوده، دا په داسې وخت کې چې بل لوري عراقي دستور له منځه ووړ او د پردي يرغلګر تر جنګي پوښښ لاندې يې زنګ وهلې محکمه جوړوله.

عربي هېوادوال به په دغې کمېټه وياړي. څکه له صدام حسين څخه دفاع، د امت له سمبول څخه دفاع ده، صدام حسين هغه څوک و چې له ملت سره کړې ژمنې يې ماتې نه کړې او د ژوند تر وروستۍ شېبې د خپل ملت او امت لومړيتوبونو ته وفادار پاتې شو.

د رسنيزو، ديني، سياسي او نورو شخصيتونو ستر رول هم نه هېروو چې په تاريخ کې به تلپاتې وي، زمونږ معنوي ملاتړ يې وکړ، همداراز د هغو کسانو رول چې په سختۍ کې د عراق له ولس، عراقي اتلوال مقاومت او له ولسمشر شهيد صدام حسين سره ودرېدل.

له ټولو هغو کسانو څخه هم مننه کوم چې له مونږ، د بنديانو له کورنيو، له عراقي کورنيو او د ولسمشر له کورنۍ سره ودرېدل. له ټولو هغو عربي هېوادونو څخه مننه چې له مونږ او عراق سره ودرېدل. همداراز له اردني هاشمي مملکت څخه مننه چې د دفاع کمېټې ته يې غېږ پرانيسته، پر څمکه يې د دفاع د کمېټې شتون تر ډېرو فشارونو لاندې راووړ او له عراق، د عراق له ولس او له ولسمشر سره وفادار، د ولس له زامنو او له عزتمنو قبيلو څخه يې مننه کوو. همداراز زه او ملګري مې د نيواک او د هغه د حکومت په قفسونو کې اتلو ثابتو، صابرو بنديانو ته ځانګړې او خالصه سلامي کوو.

له دغه سخت سفر وروسته بايد آخرنۍ خبره وکړو او وايو:

د عراق او د ولسمشر صدام حسين د دښمنانو له لوري د څورونو له بېلابېلو هڅو سره مخامخ شوو او له څورونکو څخه مو سخت دردونه وګالل، خو د عراق او ولسمشر شهيد صدام حسين لپاره مو وګالل، هيله لرو چې امانت به

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library



مو ادا کړی وي. هڅه کوو چې د هماغو ورځو تېوونه هېر کړو او تر هغه وخته لارې ته دوام ورکړو چې ټول بندیان او د تمدنونو هېواد، د عربو ککرۍ او پلازمېنه او د تمدن لوی مرکز ازاد شي.

په پای کې وایو چې دغه یادښتونه او هغه چې د ولسمشر شهید په خط لیکل شوي دي، یوازې هغه څه دي چې د شهید صدام حسین په لاس او ژبه حقیقتونه وړاندې کوي.

د ولسمشر له یادښتونو پرته چې دغه کتاب یې هم یوه برخه ده، د شهید د ژوند، بند او شهادت په اړه چې کومې له ځانه جوړې شوې کیسې دلته او هلته خپرې شوې، ټولې هغه ناکامې هڅې دي چې هدف یې یا ناوړه سوداګري او یا په یوه لاره نه په یوه لاره د انځور بدنامول دي.

د دغو کیسو د خپرولو مفهوم یوازې ګمراهي ده چې دا د نیواک د پاتې کېدو او له جرمونو څخه یې د دفاع لپاره د جګړې یوه نه بېلېدونکې برخه ده. موږ په دوو خندقونو کې یو، دغسې هڅې له مقابل خندق څخه لیکل شوې دي. خو زموږ دغه هڅې بیا د شهید له خندق څخه دي، چې یوازینی توپیر یې همدا دی او دغه توپیر په یوازې توګه هر څه دي.

دا طبیعي ده چې دغه یادښتونه د ولسمشر ټول ویلي یادښتونه یا لیکلي یادښتونه نه را نغاړي. ځینې داسې قضیې وې چې د امانت لپاره یې پټوالی لازمي و.

ځینې داسې قضیې وې چې له مقاومت او د مبارزې له جنګیالیو سره یې تړاو درلود، چې لا تر اوسه د ولسمشر صدام حسین ملګري هلته وینه ورکوي، نو مجبور شوو چې مراعات یې کړو. له دغه فعالیت څخه زموږ هدف د خالص او مجرد حقیقت وړاندې کول دي او دا چې د عراق د ازادۍ لپاره جګړه وه او لا روانه ده، نو و مو غوښتل چې دغه کتاب هم د شهید له خندقه یوه خوځېدلې برخه وي.



په دغو یادښتونو پسې به نور هم وي، داسې ډېر څه لا شته چې باید بربنډ شي او د تاریخ د مهمو ثبت شویو برخو په څېر ثبت شي.

فکر مې هم نه کاوه چې شهید به مې د دغو یادښتونو د لیکلو لپاره غوره کوي او نه مې انګېرلې وه چې دغه عزت به دومره ظالم او سخت زړی وي. شهید په خپله پایله ښه پوه و او له ایمانه په ډک زړه ورته په انتظار و. له عراق څخه یې په خپل ژوند سره دفاع وکړه، ډېر ملګري یې پر دې خبر دي او لا تر اوسه یې یادوي، چې شهید څو ځله خپل ژوند په دې لاره کې د تلې په پله کې کېښود. دوی پر دې هم خبر دي چې که څه هم مرګ ورته په انتظار و، خو شهید به هم په هر قدم کې ننګاوه. پر الله یې باور درلود او پر دې پوهېده چې مرګ حق دی او په پای کې به مري.

که څه هم چې تقدیرونو د ده په له لاسه ورکولو پر موږ ظلم وکړ خو شهید هم له دې څخه د ښه مرګ په انتظار نه و. دی خپله همدغه مرګ ته ورغی. دوی زیان وکړ او موږ ګټه. دوی جګړه وبایله او موږ اتل وګاټه. دوی دسیسه وبایلله او موږ مقاومت وګاټه. دوی د "ډیموکراسۍ" په اړه دروغ او باطلې خبرې وبایللې او موږ له حق څخه دفاع وګټله. په پای کې به همدا نیواک هم بایلي او موږ به ازادي ګټو، دا به ور ښیو چې عدالت او مساوات څنګه وي، د حق ارزښتونه، نه لکه د دوی د نفاق ارزښتونه څنګه وي. دا به ور وښیو چې بېرته به څنګه را ګرځو چې عراق ودان کړو لکه له مغولي یرغل څخه تر نن ورځې چې ۱۲ ځله مخکې مو ودان کړ.

دا په تاریخ کې یو ځپرکی دی. بل ځپرکی به راځي او نن ورځ به یې ټول هغه کسان جوړوي چې د عراق ازادي، سیادت او خپلواکي یې په زړونو کې لکه سکروټه غوندې بللې او ځان ترې ځاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه هر څه چې پرغلګر ناوړه ګڼلي، تقدیر دلته هم ناوړه وښــودل. دلته مو لکه د بې غیرتو، وحشیانو او غلو غونډې بربنډ کړل، شهید خپل ځان لکه د اتل په څېر څرګند کړ. هر څه لکه د لمر په څېر ښکاره وو او شول.

ټولې نړۍ ولیدل چې صــدام حســین څوک دی او ټولې نړۍ ولیدل چې چا وواژه. ټولې نړۍ ولیدل چې شــهید او ملګري یې د ازادۍ لپاره پر کو مه څمکه ولاړ وو او ټولې نړۍ ولیدل چې جلادان له کومې ډرامې څخه راځي.

لکه د صــدام حســین وژنه چې به تلپاتې او ابدي یادښــت وي، همداراز د مرګ چوکۍ ته پورته کېدل به یې هم ابدي ننګونه وي او د بې ګناوو پر ضد د نیواک او د ورځنیو جرمونو شرمندګي به د تل لپاره په دوی پورې وي.

صدام شهید شو خو مړ شوی نه دی. دوی ژوند کوي خو لکه ژوند چې یې نه وي کړی. همدا یوازینی توپیر دی او له هر څه سره برابر دی.

پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**